# له لومڕی کمون ثخه
# ترکمونیزم پوری

Download from:aghalibrary

د محسن خپرندویه
Mohsin Publications

Download from:aghalibrary

**له لومړی کمون څخه تر کمونیزم پوری**

ژباړه او چاپ: د محسن خپرندو ه - د
مارکسیستی آثارو خپرونکی په افغانستان کی
بر ښنا لیک: mohsinpubs@gmail.com
و بلاګ: www.mohsinpubs.blogspot.com
د ېخپر دو نیټه: تله ۱۳۹۰ – سپتامبر ۲۰۱۱

## لړلیک


**لومړی څپرکی ........................................................... ۸**
**دځمکې، ژوند او انسان پیدایښت ........................................ ۸**
دځمکې پیدایښت ........................................................ ۸
د ژوند پیدایښت ........................................................ ۱۱
د انسان پیدایښت ....................................................... ۱۵
**دویم څپرکی ............................................................ ۲۲**
**تولید .................................................................... ۲۲**
تولید ..................................................................... ۲۲
د مادي ارزښتونو تولید، د ټولنې د پرمختیا او بشپړتیا
اصلي عامل ............................................................. ۲۲
تولید، څه ته وایې؟ .................................................... ۲۵
**دریم څپرکی ............................................................ ۳۱**
**د لومړنی کمون ټولنیز نظام او دهغه پرمختیا او بشپړتیا ............ ۳۱**
د کمون جوړښتیز پړاو .................................................. ۳۱
لومړنی کمون او بشپړتیا یې ............................................. ۳۳
د کمون مخښنا ........................................................... ۳۶
د کمون ټولنیز نظام دړنګېدو بهیر ...................................... ۴۰


**Download from:aghalibrary**

د کمون په بېخبنا کې راغلی بدلونونه: ........................ ۴۲
د لومړنی کمون په بېخبنا (تولیدی اړیکو) کې بحران........... ۴۴
**څلورم څپرکی ........................................................ ۴۹**
**د مریيتابه نظام........................................................ ۴۹**
**او پراختیا او بشپړتیايې.................................................. ۴۹**
دمریتابه نظام بېخبنا ........................................ ۴۹
د مریيتابه نظام مخبنا........................................... ۵۴
د مریيتابه فرهنګ او ایډیالوژی ............................ ۵۸
د مریيتابه د ړنګېدو بهیر...................................... ۶۲
د مریيتوب په مخبنا کې راغلی بدلونونه ........................ ۶۴
کلتور د مریيتابه د ړنګېدو په دوران کې...................... ۶۵
د فلسفی مکتبونو پیدایښت ................................... ۶۶
د مریيتابه د سیستم په بېخبنا کې ګډوډی ........................ ۶۸
**پنځم څپرکی........................................................... ۷۳**
**فیوډالی سیستم........................................................ ۷۳**
د فیودالی سیستم د پیدایښت بهیر ............................ ۷۳
د فیوډالی سیستم ټینګښت، پراختیا او بشپړ تیا ................. ۷۵
دفيوډالی سيستم مخبنا: ...................................... ۸۵
**شپږم څپرکی........................................................... ۹۱**
**دفیوډالی سیستم ړنګېدل................................................ ۹۱**
د فیوډالی سیستم په مخبنا کې راغلی بدلونونه: ................... ۹۷
دانقلاب مخ نه اوښتونکی بهیر.............................. ۱۰۱

Download from:aghalibrary

**اووم څپرکی** ........................................................ ۱۰۴
**پانگوالی سیستم** ........................................................ ۱۰۴
دپانگوالی سیستم دپیدایښت بهیر ........................................ ۱۰۴
دپانګوالی سیستم ټینګښت، پراختیا او بشپړتیا: ............... ۱۰۹
الف – په پانګوال رژیم کې مولده ځواکونه ............... ۱۰۹
پانګه او دپانګې بڼې (ډولونه) : ........................................ ۱۱۹
دپانګوالی سیستم مخبنا ........................................ ۱۲۵
دکارګرې طبقې دخپلواکه غورځنگ پیل ............... ۱۳۲
په نولسمه پېړۍ کې داروپا کارګری غورځنګ: ............... ۱۳۳
**دمارکسیسم پیدایښت** ........................................................ ۱۳۸
دکمونیست ګوند مانیفست: ........................................ ۱۵۰
*بلانکیزم* ........................................................ ۱۵۸
**اتم څپرکی** ........................................................ ۱۶۰
**امپریالیزم** ........................................................ ۱۶۰
د پانگوالۍ د ړنګېدنې پړاو ........................................ ۱۶۰
د مولده ځواکونو پرمختګ ........................................ ۱۶۰
دپانګوالی په مخبنا کې راغلی بدلونونه: ............... ۱۶۹
د امپریالیزم تاریخی موقعیت یا ټیکاو: ............... ۱۸۰
دریم انترناسیونال یا کمونیستی انترناسیونال: ............... ۱۸۲
لنینیزم: ........................................................ ۱۸۸
**نهم څپرکی** ........................................................ ۱۹۳
**د کمونیزم اقتصادی – ټولنیزه جوړښت** ........................................ ۱۹۳

**Download from:aghalibrary**

سریزه........................................................................ ۱۹۳
له پانگوالی نه سوسیالیزم ته دلېږد پړاو
د سوسیالیزم د پیدایښت بهیر........................................... ۱۹۴
**د سوسیالیزم ټینګښت، پراختیا او بشپړتیا ................................ ۲۰۹**
**لسم څپرکی.......................................................................... ۲۳۴**
**کمونیزم ............................................................................ ۲۳۴**
**د بشر د اقتصادی ـ ټولنیز جوړښت تر ټولو لوړ پړاو.............. ۲۳۴**
د کمونېزم ټینګښت: .............................................. ۲۳۸
*دکمونیستی ټولنې مخبنا*:.......................................... ۲۴۶

Download from:aghalibrary

## سریزه

داکتـاب ایرانـی مارکسیسـت لنینیسـتانو دمحمدرضاشـاه دویرجنې غمیزې پـه کلونـو کـې برابـر کـړی، وو ترخـو دلومړنیـو او زلمیو ملګـرو لپـاره دیـوه هراړخیـز، لنډ او سـاده ژبـې دآسـانه زده کړې په ډول ترګتې اخیستنې لانـدې ونیـول شـی. څرنګـه چـې پـه خپله لیکوالو ملګرو هم ګوته نیولی ده داکتاب ځینې نیمګړتیـاوې لری چې مونږ دنیمګړتیاوو دلرې کولو په پرتله دا کتاب مخکی پـه دری ژبه او اوس په پښتو ژبه بیاځلې چاپ کول غوره وګڼل.

په داسې شرایطوکې د امریکا د امپریـالیزم او بنسـټپالی او غیربنسټپالی سپو ترو لکی لاندې دمارکسیست لنینسـتانو پخـوانی نسـل ډلـه ډلـه د ارتـداد، دخیانتـه ډکـې سیاسـی بـدلمنی او دامپریالیزم د اړونده سپو په وړاندې خوله په خـاورو مښـلوته مخـه کـړې او ځوانـان دلیونوپـه شـان او پـه ډیـرې آسـانی د انجوګـانو او ګوډاګی دولت له خوا دمارکسیزم او هرډول انقلابـی سیاسـت ضـد ترسې (امالې) لاندې نیول کیږی، هیلـه ده د «لـه لـومړنی کمـون څخـه تـر کمـونیزم پـورې» او ددی، پـه شـان نـورو آثـارو چاپونـه دمارکسیزم-لنینیزم-ماوتسه دون اند په لارکې او دهغه دستر بیرغ داوچت ساتلو په لارکې یو کوچنی ګام وګڼل شی.

دمحسن خپرندویه
۱۳۹۰تله

Download from:aghalibrary

لومړی څپرکی

# دځمکې، ژوند او انسان پیدایښت

***دځمکې پیدایښت***

له ډېرو پخوا زمانو راهیسې، هغه وخت چې په لومړي ځل دهیأت (نجوم) نظریې منځ ته راغلې، پوهانودځمکې پیدایښت دڅرنګوالي په اړه سوچونه کول اوپه دې اړه یې ډول ډول نظریې وړکولې چې ټولو په بشپړه توګه ناسم او خیالي اړخونه درلودل. یواځې په اتلسمه پیړۍ کې کانت او لاپلاس دلومړي ځل لپاره په دې اړه نسبتاً علمي او دمنلو وړ څرګندونې وکړې. دغه پوهان په دې باور ؤ چې لمر، او ټولې هاغه سیارې چې په ګردچاپیریې راګرځي، دیوې ځلېدونکې سترې سحابي غونډۍ (وریځنۍ ستوری) څخه منځ ته راغلي دي. ددغې سترې وریځنۍغونډۍ څخه چې په بې پایې فضاکې ګرځېدله، ورو ورو په ځانګړي ډول ځینې برخې ببلې شوې چې د مرکز په شاوخوایې خپلو ګرځېدلوته دوام ورکړ.

دغوبېلوشوو ټوټو وروسته له ډېرو بدلونونو دټاکلو کُرو بڼه غوره کړې (دلمریزې منظومې سیارې) اوددغې سترې وریځنۍ غونډۍ مرکز چې په ویلې شوې او ځلېدونکې بڼې پاتې شوې ده هماغه لمردی. تر ډېرو وختو پورې دکانت او لاپلاس څرګندونې

**Download from:aghalibrary**

بشپړې ښکاریدلې، لاکن دنجوم علم او ځمکې پېژندنې په برخوکې هغو ستروپرمختګونو چې په نولسمې او په تېره بیاشلمې پېړۍ کې ترلاسه شوي انسان ته ددغو څرګندونو دناسموالي امکان ورکړ. وروسته له هغې څخه هم دځمکې دکُرې او لمریزې منظومې دنورو سیارو دپیدایښت په اړه ډېرې څرګندونې شوې دي چې هرې یوې یې په خپل وارسره نیمګړتیا وې درلودلې او سپړل یې په دې لنډ بیان کې ناشونې دی.

شوروي پوه، اتواشمیت، دځمکې د پیدایښت په اړه نوې څرګندونه وکړه. نوموړی په دې باور ؤ چې ملیاردونه کاله پخوا کله چې لمر په فضاکې ګرځېده هاغه لړې، ګرز او ګازونه یې دځان خواته راکښل چې دسیارو ترمنځ توکي یې جوړول او په پای کې له نوموړو موادوڅخه جوړې سترې وربځې ډوله غونډۍ دلمرخواوشا ونیوله. ددغې سترې غونډۍجوړوونکې ذرې هرلورته دخپلو ګرځېدلو او د بې شمیره ناخاپي پېښو په لړکې دیوبل سره ونښتلې، ورو  وروپې نورې ذرې هم ځانته راکښلې او دډېرو اوړدو وختونو په لړکې یې په ډېرو لویو ټوټو بدلون وموند او په دې ډول یې دلمریزنظام کُرې منځ ته راوړې چې پرشاوخوایې ګرځېدلو ته دوام ورکوي. ددغو کُرو له ډلې څخه یوه هم زمونږ کره، ځمکه ده چې دوه ډوله ګرځي. یوېې دلمر په شاوخوا ګرځېدل (انتقالي حرکت) چې کال ترې منځ ته راځی او بل یې دخپل لټ (محور) پر شاوخوا ګرځېدل (وضعي حرکت) چې شپه او ورځ جوړوي.

کانت او لاپلاس په دې باور ؤ چې په پیل کې دځمکې کره دویلې شوي خوړلن په بڼه وه او کله چې په کرار کرار سړه شوه پرشاوخوایې پوټکی جوړشو چې دوخت له تېرېدلو سره پرېړشو. لاکن دځمکې پېژندنې ترلاسه شوي دلیلونه په دې هکله دنورو پوهانو دڅرګندونو پخلئ کوی چې وایي ځمکه په پیل کې سړه وه.

د اشمیت دځرګندونې له مخه دځمکې کره په پیل کې سړه وه چې د دننیو رادیواکتیف کړو وړو (فعل او انفعالاتو) له امله په کرار کرار په ویلې شوې بڼې واوښته او یواځې باندینۍقشر (دځمکې پوټکی) کلک او ټینګ پاتې شویدی. خوپه هرصورت دځمکې د کُرې د وروستیو بدلونونو په اړه دپوهانو څرګندونې داسې دي چې دځمکې باندینی پوټکی کرار کرار پرېړشوی او دملیونونو کالو په لړکې دسوریو، ګونجو لکه (چُملکی) کېدلو، داورغورځوونکو ویلې شوو موادو دتویېدلو (چې دځمکې په پخوانیو پېرونو کې ډېر زیات ؤ) له امله په ورو ورو دځمکې پرمخ ډېرې لوړې ژورې جوړې شوې چې هماغه غرونه او سترې کندې دي چې وروسته یې سمندرونه منځ ته راوړل، خوپه هغې زمانې کې په دغوکندوکې لااوبه نه وې ځکه په هغه وخت کې دځمکې دتودواوبو درجه داېشېدلو اوبو دتودوخې له درجې څخه لوړه وه. خو کرار کرار دځمکې پرشاوخواکې شته آکسیجن او هایدروجن څخه اوبه منځ ته راغلې چې په زرګونو کاله یې دبخار د وربځې دډېرې سترې غونډۍ په بڼه دځمکې شاوخوا نیولې وه.

ځمکه دزرګونو کالو په ترخ کې کرار کرار سړه شوه او نوموړی بړاس (بخار) دسیل ډوله بارانونو په بڼې راتویه شواو کندې یې ډکې کړې (سیندونه او سمندرونه) او همدارنګه ډېر زیات رودونه او نهرونه یې جوړ کړل چې په خپل وارسره یې دځمکې دپوټکي په وینځلو او بدلونونوکې مرسته وکړه خو بیابه هم ډېر ځله دغه ایشېدلې اوبه دبړاس (بخار) په بڼه بدلېدلې. په پای کې، ملیونونه کاله وروسته دځمکې دهواحالات لږلږ دښه توب په لور ولاړل او ددریابونو ایشېدلې اوبه سړې شوې. کولی شو تېرې شوې خبرې داسې رالنډې کړو چې دځمکې کره لکه دشمسي

نظام دنورو سیارو په ډول، د لرې او ګرز له هغو ذرو څخه جوړه شوې ده چې په تشه (فضا) کې موجودۀ.

پوهان توانېدلي دي چې په طبیعت کې دشته ټولو موجوداتو او توکو دشننې څخه دهغه جوړوونکي مواد کشف کړي. دغه جوړوونکي مواد له هغو یوسل او څو موندل شوو بېلا بېلو مادي عناصرو پرته بل څه ندي.

ټول بوټي، ژوي یانورڅیزونه که ترشننې لاندې ونیول شي په پای کې به ددغوعناصرو له ترکیب څخه پرته بل څه نه وي. دغه عناصرلکه اکسیجن، هایدروجن، نایتروجن، او سپنه، سلفر، مس، قلعي، سرپ او نور دځمکې دټولې کُرې اونورو بېلا بېلو آسماني کُرو، لمر او نورو جوړوونکي دي. ددغو عناصرو لوستنه ۲۵۰۰ کاله پخوا پیل شوې ده. دالتون د شننه نه منونکي یعنې اتوم یوناني کلمې په مرسته دعناصرو جوړوونکې ذرې توضیح کړې. اګر که پوهېږو چې اتوم پخپله له کوچنیو ذروڅخه جوړشوی دی خو لاهم په دې باور یو چې اتوم هاغه ترټولو کوچنۍ ذره ده چې دیوه عنصرکیمیایی اوفزیکی خاصیتونه ورپورې تړلي دي.

***د ژوند پیدایښت***

د سیندونو او سمندرونو د جوړښت او ځمکې د کُرې د سړښت او د هغې د شرایطو د ښه والي نه وروسته زښت زیات بدلونونه پیښ شول چې د ډېر ستر اوښتون پیلامه وه. د سمندرونو او سیندونو اوبه د مالګو، بېلابېلو مالیکولونو او بې شمېره عناصرو نه ډکې وې. د زرګونو کلونو په موده کې دمالېکولونو او اتومونو له ترکیب نه دمادې ډېر راز راز او پېچلي ډولونه منځ ته راغلل. په پای کې ددې مادو وروستنیوبدلونونو، د

مادې پېچلې بڼې منځ ته راوړې چې د نوو ځانګړتیا وو، لکه د خوځښت، تغذیې (جذب او دفع)، تنفس او د بڼې زیږول (تولید مثل)، لرونکي ؤ. د پېچلې مادې دغې نوې بڼې ته له هغو ځانګړتیاوو سره چې یادونه یې وشوه په اصطلاح کې «ژوند» وایي چې په لومړي سر کې په ډېره ساده او لومړنۍ بڼه یعنې د یو یوژوندینکو (حجروي) موجوداتو په بڼه ؤ.

په دې اساس هغه لومړني ژوي چې په سیندونو او سمندرو کې منځ ته راغلل بدن یې یوازې له یوې حجرې (ژونکې) څخه جوړ شوئ ؤ. ژوندینکه (حجره) د ګیاوو او ژوندیو موجوداتو دجوړښت واحد دی. د ساري په توګه د انسان بدن د ملیاردونو ژوندینکو (حجرو) له یوځایښت څخه جوړ شوی دی او یوه وړه ګیاه هم په خپل جوړښت کې په زرګونو ژونکې (حجرې) لری. په دې ډول د «ژوند» ډېره لومړنۍ بڼه لومړی په او بو کې پیل شوه. د زرګونو کالو پرمختیا او بشپړتیا وروسته له دغو یوکوره کی (یوحجروي) ژوو څخه نور ژوي د پیدایښت ډګر ته راووتل چې بدنونه یې له ډېرو ژوندینکو (حجرو) څخه جوړ شوي ؤ لکه چینجي چې په بیالوژی کې د ډېر کوره کي (چندین حجروی ) نوم ورکړ شوی دی، او وروسته بیا دغو ډېرکوره کي ژوو د خپل چاپېریال او شرایطو (رڼا، تودوخه، د اوبو فشار او نورو) په پرتله زښت راز راز ډولونه او بڼې ځانته غوره کړې. ډېر دغه ژوي چه منځ ته راتلل د چاپېریال سره د نه سازښت او ځواکمنۍ د نشتوالي له کبله له منځه تلل. او هم د ډېرو په بدنونو کې بدلونونه منځ ته راتلل او په یو کیفي ټوپ سره به یې نوي ډولونه پیدا کېدل. چې د خپل ژوند د نوو شرایطو سره یې ځانونه سمولی شول. په دې ډول راز راز چنګابښ، په خیټې کې پښې لرونکی، بېلابېل پاسته بدني ژوی، په پښوکې بند لرونکی لکه لړمان او نور

منځ ته راغلل. په پای کې د کبانو او ملاتیر لرونکو ( مهره داران) لومړني ډولونه د ژوند ډګر ته راووتل. په وچه کې هم د شرایطو سره سم د ګیاوو لومړني ډولونه د شومبړی یا اوبړی په بڼه او یو کوره کي (یوحجروی) او ډېرکوره کي (ډېرحجروي) ګیاوو ډېر ساده ډولونه منځ ته راغلل او بشپړتیا یې وکړه. د سیندونو او سمندرونو په ډکېدو سره ورو ورو ځینو ژوو چې په اوبو کې یې پوره خواړه نه موندل د سیندغاړې خوا ته مخه کړه او دې چار، چې په لومړي سر کې یې ناڅاپي اړخ درلود، د وخت په تېرېدلو سره د ژوو نوي ډولونه منځ ته راوړل، چې هم یې په اوبو کې ژوند کولی شو او هم په وچه کې (دوه ژوندی). ځینو دغو ژوو په وچه کې د ښو شرایطو په موندلو سره د سیندونو چاپېریال یومخ پرېښود.

د ژوند په نوو شرایطو کې، ژوو په چټکتیا سره د پراختیا او بشپړتیا په لور مخه کړه او زښت زیات ډولونه یې منځ ته راغلل چې ډېری یې ژوند ته د دوام ورکولو د بشپړو شرایطو د نشتوالي له کبله پوپنا شول او هغوی چې د بدن بدلون یې نوو شرایطو سره جوړښت کاوه، خپل شتون ته دوام ورکړ. په پای کې د ذومعیشتینو (دوه ژوندو) له ودې څخه د ښېدونکو (خزندګانو) او الوتونکو (لومړیو حشراتو او نورو) ډولونه منځ ته راغلل. د وچې مخ د ځنګلونو په ډېرو ګڼو سیمو کې ګیاؤ او بیلابیلو ژوو ونیو چې پخپله د زرګونو بدلونونو او اوښتونونو سره مخ ؤ. داسې بدلونونه چې په پای کې یې د ژوو نوی او نسبتأپرمخ تللي ډولونه منځ ته راوړل چې (تي لرونکي) ؤ. په دې ډول زښت زیات ژوي چې اوس هېڅ ورته والی سره نلري، په اصل کې د یو ګډ نیکه لرونکي دي چې له یوې چینې یعنې د یوې ژونکې له بشپړتیا څخه منځ ته راغلي دي. نو په لنډ ډول د یو ژونکو له تکامل څخه ډېرکوره کی

(پاسته بدني یعنې چینجیان) او پاستو بدنو له ودې څخه کلک پوټکي (حلزون، چنګابښ او نور) او په پای کې شمزې (ملاتیر) لرونکی (کبان) منځ ته راغلل.

د دغو ژوو د بشپړتیا له دوام نه دوه ژوندی او خزندګان او په پای کې الوتونکي او تي لرونکي پیدا شول او د تي لرونکو د یوې ډلې له ودې نه لومړني شادوګان منځ ته راغلل چې د دوی د زرګونو کالو بشپړتیاله امله په پای کې انسان وزمه شادوګان د شتون ډګر ته راووتل.

اوس بده نه ده دا پوښتنه وکړو چې آیا مونږداسې دلایل لرو چې وکولی شو په ځمکه کې د لومړني ژوند د بڼو د پیدایښت او څرنګوالي واقعیت او د هغه د بدلون او او ښتونونو اوږد تاریخ په سمه توګه وپېژنو؟ هو، د ځمکې پېژندنې ډېر ډاډمنه لاسوندی (مدارک) شته چې هغو ته فسیل وایي.

فسیل څه شی دی؟: ښه پوهېږو هغه بېلابېل ژوي چې په سیندونو او سمندرونو کې ژوند کوي او راز راز ګیاوې چې پر ځمکه یا سیندونو کې ټوکیږي دخپل ژوند له ختمېدو نه وروسته د اوبو له بهیر سره په سیندونو، سمندرونو او د ځمکې په کندو او ژورو کې غورځیږي او ورو ورو ختې، چقړې او خاورې یې پټوې. دهغوی پستې برخې په کراره کراره له مینځه ځي خو کلکې برخې یې په زرګونو کاله د دغو ختو او چقړو لاندې خوندي پاتې کېږي او ورو ورو په ډبرو بدلیږي او د ګیاؤ پاتې شوني هم په سکرو اوړي. په دې ډول د ژوو ډبرو شوو پاتې شونو او د ګیاوو سکرو شوو ته فسیل وایي. پوهان د دغو فسیلونو له ډولونو او هغو خاورو اوختو طبقې د پنډوالي څخه چې ددغو فسیلونو مخ یې نیولی کولی شي دهغوی د تاریخ اټکل وکړي او هم هغه بدلونونه چې په زرګونو زره کاله د ځمکې دکُرې په پوټکي او موجوداتو کې

تېر شوي په ښه توګه انځور کړي. پوهانو د فسیلونو په کتنې سره د ځمکې په پوټکي کې د راغلو بدلونونو ډېر اوږد تاریخ په بېلابېلو دورو، مرحلو او پړاوو باندې وېشلی دی چې د ځمکې پېژندنې په کتابونو کې یې په مفصله توګه لوستلی شو.

### د انسان پیدایښت

د ژوند پیدایښت او د هغه بشپړتیایي خوځښت ته په پام سره داروین او نورو پوهانو ثابته کړې ده چې انسان هم د نورو ټولو ژوو په څیر د ځان نه دټیټ یو ژوی یعنې انسان وزمه شادوګانو څخه چې د نورو ټولو ژووڅخه یې ډېره وده موندلې وه، منځ ته راغلئ دئ. ډیر دلایل شته چې د نورو ژوو او په تېره بیا، شادوګانو سره د انسان خپلولي ثابته او انسان یو راز بشپړتیا موندونکی ژوی وښیي. د انسان بدن په ټول جوړښت کې له ډېرو اړخونو لکه لاسو، پښو، سترګو، سر، د هاضمې جهاز، د وینې دوران، تنفس، د بدن ثابتې تودوخې او لنډه دا چې د ټولو ژوو په تېره بیا تي لرونکو ژوو له دغې جملې نه شادو سره د دووسوو نه لا زیات نور ګډ وجوهات لري. دشادوګانو ظاهري جوړښت، حجروي ورته والی له انسان سره او نور ګډ اړخونه لکه د امیدوارۍ دوران، د وینې جوړښت، ان په شادوګانو کې ځینې شته عواطف (لکه ژړا، خندا، د ژووپه وړاندې یو له بله دوه اړخیزملاتړ او نور) د شادو نه د انسان بشپړتیایي فرضیه ورځ په ورځ لا پسې ځواکمنه کړه.

د داروین د مکتب پلوي پوهانو (داروینستانو) په تېره بیا د شوروي اتحاد ژوند پېژندونکو د دې علمي حقیقت د اثبات لپاره دېرې هڅې کړې دي. دوی د ځمکې په مختلفو طبقاتو کې د کیندنو او پلټنو په لړ کې بریالي شول د فسیل د هډوکو هغه برخه چې د انسان او دهغه د نیکونو شادوګانو په منځ کې بېلېدونکې

پوله ده او ترڅو مودې وړاندې لا نه وه ښکاره شوې، بیا مومي (ومومی). په دې ډول د داروین د ورکې شوې کړۍ په هکله (دهډوکو یوه برخه چې د انسان وزمه شادوګانو د هډوکودلړۍاو انسان تر منځ لا تر اوسه نه وه ښکاره شوې او د داروین د ورکې شوې کړۍ په نوم یاده شوې ده) د داروینیزم د مخالفینو تش په نوم جوړ کړۍ شور او ځوږ بې اغیزې کړی شو. البته باید وپوهیږو چې اوسني انسان وزمه شادوګان د انسان نژدې نیکونه ندي بلکه انسانان او دا شادوګان د ګډو نیکونو لرونکي او له یوې تنې نه بېلې شوې څانګې دي. نن ورځ که د انسان وزمه شادوګانو هډوکي او بیا د بېلبېدونکې کربښې شادوګانو هډوکي او ورپسې د شادو وزمه انسان او په پای کې د نني انسانانو هډوکي په ترتیب سره یو خوا په خوا کېږدو په ښه توګه به هغه بدلونونه د خپلو سترګو په وړاندې انځور کړو چې په سلګونوزروکالو کې منځ ته راغلي او په پای کې د نني انسان په پیدایښت سره سرته رسېدلي دي. اوس انسان ته د انسان وزمه شادوګانو د کرارکرار تکامل بهیر په لنډ ډول تر ژورې څېړنې لاندې نیسو.

انسان وزمه شادوګان (د انسان نیکونه): اټکلن څو ملیونه کاله پخوا د ودې موندلو شادوګانو ډلګۍ یعنې د لومړني انسانانو نیکونو، شتون درلود. دغو انسان وزمه شادوګانو، ونو ته د ختلو په وخت کې نېغه ښه نیوله. د دوی د مړوندونو (مچ دست) هډوکو ورو ورو د داسې خوځښتونو سره عادت وکړ چې توکي به یې پرې نیولی شول. وروسته بیا دشرایطو په بدلون سره ورو ورو دغه ډلګۍ اړې وې چې د ونو نه راکوزې شي او د ځمکې پر مخ نوئ ژوند پیل کړي. لږ لږ نېغ ودرېدل او سم په لاره تلل یې عادت شول. او کولئ یې شول په بشپړه توګه خپل لاسونه د توکو اوچتولو، د خوړو راټولولو او ځان نه دساتنې او غلیمانو سره د

مبارزې لپاره په کار واچوي. د دوی د لویو ځانګړتیاوو څخه یوه په لاره د نېغ تګ سره جوخت د سر د کوپړۍ (جمجمې) چټکه وده وه. دا راز د انسان تر ټولو نږدې نیکونو یعنې انسان وزمه شادوګانو لا زیاته پراختیا او بشپړتیا و موندله.

د انسان په منځ ته راتګ کې دکاراغېز (اوزار جوړول، فکر کول، خبرې کول، د اور څخه ګټه اخیستل): انګلز، د انسان وزمه شادوګانو د کیفي بدلون اساسي علت او په پایله کې د انسان د پیدایښت، د ورو ورو ودې بېلابېل پړاوونه کشف کړي دي. ده د لومړي ځل لپاره دې حقیقت ته پام وکړ چې هغه څه چې انسان یې د ژوو له نړۍ نه بېل کړئ، د ده ټولنیز کار دئ. انسان وزمه شادوګانو د خوړو تیارولو، د نورو ژوو په وړاندې د دفاع کولو لپاره د طبیعي آلاتو څخه د ګټې اخیستنې په بهیر کې خپل لاسونه د لارې تللو له کړاو څخه وزګار او په کارېې واچول. د کار په پایله کې د لاسو دنده د پښو له دندې څخه ځانګړې او بېله شوه او لاسونه د کار سرته رسولو دپاره ځانګړي شول او په هغوی کې ورو ورو مهارت، ځواکمني او هم غبرګي پیدا شوه. کار، د نېغ دریدلو وضعیت او په لاره تګ د نورو بدلونونو سره جوخت د بدن د نورو غړو لکه دماغزو، تنفسي نظام، حنجرې، ستوني او نورو د پرمختیا او بشپړتیا لامل شو.

اوزار جوړونه: د لومړیو انسانانو نیکونو په لومړي سر کې د خپلو اړتیاوو پوره کولو د پاره د طبیعي آلاتو او اوزارو لکه لرګي، ډبرې او هډوکي څخه چې په واک کې یې لرل ګټه اخیستله. په ډېره اوږده موده کې د دغو اوزارو او آلاتو څخه منظمه او پرله پسې ګټه اخیستنه، د هغو بدلونونو سره جوخت چې پورته یې یادونه وشوه، سبب شوه چې دانسانانونیکونه ورو ورو په دغو اوزار او آلاتو کې بدلون راولي او د بېلابېلو چارو سرته رسولو لپاره یې

چمتو کړي. د ساري په توګه لومړی یې هغه ډبره چې لاس کې نیول یې آسان ؤ، بیا موندله او په بله ډبره یې ورله څنډه تېره کوله، او دهغې د تېرې څنډې نه به یې د غوښې پرېکولو، د هډوکي ماتولو او کوتک جوړولو یا د لرګي د څوکې تیره کولو لپاره ګټه اخیستله. په دې ډول ؤ چې زمونږ نیکونو اوزار جوړول پیل کړل. د کار د وسایلو جوړولو ځواکمني هغه بنسټیز توپیر دی چې د انسانانو نیکونو د ژوو سره درلود. دوی د کار د وسایلو په جوړولو سره بیا هم د ژوو څخه لا ځانګړي او بېل شول او ورځ په ورځ یې هغې ته پراختیا او بشپړتیا ورکړه ترڅو نننی لوړ کیفیت ته ورسېدل.

تفکر (فکرکول): د شادوګانو عصبي دستګاه یعنې دماغ او اعصابو لړی د نورو ژوو نه لا زیاته وده کړې وه. د ځانګړو بشپړتیایي شرایطو پر بنسټ او په تېره بیا دا چې انسان وزمه شادوګان د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره د پوره طبیعي آلاتو د لرلو څخه بې برخې ؤ، دې ته اړ شول چې خپل دماغ لا زیات په کار واچوی. له دې کبله د شادوګانو په یوه څانګه کې د عصبي دستګاه بشپړتیا لا چټکه سر ته ورسېده. د طبیعي قانون پر بنسټ چې د هر یو غړي په کار اچول د هغه د لا زیاتې بشپړتیا لامل ګرځي، انسان وزمه شادوګانو د خپل بدن د دغه زښت ځواکمن غړي څخه د اړتیا پر اساس زیاته ګټه اخیستله نوځکه دعصبي دستګاه لا زیات په کار اچول د دغو شادوګانو په یوه څانګه کې بیا هم د وروستنۍ لا زیاتې بشپړتیا لامل شو. تر ټولو مهمو عواملو له جملې څخه چې د دې بشپړتیایي بهیر سره یې مرسته وکړه د انسان وزمه شادوګانو د ژوندانه او ډله ایز کار په بهیر کې د طبیعي اوزارو او آلاتو څخه ګټه اخیستل ؤ. انسان وزمه شادوګانو د طبیعي اوزارو او آلاتو څخه په ګټې اخیستنې سره لرلړ وکولی

شول چې ځينې ژوي ښکار کړی او غوښه يې په خپل مخکني خوراک توکو باندې چې وابښه، د الوتونکو هګۍ او نور ؤ ورزيات کړی. د غوښې رژيم د بدن، په تېره بيا دماغ لپاره، په زړه پورې غذابرابره او دلا بشپړتيا سره يې مرسته وکړه. د انسان د نيکونو دماغ د خپل چاپيريال د ښکارندو (پديدو) او توکو د اغيزو راټولولو او دغو اغېزو ته د ارتباط اوعامتيا ورکولو او د اوږدو پېړيو په موده کې د لا زياتو تجربو د زېرمه کولو په پايله کې، يو ځانګړی کيفيت وموند چې وتوانېد د خپل چاپېريال له نړۍ نه لا زياته پوهه لاسته راوړي او د خپلو کړو په اړه اټکل وکړي. دماغزو وده او بشپړتيا د انسان د نيکونو د کار پراختيا او بشپړتيا سره مل وه. کار، نه يوازې اندامونه او دغې جملې نه لاسو ته بشپړتيا ورکوله بلکه د ماغزو دستګاه ته يې هم بشپړتيا او ځواکمنتيا وربخښله ترڅو په انساني پړاو کې دپوهې او ټاکلې موخې له مخې کار وکړی. دې نوي کيفيت چې سوچ (تفکر) نومېږي د انسان د ژوندانه په وروستيو بشپړتيايي پړاوونو کې ډېر لوی اغيز درلود او لري يې.

تکلم (خبرې اترې): انساني منظمې خبرې اترې د کار په بهير کې منځ ته راغلې دی. کار، تل يو ټولنيز فعاليت ؤ. هېڅ انسان نشو کولی او نه به وکړی شي په يوازې توګه کار کولو سره او خپل ژوند ته دوام ورکړي. د انسان نيکونه د کار (د ښکار، د مېوو او د الوتونکو د هګيو او نورو خوراکي توکو د راټولولو، طبيعي عواملو د داړونکو ژوو سره د مبارزې کولو او داسې نورو) په بهير کې اړشول چې يو له بل سره خبرې اترې وکړي. په لومړي سر کې يې د ژوو په شان د خپلو حنجرو نه آوازونه راايستل. د کار په بهير کې د دغو آوازونو زښت تکرار لږه لږه يوه ځانګړې بڼه ونيوله او د هغوي له ترکيب څخه د وخت په تېرېدو سره کلمې منځ ته راغلې چې د هغوی په مرسته يې کولی شول خپله موخه په ښه توګه

بیان کړي. دغه کلمې چې د هر عمل یا توکي لپاره په ځانګړې بڼه منځ ته راتلې یاد ته سپارل کېدلې. دغه چار په خپل وار سره د حنجرې او ستوني د جوړښت له بدلونونو سره مل ؤ او ورځ په ورځ یې لا بشپړتیا موندله، ترڅو په انساني پړاو کې د خبروکولو منظمې بڼې کیفیت منځ ته راوړي. خبرې کول د کار په بهیر کې د انسان دکړوووړو له ورو ورو هم غږي کولو سره مرسته وکړه چې یو بل ته او راتلونکو نسلونو ته د انسانانو د تجربو د لېږد د پاره یو مهم عامل پېژندل شویدی.

د اور څخه ګټه اخیستنه: د انسان نیکونه په لومړی سر کې د اور څخه وېرېدل نو ځکه به یې د اور غورځوونکو سیمو او ځنګلونو د اور اخیستنې څخه تېښته کوله. لیکن ورو ورو د تجربې په بهیر کې وپوهېدل چې کولی شي ورځنې ګټه واخلي او د داړونکو ژوو او یخني له ضرره ځان وساتي. بیایې لړلړ د غوښې په پخولو کې د اور څخه ګټه اخیستنه پیل کړه. دوی په لومړي سر کې اور تل بل ساتلو. بیا د کار په بهیر کې وپوهېدل چې یو له بل سره دځینو ډبر وا ویا د دوو ټوټو وچو لرګیو په وهلوسره کولی شي اور منځ ته راوړي. دانسان نیکونو د اور په کار ولو د طریقې په زده کولو سره بیا هم له ژوو څخه لا توپیر وموند.

په دې ډول دا پایله ترلاسه کېږی چې د شادوګانو بشپړتیا یی بهیر، په بدني جوړښت کې داسې بدلونونه منځ ته راغلل لکه نېغ په لاره تلل، د سر د کوپړی چتکه وده، د لاسو وزګارېدل او د کار لپاره له هغو څخه ګټه اخیستل. د ملیونونو کالو په موده کې، دغو بدلونو نو چې دملیونونو کالو په لړکې را منځ ته شول، خپله ځانګه د نورو شادوګانو څخه ببله کړه. کار هغه بنسټیز عامل دئ چې بیایې هم له دغو بدلونونو سره مرسته وکړه. د کار په بهیر کې اوزار جوړونه، فکرکول، خبرې کول او له اور

څخه ګټه اخیستنه او داسې نور د دې سبب شول چې انسان وزمه شادوګان، چې د ډلو په بڼه يې يو له بل څخه جلا ژوند کاوه، په خپل پراختیايي او بشپړتیايي بهیر کې د پورتنیو بدلونونو سره جوخت، نیمه ټولنیز پړاوونه یو په بل پسې ووهي او په پای کې د بشپړ ټولنیز انسان پړاو کې پل کېږدي. په دې توګه د لومړنیو انساني ټولنو د پیدایښت سره جوخت د تولید لومړنۍ طریقه هم ډګر ته راووتله.

ددې فصل په شاوخوا کې د پراخې مطالعې لپاره ملګري کولی شي د لاندې کتابونو څخه ګټه واخلي :

۱-په عالم کې د ژوند پیدایښت اوخپرېدنه

۲-د انسان پیدایښت

۳-د نسلونو پیدایښت

۴- شادو څخه د انسان پیدایښت کې د کار اغېز

دویم څپرکی

# تولید

***تولید***

## د مادي ارزښتونو تولید، د ټولنې د پرمختیا او بشپړتیا اصلي عامل

د ټول تاریخ په اوږدو کې، انسانانو د بشري ټولنې د پرمختیا او بشپړتیا بنسټیزو علتونو په هکله فکرونه کړي او په دې برخې کې یې راز راز نظریې څرګندې کړې دي. ځینو، د طبیعت نه بهر ځواکونه، نورو جغرافیایي حالات یا د نفوسو زیاتوالی او په پای کې یو شمېر نورو، د اتلانو رول، دانساني ټولنې د بشپړتیا بنسټیز عامل ګڼلئ دئ.

پرطبیعت برلاسی ځواکونه: د بېلابېلو مذهبونو استازو تل دعوا کوله چې دغه ټول بدلونونه د طبیعت نه بهرځواکونو په خوښه او بنې منځ ته راځي. خو ازمیښتونو او علومو ثابته کړې ده چې د طبیعت نه بهر هېڅ ځواک نشته. یواځې طبیعت او د هغه قوانین واکمن دي او د ټولنې بدلونونه هم دخپلو ځانګړو قوانینو پر بنسټ سر ته رسېږي.

جغرافیایي شرایط: د بورژوازي (پانګوالی) ډېر پوهان باور لري چې د انساني ټولنې پرمختیا او بشپړتیا د جغرافیایي چاپېریال یعنې اوبو، هوا، خاورې، کانونو، ځنګلونو او نورو د اغېز و

معلـول دي. شـک نشـته چې جغرافيـايي چاپېريـال يعنـې هغـه طبيعت چې د انسان شاو خوايې نيولې د انسان د ژوند لپاره اړيـن شرط دی خو د ټولنې د پرمختيا او بشپړتيا ټاکونکی عامـل نـدی. څکه د ساري په توګه د اروپا په لوېديز کې د دريو زرو کالو په مـوده کې ټولنيز نظام درې وارې او د اروپا په مرکز او ختيځ کې ان څلور وارې بدلون موندلی دی په داسې حال کې چې د دغې لويې و چې جغرافيـــايي بدلونونـــه دومـــره نامحسوســـه دي چـــې جغرافيـــه پېژندونکي يې په شمېر کې هم نه راولي. اوډېرليدل شوي دي چې په يوهېوادکې پـر تـه لـه دې چې جغرافيـايي لـوی بـدلون مـنځ تـه راشي ټولنيز سـتر بدلونونـه پـېښ شـوي دي لکـه د فيـوډالي چـين بـدلون پـه سوسياليسـتي چـين بانـدې، پـه داسـې حـال کـې چـې جغرافيـايي بـدلون پـه دې هېـواد کـې نـدی راغلـی. پـه دې اسـاس جغرافيـايي شـرايط د ټـولنې د پرمختيـا او بشـپړتيا بنسـټيز عامـل کېدای نشي.

<u>د نفوسـو رول</u>: د ټـولنې شـتون د انسـاني وګـړو د ټـاکلې کچې پرته ممکن ندی. داسې چې، که په يوه سـيمه کـې د انسـاني وګړو شمېر دومره نه وي چې يو د بل په مرسته خپـل کـار او ژونـد ته دوام ورکړي، يوه ټولنه منځ ته نه راځي. خو د دې چـار نـه بايـد دا پايله وانه اخيستل شي چې د نفوسـو ګڼـوالی د ټـولنې د بـدلون اساسي عامل دئ. څکه داسې ډېر هېوادونه شته دي چې لږ او ډېر ورته نفوس لري لکه امريکا او شوروي، خو پـه بېلابېلـو بشـپړتيايي پړاوونو کې دي. داسې هېوادونه هم شته چې نفـوس يـې لـږ خـو د ډېر نفوس لرونکو هېوادونو نه پرمختللي دي لکـه شـمالي کوريـا او البانيا چې نفوس يې د هندوستان دنفوس په پرتلـه لـږدی. نـو بيـا نفـوس او دهغـه ګڼـوالی د ټـولنې د پرمختيـا او بشـپړتيا د بـدلون بنسټيز عامل نشی ګڼل کيدلی.

د اتلانـو رول: ځینـې هـم د ټـولنې پرمختیـا او بشـپړتیا یوازې د وتلو شخصیتونو (اتلانو، سترو سردارانو او داسې نـورو) د ارادې معلول ګڼي. څنګه چې تاریخي تجربې او علـم ثـابتوي دغـه شخصیتونه په رښتیا سره کولای شي تاریخي یـون ګړنـدی کـړي - لکه په شوروي اتحاد کې لنین - او یا یې د ځنډ سره مخامخ کـړي - لکه په آلمان کې هټلر، په ایران کې خاین پاچـا- خـو هـېڅ کلـه د ټولنې د پرمختیا او بشپړتیا یون ته بدلون نشي ورکولی.

نو بیا د ټولنې د پرمختیا او بشپړتیا اصلي عامل څه دی؟ مارکس لومړنی کس ؤ چې د ټـولنې د پرمختیـا او بشـپړتیا بنسـټیز عامل یې کشف او ثابت کړ چې د مادي نعماتو تولید او بدلونونـه ، دبشـري ټولنـو د بـدلونونو، پرمختیـا او بشـپړتیا اصـلي عامـل دی. مارکس وایي، انسانان د دې لپاره چې خپل ژونـد تـه دوام ورکـړي لازمه ده خواړه، پوښاک، کور او دژوندانه نور مادي وسایل په واک کې ولـري او د دغـو وسـایلو لاس تـه راوړلـو لپـاره بایـد دی، هغـه تولید کړي. دوی باید کار وکړي ځکه هغه ټولنه چې خپل تولیـد و ځنډوي له منځه ځي. له دې کبله انسانان اړ دي د خپلو اړتیاوو د پوره کولـو لپـاره، هغـه تولیـد کـړي. د دې د پـاره چـې وکـولی شي تولید وکړي بایده دي دغه وسایل ولري او هم هغه په کار واچـولی شي. د دې تولید په بهیر کې انسانان په ډله ایزه توګه کـار کولـو تـه اړ دي ځکه هېڅ انسان نشي کولی خپلې اړتیـاوې یـوازې پـه خپلـه پوره کړي او له دې کبله (د ډله ایز کار او دکار دوېش په بهیر کې) یو له بل سره په یو راز ټاکلو اړیکـو کـې ورننـوزي. انسـانان د خپـل ډله ایز تولید په بهیـر کـې پـه پرلـه پسـې توګـه د کـار اوزارو او خپلـو تجربو ته وده ورکوي او تل پـر طبیعـت او هـم یـو پـر بـل بانـدې لا زیـاتې اغبـزې پربـردي. لـه دې املـه تولیـد د هرڅـه نـه مخکـې د انسـانانو د کاروسـایل پـه پرلـه پسـې توګـه د ودې پرخـوا بیـایی او

ورسره انساني ټولنه هم خامخا وده مومي. په دې اساس، د مادي نعماتو تولید د ټولنیز ژوند بنسټ او دهغه د بدلونونو، پراختیا او بشپړتیا بنسټیز عامل دی.

### *تولید څه ته وایي؟*

تولید: تولید په لنډه توګه، د انسان د فعالیتونو ټولګه یا مجموعه ده چې د طبیعت څخه یې د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره، د کار د اوزارو او خپلو تجربو په مرسته،سرته رسوي. تولید دوه اړخونه یا دوه خواوې لري چې په بشپړه توګه یو تر بله تړلې او مربوطې دي. او دا دواړه مولده ځواکونه او تولیدي اړیکې دي.

مولده ځواکونه دادي: ۱- د تولید د وسایلو ټولګه ۲- انسانان چې د خپلو تجربو په مرسته دغه وسایل په خوځښت راولي او خپلې اړتیاوې پرې پوره کوي.

۱- د تولید وسایل: پخپله د دوه برخو څخه جوړ دي : لومړی د کار وسایل چې عبارت دي له ماشین آلاتو، لوازمو، اسبابونو، اوزارو، هغو ودانیو څخه چې په تولید کې ورنه ګټه اخیستل کیږي، د لیږدرالیږد (حمل ونقل) وسایلو، ارتباطي وسایلو، لارو، ځمکو او داسې نورو او د ټولو نه مهم د کار اوزارو څخه. ځکه چې په تولید کې د انسانانو ځواک، د کار د اوزارو په ډول پورې تړلی دی چې په واک کې یې لري. دوهم دکار موادچې عبارت دي له هغو ټولو توکو څخه چې انسان پکې د کار د وسایلو په مرسته بدلون راولي اوپه دې توګه د خپلې خوښې تولید منځ ته راوړي، لکه اومه مواد، لومړني مواد او داسې نور. د ساري په توګه انسانان د پنبې (خامو موادو) څخه د ماشین آلاتو په مرسته سپنسي جوړوي اویا د سپنسي (لومړنی مادې) نه ټوکر او بې. دلته پنبه اوسپنسي دکار مواد دي.

۲- انسان: د خپل کار د ځواک په مرسته د تولید او د کار د وسایلو او اوزارو برابرلو اصلي عامل دی. (د کار لپاره د انسان استعداد اود فکري او جسمي ځواک ټولګه، دانسان دکارځواک بلل کیږي) .

تولیدي اړیکې: وګړي، په ځانګړي او جلاجلا کار سره د مادي ارزښتونو په تولید لاس نه پورې کوي بلکه دغه چار د ټولنیزو بېلابېلو ډلو په بڼه په ډله ایز کار سره سرته رسوي. د ساري په توګه د څپلو جوړولو یوه نوې کارخانه په پام کې ونیسی، دلته یو شمېر وګړي یو د بل په مرسته د پلورتوکو په تولید یعنې څپلو جوړولو په چارو بوخت دي، په سلګونو او کله په زرګونو نور وګړي ددغې کارخانې لپاره د ماشین آلاتو، څرمنو، سپڼسیو او ستنو د تیارولو په چارولګیا دي. پلانئ بزګر په خپلې وړې کروندې کې هم د خپل چاپیریال له نړی نه بېل په یوازې سر تولید یعنې کر کیله نشي کولای، نوموړی بزګر یوې یا تراکتور ته اړتیا لري چې د صنعتګر په لاس یا په یوه کارخانه کې جوړېږي، دئ دغه راز مالګې، اورلګیت، صابون او نورو ته اړ دی چې دنورووګړوپه وسیله منځ ته راځي. په پایله کې ګوروچې وګړي د مادي ارزښتونو د تولید په بهیر کې عملأ یو د بل سره یو ډول متحداوتړلي دي. په دې اساس، تولیدي اړیکې، د تولید په بهیر کې یو تر بله د وګړو ټولنیزې اړیکې دي. (دغو تولیدي اړیکو ته اقتصادي اړیکې هم وایي).


تولیدي اړیکې له دریو یو تر بله تړلو او مربوطوبرخوڅخه جوړېږي. په دې ډول: ۱- د تولید د وسایلو د مالکیت بڼه؛ ۲- په تولید کې د طبقاتو او ډلو موقعیت؛ ۳- د تولید شوو مادي ارزښتونو د تقسیم او وېش بڼه.

۱- د تولیدی وسایلو د مالکیت بڼه: کېدای شي چې د تولید په بهیر کې د وګړو اړیکې د دوه اړخیزې همکارۍ او مرستې په بڼه وي، داسې چې هیڅ یو سړی، د بل سړي زبېښناک و نه کړي. او یا د یو وګړي څخه د بل وګړي د زبېښناک په بڼه وي. دغه دواړه په دې پورې اړه لري چې څوک د تولید د وسایلو څښتن دی. که چیرې د تولیدوسایل دټولنې په ټولووګړوپورې اړه ولري په دې صورت کې د انسان زبېښناک د انسان په وسیله نشته، او په داسې حال کې چې دغه وسایل په ټولو پورې اړه ونلري، بلکه په یو شمېریا ټاکلې ډلې پورې اړه ولري داسې اړیکې ټینګېږي چې د تولید د وسایلو لرونکي نورخلک په کار اچوي او د دوی د لاس ګټه لوټوي. له دې کبله چې کارګران په پانګواله ټولنه کې د تولید د وسایلو نه بې برخې دي په پانګوال باندې د خپل کار ځواک له پلورلو (استثمارکیدلو) پرته بله لارنلري. په داسې حال کې چې په کمونیزم کې د تولید وسایل په ټولو پورې اړه لري نوځکه د انسان څخه د انسان زبېښناک به بالکل موجود نه وي.

۲- په تولید کې د ټولنیزو ډلو او طبقاتو ځای: د تولید د وسایلو د مالکیت بڼه ، د تولید په بهیر کې د وګروځای ټاکي. په داسې حال کې چې خصوصي مالکیت شتون ولري، د وګړو یو ټاکلی شمېر د تولید د وسایلولرونکي وي اوپه وړاندې یې یوزیات شمېر د تولید وسایلو نه بې برخې دي. دې چار په پایله کې د ټولنې وګړي په بېلابېلو ډلو او طبقو باندې چې هریو یې ټاکلی موقعیت لري، وېشل کیږي. د ساري په ډول، پانګواله ټولنه کې کارګران د تولید د وسایلو نه بې برخې او د ټولنې د مادي ارزښتونو د تولید اصلي عامل دی. خو پانګوال د وسایلو څښتنان دي، تولید په خپل لاس کې نیسي او واکمني کوي.

۳- د مـادي ارزښـتنو د ورکـړې او وېـش بڼـه: څنګـه چې مومخکې وویلې، د تولید د وسـایلو د مالکیـت څرنګـوالی پـه تولیـد کې د وګړو ځای (مقام) ټاکی. د تولید شوؤ توکو د ویش بڼه هم د تولید د وسایلو د مالکیت له څرنګوالي نه منځ تـه راځـي. د سـاري په توګه پانګواله ټولنه کې، چې پـانګوال د وسـایلو خاونـدان دي، د کارګرانو په لاس ټول تولید شوی توکي ځان ته اخلي په داسې حال کې چې کارګران له دې امله چې د تولید وسایل نلري ډېرئ یې په لوږه او نیستي کې ژوند کوي. په کمونیستي ټولنه کې چې د تولید وسایل په ټولو خلکو پورې اړه لري د ټولنې ټول غړي کولی شـي د خپلې اړتیا سره سم د تولید شـو و توکـو څخـه ګټـه واخلـي. څنګـه چې پـه ټـولنیزو بېلابېلـو رژیمونـو کې د مالکیـت ډولونـه یوتربلـه توپیرلری، نو په دې اسـاس دټـولنې د وګـړو او ډلـو پـه مـنځ کې د مـادي ارزښـتونو او ټـولنیزو شـتمینو ورکـړه او ویـش هـم بېلابېـل ډولونه لري.

د تولید بڼه یا طریقه: مولده ځواکونو او تولیدي اړیکو تـه یو ځای د تولید طریقه وایي چې لنډیز یې داسې انځورولی شو:




بېخبنا او مخبنا: وموویل، وګړي دتولید کولو دپاره اړ دي چې یو تر بله ټاکلې اړیکې اومناسبات ټینګ کړي چې دغولړیکو ته تولیدي اړیکې وایي. تولیدي اړیکې د ټولنیز رژیم تا داو او بنسټ جوړوی چې په اصطلاح کې بېخبنانومیږي. هغه څه چې د دغې بېخبنا پرمخ ځای نیسي مخبنا بلل کیږي چې سیاسي، حقوقي، اخلاقي، ښکلا پېژندنه، مذهبي، فلسفي نظریات او افکار او هم په هغو پورې اړونده سازما نونه او موسسات پکښې شامل دي، لکه دولتي دستګاه، اداري سازمانونه، پوهنتونونه. . . او داسې نور. د

ټولنې د مولده ځواکونود بشپړتیا سره یو ځای هرومرو بېخبنا او مخبنا دواړه بدلون مومي.

فرماسیون یا اقتصادي- ټولنیزه بڼه: د مادي ارزښتونو د تولید طریقه چې د مولده ځواکونو او تولیدي اړیکو له یووالي څخه منځ ته راغلې د هغې د اړونده مخبنا سره یو ځای شکل بندي یا اقتصادي - ټولنیز فرماسیون جوړوي. د بشر په ټول تاریخ کې پنځه اقتصادي- ټولنیز فرماسیونونه پېژندل شوی دی. لومړی کمون (اشتراکي ټولنه)، مریبیتوب، فیوډالیزم (ځمکوالي)، پانګوالي او کمونیزم (سوسیالیزم د کمونیزم لومړی پړاو دی). د دغو اقتصادي- ټولنیز و بڼو هره یوه یې په ځان پورې د اړوندې بېخبنا او مخبنا لرونکې ده. د ټولنې د بشپړتیا بهیر د هغې د لومړنی ساده بڼې یعنې کمون څخه پیل شوې اود لوړو بڼو پرلور بشپړتیامومي. په دې ډول چې کمون له منځه و لاړ، مریبیتوب راغی او د مریتوب په له منځه تللو سره فیوډالیزم او ورپسې پانګوالي او پای کې سوسیالیزم د شتون ډګر ته راووت. چې د کمونیزم یعنې د انساني ټولنې تر ټولو لوړې بڼې پرخوا روان دی.

دریم څپرکی

# د لومړني کمون ټولنیز نظام او دهغه پرمختیا او بشپړتیا

***د کمون جوړښتیز پړاو***

په لومړي څپرکي کې مو په لنډ ډول د انسان پیدایښت، اوزار جوړونه، خبرې او فکرکول وڅېړل او وموویل چې له دغو بدلونونو سره چې په سلګونو زره کاله یې ونیول انسان منځ ته راغی. د انسان لومړني اوزار لاسي تبرګي، تېره څوکي لرګي او کوتک ؤ. لومړنیو انسانانو له دغو اوزارو څخه د ښکار شوو ژوو د غوښو پرېکولو، د هډوکو او لرګیو ماتولو او یا دوابنو د ریښو (جرړو) را ایستلو او نورو د پاره ګټه اخیستله. په دې ډول لومړني انسانان دخپلو ساده اوزارو په مرسته زرګونو کاله طبیعت سره دمبارزې په حال کې ؤ او ورو ورو د تولید او خپل ډله ایز ژوند په بهیر کې د بشپړتیا پرخوا تلل. دغو اوزار جوړولو سره جوخت د انسان بدن او د ده د غړو هم غبرګ یو څه پرمختیا وموندله. دغه بهیر څه دپاسه نیم ملیون کاله وخت ونیواو په دې ټوله موده کې لومړنیو انسانانو د ډله ایز کار او تولید په بهیر کې خپلې بشپړتیا ته دوام ورکاوه. په دې اوږده دوران کې یو له مهمو پړاونو څخه د کنګل نیولو زمانه

وه چې نږدې سل زره کاله پخوا پیل شوه. په دې دوره کې د ځمکې شمالي نیمې کرې اوبه او هوا سخت ساړه شول او یوه لویه برخه یې، د کنګل سترو ټوټو، لاندې کړه. په دې بدلونونو کې زیاتره ګیاوې له منځه لاړې او د دغو سیمو ژوي یا له منځه ولاړل او یایې استوايي سیمو ته کډه وکړه. خو د دغو سیمو انسانانو د اور او خپلو تجربو او د کار د اوزارو نه په ګټې اخیستنې سره او نورو پاتې شوو ژوو او واښو چې طبیعي نوو شرایطو سره یې ځانونه عیار کړي ؤ وکولی شول خپل ژوند او بشپړتیا ته دوام ورکړي.

د کار طبیعي ویش: د کار د اوزارو او د وګړو د تجربو پرمختیا او په ځانګړې توګه د کار نوؤ اوزارو پیدایښت لکه سانګه (نېزه) ، غښۍ او نورو دا امکان منځ ته راوړ چې د وګړو هره ډله د تولیدي کار یوه برخه په غاړه واخلي. په دې وخت کې وګړو کولی شول د نسبتأ اوږدې مودې لپاره په یوې سیمې کې استوګن شي. له دې کبله د ښځو او نارینه ؤ او دزړو او ځوانانو تر منځ د کار طبیعي ویش منځ ته راغی. سړي چې وجود یې غښتلی ؤ او د ماشومانو ساتلو او د کور نیوچارو سر ته رسولو ته یې اړتیانلرله، ښکاریان شول. د ټولنې د غړو لپاره یې غوښه، څرمن او نورڅیزونه تیارول او ښځې دمېوو او سابو په راټولولو، د جونګړې په جوړولو او د کور په چارو بوختې وې. د پاخه عمر خاوندانو چې زیاتې تجربې یې ترلاسه کړې وې اوزارونه جوړول او ماشومانو به له درې کلنۍ نه د میندو سره په چارو کې مرسته کوله. په دي ډول د کارطبیعي ویش د جنس او عمر سره سم منځ ته راغی او دا چار په ټولنه کې د مولده ځواکونو د لا پرمختیا سبب وګرځېد. ځکه چې د کار حاصل ورکونه او د تجربې لاسته راوړنه یې زیاته کړه. په کار کې دغه ساده همکاري ورو ورو په لا مهمې همکاري

او وېش بدله شوه داسې چې ځینې کسان ورو ورودهغوچاروسرته رسولوته ځانګړي شول چې زیات مهارت یې پکې درلود.

د تېر (کلان) پیداینښت: د مولده ځواکونو بشپړتیا انسانانو ته په ټاکلو سیمو کې دمیشت کیدلو امکان ورکړ. او دغه چار سبب شو چې دځو پخوانیو ګڼ شمېره ډلو پر ځای د کورنیو نه نسبتأ ثابته ټولنه منځ ته راشي. د خپلوانو دغې ټولنې ته کلان یا تبر وایي. په دې ډول لومړنۍ انساني ټولنې ( لومړنی کمون) ځانګړې بڼه غوره کړه. له دې وروسته د انساني ټولنې پرمختیا او بشپړتیا د ټولنیزو قوانینو سره سم، چې د بشري ټولنې ځانګړتیا ده، سرته رسېدلې ده. او مونږ په دې کتاب کې په وار سره بشري ټولنې په لنډه توګه لولو.

***لومړنی کمون او بشپړتیا یې***

دکمون مولده ځواکونه - د نوو اوزارو منځ ته راتګ: له ۱۴ نه تر ۱۳ زرو زیږدیز (میلاد) نه مخکې کالو په واټن کې د مولده ځواکونو بشپړتیا دوام وموند او ډبرین اوزار بشپړ شول. انسانانو د ډبرو په صیقل (سولولو) او سوري کولو سره نسبتا سپک اوزار او توکي لکه ډبرین چاقو، تبرګي، سومبه (نېزه) او نور جوړ کړل. د ساري په توګه د چخماخ ډبره یې تېره کړه د لرګي یا د هډوکي د میلې په څوکه پورې یې و نښلوله اوسومبه یا نېزه یې ورنه جوړه کړه. د دغه دوران تر ټولو لویه اختراع غشی (تیر) او لینده وه. دې وسلې، دښمنانو او وحشي یاځناورو ژوو سره په مقابله کې د انسانانو ځواک ډېر پیاوړی کړ ځکه چې دوی کولی شول د هغې په وسیله د نسبتأ لرې واټن نه دښمن ته ګوزار ورکړي.

اوس نو انسان کولی شول د خپلې اړتیا لویه برخه لکه غوښه، څرمن، د وسلې او اوزار جوړونې لومړني مواد لکه ښکر او هډوکي د ښکار څخه لاس ته راوړي. د جال، سومبې (نیزې) او د هډوکو د کونډو (چنګک) منځ ته راتګ د کب نیونې اقتصادي اهمیت پسې لا زیات کړ. د نوو اوزارو نه ګټې اخیستنې د کار ګټورتیا لاپسې زیاته کړه. انسانانو کولی شول د خپلو لومړنیو اړتیاوو څخه لږ زیات څه ترلاسه کړي. اوس یې کولای شول د ښکار نه ترلاسه شووڅېزونو څخه یوه اندازه، د سختو، وریښت ناکو او سړو ورځو لپاره، وساتي. د ختو او لرګیو د لوښو منځ ته راتګ د زیاتې مودې د پاره د خوړو زېرمه کولو او پخولوامکان برابرکړ. دې تولو، انسانانو ته په یوې سیمه کې دلا اوږدې مودې دپاره دپاتې کیدلو امکان برابر کړ. ځکه یې د لرګیو څېزونو او نورو نه د کورونو په جوړولو پیل وکړ او ورو ورو یې کډوالي پرېښوده.

د کرکیلې پیدایښت: هغه قبیلې چې په حاصل ورکوونکو سیمو کې اوسېدلې د خوراکي نباتاتو څخه د ګټې اخیستنې په بهیر کې پوه شوې چې کولی شي دغه نباتات وکري. جوته ده چې دغه کار په لومړي سر کې زیاتره د ښځو په وسیله چې په قبیله کې به پاتې کېدلې او دنده یې د سابو او میوو راټولول ؤ، سرته رسېده. انسانانو لومړی د ږدنو په کر لاس پورې کړ. ځکه بیکاره ګیاوې د دغه بوټي د ودې خنډ کېدلی نشول. ورپسې یې ورو ورو د جودرو، غنمو، وربشو او نور و کر زده کړ. د تجربې په بهیر کې یې زده کړ چې ګیا ه د ځمکې اړولو په صورت کې لاښه وده کوي، له دې کبله یوه (قلبه) منځ ته راغله چې په لومړي سر کې په کوږ سرو لرګیو سره چې لوغړند کول یې، سرته رسېده. وروسته یې دلرګیو په سرونو کې د چخماخ ډبرې تړلې او بېل به یې ورنه جوړاوه او د لوکولو د پاره به یې د لرګي د لور په څوکه پورې د

چخماخ وړې ډبرې نښلولې او په دې لومړنیو وسایلو سره کرکیلې بنه ونیوله.

د مالـداری پیدایښـت: د کرکیلـې پرمختیـا سـره جوخـت، مالداري هم منځ ته راغله او پراخه شوه. په دغه زمانه کې د ژوو ښکار زیاتره په دې ډول ؤ چې د ژوو رمې به یې په ډله ایزه توګه د هغې ایسارې سیمې پر لور چې مخکې به یې تیارې کړې وې، ځغلولې. څنګه چې د تولید وسایل دپخواپه پرتله پرمختللي ؤ او کولی یې شول تر یوې اندازې پورې خپلې اړتیاوې پوره کړي، د ښکار شوو ژوو څخه به یې یو شمېر نه وژل او د هغو ورځو لپاره به یې ساتل چې پکې ښکار نشو کېدی. د دغو ژوو څخه ځینوبچي راوړل او شیدې به یې کولې او کورني کېدل. په دې ډول د ژوو کورني کولو مسله منځ ته راغله او مالداري پیل شوه. انسانانو د ژوو له غوښو، څرمنو، وړیو او شیدو نه ګټه اخیستله او ورو ورو یې داسې ژوي لکه پسونه، غواوې، وزې، سرکوزي او سپي کورني کړل او د ځان په چوپړ کې یې راوستل.

د لـومړني کمـون پرمختـګ او تولیـدي اړیکې: د لـومړني کمون تولیدي اړیکې، د هغو وګړو تر منځ اړیکوته ویل کېږي چې ټولوپه ګډه سره اودیوبل دپاره کار کاوه. د کمون ټولو غړو په تولید کې برخه اخیستله او هغه څه چې یې تولیدول،عملابه یې ټولنې ته ور سپارل. هرڅېر په یوې ټاکلې سیمې کې ژوند کاوه. د دغې سیمې ځمکه او ټوله شتمني د تولید اصلي وسایل ؤ او په ګډه سره به ورنه ګټه اخیستل کېده. یعنې د کمون په ټولو غړو پورې یې اړه درلوده. د تولید په بهیر کې پیښو شوؤ بدلونونو د انساني ټولنې په سازمان کې لا زیات بدلونونه منځ ته راوړل. په یوه سیمه کې په ورو ورو میشت یا تم کېدلو، د کامونو په منځ کې پخوانۍ اړیکې پیاوړې او نوې اړیکې یې هم منځ ته راوړلې. اقتصادي او

تولیدي اړیکو ټینګښت مونده، ګاونډي کامونه د وحشي ژوو په وړاندې د دفاع، دخپلو خوراکي زېرمو او دېردیو کامونو له بریدونو څخه دځان ساتنې د پاره یو تر بله سره یوموېکېدل. دکامونو تر منځ نږدې اړیکې او پیوستون د قبایلو د منځ ته راتګ سبب شو. په پایله کې په پخوانیو تولیدي اړیکو (په هرکام یا ټبر پورې اړوند تولیدي وسایلو باندې ګډ مالکیت) سربېره، قبیله ایز مالکیت او شتمني رامنځ ته شوه.

په هغه سیمه کې چې د یوې قبیلې وګړي پکې استوګن ؤ، ښکار به یې کاوه او په کب نیونې او نورو به بوخت ؤ او هم ټولې اړوندې طبیعي سرچینې د قبیلې شتمني او مالکیت ګڼل کېده. سیندونو، غونډیو، غرونو او ځنګلونو دسیمو د طبیعي پولو په حیث، قبایلو پورې اړه لرله. (البته باید په پام کې ولرو چې په دې زمانه کې د ونې (قد)، وزن او بدني ځواک له نظره د وګړو د بدني توپیر له امله شخصي اوزارو درلودلو ته اړتیا پیدا شوې وه،که څه هم د تولید بنسټیز وسایل لا تر اوسه مشترک ؤ.)

د طایفو یو ځای کېدل، د بشر د پرمختیا د پاره یو لوی ګام ؤ. ځکه په دې ډول د دوی اختراعات او تجربې په چټکۍ سره بدلېدلې او هم د کامونو یو ځای کېدل او د قبیلو جوړېدل، ورو ورو داوږدو زمانو په موده کې په هره قبیله کې د یوې لهجې او یوه کلتور او تمدن د منځ ته راتلو سبب وګرځید.

**د کمون مخبنا**

مورواکي: د کار په طبیعي وېش سره ورو ورو د ښځو کار د ټبر (قام) د اړتیاوو پوره کولو د پاره په یوه ډاډمن فعالیت بدل شو، په داسې حال کې ښکار (د سړو کار)، اتفاقي اړخ درلود او

ځکه خو د ټبر لپاره د خوړو پوره کولو ډاډمنه سرچینه نه ګڼل کېده، دې چار لړلړ دښځې اقتصادي رول دټبر په ژوندکې پیاوړی کړ او هغې ته یې د کامونو د ریاست مقام کې ځای ورکړ. استوګنځي او یا هغې ته نږدې د ښځې همیشني ژوند د دغه کارد ټینګښت سره مرسته وکړه.

د ډله ایز و ودونو منځ ته راتګ چې په هغه کې یوازې د اولاد مور معلومه وه په کام (کلان) کې د ښځې رول پیاوړی کړ. ښځه یوازې د ټبر نیا ګڼل کیده. د کورنۍ مشره، او داسې مرکزیت ؤ چې د قام (ټبر) غړي د هغې په شاوخوا باندې راټول شوي ؤ. دې ټولو د مور ټولنیز رول او اغیز لاپسې زیات کړ. د کمون دغسې ټبر ته چې په هغې کې ښځه د طایفې او قبیلې مشره وه، د مورواکي کمون وایي.

مورواکي د کار طبیعي وېش او تولیدي ځواکونو له پرمختیا وروسته منځ ته راغله او اوږدې مودې د پاره پر ځای وه او بیا ورو ورو د څو کامونو د یو ځای کېدو نه وروسته چې قبیلې پیدا شولې او لابشپړ ټولنیز سازمان جوړ شو، دښځورول هم کرار کرار دکمیدلو پر لور مخه کړه.

قبیله یي سازمان: د څو طایفو یووالي سره قبیله یي سازمان منځ ته راغی. د قبیله یي سازمان د پیدایښت سره جوخت ورو ورو د نارینه وو رول او اقتصادي واک ډېرېده او په دغه نوي ټولنیز سازمان کې، طایفو هم تر ډېرې مودې خپله خپلواکي ساتله. د قبیلې ټولې چارې د طایفو د لویانو او مشرانو د شورى په وسیله چې د کمون د غړو عمومي ټولنه کې ټاکل کېدل، سرته رسیدلې. هرې قبیلې او کام یو مشر درلود، د رییس یا د ډلې د مشر اغیز د ده په فردي ځانګړتیاوو، تجربو، په ښکارکې ځواک او مهارت، په جګړه کې زړورتیا او عقل او پوهې پورې تړلی ؤ.

د جګړې پر وخت به دجګړې مشر ټاکل کېده اوله جګړې وروسته به ګوښه کېده. مشرتوب میراثي نه ؤ او د مشر شتمني د نورو سره څه توپیر نه درلود. په دې ډول ګورو چې، دلومړني کمون په نظام کې، دولت ته ورته موسسې شتون نه درلود، او یو راز طایفه یي ډیموکراسي ټینګه وه. یعنې په اړوند و چارو کې د ټولنې د ټولو غړو نېردې یوشانته ګډون. دغه ټولنیز سازمان (مخبنا) د اړوندو تولیدي اړیکو (بېخبنا) سره په ټولیزه توګه سمون درلود.

د کمون کلتور (د بشري تمدن او کلتور پیل انځورګري):
انسانانو، چې د تفکر ځواک یې پرمختیا موندلې وه، اوس یې کولی شول د طبیعت څخه خپل انځورونه په یوه ځانګړې بڼه واړوي. لومړني انسان هڅه کوله دهغو توکو او ښکارندو یا پدیدو بڼه چې پېژندله یې د ماتوکرښو (دندانه ها) په مرسته چې یو له بل سره یې نښلول، وکاږي. د تولید او طبیعت سره د مبارزې د لا زیاتې پرمختیا په بهیر کې انسانانو د تجربې او مهارت په لاس ته راوړلو سره وکولی شول دراز راز شیانو لږ او ډیر ې کره بڼې انځور کړي. دوی د نورو انسانانو د بڼو، د ښکار د ځرنګوالی،دژوودبڼوانځورونه د غارونو په دیوالونو یا ډبرو باندې کښل او د معدني (کاني) مالګونه یې د رنګونې د پاره ګټه اخیستله.

البته دغه لومړنۍ انځورګري (نقاشي) ساده کرښې وې چې یوازې یې د توکو او ښکارندو یا پدیدو باندېنۍ او ظاهري بڼې یې ښکارولې. خو د کمون انسان د پوهې کچې اجازه نه ورکوله د توکو ریښتیانۍ اصل او د دوی د ننني او متقابلې اړیکې او تړاو انځور کړي.

په کمون کې د مذهبی افکار و پیدایښت: د کمون د ټولنې پرمختیا، بشپړتیا او پراختیا انسان د طبیعت په تېز فکره

سیلاني بدل کړ. ده زیارایسته طبیعت او لاملونه یې وپېژني خو د طبیعت په هکله یې تجربې او اطلاعات بشپړ نه ؤ. له دې امله د طبیعي پیښو لکه توفان، اورشیندنې، د ځنګلونو سوزېدنې، سیلاو او وچکالۍ په وخت کې دې پایلې ته رسېده چې طبیعت نه باندې وېر وونکي ځواکونه شته چې د طبیعت پر ټولو ښکارندو (پدیدو) باندې واکمني کوي او له دې کبله د طبیعی په دې ډول دهغو طبیعی ځواکونو په اړه چې دانسان په ورځني ژوند یې ستر اغیز درلود، دکمون انسان ناسم او تېر وتنو څخه ډک اند پایله، دمذهبی باور پیدایښت ؤ. ځواکونو په هکله یې ناسم خیالات لرل. په دې ډول په دغه وخت کې مذهبي اندونه (عقاید)، د طبیعت دریښتینو ځواکونوپه اړه، د انسان په فکر کې د سهوو نه دډکو خیالونو را ټولېد ل ؤ چې د دوی په ورځني ژوندیې واکمنی درلوده.

د روح په شتون باور: انسانانو په خوب کې بېلابېلې پېښې لیدلې او له هغو وګړو سره په خوب کې مخامخ کېدل چې له دوی لرې یا مړه شوي ؤ. او هم یې خپل غلیمان په خوب کې لیدل چې پر دوی برید کوي اویاپې کړوي. د خوبونو په ریښتنې وجه د نه پوهېدوله امله دې پایلې ته رسېدل چې هر څوک یو روح لري چې له بدن نه یې بېله ده، د خوب په وخت کې په لنډمهاله او د مرګ په وخت کې په همیشنۍ توګه له بدن نه جلاکیږي. بېله شوې اروا د اروا ګانو سره خبرې کوي او کله چې بېرته بدن ته راستنه شي، انسان ویښیږي. انسانانو باور درلود چې د دوی د قبیلو او طایفو د مشرانو، پلرونو او نیکونو اروا ګانې د دوی قبیلې سره نږدې اوسیږي او د دوی ساتنه کوي. له دې کبله یې د سختي او کړاو په وخت کې او هم یې د لاښه ژوند د برابرولو لپاره د ارواګانونه مرسته غوښتله چې خپله غوښتنه یې دمذهبي

ببلابېلو دودونو په ترسره کولو او د قربانیو او سوغاتونو په ورکولوسره څرګندوله.

ورو ورو انسانان د هرڅه، ان د خدایانو لپاره هم په اروا قایل شول لکه د توفان، ځنګل، اوبو اوپیریانو اروا او د نیکۍ او بدۍ، ګټورو او زیان رسوونکو ځواکونو متضادې ارواګانې او داسې نور. د ارواګانو د ولکه کولو لپاره سحر او جادو پیدا شول او هم د خدایانو د څرګندېدنې (تجسم) او د دوی د لمانځنې لپاره بت لمانځنه منځ ته راغله.

## *د کمون ټولنیز نظام د ړنګېدو بهیر*

د فلزي اوزارو منځ ته راتګ: انسانانو د کار اوزار وجوړولوهڅه کوله او د پرله پسې کیندنو په لړکې یې طبیعي مس وموندل، داسې فلز چې د چخماخي یا ډبرین تبر تر ګوزار لاندې یې په آسانۍ سره خپله بڼه بدلوله. انسانانو د مسو ددې ځانګړتیاو څخه ګټه واخیستله، تبر، چاقو، غشی، لېنده او دنیزې سروکې یې د مسو څخه جوړه کړه او بیایې قلعي وموندله. دمسو او قلعي له ګډولو نه یې یو الیاژ لاس ته راوړ (برونز) چې له دغه الیاژ څخه یې خپل اوزار جوړول. دې اختراعاتو سره یو ځای د لړګیو څخه دلومړنیو سترو کورونو جوړول هم پیل شول. انسان زیار وکښلو د خپلو لاسو خوځښت تر ټولو ساده ماشیني دستګاه ته ولېږدوي اوپه دې ډول دکولالۍ څرخ او د اوبدلو تر ټولو ساده کارخونه یا دستګاه ډګر ته راووته. د اوسپنې د کشف او ویلې کېدو د طریقې یادولو نه وروسته، د ببلابېلو اوسپنیزو اوزارو لکه لور، بېل او د کرکیلې نور اوزار او داسې نوروشیانو جوړونه پیل شوه. خو ددې فلزي اوزارونه د ګټې اخیستنې سره سره د لرګیو، ډبرو، د ژوو له بنکرو او نورو نه جوړ شوي اوزار لا هم د ګټې وړ ؤ. د فلزي آلاتو د

پیدایښت نه مخکې د تولید حاصل ور کونه لږه وه. د فلزي اوزارو او انسانانو د تجربو په کار وړلو سره تولیدي چارې (کرکیله او مالداري) په چټکۍ سره زیاتې شوې.

د کرکیلې پراختیا: د فلزي اوزارو نه ګټې اخیستنې د کرکیلې په پراختیا کې زیاته اغېزه درلوده او انسانانو ته یې امکان ورکړ په هغو سیمو کې چې کرکیلې اوبو ته اړتیا درلوده، پټو ته د اوبو رسولو لپاره کانالونه (ویالې) د نوو اوزارو په وسیله جوړې کړی او هم یې په دې فلزي وسایلو سره وکړای شو بندونه جوړ کړي او دکرنې لپاره د غرونو او دبرو ترمنځ داوبو زېرمې جوړې کړې. د کرکیلې تجربو د انسانانو سره مرسته وکړه ترڅو نوې سیمې د کښت لاندې راولي داسې چې په ځینو سیمو کې کرکیله دکمون دځینو قبیلو اصلي دنده وګرځېدله.

د مالدارۍ پراختیا: په هغو سیمو کې چې د کرکیلې لپاره طبیعي شرایط برابرنه ؤ، مالداري پراختیا ومونده. انسانانو زیات شمېر ژوي کورني کړل او دسوداګرۍ او کار د وسایلو په پرمختیا سره یې وکولی شول د ژوو له غوښو، څرمنو، وړیو او شیدو څخه بېلابېل محصولات منځ ته راوړي. په ځینو سیمو کې مالداري د ځینو قبیلو اصلي تولید وګرځېد. په دې سیمو کې زیاتره څاروي ساتونکي (مالداران)، دکوچیانو په توګه کیږدیو کې اوسیدل، دوی د اوږدې مودې لپاره تر هغه وخته پورې چې څرځایونه یې د ګټې اخیستلو وړ ؤ په اړونده سیمه کې پاتې کېدل. ځینې وختونه مالدارې قبیلې د بزګرو قبیلو سره ګډېدلې. د مالدارۍ او بزګرۍ پراختیا د بشریت په بشپړتیا کې یو لوی ګام ؤ.

***د کمون په ېبخبنا کې راغلي بدلونونه:***

١- د کار لومړنیتولنیزو ېش: د مالدارۍ اوکرنې پراختیا سبب شوه چې د کمون بېلابېلې قبیلې دخپل ژوند او چاپېریال د شرایطو سره سم د دغو دواړو څانګو نه په یوې کې مهارت ترلاسه کړي. د قبیلو وېش په بزګرو او مالدارو قبیلو باندې د بشر په تاریخ کې د کار لومړنیتولنیز وېش ؤ. مالدارو قبیلو د خپلو تجربو او مهارتونو په زیاتېدلو سره مالدارۍ ته په پراختیار ورکولوخپل حاصلات زیاتول. بزګرو قبیلو هم د کرکیلې طریقو په ښه والي سره لا زیات حاصل لاس ته راوړ.

د کار دویم ټولنیز وېش (دکسبګرو پیدایښت): د مولده ځواکونو لا پراختیا،په اوزار جوړولو کې د راز راز فلزاتو څخه د پراخه ګټې اخیستنې سبب شوه. د فلزي اوزارو نه په ګټې اخیستلو سره د نورو توکو جوړولو لکه لوښو، د لرګیو څخه جوړشوي توکي، د کولالۍ څرخونو، او انسان د پاره نورو لازمو وسایلو پراختیا وموندە، د دې چارو سرته رسولو د پاره ضروري وه چې ځانګړې ډلې رامنځ ته شي. د نسبتاً پېچلو وسایلو اختراع داغوښتنه را منځ ته کړه چې باید د فلزاتو ویلې کېدلو په تېره بیا اوسپنې او نورو لپاره د ټولنې د وګړو یو ټاکلی شمېر، چې په دغه چارو کې مهارت ولري، د ټولنې د نورو وګړو نه ځانګړي اوبېل شي. دغه وګړي کسبګر (د لاسي صنایعو خاوندان) ونومول شول.

په دې اساس لومړني کسبګر هغه وګړي ؤ چې د نورو د پاره به یې بېلابېل توکي او لوازم برابرول. د دغواستاذانوزامن زیاتره د دوی شاګردان شول او دغو چارو کورنی اړخ وموند. د لاسي صنایعو لومړنی څانګې د فلزاتو ویلې کولو، فلزي اوزارو تولید، لوښو جوړولو، او بدلو او د ژوند د نورو وسایلو د برابرولو څخه عبارت وې. په دې ډول د کار دویم ټولنیز وېش له یوې خوا

د کرنې او مالدارۍ او له بلې خوا د لاسي صنایعو په منځ کې منځ ته راغی.

دراکړې ورکړې (مبادلې) پیل: د کار لومړني ټولنیز وېش دوه ډوله اقتصاد یعنې مالداري او بزګري منځ ته راوړه. مالدارو قبیلو د خپل لګښت څخه زیات ژوي، خرمن، وړۍ، غوښې او نور حیواني محصولات درلودل، په داسې حال کې چې بزګري محصولاتو ته یې ډېره اړتیا لرله او بزګرو قبیلوهم د دوی برعکس. دې چار د بېلابېلو بزګرو او مالدارو ټولنو په منځ کې د تولیداتو دمبادلې اړتیارامنځ ته کړه. په دې ډول، مبادلې چې مخکې یې تصادفي اړخ درلود، ځانګړې بڼه غوره کړه. د کار دویم ټولنیز وېش، مبادله، لا پراخه کړه، ځکه حرفوي کسبګرو د خپلومحصولاتو ستره برخه د مبادلې د پاره تیارولـه نه دځان د لګښت دپاره. مبادلې دمولده ځواکونواوبشري ټولنې په پراختیااو بشپړتیاکې مهم رول لوبولی دی.

پـه مخبنا کې راغلي بدلونونه:

پلارواکي: د کار لومړنی ټولنیز وېش د کمون د ټولنې په ژوند کې لوی بدلون منځ ته راوړ. دغه بدلون لومړی په مالدارو ټولنو کې راغی. سړي زیاتره ښکاریان او شپانه ؤ، له دې امله دسړو کار په مالدارو قبیلو کې ورو ورو داقتصادي پلوه اهمیت وموند او دکمون د مادي ارزښتونو د تولید اصلي سرچینې بڼه یې غوره او د سړو موقعیت یې بدل کړ. په بزګرو ټولنو کې دغه چار ډېر سست او وروسته پېښ شو. کله چې بزګري د قبیلې اصلي دنده شوه، غښتلي وګړي یعنې زیاتره سړي د بزګرۍ په ډېروسختو چاروبوخت شول. له دې امله بزګران ډېر ژر دکرنېز تولید داصلي ځواک په توګه رامنځ ته شول. د بوې په منځ ته راتګ سره چې په کار وړلو

یې زیات بدني ځواک غوښت، په پای کې کرنه هم دنارینه ؤ په ولکې کې راغله. اوس نو د ښځو کار زیاتره د کور په چاروپورې رالنډ شو او دویمه درجه اهمیت یې درلود. سړي ورو ورو د قبیلې او ټبر مشران شول او په دې ډول پلارواکي منځ ته راغله چې د موروواکۍ ځای یې ونیوه. د پلارواکۍ په لومړي پړاو کې هم توکمیزه دیموکراسي وه چې مخکې یې توضیحات ورکړل شو.

### *د لومړني کمون په ببخبنا (تولیدي اړیکو) کې بحران*

د اضافي تولید پیدایښت: د مولده ځواکونو پرمختیا او د کار لومړني او دویم ټولنیز وېش په منځ ته راتګ سره د کار حاصل نسبتاً ډېر زیاتوالی وموند. له دې امله دکمون غړو، نه یوازې خپلې لومړنۍ اړتیاوې پوره کولې، بلکه د دې وس یې درلود چې پر خپلو اصلي اړتیاوو یوه اندازه زیات توکی لاس ته راوړی. هغه توکي چې دتولیدکوونکي اودده د کورنۍ دژوندد پایښت د پاره دکم تر کمه لازمې اندازې نه زیات تولیدېږي، اضافي تولید نومېږي. داضافي تولید د منځ ته راوړلو د پاره لازم کار ته اضافي کار وایي چې البته په کمون کې دغه اضافي تولید د انسانانو د ساده اړتیاوو په پرتله حسابېږي.

د تولیداتو په وېش کې بدلونونه: د مولده ځواکونو پراختیا او د حاصل ورکونې وده داسې کچې ته رسېدلې وه چې انسانان اړنه ؤ د زیاتو ډلو په بڼه او په ګډه کار وکړي. په تولیدي چارو کې مهارت او د کار د اوزارو نه شخصي ګټې اخیستلو د دغو سترو ډلو له منځه تلل او ړنګېدل ګړندي کړل. څنګه چې د قبیلو غړو په تولید کې بېلې بېلې دندې سرته رسولې، د دوی د کار محصول هم توپیر درلود له دې امله په تولید کې د وګړو د کار اهمیت یو د بل سره توپیر مونده او ځکه یې دبیې ټاکنې هم

یوتربله توپیرکاوه. ددغسې شرایطو لاندې د تولیداتو د مساوي وېش اصل چې مخکې موجود ؤ له منځه لاړ. اوس، چا چې زیات تولید کاوه، زیات څه به یې ترلاسه کول. نوځکه دبرابر ویش اصل ګډوډیدلو ته مخه کړه. په دې شرایطو کې د وېش دغې بڼې مترقي اړخ درلود. ځکه، انسان یې هڅاوه چې لا ډېر فعالیت سرته ورسوي او زیاته ونډه لاس ته راوړي. دا پخپله د تولید، مولده ځواکونو او پای کې د ټولنې د پرمختګ لامل شو.

پلارواکې کورنۍ: د تولید نوې بڼې یعنې په کمون کې د وګړو ځانله ځانله تولید، په تولیدي اړیکو او په پای کې د کمون په مخبنا کې بدلون منځ ته راوړ. قبیلې او طایفې چې نور یې ګډ کار ته اړتیا نه درلوده په کوچنیوکوچنیو ډلو وشیندل شوې او د پلارواکۍ د کورنیو په بڼه منځ ته راغلې چې د دې کورنیو هره یوه په خپلواکه اقتصادي واحد باندې بدله شوه. پخوانۍ قبیله یې او طایفه یې اړیکې په زیاته کچه له منځه لاړې. او نو ې اړیکې د پلارواکۍ په کورنیو کې چې د اقتصادي پلوه خپلواکې وې منځ ته راغلې. د کمون ټولنه د سیمه ایزوګاونډیوټولنوپه بڼه واوښته، چې اقتصادي موخوسره یوموټی کولې.

دنووتولیدي ځواکونو او زړو تولیدي اړیکو تر منځ تضاد:
د مولده ځواکونو پرمختک داسې کچې ته رسېدلي ؤ چې د کمون یوې کورنۍ کولی شو د نورو کورنیو له مرستې پرته خپلې اړتیاوې تر یوې اندازې پورې پوره کړي. د ساري په توګه په کرکیلې کې د بوې (قلبې) او بیل نه ګټې اخیستلو د کمون دزیات شمېر غړو ډله ایز کار ته نوره اړتیا نه درلوده او ان دا چار ځینې وخت عملي هم نه ؤ. خو بیاهم په کمون کې پخوانۍ تولیدي اړیکې په عام ډول واکمنې وې. یعنې نږدې هرڅه په ټولو پورې اړه لرله.

اوس چې ګډ کار په پخوانۍ بڼه له منځه تللی ؤ د کمون کورنیو جلا جلا تولید کاوه. ګډ مالکیت د یو له بله جلا کورنیو نږدې خپلواکه تولید سره تضاد وموند. په دې ډول د زړو تولیدي اړیکو او نوؤ مولده ځواکونو منځ کې تضاد تېز شو. لازمه وه نوې تولیدي اړیکې د زړو تولیدي اړیکو ځای ونیسي.

د شخصی مالکیت پیدایښت: د کمون په ټولنه کې راغلو بدلونو سره سره پخوانۍ تولیدي اړیکې هم تر یوې اندازې پورې پاتې وې. په دې ډول چې ځمکو، ځنګلونو،سیندونواوپه ټولیزه توګه دتولیداصلي وسایلو مشترکه بڼه درلوده. په بزګرو قبیلو کې هرې کورنۍ یوه ټاکلې اندازه ځمکه کرله او ځانګړي شخصي لوازم او کور یې هم درلود. په مالدارو کورنیو کې ګلې (رمې) ورو ورو د کورنیو د مالکیت برخه ګرځېدې. او س هرې کورنۍ ځان له ځانګړی تولیدي کار کاوه چې د هغې څښتنه وه خو په عین حال کې څنګه چې مو پورته وویل د تولید پر اصلي وسایلو ډله ایيزمالکیت لا پاتې ؤ. د یوې کورنۍ مالکیت، د تولید د وسایلو، څاروو، کوراو د قبیلې اشتراکي ځمکې له یوې ټوټې څخه جوړېده. د تولید دغه بڼه په کمون کې دننه د کورنیو تر منځ د مبادلې (راکړې ورکړې) د پیدایښت سبب شوه. د کورنیو شخصي مالکیت، د ټول کمون ګډ مالکیت سره په تضاد کې ؤ. د شخصي مالکیت پراختیا، اشتراکي مالکیت لږلږ له منځه وړو. او دا پخپله د شتمنو او نېستمنو کورنیو د پیدایښت لامل ګرځېده.

د مریيتابه پیدایښت: کله چې د تولید وسایل ړومبني او ساده ؤ د کمون غړو په خپل ډله ایز کار سره یوازې کولی شول خپلې ساده لومړنی اړتیاوې په سختۍ (کړاو) تولید کړي. په دغه وخت کې د انسان زبېښاک د انسان په واسطه ممکن نه ؤ. له دې امله ؤ چې د قبیلو تر منځ جګړو کې به یې زیاتره بندیان وژل. خو

اوس يې بنديان ځکه نه وژل چې د خپلو لومړنيو اړتياوو نه يې زيات توليدکولی شو. دوی يې کارته اړوېستل او دومره خواړه يې ورکول چې يواځې ژوندي پاتې شي او د دوی د اضافي توليد نه په ګټې اخيستنې سره يې زېږېښل. دغه بنديان په مريانو بدل شول. دغو لومړنيو مريانو هيڅ راز حق نه درلود. دوی به يې يواځې تر هغه وخته پورې ساتل چې اضافي توليد يې کولی شو. په دې ډول د لومړني کمون د نظام له بنستيزو ځانګړتياوونه يوه بله له منځه لاړه يعنې د توليدکوونکو ورورګلويزې همکاري پر بنسټ ټولنيز کار له منځه لاړ. مريانو د کمون د نورو غړو سره اوږه په اوږ ه کار کاوه خو د ټولو انساني حقوقو څخه بې برخې ؤ. او ددوی د زيار اصلي برخه د نورو د پاره د اضافي توليد په منځ ته راوړلو کې لګېده چې دکمون لپاره يې شتمنی منځ ته راوړله. په لومړي سرکې مريان دټولې قبيلې شتمنی ګڼل کيدل خو د پلار واکې د ځواکمنو او شتمنو کورنيو پيدايښت ددې لامل شو چې مريان ا و دقبيلې نورې ګډې (اشترکې) شتمنۍ ورو ورو د دوی په ولکې کې راشې.

د طبقاتو پيدايښت: په هغو ټولنو کې چې د توليد د وسايلو اشتراکی يا ګډ مالکيت پر بنسټ جوړې او خپلو کې يې ورور ګلويزې اړيکې لرلې، درې ډلې پيدا شوې چې هرې يوې ډلې په ځانګړې بڼه د توليد د وسايلو سره تړاو درلود، په دې ډول:

الف- د مالکيت د ټولو حقو قو نه بې برخې مريان، چې پخپله د څښتنانو يعنې دمريي والو د مالکيت يوه برخه وه.

ب- د مريي لرونکي يامريی وال، چې د توليد د وسايلو او مريانو څښتنان ؤ او دوی يې ځېښل.

پ- آزاد وګړي، چې د وړو مالکيتونو لرونکي او په خپل محدود کار يې ډېره لګولې وه.

ورو ورو دغه آزاد وګړي یا وړو کي مالکین کور ګډي اوتاواني کېدل او په مریانو اوښتل چې د کمون د غړو لبر شمېر مریی وال پرې لا شتمن کېدل او د مریانو شمېر یې زیاتېده. د کمون په قبیلو کې دغو بدلونونو د ټولنې د جوړښت او د ژوند د ټولو برخو په حالت کې داسې بدلونونه منځ ته راوړل چې شتمنې ډلې ورو ورو د ټولنې پر ټولو چارو باندې واکمنې کېدې او د قبیلې د ځواکونو د لارښوونې زمه وارې هم شوې. او هر څه یې د خپلو شخصي ګټو (نه د کمون د ګټو) لپاره په کار اچول او خپل مریان یې لا زیاتول. د کمون نظام ورو ورو د خپل زوال وروستني پړاو ته رسېده او د مریيتابه اقتصادي او ټولنیز نظام د پیدایښت په حال کې ؤ. د قبیلو تر منځ جګړې او په ټولنه کې د نسیتمنو وګړو پرله پسې پیدایښت د نوو مریانو د لاس ته راوړلو اصلي سرچینه وه. د مریانو شمیر ورځ په ورځ لاپسې زیاتېده او په پای کې داسې وخت راورسېد چې د ټولنې د تولیداتو لویه برخه مریانو منځ ته راوړه. دکمون اړیکو پایښت نور د مریيتابه د ودې خنډ نه ؤ او په دې ډول د کمون ټولنیز نظام ځای، مریيتابه ونیوه.

څلورم څپرکی

# د مریینابه نظام او پراختیا او بشپړتیایې

***دمریتابه نظام ببخبنا***

<u>مولده ځواکونه:</u> په کار کې د وګړو د تجربو د پراختیا او بشپړتیا سره جوخت فلزي اوزارو هم پرله پسې پرمختک کاوه. په کرکیله کې دپالې او بیل او نورو وسایلو په بڼه د فلزي اوزارو په کار وړل د کرکیلې د لا پراختیا او بشپړتیا سبب شو. کسبګرو تل د کار اوزار او نوي ځیزونه جوړو ل. د هغوی تولیدي تجربې لاپسې زیاتیدلې او راز راز کسبونه یې منځ ته راوړل ټوکراوبدل، لوهاری (آهنګري)، ټټاری (مسګري)، بیړۍ جوړونه، خټګری (بنایي)، څرمنې جوړونه، بنیښه جوړونه او داسې نور منځ ته راغلل. په ځینو سیمو کې د خښتو جوړونه هم پیل شوه. لومړني ساده ماشینونه جوړشول. د لیرد را لیرد لپاره ځانګړې وسیلې، له دغې ډلې نه د ډبرو د لیرد را لیرد لپاره وسیلې، منځ ته راغلې (لکه هغه وسیلې چې د مصر اهرامونو جوړولو لپاره په کار وړل کېدلې). داوبو لګولوسیستم، بندونوجوړول، کانالونو او د اوبو سترو زیرمو جوړول دا ټول په دې دوره کې د کرنې د پرمختیا نښې دي. د

پلورتوکو د مبادلې د پراختیا او د سوداګرۍ په منځ ته راتګ سره بېلابېلې ځمکنۍ او سمندري لارې منځ ته راغلې. د سمندري مسافرتونو پیل د لویو او کوچنیو بېړیو د جوړولو اړتیا پیدا کړه. پوځي تخنیک پرمختیا وکړه، جګړه ییزه عرادو او فلزاتو نه د جوړو شوو نورو وسلو نه په پراخه توګه ګټه اخیستل کیده.

تولیدي اړیکې: د مرییتابه نظام په تولیدي طریقه کې د مریانو خاوندان، د تولید د وسایلو، تولید شووتوکو او پخپله د مریانو څښتنان ؤ (دوی حق درلود چې مریان ووژني، و یې پلوري او یا یې راونیسی). خو مریانو هېڅ راز د تولید وسایل نه لرل او د هغه څه نه چې تولیدول یې، یوازې دومره ورکول کېدل چې وربانديې ژوندي پاتې شي او د ډېرو لومړنیو انساني حقونو نه هم بې برخې ؤ. د مرییتابه د قوانینو سره سم د بل سړي له خوا د مریې هر راز بدني ځورونه داسې ګڼل کېده چې د هغه ژوی ځورول شوی وي او لږه جریمه یې درلوده. د بل چا د مریي وژلو په بدل کې به وژونکي خپل مریې ورکاوه. د مریې کورنۍ په هېڅ ډول مطرح نه وه.

دمریي رانیولو او پلورلو لپاره هیڅ بندیز نه ؤ. مریي یې د ډالۍ په توګه نوروته وربخښلی شو او دیوه مریي وال مریان به دهغه زامنوته میراث کېدل. هرمریی به د ژوو په څېر دخپل خاوند په نخښې (نشان) داغل کېده. هغه چاته به کلکه سزا ورکول کېدله چې د مریي لرلو په قانون به یې تېری کاوه لکه د مریي غلاکوونکي او یا تښتېدلي مریي ته پناه ورکوونکي ته داعدام سزا ورکول کېدله.

دمریي والۍ په تولیدي اړیکو کې دآزادو کرونده ګرو کوچنیو مالکیتونو، کسب ګرو او سوداګروهم شتون درلود. سره

ددې چې دغوکسانو دمریي والۍ له پراختیا سره پرله پسې خپله خپلواکي دلاسه ورکوله او دمریانو په لښکرګډېدل خو بیایې هم دمریي والۍ په تولیدي اړیکو کې دخپل شتون لړاوډیره ساتنه کوله. هغوی په شخصي کار او یا دتولیداتو په راکړې ورکړې خپل ژوند ته دوام ورکاوه. داضافي تولید، دپلورتوکو مبادلې (راکړې ورکړې) او مریانو سره، مریي وال نظام دود وموند. دپلورتوکو – پیسو دراکړې ورکړې، سوداګرۍ او نغدي پانګې پربنسټ بنارونه منځ ته راغلل.

دپلورتوکو راکړه ورکړه (مبادله)

د پلورتوکوتعریف: په واقعیت کې پلورتوکي هغه تو لید دی چې دشخصي لګښت لپاره نه بلکه دراکړې ورکړې (بدلولو) لپاره تولید شوي وي او څکه ددغوتولیداتو راکړې ورکړې یابدلولو ته دپلورتوکو راکړه ورکړه وایو.

دپیسو پیدایښت: دلومړني کمون په نظام کې دپلورتوکو راکړه ورکړه په استثنایي ډول ترسره کېده خو په مریي والي کې یې پراخه بڼه وموندله. کله چې راکړه ورکړه پراخه شوه دهرې سیمې له حال احوال سره سم، یوډول پلورتوکي دنورو پلورتوکو له منځه ټاکل کېدل، داسې چې نژدې ټول پلورتوکي ورسره بدلېدلی شول په دې ماناچې دټولو پلورتوکو ارزښت دهمدغو پلورتوکو له مخه ټاکل کېدل او دغه پلورتوکي داقتصاد په اصطلاح کې د ارزښت عمومي انډول نومېږي چې په حقیقت کې هماغه پیسې دي. په پیل کې پوستکي، خز (خز)، څاروی، غنم، مالګه، پیلغاښ (عاج) او نور دپلورتوکو عمومي انډول ټاکل کېدل. کله چې فلزات وموندل شول له اوسپنې، مسو او په پای کې سپینو او سرو زرو څخه دارزښت دعمومي انډول یاپیسو په توګه ګټه اخیستل کېدله.

په پیل کې له دغو فلزاتو څخه دشمش په بڼه کار اخیستل کېده دصنعت له پرمختیا سره یې لړلړ دسکې بڼه ونیوله. په دې ډول پیسو دارزښت دعمومي انډول په توګه یعنې د تولیداتو د بدلولو لپاره دیوې وسیلې په توګه ټاکلې بڼه وموندله. دمریي والي له پرمختګ سره دپیسو استعمال ورځ په ورځ پراختیا وموندله. له دې امله پیسې ټاکلي پلورتوکي دي چې له ټولو نورو پلورتوکو سره د راکړې ورکړې لپاره په کار وړل کېږي. پیسې له خپلې لومړنۍ بڼې یعنې یوه ډیر لګښتیزپلورتوکي لکه پوستکي، خږ (خز)، څاروي او نورو څخه پیل شوی او پرله پسې دبشپړتیا په لور درومي.

دسوداګرو پیدایښت: دراکړې ورکړې له پراختیا سره دخلکو داسې ځانګړې ډله پیداشوه چې پخپله یې تولید کې ونډه نلرله او دنده یې دبېلابېلو سیموترمنځ یواځې دپلورتوکو اومریانو بدلول یعنې سوداګري وه. اوله دې لارې یې دتولید شوو توکو څخه خپل ځانته ونډه بېلوله، دغه ډله سوداګرنومېدل او دسوداګرۍ په ځانګړتیا سره په واقعیت کې دکار دریم ټولنیزوېش منځ ته راغی.

سوداګریزې اړیکې: په پیل کې سوداګریزې اړیکې په هغوټولنوکې منځ ته راغلې چې ددریابونو او رودونو غاړې ته پرتې وې. دوه زره کاله مخکې له زیږدیز څخه فنیقیانو دمدیترانې ددریاب پرغاړه ښار جوړکړ چې داوسېدونکو اصلي دنده یې سوداګري وه. هغوی دکوچنۍآسیا، قبرس، یونان او دمدیترانې سیند له نورو هېوادونوسره سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې وې. دسوداګرۍ پراختیاته داړتیا او نورو سیمو او هېوادونو ته دسوداګریزو اړیکو غزولو پر بنسټ دسوداګرۍ لپاره دریایي او ځمکنۍ لارې منځ ته راغلې چې لرې هېوادونه یې دیوبل سره

نښلول. دبېلګې په توګه پخوانۍ لار چې چین یې دمنځنۍ آسیا له لارې ایران او دمدیترانې هیوادونو سره نښلوه جوړه شوه. چینیانو فلزونه، پوستکي او په ځانګړې توګه وربښم له دې لارې لېږدول او ځکه خودغه لار د «وربښمولار» په نوم یادېدله. دسوداګرۍ پیدایښت او دبېلابېلو ښېرونو او هېواد ونو ترمنځ دسوداګریزو اړیکو پراختیا دبشریت له هراړخیز پرمختګ سره ډېرې مرستې وکولې اوله بلې خوا دلږشمیر کسانو (لږکي) په لاس کې دډېرۍپانګې راغونډېدلو لامل شو او په ټولنې کې یې شته توپیرونه لاپسې زیات کړل.

دښارونوپیدایښت: دسوداګرۍ له پراختیاسره، داستوګنې نوې سیمې جوړې شوې چې کسب ګراو سوداګرپکښې اوسېدل او ببلې ببلې معاملې هلته ترسره کېدلې، دغه سیمې چې دلاسي صنایعو او سوداګرۍ مرکزونه ؤ، ښار و نومول شو. ښارونه معمولا پوځي قلاګانو، د پاچایانو او هغوی پورې اړونده چارواکو داستوګن ځایونو چاپېریال، دقبایلو په همیشني استوګن ځایونو، مذهبي مرکزونو ته نږدې، دچینو پرغاړه اویا دسوداګریزولارود پریکندو (تقاطع) په سیموکې جوړېدل.

دنغدې پانګې (سودپانګې) پیدایښت: دمریي والي او پلورتوکو دراکړې ورکړې پراختیا په ټولنې کې دوګړوترمنځ اقتصادي توپیرونه زیاتول، بې وزلانو د یوې مړۍ ډوډۍ ترلاسه کولو لپاره ډېرځله له شتمنوڅخه دکاراوزار، پیسو، غنمواو نوروشیانو پورکولو ته اړتیا موندله. ددغو پورونو نه ستنول دپوروړي (دمریي والي پور) دمریي کېدلو مفهوم درلود چې دې ټکي پخپله دمریانو شمېر ورځ په ورځ لازیاتوه. هغه کسان چې پیسې یې په پور ورکولې له دې لارې لاشتمن کېدل او په حرفه ای سودخورو بدلېدل چې اصلي دنده یې دپیسو په پور ورکول او

سود اخیستل ؤ. او په دې ډول دنغدې پانګې لومړنۍ بڼه رامنځ ته شوه.

**د مریيتابه نظام مخبنا**

په مریيتابه کې، ټولنه د لومړي ځل لپاره په طبقاتو ووېشل شوه. د لومړني کمون د ړنګېدو په لړ کې مو ولېدل چې په طبقاتو باندې د ټولنې د وېش اصلي لامل، اقتصادي عامل ؤ، یعنې د خصوصي مالکیت او اضافي تولید پیدایښت او په پای کې د تولیدي اړیکو بدلون. اوس د مریيتابه ټولنې د طبقو د څېړنې نه مخکې ګورو چې طبقه څه شی دی؟

طبقه (پوړ): د یوې ټولنې د خلکو سترې ډلې ته وایي چې د دغې ټولنې په تولیدي نظام (اقتصاد) کې ورته او ټاکلی ځای ولري. دغه ځای د لاندې عواملو سره سم ټاکل کیږي:

۱- د تولید وسایلو سره ددوی دتړاو بڼه.

۲- د تولید په ټولنیز نظام کې د دوی ځای.

۳- د هغې ونډې کچه چې دلاس ته راغلو تولیداتو څخه یې اخلي.

اوس به وګورو چې د مریيتوب په ټولنه کې دغه طبقاتي وېش په کومه بڼه ؤ.

اصلي طبقې: په مریيتابه کې دوه اصلي طبقې عبارت دي له مریي والو او مریانو څخه. مریي وال د تولید دوسایلو او خپله د مریانو خاوندان ؤ. دوی په تولید کې ونډه نه اخیسته خو له هغه څه څخه به یې لویه برخه ترلاسه کوله چې د مریانو د زیار له کبله لاس ته راتلل. مریان د دوی پر خلاف، د هر راز تولیدي وسایلو نه بې برخې ؤ او ټول تولیدي کړاوونه د دوی پر اوږو پراته ؤ. په حقیقت کې ټولې ټولنیزې شتمنۍ او د ژوند اسباب دوی منځ ته

راوړل خو ډېر لږ څه به دوی ته ورکول کېدل تر څو دلوږې نه مړه نشي او ژوندي پاتې شي.

غیراصلي طبقې (قشرونه یا ډلې): د مریيتابه نظام کې پر دوو اصلي یاد شوو طبقو سربېره د آزادو پرګنو (د وړوکوځمکوالو، وړوکو مالدارانو، کسبګرو، سوداګرو او لومړنیو وړوکو پانګوالو) ډلې موجودې وې. دغو ډلو ته ټولنیزقشرونه هم وایي. دغه ډلې په حقیقت کې د هغو طبقو منځ ته راوړونکې وې چې په وروستنیو رژیمونو (فیوډالیزم او پانګوالي) کې د شتون ډګر ته راووتلې.

طبقاتي مبارزه او اهمیت یې: د طبقاتو دپیدایښت راهیسې، د بشریت تاریخ تل د طبقاتي سختو او پرله پسې مبارزو شاهد دی. د داسې مبارزو چې پایله یې د یوې طبقې د واکمنۍ پای او دبلې طبقې واکمنۍ ته رسونه وه. دغو طبقاتي مبارزو په مریيتوب کې بڼه نیولې او په بېلابېلو بڼو به په نړۍ کې د کمونیزم تر وروستنۍ بریا پورې دوام ومومي. په مریيتوب (لکه په وروستنیو طبقاتي رژیمونو) کې د طبقاتي مبارزو بنسټ په ټولنه کې د اقتصادي وضعیت پرزښت زیات توپیر، د ژوندانه پر څرنګوالي او تر ټولو لا مهم پر خصوصي مالکیت ولاړ ؤ. مریان د ټولو انساني حقونو نه بې برخې ؤ او په ظالمانه توګه استثمارېدل اوپه خپله هم د مریي والو د مالکیت برخه ګڼل کېدل او په خپل ټول وجودسره د موجود وضعیت یعنې د مریيتابه نظام دله منځه تللو غوښتونکي ؤ. له دې امله په حقیقت کې یوه بشپړه انقلابي طبقه وه، داسې چې د دوی د طبقاتي مبارزو څخه د اتلوالۍ او سختوسربښندنونه ډکې کیسې په یادګار پاتې شوي دي. د مریيتابه په ټولنه کې، آزادو کروندګرو، کسبګرو او نورو اقشارو د مریي والو د ظلم او زبېښاک ضد د مریانو په انقلابي مبارزو کې فعالانه ونډه درلوده. ځکه چې دغه ډلې هم د مریي والو د ظلم لاندې وې.

د دولت پیدایښت: په طبقاتو بانـدې د ټولنې وېش او د طبقاتي مبارزو په منځ ته راتګ سره د مریانو د مبارزو او انقلاب څخه د مخنیوي لپاره او هم د دې د پاره چې دوی کار کولـو او د مریې والـو اطاعـت کولـو تـه اړ باسـي یـوې همیشـنۍ او ځـواکمنې دسـتګاه (نظـام) تـه اړتیـا وه. ددې دسـتګاه نـوم دولـت ؤ چـې د مریانو په وړاندې دمریي لرونکو د ګټو ساتلو لپاره منځ ته راغـی. د دولت پیدایښت هم د هرې یوې بلې پدیدې په څېر په یو وار سرته نه دې رسېدلی بلکه څو بشپړتیایي پړاوونه یې وهلي دي.

د دولت دندې: د واکمنې طبقې (مریـي وال) ځـواک، د مرییتابه په دولت کې غونډېده. د دولـت لـومړنۍ بنسـټیزه دنـده د واکمنې طبقې د ګټـو سـاتنه او د هغـو بلـو اوو غلي کـول ؤ چـې د دوی پر ضد سـر تـه رسـېدل. د دولـت دوهمـه دنـده د نـوو مریـانو لاسته راوړل او د ځان لپاره په سورسات (باج) ورکوونکو بانـدې د نورو قومونو اړول ؤ چې د ګاونډیو سیمو د نیولـو لـه لارې د خپلې واکمنۍ د سیمې (قلمرو) دغزولوپه وسیله یې سرته رسوله. څنګـه چې مـو وویـل دولـت د خپلـو موخـو سـرته رسـولو لپـاره بېلابېلې دستګاوې منځ ته راوړې. د دولتونو د موخو سرته رسولو له اصلي وسایلو څخه یو هم جګړه ییز ځواک (اردو) ؤ.

جګړه ییز ځواک (اردو): د لومړني کمون پوځـي ځـواک د طایفې د ټولو غړو څخه چې د جګړې وس یـې درلـود، جوړېـده پـه داسې حال کې چې په مرییتـوب کـې نـوی پـوځي ځـواک مـنځ تـه راغی. دغه ځواک له خلکو څخـه جـوړ شـو خـو د دوي پـه وړانـدې ودرېـد. دغـه ځـواک، د مـزدورو پوځیـانو څخـه جوړشـوی ؤچـې د مریي والو ځـانمنې (خودخواهانـه) او لوټمـارۍ لـه ګټـو څخـه یـې دفاع کوله.

مونږ دلته د مریې والو دولتونو ځینې بڼې تر څېړنې لاندې نیسو:

دقبیلو پیوستون (د دولت لومړنۍ بڼه): دقبیلو پیوستون ددولت لومړنۍبڼه وه. او د مریيتوب زیاتره دولتونه له دغه پړاو نه تېر شوي دي. تر ټولو ځواکمنې او ګن شمېره قبیلې د دغه یووالي زړي وې. د قبیلوپیوستون معمولاً یو تر بله د دوی د مشرانو د توافق پر بنسټ منځ ته راتلو او نورې قبیلې به یې هم پر هغوی باندې په بري موندلو سره یووالي یا تبعیت ته اړ وېستلې. د سوبمنو (بریمنو) او غښتولو قبیلو مشرانو ورو ورو خپل نفوذ او واک میراثي کاوه. دغه موروثي واکمنان پاچاهان ونومول شول.

د مریيتابه استبداد (د دربار پیدایښت): قبیله ییز یووالی یوازې د دولت پیلامه وه. د قبیلو د مشرانو او پاچاهانو د واک ورو ورو زیاتیدنه او د هغوی د دستګاوو غښتلتیا او پراختیا ددې سبب شوه چې قبیله ییز یووالی د مریې والو په ځان خوښي (خودکامګي) او استبداد باندې واوړي. پاچاهانو کرار کرار خپل واک او نفوذ زیاتوه او اوږدې او سوروړې (پلنې) دستګاوې یې ځان ته جوړې کړې. پاچاد دولتي واکمنۍ په سر کې ځای درلود. دغه راز دولتونو کلک تمرکز درلود. ټولې مقننه، اجراییه، قضاییه او مذهبي قواوې د باچاهانو په واک کې وې. هغه ټولې اوږدې او پلنې دستګاوې چې پاچا او د ده په څنګ کې د واکمنې طبقې د ګټو نورو ساتندویانو د ځان لپاره جوړې کړې وې، دربار نومېد. باچاهان او د دوی کورنۍ، ملایان، مجلسیان، ساتندویان، لیکوالان، مالیې اخیستلو ماموران او د دولتي دستګاه نور کسان د دربار جوړوونکي ؤ. پاچاهانو دواکمن پلاوی دنورو عناصرو په مرسته د چارو داداری لپاره اداری دستګاوې منځ ته راوړې وې.

**د مریيتابه فرهنګ او ايډيالوژی**

د مذهب رول: که څه هم مذهب په بېلابېلو سيمو او قومونو کې راز راز بڼې درلودې او ډېرې راز راز مذهبي افسانې پيدا شوې وې، خوبيا هم د هغوی د ټولو زده کړو اصل (ماهيت) يو شان پاتې شوی او هغه داچې له قهرجنوخدايانو څخه چې تل ځارنه کوي ترڅو دسرغړونې په صورت کې ګناهکاران په ژوند ياله مرګ نه وروسته سزاکړي، د ډارولو له لارې زيارکښې پرګنې اطاعت ته اړباسي. په ډېرو مذهبونو کې داسې زده کړې او اصول ليدل کيږي چې په عامه توګه دخدايانو له خوا، له مرګ نه وروسته دنيا کې دسرغړوونکو کسانو لپاره ددوزخ دسزاګانو ځرګندونه کوي او د «جنت» زېرى د هغو کسانو لپاره چې په دې دنيا کې کړاوونه او عذابونه زغمي. په ټولو مذهبونو کې «روحانيونو» د ولسونو د قانع کولو او غاړې ايښودلو لپاره بېلابېلو وسايلو ته لاس اچاوه ترڅو په دوی ومني چې د لوړو طبقو واک، برلاسی او لوړتيا يو خدا يي چار دی. ځنګه چې مو وويل د قبيلو تر منځ شخړې او نور بېلابېل عوامل د دولتونو د پيدايښت او د زورواکه پاچاهانو د منځ ته راتګ لامل شو چې په يوه لويه خاوره باندې مطلق واکمن ؤ. په ټولنه کې د مطلق واکمن پيدايښت دا فکر د مذهبونو په پيروانو کې منځ ته راوړ چې په خدايانو کې ديوه لوی اوتر ټولو لوړ خدای شتون لازم دی. له څو خدايانو (پلي تييزم) نه يو خدای يا توحيد (منوتييزم) ته د دغو مذهبي عقايدو کرارکرار لېږد په ډېرى بشري ټولنو کې، په يو متمرکز ځواکمن دولت باندې چې په سر کې يې پاچا يا امپراطور ؤ، د سيمه ايزو حکومتونو د بدليدلو سره پر يو وخت کې منځ ته راغلی دی. د پاچا د مطلقه واکمنۍ د ساتلو لپاره لازم ؤچې د يو ستر خدای شتون، چې په نورو خدايانو باندې

لاس بری وي، د خلکو په ذهن کې پیاوړی شي او پاچا د ځمکې پر مخ د دغه ستر ځواک دغبرګون په څېروښودل شي.

د علمي نظریاتو پیدایښت او و ده: د انسانانو مادي اړتیا؛ د مولده ځواکونو پرمختیا؛ د متقابلو اړیکو پراختیا؛ د تجربو لېږد د یوې ټولنې د خلکو ترمنځ او هم د بشري بېلابېلو ټولنو په منځ کې د راز راز علمي نظریاتو منځ ته راتګ لامل شو. دغه نظریې په لومړي سر کې ساده او محدودې وې او ورو ورو پراخېدلې او د تولید او انسانانو د تجربو له پرمختګ سره جوخت لا پراخه او ژورې شوې او په پرله پسې توګه یې خپلې بشپړتیا ته دوام ورکړي او ورکوي یې. د ساري په توګه په لومړي سر کې د زیرمو یا محصولاتو د شمېر ساتلو، دځارووډ شمېرلو او نورو لپاره دانسانانواړتیاوو، حساب منځ ته راوړ. د ځمکې د ټو ټو اندازه کولو او د هغې د وېش څرنګوالي او یا د بېلابېلو مصنوعاتو د بڼې انځورولو او کچ کولو او نورو اړتیاوو هندسه منځ ته راوړه. حساب او هندسې دواړو د دغې زمانې لومړني ریاضیات تشکیلول. په سیندونو کې د بېړیو چلولو او سمندري لا رو پېژندلو ایجابوله چې د لارو موندلو د پاره د ستورو او هم د لمر او سپوږمۍ له حرکت څخه مرسته وغواړي او ورځ، میاشت، فصل او کال د کرکیلې لپاره وټاکي. په دې ډول د نجوم (جنتري یاکلیزې) ډیرې لومړنۍ بڼې منځ ته راغلې. د فلزي آلاتو جوړېدو، د تول (میزان) او مقاومت د اندازې کیدو، د فلزاتو دویلې کېدو درجې او په هغو کې بېلابېلو بدلونونو او نورو د فزیک او کیمیا لومړني قوانین بشر ته وښودل. په دې ډول علوم په ساده او لومړنیو بڼو سره پیل او دانسانانود اړتیاوو سره سم یې ورو ورو پراختیا او بشپړتیا وموندله.

لیک: څنګه چې مو ولیدل د لومړني کمون په دوران کې، انځورګري منځ ته راغله چې لومړی په ډېره ساده بڼه وه، او کرار

کـرار یـې بشـپړتیا وموندلـه. انسـانانو دځینـو موضـوعاتو ثبتولوتـه داړتیاله امله دخپلـو متقابلـه اړیکـو دپرمختـګ پـه بهیرکـې لـومړی دهغـه څـه بڼه انځوروله چې بایـد لیکـل شـوي وی. ددغـه چـار پراختیـا او بشـپړتیا دانځـوري (تصـویري) لیـک دپیدایښـت سـبب شوه چې په هغه کې هرانځـور دیومطلـب یـاتوري نښـه وه. او دغـه لیک په پیکتوګراف (انځورلیکنې) باندې شهرت وموند. دمرییتابـه په څرګندېدو، پراختیا او بشپړتیا سره انسـانانو د قوانینـو ثبتولـو، د شتمنۍ د کچې، د مبادلې وړ محصولاتو کمیت او کیفیت او یا هغـه څه چې زېرمه کېدل او داسې نورولپاره لیکلو ته ډېره اړتیا درلـوده. له دې کبله یې انځوري لیک تـه پراختیـا او وده ورکـړه او کرارکـرار یې د هر مطلب یا توري لپاره یوه قراردادي نښـه جـوړه کـړه. دغـه نوي لیک ته ایدیوګراف (نښه لیکنـه) وایـي. پـه پـای کـې د هغـه د پراختیا او بشپړتیا په پایله کې فنیقیانو د لـومړي ځـل لپـاره الفبـې اختراع کړه چې د یونـاني او کلـداني الفبـې سـته ده. ننۍالفبـې د یوناني او کلداني الفبې د پراختیا او بشـپړتیا نـه مـنځ تـه راغلـې ده، مېخي لیک د ایـدیوګراف د لیـک یـو ډول دی. د لیـک بشـپړتیایي یون (تګ) داسې لنډو لی شو:

لـــومړنۍ ســـاده انځـــورونې ←—— انځـــوري لیـــک ←—— (پیکتـوګراف) نښـه ییـز لیـک (ایـدیوګراف) فینقـي الفبـې یوناني او کلداني الفبې ننۍ لیک.

د مرییتابه په دوران کې ادبیات او هنر: مریي والو د خپل ځواک ښودلو او د چارواکو ستایلو، چې د دوی د ګټو سـاتندوی ؤ، پـه تیـره بیـا د پاچاهـانو د ځـواک او د هغـه د اتلوالیـو او یرغلګریـو ستایلو لپاره د مقالو لیکنه، تاریخ لیکنه، شعرا و نثـر مـنځ تـه راوړ. مریانو هم د خپلې غم لړلې وضعې د انځور او د موجـوده وضـعې د غندلو او د نورو ملاتړ د را جلبولو لپاره له خپلـه منځـه شـاعران او

لیکوالان منځ ته راوړي ؤ. او په دې ډول راز راز نظم او نثر او لومړني سبکونه (طریقې) په ادبیاتو کې په عامه توګه منځ ته راغلل. د مریبتابه په دوره کې ادبیاتو یوه ځانګړې بڼه ونیوله او ورځ په ورځ پسې د پراختیا او بشپړتیا پر لور روان ؤ. د بشر د تاریخ په هر دوران کې هرې یوې طبقې خپل ځانګړي سبکونه منځ ته راوړي دي او دغه بشپړتیایي یون تر ننه پورې چې د پرولتاریایي مخکښو ادبیاتو پرتمینه زمانه ده ادامه موندلې او همدغشان خپلې بشپړتیا ته دوام ورکوي.

انځورګري (نقاشي): څنګه چې خبرې کولو، لیکلو او لوستلو د انسانانو ټولې اړتیاوې نه پوره کولې انځورګري پراختیا او وده موندده. انځورګري چې د کمون په دوران کې د لومړنیو ډېرو ساده بڼو نه پیل شوې وه د بشر د ژوندانه بېلابېلو دورو د پیدایښت سره جوخت د بشپړتیا پر لور روانه ده او په هره دوره کې د انسانانو د حالاتو او عواطفو بیانوونکې او د اړونده دورې د ژوندانه ښکارندویه ده. انځورګري د مریبتابه په دوران کې زیاتره د پاچاهانو د ماڼیو، معابدو او قبرونو دښایست لپاره په کارېده او زیاتره د مریبتابه ټولنې د ایډیالوژي انعکاس ورکوونکې وه.

موسیقي اوبت جوړونه: موسیقي او بت جوړونه هم د ژوندانه د اړخونو څرګندولو او د انسانانو د احساساتو او عواطفو بیا نولو یوه بله وسیله ده. موسیقي د ډېرو ساده آلاتو یعنې شپېلۍ نه پیل شوې او ورو ورو یې وده موندلې ده. د بت جوړونې نه هم د پاچاهانو او امپراطورانو د ماڼیو او معابدو د ښایست لپاره ګټه اخیستل کېده. لکه چې لیدل کېږي ادبیات او هنر د مریبتابه په دوره کې د واکمنې طبقې په وسیله د امپراطورانو او شتمنو د ملاتړ او ولکې زیاتولو د پاره په کاروړل کېدل. ډېرۍ شاعران، لیکوالان او هنرمندان د ټیټې طبقې له منځه راوتلي وو لیکن

خپل ژوند ته ددوام ورکولو لپاره یې ځانونه دواکمنې طبقې په واک کې ورکړي وو خودواکمنانو دیرتمین ژوند او ځواک ستایلو سره جوخت یې هم د محکومې طبقې بېوزلي او بدمرغي څرګندوله، او ځینو یې هم په واکمنې طبقې نیوکې کولې او هر یو یې په یو ډول د مریيتابه ټولنې سره مبارزه کړې ده.

ایډیالوژي: دسیاسي، فلسفي، قانوني، اخلاقي، هنري او مذهبي او نورو نظریو او مفکورو مجموعې ته ایډیالوژي وایي. ایډیالوژي د مخبنا برخه ده او له دې کبله چې په هره ټولنه کې د انسانانو د اقتصادي اړیکو زېږنده پدیده ده، هر طبقه ځانګړې ایډیالوژي لري. په طبقاتي ټولنو کې، طبقاتي مبارزې د ایډیالوژیکو مبارزو سره مل دي. ایدیالوژي ممکنه ده په ځینو شرایطو کې نوې او د ټولنیزو پدیدو علمي او ریښتونی انعکاس ورکوونکې او په نورو شرایطو کې زړه او غیرعلمي یا غیرواقعي انعکاس ورکوونکې وي. د مرتجع طبقو ګټې غیرواقعي (دروغجنه) ایډیالوژي روزي خو مخکښه انقلابي طبقې د واقعي او علمي ایدیالوژي جوړښت سره مرسته کوي. د مریيتابه په نظام کې هم د مریانو څښتنا نو او مریانو هریو ځان ته ځانګړې ایدیالوژي درلوده، یعنې د خپل موقعیت سره سم یې د سیاسي، فلسفي، اخلاقي، مذهبي او نورو مسایلو په اړه ځانګړي فکرونه او ایډیالوژي درلودلې چې یو د بل ضد وې. خو په ټولیزه توګه، څنګه چې مریي وال واکمن ؤ، تل یې هڅه کوله خپله ایدیالوژي واکمنه کړي. له دې امله د مریيتابه د ټولنې واکمنه ایډیالوژي دمریي والو ایډیالوژي وه.

**د مریيتابه د ړنګېدو بهیر**

د مولده ځواکونو پرمختیا: څنګه چې پوهېږو مولده ځواکونه تل پرله پسې خپلې بشپړتیا ته دوام ورکوي. د مریيتابه په

وروستیو کې هم د تولید په چارو کې د انسانانو د تجربو له پرمختیا سره یو ځای، اوزار جوړونې لا زیاته پراختیا وموندده. اوزار جوړونې د صنعت او کرنې په ټولو څانگو کې بشپړتیا وموندله. راز راز نوي فلزي اوزار په کرکیله او صنایعو کې په کار واچول شول. دغه چار دانسانانو د تجربو د پراختیا په ملتیا سره د کرنې او صنعت د پرمختگ سبب شو. د صنعت په پرمختگ سره تولیدکوونکو په مختلفو فنونو کې زیاتې تجربې لاسته راوړې. بېړۍ چلولو (دریانوردي)، سوداگري او علمي نظریاتو پرمختگ د تولیدپه پراختیا او وده کې ستر رول لوباوه. لویې کارخانې منځ ته راغلې چې په هغو کې به کله له سلو نه زیاتو مریانو کار کاوه. په دې ډول لومړني صنعتي کوپراتیفونه (۱) پیدا شول. بېلابېل صنایع لکه ټوکراوبدنه (نساجی)، بېړۍ جوړونې، خټگری، د فلزاتو ویلې کېدنې او د کانونورا ایستنه د مریانو د کار نه په گټې اخیستلو سره منځ ته راغلل. دتاریخي سترو ودانیو جوړول چې د هغو د جوړولو لپاره په زرگونو مریان په کارگمارل کېدل، د مولده ځواکونو د پرمختگ څرگنده نښه وه. په کرنه کې هم د مریانو د کار نه په گټې اخیستلو اود بېلابېلو دستگاوو په مرسته د اوبولگولو لپاره د لویو بندونو او سترو کانالونو جوړېدل ممکن شول.

د مریيتوب نظام تولیدی اړیکې د ړنگېدو په حال کې: د مولده ځواکونو پراختیا او و دې او د کار لا زیات ټولنیز وېش، مبادلې اود نغدې پانگې پیدايښت د مریيتوب ټولنې د وگړو ترمنځ توپیرلازیات کړ. د مولده ځواکونو پرمختگ تولید یو لوړ پړاو ته ور سوه او دې چار سوداگري ته وده ورکړه. د بېلابېلو ټولنو تر منځ سوداگري اړیکې او ددوی په منځ کې د تجربو مبادله د ښارونو د پراختیا سبب شوه. دغو ټولو عواملو د ټولنې د وگړو نا انډولتیا لا

سخته کړه. هر څومره چې د تولید وسایلو پرمختک کاوه او تولید ډېرېده دغه وسایل د شتمنو په لاس کې لا زیات راغونډېدل. په مقابل کې نیستمن پسې لا نیستمن کېدل او زیاتره اړکېدل چې د پور رانیولو د پاره شتمنو ته مخه کړي. اقتصادي پراختیا په پراخه کچه د مریانو په مالکیت باندې ولاړه وه. په دې اساس د تولیدپر وسایلو او مریانو باندې مالکیت او د ډېرې تولیدونکو بې برخې کېدل له هغه څه نه چې پخپله یې تولیدول د مریيتابه د ړنګېدو پړاو کې د مریيتابه د تولیدي اړیکو اصلي ځانګړتیاو څخه ؤ.

(١) داسې کارخونې چې په هغو کې په لسګونو مریانو په خپل ګډکار سره دټاکلو مصنوعاتو په تولید لاس پورې کاوه.

## د مریيتوب په مخبنا کې راغلي بدلونونه

د مریيتابه الیګارشي: دمریي والو ډلې، چې د ټولو سیاسي حقوقو څخه برخمنېوی (واکمن حکام، قاضیان، لوی ملایان، درباریان او نور) د مریيتابه په ځینو ټولنو کې کرار کرار د واکمنۍ ځواک ځانته ځانګړی کاوه. دوی د مریانو او آزادو وګړو د ایل (تابع) ساتلو په موخه هر راز غیرانساني سلوک کاوه. کله به یې د یاغي مریانو د لویو ډلو په عام وژنې لاس پورې کاوه ترڅو د ټولنې نور وګړی و ډار کړی. د مریيتابه دغه ډول حکومتونو ته چې د مریي والوداشرافوډله، د نفوذ او واک خاونده وه، د مریيتابه الیګارشي ویل کېږي چې د متنفذینو د حکومت په مانا ده.

د مریيتابه ډیموکراسي: د مریيتابه په ځینو حکومتونو کې د هېواد چارو د ادارې لپاره جرګې منځ ته راغلې چې واکمنان او پاچاهان اړ ؤ، د چارو په اداره کې، د دوی سره سلا وکړي. د دغو مجلسونو غړي یوازې د مریي والو ډلو، ځمکوالو، نغدې پانګې خاوندانو، ځینو لویوصنعتګرانو او کسبګرو څخه ټاکل کېدل او

دوی به د چارو د اجرا لپاره عامې ټولنې جوړولې چې په هغو کې به سیاسي، پوځي او اداري چارې مطرح کېدلې. د مریيتابه دغه ډول حکومتونو ته د مریيتابه ډیموکراسي وایي.

د ښکېلاک پیدایښت: د مریيتابه ټولنو اشرافو، واک یو په بل پسې ځان ته ځانګړی کاوه او دهرې سیمې ټولې ځمکې به یې ضبط کولې، له دې کبله ډېر آزاد وګړي مجبورېدل خپلې ځمکې پرېږدي. د لویو کار ځایونو په منځ ته راتګ، چې د مریانو د کار نه پکښې ګټه اخیستل کېده، آزاد صنعتګران ماتې ته راکښل کېدل. وړوکي او منځکوره مالکین هم د مریي والو طایفه ییزې ارستوکراسي (مریي وال) نیستمن کول. ډېر سوداګر، چې د لا زیاتو ګټو تر لاسه کولو د پاره یې لرې او اوږده سفرونه کول، د پورتنیو یاد شوو ډلو سربېره چې وطن یې پرېښودلو په نورو سیمو کې چې لاتر اوسه پکښې متمرکز حکومتونه منځ ته نه وو راغلي، مېشت کېدل. د ځان لپاره یې ښارونه جوړول او کرار کرار یې د دغې سیمې وګړي ترخپلې ولکې لاندې راوستل. دغو خپلواکه حکومتونو د خپل هېواد د پلازمېنې سره کلکې سیاسي او اقتصادي اړیکې درلودلې او ډېریو یې مرکزي حکومتونو ته مالیه او قلنګ ورکوه. دغو ودانو شوو سیمو ته به یې، چې دځواکمنو حکومتونو تر ولکې لاندې وې، مستعمرې ویلې. په دې توګه د مریيتابه په دوران کې د زاړه ښکېلاک لومړنۍ ساده بڼه منځ ته راغله.

**کلتور د مریيتابه د ړنګېدو په دوران کې:**

د ادبیاتو او هنر پرمختګ: په مریيتابه کې د ادبیاتو او هنر پرمختګ، په ټولنه کې د تولید د پرمختګ او شته تضادونو د سختوالي غبرګون ؤ. دغه چار د دې سبب شو چې شاعران او لیکوالان منځ ته راشي، د زبیښاکګرې طبقې د ظلم او ستم سره

په مخالفت راپاځي او د مريانو په ليکه کې د مريانود خاوندانو ضد مبارزه وکړي. دغه شاعران او ليکوالان د ولسونو لـه منځـه راوتلي او ياهغه بډايان ؤ چې د بېلابېلو عواملو او لاملونو له کبله د خپلې طبقې نه شړل شوي ؤ. هغې الفبې چي په مرييتابه کې منځ ته راغلې وه، ادبيات او هنر يو نوي پړاو ته اوچت کړل. سرودونه، ښکلي شعرونه او مختلف نثرونه چې ډېرى يې د ټولنې د ژوندانه او د مريانو د طبقاتي مبارزو غبرګون ؤ، د شتون ډګر ته راووتل. په معماري (ختګرى)، بت جوړونې او انځورګري (نقاشي) کې نوي سبکونه پيدا شول. ځينو ليکوالانو د خپلې او تېرې زمانې تاريخ وليکه، متضاد هنري او ادبي سبکونه چې هر يو يې د دښمنو ډلو په چوپړ کې ؤ، منځ ته راغلل.

د علمي نظرياتو پرمختګ: علمي نظريات د مولده ځواکونو د پرمختګ سره يو ځاى پيدا شول او پرله پسې يې پراختيا موندله. دهغه مهال علوم لکه رياضيات، نجوم او طب منځ ته راغلل. رياضي پوهانو داسې مسلې مطرح کولې چې علمي ارزښت يې درلود او د توليدي تجربو او د فنونو او صنايعو د پرمختګ نه يې سرچينه اخيستلې وه. علمي فرضيې د نجوم په ځانګه کې چې ځمکه او آسماني اجرام يې کُروي ګڼل، پيدا شوې. کليزې ځانګړې بڼه ونيوله چې کال يې په ۳۶۰ ورځو ويشلو. سقراط او نورو پوهانو په طبيعي علومو (له دغه جملې په طب) کې خپلې تجربې او کتنې وليکلې.

**د فلسفي مکتبونو پيدايښت**

ماټرياليزم او ايډياليزم: د مرييتابه په نظام کې فيلسوفان په دوو ډلو وېشل کېدل. هغوي چې باور يې درلود نړۍ او دهغې ټولې پديدې مادي دي او روح هم د مادې څخه منځ ته راغلې ده

د ماتریالیزم د مکتب پیروان ؤ او برعکس هغه کسان چې باورېې درلود نړۍ د روح (خدای) په وسیله جوړه شوې ده او روح ماده، نړۍ او دهغې پدیدې منځ ته راوړي، د ایډیالیزم د مکتب پیروان ؤ. د ایډیالیزم او ماتریالیزم اندونه (افکار) د ډېرو پخوا زمانو څخه موجودې ؤ. هغو انسانانو چې یو وخت د ساري په توګه په سیلابي سیمو کې مېشت ؤ، د سیلاب د راتګ عامل دطبیعت څخه لوړ ځواکونه (خدایان، روح او نور) ګڼل (ایډیالیزم). خو د مولده ځواکونو پرمختګ د طبیعت د ځینو قوانینو د موندلو (کشف) لاره هواره کړه. له دغې جملې نه انسانانو د سیلاب د راتګ عوامل پیدا کړل او د مخنیوي لار یې وموندله (ماتریالیزم). په دې ډول ایډیالیستی او ماتریالیستی نظریات په دوو ځانګړو مکتبونو کې ښکاره او څرګند شول. لومړنیو ماتریالیست فیلسوفانو باور درلود چې نړۍ د لومړنیو څلور ګونو عناصرو اوبو، باد، خاورې او اور څخه منځ ته راغلې ده.

ډیالکتیک او میتافزیک: د مریيتابه په سیستم کې د ماتریالیزم او ایډیالیزم د مکاتبو پیدایښت سره یو ځای دوه متضاد نړۍ لیدونه پیدا شول. هغوی چې نړۍ اواړونده ښکارندې یا پدیدې یې د خوځښت او بدلون په حالت کې ګڼلې او دغه بدلون او خوځښت یې په پدیدو کې دننه د متضادو عواملو پایله ګڼله، دیالکتیکي فکری یون (طرز تفکر) او هغوی چې د نړۍ پدیدې یې بې حرکته او بې بدلونه ګڼلې میتافزیکي فکری یون یې درلود.

د ډیالکتیک ماتریالیزم فلسفه او نړۍ لید د ټولنې د مخکښې او مترقي طبقې مدافع وه. د مریيتابه دورې انقلابیانو په دغو معتقداتو او نړۍ لید سره د خدای یا روح لپاره هیڅ ځای پرې نښود. او باور یې درلود چې د مریيتابه ټولنه باید بدلون ومومي او د مریانو د خاوندانو باداري همیشنۍ نده او د بدلون وړ

ده. او د مریي والو موقعیت خدای منځ ته ندی راوړی بلکه د واکمنې طبقې دزور او ظلم زېږنده ده. د دغو باورونو پلویان زیاتره د مریانو پاڅونونو سره یوځای شول او غوښتل یې چې د انقلاب له لارې نه اوضاع بدله کړي. د ماتریالیزم د فیلسوفانو نه یو هم تر ټولو وتلي فیلسوف، هراکلیت نوم یادولی شو. سقراط او افلاطون هم د نامتو ایډیالیست فیلسوفانو څخه ؤ.

## د مریيتابه د سیستم په ببخبنا کې ګډوډی

د مولده ځواکونو او تولیدي اړیکوترمنځ د تضاد سختوالی: څنګه چې مو وویل د مریيتابه په دوران کې مولده ځواکونو ډېر پرمختګ وکړ او دغه پراختیا او بشپړتیا همغشان روان وو. لیکن د مریيتابه دولتونو واکمني او برلاسی د مریانو پر ظالمانه زبېښاک ولاړ ؤ چې د ټولنې ډېری یې جوړوه. په دې ډول د مریانو په کار پورې تړلي اقتصادکې داسې اړیکې واکمنې وې چې د مولده ځواکونو د زیات پرمختګ خنډکېدل. مریې په هېڅ ډول د خپل زیارد پایلو سره مینه نه درلوده او د کار اوزارو د سمون او د خپل مهارت ښه والي او تجربو سره یې هېڅ علاقه نه ښودله. سربېره پردې دخپل کارد تولید ي وسایلو نه یې ساتنه نه کوله. له دې کبله ده ته د تولید قیمتي وسایلو د سپارلو د پاره تضمین موجود نه ؤ. د مریيتوب د حد نه زیاته پراختیا، سربېره پر دې چې آزاد و بزګرو د پاره زیان رسوونکې وه، ورو ورو یې د آزادو کسبګرو د کار مخه هم نیوله. د مریانو د ډله ایز کار څخه ګټې اخیستنې، آزاد بزګران او کسبګر ماتې ته تېل وهل چې دا پخپله د مولده ځواکونو د پراختیا او بشپړتیا په لار کې خنډ ؤ.

د فکري او بدني کار ترمنځ تضاد: د مریانو د شمېر په زیاتېدو سره داسې وخت راغی چې نږدې ټول بدني کارونه هغوي

سرته رسول. دې چار د آزادو وګړو، (آزادو بزګرانو، صنعتګرانو او نورو) په ذهن کې دا احساس پيدا کړی ؤ چې بدني کار د آزاد سړي د شان نه ټيټ او سپک دی. آزادو وګړو هم خوښول چې لکه مريي والو او دوی پورې تړلو کسانو په څېر يوازې اداري، هنري، حقوقي، علمي او نورې چارې سرته ورسوي. په دې ډول، فکري او بدني کار، يوتربله بشپړ جلا شول او ددغو دواړوتر منځ تضاد پراخه شو. دغه فکری يون (د فکري کار لومړيتيا په بدني کار) چې دمرييتابه سيستم زېږنده ده، په ټولو اقتصادي او ټولنيزو دورو کې چې انسان څخه د زبېښناک پر بنسټ ولاړدي، پاتې شو.

د مرييتابه نظام دننه د فيوډالي عناصرو پيدايښت: همغه شان چې د مرييتابه اړيکې د لومړني اشتراکې نظام دننه څرګندې شوې، فيوډالي اړيکې هم کرار کرار د مرييتابه په نظام کې پيدا شوې. ځينې مريی وال چې د مرييتوب اړيکو د شتون له امله د توليد نه پرمختګ ته متوجه شوي ؤ، خپل مريان يې په نسبي ډول آزاد کړل. په دې ډول چې د خپلې ځمکې يوه وړه ټوټه به يې مريانو، نيستمنو او آزادو وګړو ته په اجاره ورکوله. د دغو وړو ځمکو اجاره دارانو حق درلود چې د لاسته راغلو محصولاتو يوه کمه برخه ځانته واخلي او پاتې نور يې مريي والو ته وسپاري. له دې امله دغو کسانو د مريانو په پرتله په زياتې مينې او لېوالتيا سره د ځمکې کرکاوه. روميانو دغه کسان د کولون په نامه بلل. دغه راز املاک په حقيقت کې د راتلونکي فيوډالي املاکو بېلګه وه. دغشان، نوی تضاد د واکمنې طبقې (مريي والو) د ننه کې منځ ته راغی: د هغو مريي والو چې خپل کار يې بدل کړی او مريانو ته په ځمکې ورکولو سره يې په حقيقت کې دوی آزاد کړي ؤ (نوي

فیوډالان) او د هغه شمېر مریي والو ترمنځ تضاد چې نه یې غوښتل په هېڅ ډول د مریانو دزبېښناک زړې بنې نه لاس واخلي.

بهرني یرغلونه: د مرییتابه د متمرکزو دولتونو د ټینګښت نه وروسته، هغوی چې د زیاتې پراختیا او و دې شرایط یې درلودل لاغښتلي شول او د منظمو لښکرو او ځواکمنو دولتي دستګاؤ د جوړونو نه وروسته یې نورو هېوادو ته د یرغل لاس ور وغځاوه. له دغې جملې نه په ایران کې د مرییتابه سترې امپراطوري چې هندوستان او ننني مصر یې د خپلې ولکې لاندې راوستی ؤ، پر یونان باندې، چې په دغه وخت کې یې پخپله یوه لویه امپراطوري جوړه کړې وه، یرغل ور وړ. له هغه وخته وروسته، جګړو د مرییتابه د یو دولت د ړنګېدو او له منځه تلو او دبل په ځواکمن کېدو کې ستر رول درلود، خو د هغه دولت د پاره چې په جګړو کې بریالی کېده، دمنفي اغېزو څخه هم تش نه ؤ. ځکه دغه رازجګړو او یا د نورو یرغلونو په وړاندې دفاع، د عسکرو سترې ډلې ساتنې اوپالنې ته اړتیا درلوده چې پخپله یې د تولید په کار کې برخه نه اخیستله. خو ټولنه مجبوره وه د ژوندانه ټول وسایل او لازم جګړه ییز آلات او نور دوی ته برابر کړی او دغه چار پر مریانو باندې د زبېښناک فشار زیاتوه. د مالیاتو پېټی چې زیاتره د آزادو وګړو په اوږو پروت ؤ، ورځ په ورځ پسې لا دروند او د وس نه وته. او له دې کبله د مرییتابه نظام د نړېدو لپاره یو مهم عامل ګڼل کېده. خو باید یادونه وکړو چې له بل پلوه دغو جګړو د مختلفو دولتونو په منځ کې مثبته او د پام وړ اغېزه درلودله چې د علمي تجربو د تبادلې او دتمدن او کلتور د پرمختیا مسله وه. د دغو جګړو له کبله ؤ چې د یونان په تمدن او کلتور کې لاسته راغلي پرمختګونه ختیځ ته رامات شول او پخپله دا تمدن هم د ختیځ د فرهنګ او تمدن د بریاوو تر سختې اغېزې لاندې راغی.

<u>د طبقاتي مبارزو سختوالی او ټولنیز بحران:</u> د تضادونو او طبقاتي مبارزو سختوالی او د مریيتابه نظام د ټولنیز بحران لا ژوروالی داسې لنډولی شو:

الف- د مریانو او مریي والو تر منځ د تضاد سختوالی، ځکه هغه ظلم او ستم چې د مریانو دخاوندانو له خوا پر مریانو باندې کېده د هغوی ناراضتیایې خپل اوج ته رسوله او انقلاب ته یې چمتو کول.

ب- د کسبګرو او آزادو کروندګرو د تضاد سختوالی د مریي والو سره، ځکه د دوی پرځای دمریانو کار کول، دوی له ماتې سره مخ کول.

پ- په ښارونو کې تضاد، د بډایانو (مریي والو) او بېوزلو (ټیټو طبقو، بې طبقې ډېرې غړو) په منځ کې، چې د دغې ډلې د لا زیاتې نیستۍ له کبله یې ځانګړی شدت وموند.

ت- د فیوډالي نوې بڼې تولید او مریيتابه تر منځ د تضاد سختوالی، یعنې د هغو چې د خپل تولید بڼه یې بدله کړې (فیوډالانو) او د مریي والوترمنځ.

ث- د دښمنو ایډیالوژیو تر منځ تضاد چې هره یوه یې د ځانګړې طبقې ملاتړې وه، سختوالی وموند.

ج- د مریيتابه د دولتونو په منځ کې تضاد (بهرني یرغلونه) چې د مریيتابه ډېرې دولتونو د راپرزېدو مهم عامل ؤ.

پورته ټول یاد شوي تضادونه او نور تضادونه په دوو بنسټیزو قطبونو کې راټول شوي ؤ. یو خوا ته، انقلابي پرګنې (مریان، آزاد وګړي، وړوکې بورژوازي، کسبګر، آزاد بزګران او فیوډالان) بل پلو ته، د مریانو خاوندان او د مریيتابه د زاړه سیستم مدافعین. د مریيتابه په ډېرو هېوادونو کې ستر پاڅونونه

پېښ شول چې یو له هغو نه د اسپارتاکوس نامتو پاځون ؤ چې په هغه کې مریانو د نړېدونکي مریيتابه نظام د له منځه وړلو او د غلامۍ له شر نه د ځان د خلاصون لپاره سترې سربښېندنې او قرباني کړي دي.

د مریيتابه نړېدل: د پورتینو علتونو او عواملو له کبله، د مریيتابه امپراتورۍ د زوال خوا ته لاړې، له دغې جملې نه تر ټولو ځانګړي يې د مریيتابه د سترو امپراتوریو لکه یونان، ایران او مصر ړنګېدل او دروم د لويې امپراتوري وېش ؤ په دوو ختيځو او لویدیزو برخو باندې. د فیوډالي املاکو تولیداتو د متمولو مالکانو اړتیاوې په ښه توګه پوره کولی شوې. خو د مریيتابه تولیدي اړیکو د تسلط له سببه يې د و دې او بشپړتیا امکان نه درلود. د مریانو و ګړنیزو پاڅونونو پرله پسې دمریيتابه امپراتوریو ستنې لړزولې. د ماتې خوړلو او ترولکې لاندې ملتونو د مریانو انقلابي غورځنګونو او د امپراتورانو پرله پسې جنګونو په پای کې د مریيتابه سیستم ړنګ او پر ځای يې فیوډالي نظام منځ ته راووړ.

پنځم څپرکی

# فيوډالي سيستم

***د فيودالي سيستم د پيدايښت بهير***

الـف- د مريیتابـه پـه سيسـتم کـې د فيـوډالي توليـد وده:
څنګه چې يادونـه وشـوه د مريیتابـه سيسـتم پراختيـا او بشـپړتيا د مريانو د ظالمانه زبېښاک پر بنسټ ترسره کېده. د کار د وسايلو سمون او ساتنې، پوره پاملرنې تـه اړتيـا درلـوده خـو مريـانو، چې د ډېرو سختو شرايطو لاندې ژوند کاوه، نه يوازې داچې د کـار اوزارو او وسايلو ساتنې سـره مينـه نـه درلـوده، هغـه بـه يـې مـاتول او لـه منځه وړل. په پايله کې داسې پړاو راورسېد چې د مريیتابه توليدي اړيکـو د مولـده ځواکونـو د ودې مخـه نيولـه او لـه همـدې املـه د مريیتابه سيستم ګډوډی پيل شوه. دغه ګډوډی (بحران) د تـاريخ نسبتاً اوږده دوره رانغاړي. ځينـې مريـې وال د مريـانو د پـاڅونونو تر فشار لاندې، او په حقيقت کې د خپلو ګټو د ساتنې په موخـه، اړ شـول چې مريـانو تـه څـه امتيازونـه ورکـړي. لـه دې کبلـه يـې د زبېښاک نو ې بڼې مـنځ تـه راوړي. دغـو مريـې والـو خپلـې پراخـه ځمکې، چې د مريـې پـه کـار پـورې تړلـې وې، ورو ورو پـه وړو وړو ټوټو ووېشلې او مريانو ته يې، چې او س په نسـبي توګـه آزاد شـوي ؤ، په باړه (اجاره) ورکولې. دغه آزاد شـوي مريـان دکولـون پـه نـوم بلـل کېـدل. پـه دې ډول مريـې والـو خپلـې ځمکـې کولونـانو تـه

سپارلې څکه کولون په زیاته مینه سره کار کاوه او مریي والو ته یې، چې اوس په فیوډالانو بدل شوي ؤ، زیاته ګټه رسوله. د پراخه ځمکو د وېش سره جوخت د آزادوشوو مریانو شمېر هم زیاتېده. کولون د مریي سره ډېر توپیر درلود. هغه یو بزګر ؤ چې یوه ټوټه ځمکه یې درلوده او تر مرګه پورې یي له هغې نه ګټه اخیستلای شوه. کولون مجبور ؤ چې یوه اندازه پیسې یا محصول د دغې ځمکې په عوض کې فیوډال یا ارباب ته ورکړي، خو هغه آزاد باړه وال (اجاره وال) نه ګڼل کېده بلکه په ځمکه پورې تړلی ؤ او پرېښودلای یې نشوه. کولون یا سرف به دځمکې سره یوځای پلورل او رانیول کېده. په دې ډول د مرییتابه زاړه سیستم د ننه دفیوډالي نوي تولید عناصر منځ ته راغلل.

د انقلاب دوران، فیوډالیزم ته د مرییتابه اوښتون: د مرییتابه په سیستم کې دننه، د فیوډالي تولید زیاتوالی سره جوخت، د دې سیستم ګډوډی زیاتېده څکه د مرییتابه سیستم، د فیوډالي تولید طریقې دپراختیا او بشپړتیا، خنډؤ او د غې تولید طریقې یواځې پخپله، د نوموړي سیستم د ړنګېدو توان نه درلود. له دې امله د مرییتابه سیستم له منځه وړلو لپاره یو انقلابي ټوپ اړین ؤ. د مرییتابه د تولید طریقه، په خپله خېټه کې د نه پخلاکېدونکو تضادونو په لرلو سره، د نابودۍ په لور روانه وه. د دغو تضادونو تر ټولو لوی عامل د مرییتابه زبېښناک ؤ چې تل یې د ټولنې اصلي مولده ځواکونه، یعنې مریان، له منځه وړل. له دې کبله مریانو، کولونیانو او نورو زیارکښانو د فیوډالي عناصرو په مرسته د مرییتابه سیستم پر ضد بلوا کوله. په پای کې د دغو پاڅونونو او انقلابونو ګوزارونو د مرییتابه رژیم د قدرت ستنې ونړولې او د فیوډالیزم نوی سیستم یې منځ ته راوړ.

## د فیوډالي سیستم ټینګښت، پراختیا او بشپړتیا

مولده ځواکونه: په فیوډالي سیستم کې مولد ځواکونه د خپلې پراختیا او بشپړتیا لوړې کچې ته ورسېدل. په دې دوره کې یې زیاتره بېل بېل اوزار داوسپنې نه جوړ او بشپړ کړل. سپکې او درنې قولبې (یوې)، اوسپنیزبیل، کوډر (کج بیل)، د اوسپنې یو ډول کلنګ، د اوسپنې لور او نور له هغواوزارو ځنې دي. په دې دوره کې د کرکیلې نوې څانګې لکه ترکاري، تاک کاري او نور مینځ ته راغلل او یا یې وده وکړه او په پایله کې شراب جوړونې هم وده وکړه. مالداري او دمالداری اړونده څانګوکې - لکه: لبنیات، څرمنې او نور- پرمختګ وشو. بادي ژرندې و پېژندل شوې او ګټه اخیستنه یې پیل شوه او د اوبو ژرندې، چې د مرییتابه په زمانه کې هم ورڅخه ګټه اخیستل کېدله، په دې وخت کې بشپړې شوې. د کرکیلې تخنیک، ورو ورو د چمتوکولو (دبار ورکولو په موخه دځمکې شاړه پرېښودل) او دوه کروندیزه طریقو په شاته پرېښودلو سره دری کروندیز سیستم منځ ته راوړ.

په لومړي سرکې به بزګرانو د ځمکې د کر لپاره بوټي او ونې سوزول او د ونو ستې به یې کشولې ترڅو لوټې پرې ماتې کړی، اوبیا به یې ځمکه په مختلفو وسایلو اړوله او تخم به یې پکښې شینده. جوته ده چې دغې طریقې زیات زیار ګاللو او وخت لګولو ته اړتیا لرله. پردې سربېره د پرله پسې کرکیلې له امله ورو ورو د پټي خاوره ببخي کمزورې کیده نوځکه به یې دغه ځمکه پرېښوده او په نورې ځمکې پسې به ګرځېدل ترڅو دغه ځمکه د څو کالو نه وروسته د لمر وړانګود لګېدو، ورښتونو او نوروعواملو له امله بیا د کر وړ وګرځي. د کرکیلې دغه طریقه دځمکې دچمتوکولو په نامه یادیدله.

ورو ورو د تولید د وسایلو لـه ودې او دتولیـدي تجربـو لـه زیاتېدو سره به یې ځمکه په دوو برخو وېشله په یوې برخې کې بـه یې تخم شیند او بله برخه به یې په اصطلاح څملوله ترڅـو بیـازور واخلي. د کردغې طریقې ته یې دوه کروندیز سیستم وایه.

د تولیدي تجربـو لاپرمختـګ وکـړ، دا ځـل یـې ځمکـه پـه دریو برخو وېشله، لومړۍ او دوهمـه برخـه بـه یـې پـه ترتیـب سـره پسرلني او ژمني کرته ځانګړې کوله او دریمه برخه به یې څملولـه، د کر دغه طریقه دری کروندیز سیستم بلل کېده.

جوته ده چې چه د وه کروندیز سیسـتم کـې نیمـه او دری کروندیز سیستم کې د ځمکې یو پر دریمه برخه لـه ګټـې اخیسـتلو پـاتې کېدلـه، لـه دې کبلـه دری کرونـدیز سیسـتم پـر دوه کرونـدیز سیستم باندې غوره او په کرهڼې کـې دانسـاني تجربـو د پرمختـګ نښه ده. په دې دوره کې د کسبګرو وسایل او طریقـې سـمې شـوې او کسبګرو لا زیـات مهـارت ترلاسـه کـړ. پـه دې تـرڅ کـې د وسـلې جوړونې تولیدي صنایعو، چاکو، کلپ (قفل)، ګاولې (پښې)، زیـن او نورو جوړولو، بشپړتیا بیاموندله.

دفیوډالی سیستم تولیدي اړیکې (بېخبنا): ځمکه پـه دې دوره کې د تولید ترټولوبنسـټیزه وسـیله او د فیوډالانـو پـه مالکانـه انحصار کې وه. هرې سیمې په یو فیوډال پورې اړه درلوده. فیوډال به معمولاً د خپلو پراخـو ځمکـو پـه مرکـز کـې ځـان تـه اربـابي کـلا جوړوله چې لوړلوړ دیوالونه بـه یـې تـرې چـاپېرول. د فیـوډال او د مباشـرینو کورونـه، دغلودانـو او نـورو تولیـداتو زېرمـې،غـوجلې، د چرګانو کوډکۍ او داسې نورټول په دغې کلاکې ځای پرځای کیدل. د کلا په شاوخوا کې د سرفانوداستوګنې کلي لیدل کېـدل. دکـر وړ ټولې ځمکې په دوو نا انډولو برخو وېشل کېـدلې، د اربـاب کرونـده او د بزګرانـو وړې وړې کرونـدې. د اربـاب (مالـک) د ځمکـو ټـول

محصولات به د ده زېرمو ته لېږدول کېدل. په دې ترخ کې هر سرف به خپله ځمکه پخپله کرله. ځنګلونو، څرځایونو، سیندونو، رودونو او نورو ټولو په ارباب پورې اړه لرله. خو بزګرانو هم کولی شول د ارباب په اجازه او د ځانګړو ترونونو سره سم ورځنې ګټه واخلي. بزګر ته ښایي د ارباب د ځمکې نه د ګټې اخیستلو په وړاندې ځینې چارې سر ته ورسوي: لومړی د هغه ځمکه وکري (ډیرځلې داسې پېښیده چې د ارباب په ځمکه د کار کولو وخت کې، باد او باران د ده د شخصي ځمکې محصولات له منځه یوسي). دوهم مجبور ؤ چې ځینې نورې چارې (بیګار) لکه د ارباب د کور، بانډواوزېرمو جوړول، د ارباب د ډنډونو (حوضونو) پاکول او داسې نور هم پرته له مزدوری سرته ورسوي. پردې سربېره مجبورؤ چې د خپلو تولیداتو یوه برخه لکه شات، د چرګو هګۍ، کوچ او نورهم ارباب ته ورکړي. ارباب په سرفانو باندې راز راز زور زیاتی کاوه، یوازې د هغوی د وژلو حق یې نه درلود خو هر وخت چې خپله ځمکه یې خرڅوله ټول سرفان به هم ورسره یوځای پلورل کېدل. د دې سره سره سرف د مریې خلاف یوه وړه ټوټه ځمکه او د کار وسایل، بار وړونکي او نور څاروي په واک کې درلودل، د نسبي آزادي څخه برخمن ا و د کورنۍخاوند ؤ. په دې ډول تولیدي اړیکې یا د فیوډالي ټولنې بېخبنا، پر ځمکې، د فیوډال خصوصي مالکیت او په اصلي تولیدکوونکو یعنې سرفانو د ده محدود مالکیت باندې ولاړه ؤ. البته د سترو فیوډالانو د مالکیت تر څنګ د بزګرانو او کسبګرو خصوصي مالکیت هم وجود درلود. دوی پر ځمکه او تولیدي وسایلو باندې مالکیت درلوداو په خپل کار متکي ؤ. سره له دې چې طبیعي اقتصاد په فیوډالیزم کې ترډېرې مودې پورې برلاسی درلود د مولده ځواکونو پرمختګ د تولیدی اړیکو د پراختیا سبب وګرځېد. په پایله کې اضافي تولید لا

ځانګړې بڼه نیوله، سوداګري غوړېدله او صنایع له کرهڼې نه بېل شول او دغه عوامل په فیوډالي سیستم کې د ښارونو د جوړېدو او پراخېدو لامل وګرځېدل.

طبیعي اقتصاد: په فیوډالي سیستم په تېره بیا د هغه د ټینګښت، پراختیا او بشپړتیا په پړاو کې د فیوډالانو او د دوی دمباشرینو، درباریانو او خدمتګارو د کورنیو ټولې اړتیاوې د سرفانو یا د رعیت له وس نه وتلي زیار پرمټ برابرېدلې. سرفانو په خپلو هماغه لومړنیو وسایلو سره کورونه، د کار اوزار او د ژوندانه وسایل جوړول په داسې حال کې چې د هر فیوډال په سترو املاکو کې کسبګرو سرفانو په شته کارځایونوکې کار کاوه. ددوی دجامو او خوراک اړتیاوې هم سرفانو لرې کولې. دغه راز زیاتره هغه توکې چې د فیوډالانو په املاکو کې تولیدېدل پرته د مالګې، اوسپنې او داسې نوروڅخه چې د نورو سیمونه واردېدل همدلته مصرفېدل. له دې کبله د مختلفو سیمو تر مینځ ډېرې لږسوداګریزې اړیکې ټینګېدلې. دغه راز اقتصاد ته چې په هغه کې مولده ځواکونه خواره واره او یو تر بله جلا وي او هر واحد خپلې ټولې اړتیاوې پخپله پوره کړي، طبیعي اقتصاد وایي.

لازم تولید او اضافي تولید (فیوډالي زبېښاک): هغه ټول توکي چې د فیوډال په ملک کې تولیدیدل د سرفانو د مستقیم کار پایله وه. کولی شو فیوډالي تولید پر دوو برخو ووېشو: ۱- د تولید هغه برخه چې د سرف او د هغه د کورنۍ د ژوند تېرولو یا لږ تر لږه د ژوند پایښت د پاره لازم ؤ، په مصرف رسېده. ۲- د تولید لویه برخه چې فیوډال ترلاسه کوله. لومړۍ برخه چې د بزګر او دهغه د کورنۍ د ژوند د پایښت (د کارد ځواک پایښت) لپاره لازمه وه، لازم تولید او دوهمې برخې ته یې اضافي تولید وایي. پر دې

اساس فیوډالي زبېښاک د فیوډالانو له خوا د سرفانو د اضافي تولید بې عوضه لاسته راوړلو څخه عبارت دی.

فیوډالي ټېکه داری: اضافي تولید ته چې فیوډال د ځمکې او د کار د وسایلو د ورکولو په بدل کې له سرفانو نه اخیست فیوډالي ټېکه داری وایي. دباړې (اجارې) نر خونو په بېلابېلوجغرافیایي سیمو او بېلابېلو زمانو کې یوتربله توپیر کاوه. په لومړي سر کې سرفان مجبور ؤ چې خپل زیات وخت د ارباب ځمکه کې په کار کولو تېر کړي. دغه چار په واقعیت کې د کار په بڼه د باړې ورکول ؤ. وروسته د کار د محصول په زیاتېدو سره فیوډالانو خپلې ګټې په دې کې لیدلې چې باړه زیاتره د جنس په توګه واخلي او په پای کې د څه مودې وروسته د نغدې باړې ورکړه دود شوه، ځکه هر فیوډال په خپل ملک کې د تولید شوؤپلورتوکو سربېره د بهرنیو پلورتوکو سره مینه ښودله. له دې امله د تاریخي ترتیب له مخې په فیوډالیزم کې درې ډوله اجارې (ټېکې) وجود درلود: د کار په بڼه ټېکه، جنسي ټېکه او نغدې ټېکه. سربېره پر دې سرفان زیاتره ناچاره ؤ د خپلو اربابانو د پاره دلازمو استحکاماتو جوړولو په کار کې او هم دمحصولاتو د حمل و نقل (لیږدرالیږد) او په مختلفو صنعتي چارو کې د پیسو ترلاسه کولو پرته برخه واخلي. دغه راز کارونو ته بیګار وایي. په لومړي سرکې د دې ډول بیګارکچه زیاته وه خو کرار کرار د سرفانو د مبارزو له کبله را ټیټه شوه.

کرهنې نه د صنایعو بیلیدل: لکه چې یادونه وشوه سرفانو د خپلو اړتیا وړ اوزارو برابرولو ته پخپله اقدام کاوه خو ټوکر او بدلو، دغتې قولبې جوړول او نورو، هم زیات وخت او هم د کار اوزارو، تجربو او مهارت ته اړتیا درلوده داسې چې د ځمکې د کر سره په یوه وخت کې د هغوي برابرول د سرفانو د پاره عملاً

ستونزمن او غیرممکن ؤ. له دې کبله یو شمېر سرفانو د کرکیلې د پاره لږ وخت درلود او تقریباً د حرفوي صنعتګرانو په بڼه واوښتل. په پایله کې هر کلی د پښ، ترکاڼ، چرمګر، کولال او داسې نورو ځانګړو کسبګرو څښتن شو. لکه چې ځینو سرفانو خپله باړه ټوله د جوړو شوؤ توکو په توګه تحویلوله. دغو صنعتګرانو کله کله د نورو سرفانو اړتیاوې هم پوره کولې او ورو ورو وتوانېدل چې یو اندازه پیسې هم د ځان لپاره زېرمه کړي. دغه صنعتګران سره د دې چې کرهڼه د دوی دژوند تېرولو یواځنۍ لار نه وه سرف ګڼل کېدل. لومړي سرکې د صنایعو بېلتون د فیوډال د ملک په چوکاټ کې پیل شو.

دفیوډالیزم په بشپړتیایي پړاوکې فیوډالانو معمولاً کلیوالو صنعتګرانو ته اجازه ورکوله چې دبازار په ورځې، چې د اخترونو او مختلفو جشنونو او نورو په مناسبت د کلاګانوپه چاپېر او عامه ځایونو کې جوړېدل، ګډون وکړي او خپل جوړکړي شیان وپلوري. خو دغه راز فرصتونه په استثایي ډول پېښېدل او له دې کبله د صنعتګرانو په لاس جوړو توکو کله کله د پلورتوکو اړخ پیدا کاوه. زیاتره وخت ټول هغه څه چې صنعتګرانو جوړول په کلیو کې پوره نه پلورل کېدل او هم دوی زیاتره د فیوډالانو د سخت زبېښاک او د واکمنې ډلې له خوا راغلو فشارونو له کبله د خپګان احساس کاوه. له دې امله په کلیوالو صنعتګرانو کې داسې انګېزه موجوده وه چې دوی یې دفیوډالي املاکو پرېښودلوته اړایستل، ترڅو داسې ځای ته لاړشي چې هلته د فیوډالانو د ظلم پرته ددوی په لاس جوړشوی محصول د پلورلو امکان موجود وي. په ماهرو صنعتګرانو سربېره، هغو بزګرانو هم چې د خپلو اړتیاؤ د پوره کولو لپاره یې وخت ناوخت صنعتي کار ته لاس اچاوه،کرار کرار کلي پرېښودل. په دې توګه د ټولنیز او عمومي کار وېش د کرهنې او

صنایعو تر منځ ورو ورو بشپړتیا وموندله. او دې چار دفیوډالي ښارونوله پیدایښت او پراختیا سره مرسته وکړه.

په فیوډالي دوره کې د ښارونو پراختیا: هغو سرفانو چې له کليو څخه تښتېدل او یا دمالکانو په اجازې یې کلي پرېښودل، هڅه کوله په داسې سیمو کې مېشت شي چې د اړتیا وړ خامو موادو سرچینې او ددوی د لاس محصول د خرڅلاو امکان موجود او په نسبي توګه د خطر څخه خوندي وي. ګرځنده صنعتګرانو به لومړي سر کې د خپل کار د اوزارو صندوق پر اوږو اخیستی ؤ او د پېرو دونکې دموندلو په تمه له یوې سیمې نه به بلې سیمې ته تلل. خو دغه کسبګر هم ورو ورو پوهېدل چې پورتني یاد شوي شرایط د پاچاهانو، امیرانو، روحانیونو او نورو برجورو لوړو کلاګانو چاپیرکې موندلای شي. له دې کبله تښتېدلي سرفان، صنعتګران، ګرځنده پلورونکي، سوداګر او کسبګر په خپله خوښه د دغه راز مرکزونو په شاوخوا کې مېشت شول. او یا دا چې د سوداګریزو او سمندري لارو پرسرپرتو کاروان سرایونوکې استوګن شول. د پلورتوکو مبادله په دغو ځایونو کې، زیاتره د مختلفو سیمو د سوداګرو ترمنځ هم سر ته رسېده. سوداګرو دغو سیمو ته په تګ راتګ سره زیاتره د صنعتګرانو د لاس محصول اخیستلو او هم پخواني سرفان به یې دبار وړونکي او بېړۍ چلوونکي او په نورو نومونو مزدوران کول او په پای کې ورو ورو د دغه ډول کډوالوکسبګرو، استوګن ځایونو د نوؤ ښارونو بڼه ونیوله. د دغو ښارونو کسبګرو او استوګنو د دښمنانو د یرغلونو او فیوډالانو د تېریو څخه د ځان ساتلو لپاره د کډوالو د استوګن ځایونو (ښارونو) چار چاپېر کندې کنستلې او د یوالونه به یې جوړول. د ښارونو پراختیا د فیوډالیزم د پراختیا او بشپړتیا نښه وه چې د

کسبګرو د کار ځایونو، ټولګیو یااصنافو د جوړښت، سوداګري او نورو د پراختیا او بشپړتیا سره یې مرسته وکړه.

د کسبګري کارخونې: په فیوډالي ښارونو کې لومړی ماشین او یا کارخانې نه وې. مختلف پلورتوکي چې په بازار کې پلورل کېدل د کسبګرو په وړو کار ځایونو کې د لاس او ساده اوزارو په مرسته جوړېدل. کسبګرو په اوږده موده کې مهارت او تجربه تر لاسه کوله. معمولاً دهرصنعتګر زامنو ته دپلار دکار اوزار او دکسب رمزونه په میراث پاتې کېدل. د کسبګري د کار ځای اصلي غړی د کار استاذ ؤ چې د کار ځای، د کار اوزار، او خامو موادو خاوند او د پلورتوکو مالک ګڼل کېده. ورپسې د ده مرستیال راتلو چې د کار ځای د هېڅ ډول وسایلو څښتن نه ؤ خو په نوموړي کسب کې د مهارت له امله د کار د استاذ ښی لاس ګڼل کېده. شاګرد د کسبګري د کار ځای وروستنی غړی ؤچې د کار زده کوونکي په توګه یې په کار ځای کې کار کاوه. د کار استاذ سربېره پر لومړنیو کارونو چې په کار ځای کې به یې د زده کوونکي په غاړه اچول، هغه به یې مجبورولو چې د ده په کور کې هم کار وکړي. البته خواړه او د خوب ځای یې دکاراستاذ برابرول، خو مزدوري به یې نه ورکوله. د کار ځای د مرستیال حالت هم کله د شاګرد د حالت نه څه ښه نه ؤ. دی مجبور ؤ د سهار نه تر ماښام پورې په کار ځای کې کار وکړي او د دغو ټولو کړاوونو په بدل کې ډېرې لږې پیسې واخلي. لیکن مرستیال دا هیله درلوده چې یوه ورځ دکاراستاذشي او کار ځای جوړ کړي. او دغه مرستیالان څنګه چې وویل شول زیاتره د کارداستاذ زامن یا نږدې خپلوان ؤ.

د ټولګیو جوړښت: هغه ټول کسان چې په هرښار کې په یو ټاکلي کسب بوخت ؤ د نوموړي صنف په نامه پېژندل کېدل. لکه داوبدونکو (جولاګانو) آهنګرانو (پښانو)، مسګرانو، انځورګرو،

ډېره توګونکو، بت جوړوونکو او داسې نورو صنف. هغه سازمان چې د خپل عصر فیوډالي وړ وکي پلورتوکیز تولید سره یې سمون درلودصنفي سازمان ګڼل کیده. د صنف دغه سازمان د ډله ایزې اداري د اصولو سره سم رهبري کېده او په خپل صنف پورې د تړلو چارو د تنظیم دنده یې په غاړه درلوده. په دې ډول چې د ساري په توګه د یو توپ ټوکر، د خامو موادو کیفیت، د مرستیالانو د پیسو اندازه، د توکو پلورلو قوانین، د کالو بیه او نور یې ټاکل. په عین حال کې ټولګي د مرستندویه یا تعاوني ډلو په بڼه ؤ او زیاتره مذهبي اړخ یې هم درلود. داسې چې هر یوه ځانته د لمانځه ځای، ځانګړې ورځې، مذهبي جشنونه او نور درلودل. په دې ترڅ کې هر صنف د یوې پوځی ډلې بڼه درلوده چې غړو به یې، د جګړې په وخت کې، د صنف د استاذانو تر مشرتابه لاندې وسله په لاس کې اخیستله. زیاتره ښارونو داسې قوانین درلودل چې د ښار صنعتګران یې مجبورول د خپل اړوند صنف غړیتوب تر لاسه کړي. که څوک به د هېڅ یو صنف غړی نه ؤ په اړونده څانګه کې یې د کارکولو حق نه درلود. دهر ښار پلورتوکي به په هماغه ښار کې د پلورلو وړؤ. او اصنافو اجازه نه ورکوله چې د نورو سمو پلورتوکي د دوی په ښار کې وپلورل شي. په لومړي سرکې اصنافو مترقي ماهت درلو د او صنعت‌ګرانو سره یې د مختلفو کسبونو د چارو په سرته رسولو او ددوی دحقوقو لاسته راوړلو دپاره مبارزه کې مرسته کوله. اود تولدي تجربو حاصلولو، لېږدولو او پراخولو د پاره نوه وسله وه. خو وروسته یې دخپل ماهت پر بنسټ، دمولده ځواکونود پرمختګ او نوؤ اختراع‌ګانو اواکتشافاتو دمنځ ته راتګ مخنیوی وکړ.

سوداګر، د فیوډالزم په پېر (دوره) کې: فیوډالانوورځ په ورځ دپخوانه لازیات د بازارسره تړاو پیدا کاوه. ځکه بازار داسې

ځای ؤ چې دوی د خپلې اړتیا وړ جوړ شوي توکي هلته پېرودل او یا یې دخپلو املاکو تولیدات پکښې پلورل. سرفانو هم ورو ورو ځنې محصولات دبازار څخه رانول. غلې او نورو کرنیزو تولیداتو ته د ښار د استوګنو اړتیا سبب شوه چې دپلورتوکو راکړه ورکړه د ښارونو او کلو تر منځ را پیدا شي.

تولنیز تولید په دوو برخو، کرنیزې او صنعتي باندې، ووېشل شواو په ترڅ کې یې تولیدي محصولاتو په لازیاته کچه پلورتوکیزه اړخ پیدا کړ. په دې ډول دفیوډالیزم ددورې سوداګرو دصنعتګرانو تولیدات پېرودل اوپه بازارکې به یې پلورل.

په فیوډالیزم کې دسوداګري پراختیا او دپیسو رول: په فیوډالیزم کې پیسې دمرتبوب په شان دراکړې ورکړې دپاره یوه وسیله وه چې فورمول یې ؤ: پل-پ-پل (لمړي پلورتوکي- پیسې- دوهم پلورتوکي) څخه،خودسوداګري په پراختیاسره ورو ورو دګټې لاسته راوړلو او پانګې راغونډولو دپاره یوه وسیله وګرځېده. البته ددغې وسیلې شتون دا مانا نه درلوده چې پانګوالي اړیکې په بشپړه توګه ښه نیولې او منځ ته راغلې وه. ځکه دپانګوالي اړیکو منځ ته راتګ لپاره ضروري ده چې دکار ځواک دپلورتوکوښه نیولې وي. دسوداګري موخه دا وه چې سوداګرو،پیسې دلازیاتې ګټې لاسته راوړلوبوه وسیله ګڼله چې دتوکو په پلورلو سره له هغو پیسو نه چې اخستل یې ورباندې کړي دي، زیاتې پیسې وګټي. دغه بهیرد پ - پل- پ په فرمول سره په ښه توګه ښانولی شو چې په هغه کې "پ" (دوهمې پیسې) دلومړنو پیسو نه ډېرې دي. په دې توګه دسوداګري په بشپړتیا سره پیسې ورو ورو د خپلې مخکنۍ دندې (دمبادلاتو دپاره یوه وسله) پر سرته رسولو سربېره دپانګې راټولولو دپاره یوه وسله شوه.

پـه فـوډالـزم کـې د سـوداګرۍ رول، دلومړنـو بـانکونو (صـرافانو ) پیدابښـت: دپیسـو درول پـه زیـاتوالي سـره نـه یـوازې زیارکښنه پرګنې بلکه فیوډالان هم وپوهېدل چې دپیسو پور کولو تـه لاډېره اړتیا لري. دغه بهیر د یو داسې قشر د پیدابښـت لامـل شـو چې غړویې پرېمانه پیسې راټولې او دګټې په بدل کې یې ببلو ببلـو خلکـو تـه پـه پـور ورکـولې. ددغـې نـوې پـانګې دګرځېدوراګرځېـدو (ګردش) بهېر فرمول د "پ - پ " په بڼه ښودلای شو چې په هغه کې "پ" دوهمې پیسې دلومړیو نه ډېرې دي. زیاتره سوداګرو هـم دپـور اخیسـتلو نـه پرتـه دسـوداګرۍ تـوان نـه درلـود. لـه دې املـه اعتبـاري او ګـروي معـاملاتو پراختیـا وموندلـه اولـومړني بانکونـه (صرافي) منځ تـه راغلـل. بانکونـه د لـومړي ځـل لپـاره پـه ۱۳او۱٤ پېړۍ کې داتیالیا په شمال کې، چې پلورتـوکیز- پیسـو اړیکـو زیاتـه پراختیـا موندلې وه، منځ ته راغلل. د بانک د کلمې ریښه، ایټالیایي لغت "بانکا" څخه اخیستل شوې ده چې دصراف څوکۍ مانا لري.

**دفیوډالي سیستم مخبنا:**

ټولنیزې طبقې اوقشرونه: سره له دې چې مخکې هـم د فیوډالي سیستم دټولنیزو طبقو اواقشارو په هکله بحث شوی دی، دمسألې دلاښې پوهې لپاره په لنډه توګـه پـه دې برخـه کـې بیـاهم ورته ګوته نیسو:

فیوډالان: فیوډالان دفیوډالي سیستم د دوو اصلي طبقـو نه یوه طبقه وه. دغه طبقه دځمکې او نورو تولیدی وسایلوڅښتنه وه او په سرفانو یې محدود مالکیت درلود. فیوډالانو واکمنه طبقـه جوړوله اود ټولنې د مـادي شـتمنیو پـه وېش کـې یـې لویـه ونـډه ترلاسـه کولـه. بوشـمېر فـیوډالانـو هـم، روحـاني اړخ درلـود چـې دفیوډالانو لا ارتجاعي قشر یې جوړاوه.

ځمکه پورې تړلي بزگران (سرفان): دفـوډالي سسـتم دوهمه اصلي طبقه بزگرانو جوړوله. بزگـران ځمکې پـورې تړلـي ؤ (يعنې دفـوډال دملـک دپربښـودلو حـق يـې نـه درلـود او دځمکې سـره يوځـای پېـرودل او پلـورل کېـدل) اود واکمنـې طبقـې يعنـې فـوډالانـو دزبېښـاک لانـدې ؤاو کلـه يـې ـوه وړه ټوټـه ځمکـه او دکرکيلې اوزار هم درلودل چې د فـوډالانو له خواددوی په واک کې ورکول کېدل او په بدل کې يې اجاره يا باړه ورکوله. په عامـه توگـه سرفانو دفـوډالانو سره نه پخلاکېدونکی تضاد درلـود اولـه همـدې کبلـه د فــوډالي پـرتـاريخ، پـه کراتـو کراتـو د بزگروپرگنـو دپراخـه پاڅونونو شاهد دی.

کسبگر: کسبگر هغه ډله کسان ؤ چې کوچني تولـد سـره يې سراو کار درلود، دکار داوزارو او کار ځای خاوندان ؤ او پـه خپلـه څانگه کې يې ښوډول مهارت درلـود. دفـوډالـزم دتکامـل پـه بهـر کې دکاراستاذانواومرستيالانوترمنځ توپير، ورو و رو ډېرېده اوداسې حد ته ورسېد چې هرې ډلې، ځانته ځانگړې ټولنيزې ډلې جـوړې کړې. خو زياتره استاذانو په نـدرت سـره ټولـو مرسـتيالانوته اجـازه ورکولـه چـې استاذشـي. دکاراسـتاذ کېـدل يـوائې ددوی زامنـو او نږدې خپلوانو ته ځانگړي شوي ؤ. له دي کبلـه ډېرومرسـتيالانو د استاذ کېدو هيله د لاسـه ورکولـه او ديـوی ټولنيزی ډلـی پـه توگـه دتش لاسو ښاريانو سره يو ځای کېدل.

سوداگر: څنگه چې مخکې يادونه وشـوه، سـوداگر هغـه کسا ن ؤ چې د پلورتوکو راکړه ورکړه يـې دښـارونواو کليـو پـه مـنځ کې او دښارونواو مختلفو هېوادونوپه منځ کې سرته رسوله.

دسـوداگری دتجربـو او چـارود پراختيـا او بشـپړتيا سـره، سوداگرو داسی کسان پـه کارگمـارل چـې د دوی سـوداگري چـارې يې سمبالولې. وروسته بيا دغه کسان کارمندان ونومول شول.

<u>په فیوډالي سسـتم کې طبقـاتي مبـارزې:</u> دفـوډا لانولـه خوا بې پایه زبېښاک چې په تو لـد کوونکو (بزګرانو) اونورو ټولنیزو ډلو لکه دسوداګریزو موسسو کارکوونکو او دښـار تـش لاسـو کسـانو او نورو یادشووډلو باندې تر سره کېـده، ددې لامـل شـو چـې دوی ټول دفیوډالانو پر ضد مبارزې کې بزګرانو سـره هملاسـي (متحـد) شي.

د سرفانو فـوډا لـي زبېښـناک او ظلـم ضـد مبـارزې،ددې لامل وګرځېدلې چې سرفان دتېښتې پرځای، وسـله والـو پـاڅونونو ته مخه کړي. دسرفانوپه خپل سـراو غـر منظمـو پـاڅونو نـو نشـو کولی بری ته ور سېړی. خو د دوی پر له پسې مبـارزو، فـوډا لان مجبورو ل چې پر بزګرانو باندې د ډېرو زیـاتیو او لوټولـو څخـه ډډه وکـړي. پـه ټـولـزه توګـه دفــو ډالـي سســتم لـه ټـو لـو ساسـي سازمانونوڅخه د پرګنو د ځپلو د پا ره کاراخیستل کېده. سـترو مـا لکا نو د خپلو پـو ځـي ډلـو نـه دبزګـرو دپـاڅونونو ځپلـو دپـاره ګټـه اخستله اوهم سلطنتي ځواکونو، چې پـه ټـولـزه تـو ګـه دفـوډالې طبقې ملاتړګنـل کېـدل، ددغـو پـاڅونونو پـه ټکولـو کـې وروسـتنی ځواک جوړاوه.

<u>لومړني نغدي پانګوا ل یـا سـودخوړو نکـي:</u> هغـه کسـان ؤ چې دپام وړ نغدې پیسې یې در لودې او د سو د اخیستلو پـه بـدل کې یې په پور ورکولې. په دې ترخ کـی یـې خپلـه پانګـه د مختلفـو پیسو د راکړې ورکړې په چارو کې په کاراچوله ا و غتې ګټې یې لا ستـه راوړلې.

<u>تش لاسي ښاریا ن:</u> پور ته یاد شووو طبقـو او اقشـارو تـه پــه پــاملرنې ســره معلــومېږي چــې مرســتیالانو، زده کوونکــو، کارمندانو، او غیر متخصص زیارکښا نو او نورو، دتش لاسو ښاریانو قشـر جـوړاوه. تـش لاسـو تـل د فیـوډالی طبقـې اوښـاري بـډایانو

(شتمنوسوداګرو، سودخوړونکو، ښار میشتو فیوډالانو د صنف استاذانو او نورو ) ضد مبارزه کوله او کله چې بزګرانو په پاڅون لاس پورې کاؤ ددوی په ملا تړ راپاڅېدل او دفیوډالانو ضد مبارزې کې یې ددوی دهملاسو رول لوباوه.

دولت په فیوډالی سیستم کې: فیوډالي دولتونه له پیل څخه د واکمنې طبقې (فیوډالانو) دګټو ساتندوی ؤ. له دې کبله دفیوډالیزم په لومړیو وختونو کې دمریتا به پر پاتی شونو باندې دفیوډالي اړیکو د بشپړې غلبی دپاره فیوډالي متمرکز دولتونه منځ ته راغلل چې مخکښ اړخ یې هم درلود. ددغو دولتونو په سرکې د سیمی تر ټولو لوی فیوډا ل ؤچې پاچانومول کېده. دفیوډالی طبیعی اقتصاد پرمختګ او دسیمه‌ایزو فیوډالا نو د پیاوړی کېدلو له امله پاچا هان اړشول چې په بېلوبېلوسیمو کې خپل ډېر واکونه فیوډالانو ته ورکړې. اوکله داسې پېښېدله چې دغه فیوډالان دخپل واک د زیاتېدلو او دمرکز ي حکومت دکمزوری کېدو له امله دپاچاهانو دتابعیت څخه غاړه وغړوی. نوموړو فیوډالانو په خپلو اړوندوسیمو کې قضایي، اداري، مالیاتي، دپوځي ډلو مشري او دداسې نورو چاروسمبالتیا په خپل واک کې درلود ې. دغه چار فیوډالي مرکزي حکومت کمزوری کړ او د فیوډالیزم ملوک الطوایفي (فیوډالي بې اتفاقي) یې منځ ته راوړه. دغوسیمه ایزو فیوډالانو دځمکو نیولو او یا دیوبل د تابع کولو پر سر په ډیروجګړو، وژلو او لوټلو لاس پورې کاوه. وروسته دفیوالي سیستم دننه دپانګوالي اړیکو په ودې سره متمرکز (دیسپوتیزم) فیوډالي حکومتونه منځ ته راغلل چې دفیوډالیزم په ړنګېدو کې به یې روښانه کړو.

دفیوډالیزم دبوړیو یا مرتبولړی: هرسترفیوډال، په دې موخه چې دوړوفیوډالانو دپوځي چوپړتیاونه ګټه واخلی دخپلو

ځمکو یوه برخه هغوی ته وربښله. هغه مالک چې د ځمکې اصلي څښتن ؤ په "سینیور" مشهور شو او واړه فیوډالان چې له هغه څخه به یې ځمکه نیوله دده "واسالان" (پوځي گمارل شوي) گڼل کېدل. پاچا د هېوا دد ټولو فیوډالانو په سر کې ؤ. دساري په توگه، لویدیزه اروپا کې دفیوډالي پوړیولړی په لاندې توگه ښودلای شو:

پاچا ← دوک او کنت ← بارون - شوالیه

ددغو مقامونو هریو یوازې دخپل واکمن تابع ؤ.

دفیودالي ټولنې فرهنگ اوایډیالوژی: فیوډالې طبقې دزبېښناک او سیاسي ظلمونو دلارې په زیارکښو طبقو باندې خپله واکمني ساتله او په دې بهیرکې ایډیالوژ یکي کړاو،د دوې تر ټولو زوروره وسیله وه. مذهب او روحانیت د فیوډالي دولتونو د ملاتړدپاره ریښتونی ایدیالوژیک ځواک ؤ. دواکمنې طبقې په لاس مسخ شوي مذهب، دځمکې دکړاوونوپرځای جنت کې دهمیشنی نیکمرغی ژمنې ورکولې اوپه دې توگه یې ولسي پرگنې دفیوډالانو ضد مبارزې نه راگرځولې او هڅه یې کوله په داسې حال کې یې وساتي چې دخپلو مالکانو د پاره گټورې وي.

فرهنگ د فیوډالزم دټنگښت، پراختیا او بشپړتیا په موده کې، په ژوره توگه دمذهب تر اغېز لاندې ؤ. مذهبي اصولو، دلرغونې زمانې مخکښه یا مترقي فلسفه په ټولزه توگه څنډې ته کړي وه، رياضات او طبیعي علوم چې لرغونې زمانې کې یې له فلسفې سره ډېرې ټینگې اړیکې درلودې، ببخي محدود او ادبات هم دسپېڅلو کسانو دژوند په ستاینې باندې بدل شوي ؤ. تاریخ هم یواځې هغو پېښوته، محدود شوی ؤ چې روحانونوثبتولې. شعر، موسقي او نورو هنرونو د مذهب خدمت ته ملاتړ لي وه. په فرهنگ باندې د مذهب ځواکمني دوراز مسالمت آمیزې اوآرامې

پراختـا اوبشـپړ تـاپاىلـه نـه وه بلکـه دغـه ځـواکمني، ولسـي پرګنـو اومترقي متفکرىنوسره د فـوډالانو اوددوی ملاتړوروحانـونو ترمنځ دـوې سـختې مبـارزې پـه بهـر کـې مـنځ تـه راغلـې وه. مـذهب اوروحانىت هغه کسان چې روحاني ضدولسي عقائد يې درلـودل او ياىې ولسي هنر وړاندې کاوه،په بېرحمي سره ربړول او تنګول.

فـوډالي ضد ایډیالوژي: په ایډیالوژي کې د ایډالسـتي او مذهبي عقاىدو لاس برى د مخالفو جرىاناتو د نشتوالي په مانـا نـه ؤ. دفيوډالـزم پير دمتضادو ایډيالوژىو د سختې مبارزې پيردی. په فـوډالي ټولنـه کـې دسـختو فشـارونو اوبنـدىزونو سـره سـره د ابـن سـنا، ابن رشد، سي ژر، ببرابىنسکي اونوروپه شان مترقى عناصرو شتون درلود چې دماتريالسـتي فلسـفې پـروان ؤ. فـوډالانـو سـره دىنـاري اشـرافو، سـرفانو اوتـش لاسـو ىنـارىانو مخالفـت، دمـذهب پرضدددوی دمبارزوسـره نـږدې اړىکـې درلـودې. دمـذهب څخـه سـرغړونو چـې دطبقـاتي مبـارزې ىـوه ایډيالوژىکـه ىڼـه وه زىـاتره فـوډالي ضـد وسـله وال پاڅونونـه لـه ځانـه سـره درلـودل. ځىنـې وختونه په سرف پرګنـو او تـش لاسـو ىنـارىانوباندې زورزىـاتي سـره مخالفـت، لـه ځـواکمن مـذهب سـره دنـوې مـذهبي زده کـړې دمخالفت په جامه کې وړاندې کېده (لکه په ایران کې دبابـک زده کړې).

په فـوډالـزم کې دایډيالـزم او مذهب ددښـمنانو مبـارزې په نوو پېړىو کې د ماترىالـزم دځرګندېدولاره پرانستله.

شپږم څپرکی

# دفیوډالی سیستم ړنګېدل

سره له دې چې دفیوډالي سیستم ټولنیزې ځانګړتیاو ې، دفیـوډالیزم دړنګېـدو پـه پړاوکـې هـم همغشـان ځـواکمنې وې، خوبیاهم دغو ځانګړتیا وو دفیوډالیزم دننه دنووعناصرو او پر هغو پورې اړوند دمخبنایي عناصرو پیدایښت له امله د پام وړبدلونونه وموندل. په فیوډالیزم کې دننه دپانګوالي تولید طریقې د پیدایښت او ودې په پای کې دغه رژیم پای ته ورسېد چې په لاندې توګه یې تر لنډې څېړنې لاندې نیسو.

دمولـده ځواکونـو پـر مختـګ: دمولـده ځواکونـو پراختیااوبشـپړتیا دفـوډالزم دننـه دپانګوالي اقتصـاد دپیداښـت اصـلي عامـل ؤ. پراوبـو ګرځېـدونکي څـرخ څخـه ګټـه اخیسـتنه دمرستابه عصر کې دود وه خووروسـته دغـه څـرخ پـه بشـپړه توګـه داوبو منځ کې ولګول شو. پخوانـو ژرندو کـې پـر اوبـو ګرځېـدونکی څرخ موجودؤچې دژرنـدې ددرنـو پلونـو پـه ګرځولـو کـې تـرې کـار اخسـتل کېـده. ددې دپـاره چـې دغـه پَلونـه پـه خوځښـت راشـي، نوموړی څرخ به بې داسې ودراوه چې دهغه دکښتنۍ برخو دپرو پر مخ داوبو نو ځواکمن بهرتوېده. وروسته بـا داسې څرخ جوړ شو چې د پورتنۍ برخې دپرو پرمخ داوبو توېدو لـه کبلـه پـه خوځښـت راته. په دې ډول چې د سـند نـه ببلې شـوې وړې وـالې د څـرخ ترپورتنو برخو پورې غزېدلې. ددغه څرخ دګرځېـدو لـه کبلـه هغـه

مله (داب) هم په خوځښت راتله چې په دې څرخ پورې نښلول شوې اودکارځای ددننني (داخلی) دیوال نه تېرېدله. ددغې ملې دګرزېدو له ځواک څخه دفلزاتو د را ایستلو اوولې کولواودکاغذ جوړونې په کارخانواوکانونو او نورو چارو کې هم ګټه اخستل کېده. دلومړۍ بټۍ (دم) له اختراع وروسته مخانکي بټۍ چې په نوموړي اوبو ګرزېدونکي څرخ سره په خوځښت راتلې، دعمل ډګر ته راووتلې. د بټۍ له اختراع نه مخکې به یې فلزات د لاسي بټو (دم) په مرسته دټینګې خمرې په بڼه اړول. په داسې حال کې چې له دې وروسته یې فلزات دمایع په بڼه اړول اودایې شونې کړه چې د منډکی یا ریخته ګري (قالب) له لارې نه مختلف اوزار جوړ کړي. فولاد، لومړنی فلز ؤچې له دې لارې نه ولې او چاڼ شو. دغو اختراع ګانو داوزارو اووسائلو دسمون امکان برابرکړ. په دې ډول دتو ږلو څرخ، مته (برمه) او دژرندې، ماشین هم اختراع شو. دساده ماشینونوڅخه دکانونو په کیندنو کې هم ګټه اخیستل کېده. دنساجي په صنعت کې داوبدنې نېغه دستګاه په پرتې دستګاه بدله شوه چې تولید یې زیات ؤ.

دفلزي ټوټو نه ګټې اخیستنې د مدرنو ببړیو د جوړونې امکان برابر کړ چې زیات بارونه یې لرې واټنونو ته لیږ دول. په دې ترخ کې لوربنود (قطب نما) هم بشپړ شو، چاپ بشپړ او لومړني کتابونه چاپ شول. په کرنې کې مولده ځواکونو له هغه څه نه چې په صنعت کې وویل شول سته (کرارکرار) ګامونه اخیستل. دکرلاندې ځمکې پراخه او حاصلا ت یې زیات شول او دکرکیلې طریقې سمې شوې. څو کروندیز سیستم او په چمتو ځمکو کې دوابنو کر پیل شو. دصنعت دبشپړتیا له امله وړیو، څرمنو، پنبې اودمالداري او نورو کرنیزو محصولاتو ته غوښتنه زیاته شوه. له

دې املـه د فیـوډالیزم د ړنګېـدو پـه پړاوکې مالـداري، فـالیزواني، بڼوالي او تاک کاري ډېر پر مختګ وکړ.

په تولـدي اړیکـو کې راغلـي بدلونونـه: مولـده ځواکونـه دفیوډالـزم دړنګېدنې په پړاو کې داسې کچې تـه ورسـېدل چې پـه فیوډالي اقتصاد کې پانګوالي اړیکـو دپـام وړ پراختـیا وموندلـه. دغـه چار دبورژوازي اوپرولتاریا، نوو طبقو دپیداښت سبب وګرځېد. پـه مختلفو څـانګو کې دصـنعت او کرنې پراختـیا او بشـپړتیا، دبزګـري څخه دصنعت دلا زیات جلاتوب او نووصنعتي طریقو دڅرګندېدلو لامل شو. دکار ټولنـز وېش بـا هـم پـر مختـګ وکړ او هـره سـمه دځـانګړي محصـول برابرولـو تـه لاځـانګړې شـوه. داسـې سـمې موجودې وې چې محصولات اوکورني څاروي یـې زیـاتره د بـازار د پـاره روزل، دسـاري پـه توګـه هالنـد ـانو دغواګـانو پـه سـاتلو اودلبنـاتو پلورلـو کې تخصـص درلـود. او یـا د اسـپانې پـه ځینـو سمو کې زیـاتره وګـړي د مرینـوس پسـونو پـه سـاتلو اود وړیـو پـه پلورلـو او داسـې نـورو بوخـت ؤ. دغـه چارطبعتـاً دپلـور تـوکیزې راکړې ورکړې، یعنې په فیوډالـزم کې د سوداګریزو اړیکو دبشپړتیا سبب شـو. پخـوا، بـازاري معـاملات تقریبـاً پـه یـوې ټـاکلې سـمې پورې تړلی ؤ، خو په دې وخت کې ورو ورو ټولو هېوادونو ته پراخـه شول. په نوو شرایطو کې د سوداګري پراختیا او بشپړتیا د کوچني تولـدد کرار کرار له منځه تللو اوپانګوالي اړیکـو د راتللـو او پراختـیا سره مرسته وکړه.

سـاده کوپراتـف او مـانوفکتور: دصـنعت پـه برخـه کې دپانګوالي تولـد لومړنی ګام دسـاده کوپراتـف (تعـاوني) پیدایښـت و. ساده کوپراتـف، دکسبګري پراخه شوی کار ځای ؤ چې په هغـه کې زیات شمېر اجـرو کـارګرانو (همـاغـه پخوانیـو کسـب ګـرو) کـار کاوه. دغو وګړو دخپل کار ځواک، دکوپراتـفـو نـو خاونـدانو بانـدې

پلوره (دکوپراتفو نو خاوندان عبارتووله سوداګرو، سودخوړونکو، دټولګیو یا صنف شتمنواستاذانو اوداسې نورو څخه). دپانګوالي په دغو لومړنو کار ځایونو کې دکار وېش، شتون نه درلود. یعنې هر کارګر دیو پلورتوکي دتولید، اړوندې ټولې چارې پخپله سرته رسولې. په یوه کارځای کې دزیات شمېر کارګرانو راغونډیدنې، دکسبګري دکوچني کارځای په پرتله، دکار د لاس ته راوړنې کچه لوړه بوتله، په دې ډول چې دکارګرو منځ کې ترټولو ښه کار دمزدوری ټاکنې دمقیاس په توګه او دکارپه ځای او دسوون موادو دسپماپه اړه دسیالۍ منځ ته راوړل ؤ، دغو پانګوالو ته د غټو ګټو ترلاسه کولو امکان ورپه برخه شو.

وروستې ګام، دپانګوالي په پراختیا او بشپړتیا کې د مانوفکتور پیدایښت ؤ. مانوفکتور داسې کار ځای ؤ چې دکار وېش پکښې وجود درلود خودلته هم دلاسي کار د طریقې څخه ګټه اخیستل کېده. (مانوفکتور له دوو لاتیني کلمو، "مانو" دلاس او" فکتور " دجوړ په مانا، څخه اخستل شوی چې ددواړو یوځای مانا، په لاس جوړده). دمانو فکتورونو خاوندانو، وسایل اولازم خام مواد برابر او لوی کارځایونه یې منځ ته راوړل چې په هغو کې ټولو اجرو کارګرانو یو ځای دیوچت لاندې کارکاوه. دتو لید دغې نوې بڼې دپانګوالي اړیکو دپاره ترټولو مناسبه زمینه برابره کړه.

دپانګې راغونډېدلو شرطونه: دپانګې د څرګندېدنې او راغونډېدنې دپاره لازم شرائط په دې ډول ؤ:

الف - پلورتوکیز تولید نسبتاً پراختیا ومونده چې دسوداګرو، سود خورو، دمانو فکتو ر خاوندانو اونوروپه لاس کې یې د زیاتو پیسو راغونډېدنه (تجمع) شونې کړه.

ب - دهغو پرګنو شتو ن چې دخپل کار ځواک دپلورلو له نظره آزاد او دتولید وسایلو دلرلو نه بې برخې وې. دغه دوه

شرطونه دپانګې راغونډېدنې بنسټېزعلتونه وو. په دې ډول لومړنو پـانګوالو دتولـد دوسـائلو اوپـانګې پـه لرلـو او داجـروکـارګرو پـه استثمارولو سره ورځ په ورځ خپله پانګه زياته کړه. خو بايد دپانګې دلومړنۍ راغونډېدنې، چې په زور سره دبزګرو او کسبګرو دمالکـت دسـلبولو او دولتـي پورونـو (۱)، دکورنـو صـنايعو نـه ملاتـړ اودمستعمرو دلـوټ لـه لارې مـنځ تـه راغلې اودپـانګې دوروسـتنۍ راغونډېـدنې تـرمنځ چـې ـوزاې دکـار ځـواک دزبېښـاک لـه لارې ترسره شوه، توپير وشي. مونږ دلته دپانګې لـومړنی راغونډېـدنې راز راز طريقې بانوو:

۱-بزګـرو او کسـبګرو نـه پـه زور سـره د دوی د شـتمنی (مالکيت) اخيستل:

دفـوډالـزم دړنګېدنې په بهـرکې، دپلورتوکيز تولـد دکچې پرمختـا، دفـوډالانو دتمې سترګې دبزګرو ځمکې او دکسبګرو دتـو لـد وسائلو ته ور واړولې. له دې کبله دوی دکلـو دځمکـو پـه زوره نيولـو (ضـبطولو) او د خپلـو ځمکـو نـه دبزګـرو پـه شـړلو او ددوی پرځمکوخپټه اچولـو (غصـبولو) اودکسـبګرو دتـو لـد دوسـائلو پـه ضبطولو پيل وکړ. هغه بزګران او کسبګر چې په دې ډول دخپلې ځمکـې اوتولـد وسـائلو نـه بـې برخـې کېـدل، جبـراً دپـانګوالې مانوفکتورونو کې مزدران کېدل.

<u>۲-دولتي پورونه او دمالې د سستم رغاونه:</u>

دنووۀمـالـو اخسـتنه اودولتـي پورونـه، دلـومړنۍ پـانګې دراغونډېدنې (تجمع) يوه وسيله ګڼل کېده. ځکه فـوډالي دولت د اردو او اداري دستګاه دساتلو لپاره تـل پسـو تـه اړتـا درلـو ده او معمولا دغه

<u>(۱) دمالياتی سيستم رغاونه.</u>

اړتـاوې دمالیې له لارې نشوای پوره کېدلې. له دې کبله فـوډالي دولت زياتره دسودخورو اوسوداګرو نه

د ډېـرې ګټـې پـه بـدل کـې پورکـاوه. ډېـر ځلـه دپورتنیـو اړتیاووسرببېره دعیاشیو اودرباري جشنونو لګښتونه داسې کچې تـه رسېدل چې پاچا به اړشو دېوې اندازې ټاکلو پیسـو پـه عـوض کـې (معمولا دغه پیسې دهغو دمالیاتو سره برابـرې وي چې بـو بـادوه کاله وروسته باید اخیستل شـوې وی) دمـالیې اخسـتل پـه ټیکـه ورکړي. د مالیې ټیکه دار به ددولتي سـرتېرو پـه مرسـته دخلکونـه په زوره مالیه ترلاسه کوله چې زیاتره به یـې دعـادی کچـې نـه دوه درې برابره زياته وه. په پایله کې نوموړي اجاره دار به له هغو پیسو نه چې دربار ته یې په پور ورکړې وې لاډېرې پیسې لاسته راوړلې.

دکورنـو صنایعو ملاتړ: د فـوډالي دولت دړنګېدلو دپړاو د ځانګړو صفتو نو څخـه یـو هـم دکورنـو صـنایعو ملاتـړ ؤ. فـوډالي دولتونو په وارداتي پلورتوکوباندې درنې مالیې تړلې او د اومو موادو او خوراکي توکو دصـادرېدلو مخنـوي یـې کـاوه. دغـو حکومتونـو دځپل هېواددسوداګرو اومانوفکتورونو خاوندانو تـه مـالي مرسـتې، جـایزې اونورامتـازونـه ورکـول. ځکـه دصـنایعو او سـوداګري پـه پرمختګ پسې، دمالیې او داسې نورو کچـه هـم زیاتبـده اودواکمنـو فـوډالانو شتمني ډېرېدله.

دمســتعمرو لوټمــار: دپلورتوکــو- پیســوارېکو پراختــا اوبشـپړتیا  د اروپـایي فـوډالانولیوالتیـا، دلاډېروشـتمنیوراټولولوته، زیاته کړه. دبورژوازي اقتصادي پرمختګ اوپه پایله کې اومو مـوادو اوبازار ته اړتـا هـم دمهمـو عواملولـه جملې څخـه ؤ چې دپـورتني عامـل (دپلورتوکـو- پیسـو اړیکـو پراختـا اوبشـپړتیا) سـره بوځـای دنوؤلوبووچـو د مونـدلو لامـل شـوه. دامرېکـې وچـه، آسـترالیا، د

اندونیزیااو فلیپین جزیرې او نور. د جغرافیایي سیمو موندل په حقیقت کې داروپایي دولتو نو دنیوالګرۍ ساستونو پیل ؤ.

هره نوې کشف شوې سیمه سملاسي دهغې د موندونکی او اړوند دولت ترواکمني لاندې راتلله. دهرې سیمی له موندلو وروسته دسوداګرو، سودخورو، حریصو اوتمه لرونکو فیوډالانو سیلاو دغې سیمې ته مخه کوله. په لومړي سرکې نیواکګرو دنااندېوله سوداګري نه ګټه پورته کوله، یعنې خپل پلورتوکي به یې په ډېره ګرانه بیه ترنیواک لاندې (مستعمرو) بازارونو کې پلورل او دخپلې اړتیاوړاومه موادیې په ډېره ارزانه بیه رانیول. نیواکګرو دوخت په تېرېدو سره کرار کرار ورځ په ورځ زیاتېدونکې کچې دپوځي ځواکونو څخه دفشار دپاره ګټه اخیستله اومستعمرې یې نیغ په نیغه دخپلو لاس لاندې هېوادونو په بېه راوستلې.

دمستعمرو دشتمنو لوټ تالان او اروپایي هېوادوته ددغو شتمنو راماتېدل، دفیوډالي سیستم دننه دپانګوالي په پراختیا او بشپړتیا کې ډېر لوی عامل ؤ. داسې چې دپانګې دلومړنيړاغونډېدنې له ډولونه یوهم دمستعمرولوټ ګڼل کېده.

## د فیوډالي سیستم په مخبنا کې راغلي بدلونونه:

<u>دنووطبقو پیدابښت:</u> دصنعتي تولید دپراختیا اوبشپړتیا سره، په فیوډالي فرماسون کې، نوې طبقې پیداشوې. ددغو طبقو څخه یوه بورژوازي اوبله دهغې ضد پرولتاریا یا داجیر وکارګرانو طبقه وه. بورژوازي طبقه د سوداګرو، سودخوړونکو، د شتمنواستاذانو له ټولو قشرونو او د فیوډالانو د هغې ډلې دبشپړتیا څخه چې په بورژوازي تولیدکې یې هم ګډون درلود او د پرولتاریا دکارځواک څخه یې ګټه اخیستله، منځ ته راغله. پانګواله طبقه د تولید د وسایلو خاونده اودپرولتاریا زبېښونکې وه. پرولتاریا دتولید

دوساںلو نـه بـې برخـې وه. پـه فـوډالي شـرايطو کـې دبـورژوازي اوپرولتاريا تر منځ تضاد دفوډالي ټولنې داصلي تضاد په پرتله نعنې دواکمنې طبقې، فوډالانو او دو ی پورې دتړلـو کسـانو پـه وړانـدې دزيارکښو پرګنو اوترټولو لاډېردبزګـرو تضـاد، پـه دوهمـه درجـه کـې ځای درلود. بورژوازي او پرولتاريا دواړه دفوډالانو تـر کلـک فشـار لانـدې ؤ لـه دې کبلـه دغـو دواړو طبقـو دفـوډالـزم دراپرځولوپـه برخـه کـې يوشـانته فکـر درلـود. وړانـدې بـه وګـورو چـې ډېرځلـه پرولتاريـا دبـورژوازي تـر مشـرتابه لانـدې پـه فـوډالی ضـد ولسـي انقلاب لاس پورې کړ.

<u>پـه بېلابېلوقشـرونوباندې دبزګروشـننه:</u> پـه پلورتـوکيز-پيسـو اړيکـو کـې، دبزګروګـډون، دځمکـې پـه مالکـت اولـه ځمکـې څخـه دګټـې اخيسـتنې پـه بڼـه کـې بـدلون، دبزګـرو پـه مـنځ کـې داقتصـادي ناانـډولي دودې سـبب شـو. دفـوډالـزم دړنګېـدنې پـه پړاوکـې بزګروکـولی شـول خپلـه ځمکـه وپلـوري اونـوره راونسـي، ګرويـې کـړي او پـه پـای کـې هغـه څـه يـې چـې زړه غوښـتی وي، دخپلې ځمکې په هکله وکړي اوهم بزګر مجبورؤچې دخپلې ځمکې درنـه ماليـه ورکـړي. خومعمـولا ډېـری بزګرودخپلـو ځمکـو ماليـه نشوه ورکولای، ځکه هم ډېر پېښېدل چې بېوزلو بزګرو خپلـه ټولـه ځمکه يا دهغې يـوه برخـه دلاسـه ورکولـه. تنـګ لاسـوبزګرو خپـل جايداد په سودخوړونکو ګـرو (ګانـه) کولـه او پـه ډېـری وختونـوکې، ملاماتوونکی سود ددې خنډ ګرځېده چې بېرته خپله ځمکه لاسته راوړي. بډايو بزګـرو لـه دې موقـع نـه ګټـه اخيسـتله او د نېسـتمنو ګاونډيانو د ځمکو لاسه ته راوړلوکې يې کار هغه ځـای تـه ورسـاوه چې ځـنې وختونه به يې دځمکې پراختيا دمعمـولی بزګـر دځمکـې څوچنده زياته وه.

په دې ډول، بزګران په دريو قشرونو ووېشل شول:

۱- تش لاسي بزګران چې هېڅ ډول ځانی شتمنی یې نلرله اودبډایو بزګرو اوفیوډالانو دپاره یې کارکاوه. دا ډله دکلیو دپرولتر اونیمه پرولتر په نوم پېژنو.

۲- منځکوره بزګران چې ځمکه اوڅاروي یې درلودل اودخپل ژونددبرابرولو وس یې درلود اوکله به یې تش لاسي بز ګران هم زبېښل.

۳-دکلي بورژوازي (کولاک)، چې شتمن بزګران ؤ، اوتش لاسي اوکله به یې منځکوره بزګران هم زبېښل.

دبزګرانو فیوډالي ضدمبارزې:بزګرو دفیوډالانو دبېرحمانه زبېښناک په وړاندې په کلک مقاومت اوبلوالاس پورې کاوه. په فیوډالزم کې دبزګرو پرګنود طبقاتي مبارزې ګډ اړخ پر ځمکه پورې دتړلتابه اودفیوډالي ټولوبندونو نه، دځان دآزادولو لپاره ددوی لیوالتیاوه. دفیوډالزم دړنګېدنې په پړاو کې دېری بزګري غورځنګونه پېښ شول چې زیاتره دتش لاسو بنارانو دملاتړ څخه برخمن اوموخه یې دولسي پرګنو د ژوند دکچې لوړول ؤ. بزګري غورځنګونو مخکښ رول درلود او دانقلابي بزګرانو د هیلوغبرګون ؤ. دبزګرانو شخصي هیلې معمولا دځان آزادولو، دیوې ټوټې ځمکې لاسته راوړلو، دفیوډالي مالیې نه دځان خلاصولواو داسې نوروله پولې، نه تېرېدل.

داسې چې په ځینو غورځنګونو کې بزګرانو د ټولو ټکسونو او فیوډالي مالیې دلغو کولو دغوښتنې جرئت هم نه درلود اوبوازې د کمښت غوښتنه یې کوله. هغوی غلط فکر کاوه چې ددوی ټاکلې غوښتنې به ددغو امتیازاتو لاسته راوړولو ضامن وي. دمنظمو سازمانونو نشتوالی او دبلوا ګرو منځ کې بې اتفاقي چې دبزګري تولید دخواره واره تولید له خاصو ځانګړتیاووڅخه وه، دتجربه لرونکي مشرتابه اوپه ټولنزه توګه دبزګرو د پوهې نشتوالي زیاتره

دغه غورځنګونه دماتې سره مخامخ کول. ددې سره سره، دبزګرو مبارزې، برباوې هم درلودې چې تر ټولو مهمه یې په ځمکې پورې تړلتابه نه خلاصون ؤ. اوپه دې ډول سرفان کرار کرار په آزادوبزګرو بدلېدل.

دفـــوډالزم پـــه رنګېدنـــه کـــې دزورواکـــو حکومتونوجوړښـت: دپـانګوالي اړیکـو پراختیـا اوبشـپړتیا، سـتر فـوډالان د طبقاتي لاس برى دنوې ساسي بنې جوړونې له دندې سره مخامخ کړل، چې دغه نوې بنه د فـوډالي زورواکـي حکومـت ؤ. دغو فـوډالانو هڅـه کولـه چـې دبـورژوازي د ودې پـه حـال کـې صنایعو نه، دځپلو ګټولپاره استفاده وکړي. دوی پـه بـورژوازي کـې دېټ خطراتکل نشو کولی نو ځکه دبورژواز ي ملاتړ تـه راپاڅېدل. اقتصـادي بهـرونـو دفـوډالانـو دلوړتـیا سـاتنې سـره، دفـوډالانـو او بورژوازي تر منځ د سازښت غوښتنه کوله. نو شمېر نورو فـوډالانو نشوکولی په خپل څنګ کې دبـورژوازي صـنایع (پرتـه لـه دې چې دځواک کچه یې په پام کې وي) وزغمي. پایله داچې ـوازې ـوزور واکـه متمرکـز دولـت کـولی شـول ددوی دځپلـو پـه تـرخ کـې دغـه چارشـونی کـړي. ځکـه چـې واکمنـې طبقـې دپـانګوالي تولـد پـه موسسوباندې دمالې په تړلو سره دصنعت او سوداګري له پراختیا او بشپړتیا نه ګټې لاسته راوړي چې په دغه وخت کې یـې دپراخـو لښکرواوحکومتي ماشـن دساتنې لپاره ورتـه سـخته اړتیـا درلـوده. له دې امله، ستر فـوډالان ددولتي مـالې او ګټـو لـه زیـاتوالي سـره مینـه وال ؤ. دبـورژوازي مـخ پـر ودې اقتصـادي ځـواک، د بزګـرو اوتـش لاسـو ښـاریانو، زیبښـاک کچـه لـوړه کـړه. لـه دې کبلـه دفـوډالي دسـپوتـزم حکومت زړه ته پریوتله ړه چې لوبه دنـده یـې دزبارکښو اوناراضو پرګنو ځپل دي.

**دانقلاب مخ نـه اوښـتونكې بهيـر:** بشـپړتيا مونـدونكي مولده ځواكونـه، دفـوډالي كوچنيـو توليـدي اړيكوسـره، پـه پراخـه كچه لاس اوګريوان شول.

خوځرنګه چې ساسي موسسې اوپه تېره بـا فـوډالي دولت له منځه نه ؤ تللای "نـوي" ىعنې دپانګوالي اړيكـو برلاسـي، نشوای كولای ټينګښت وومی.

همدارنګه دې بهر نشوكولی چې كراركرار او دسوله سېزې بشـپړتيا لـه لارې مـنځ تـه راشـي. لـه دې كبلـه دانقـلاب لـه لارې دفـوډالي ساسـي سسـتم ړنګېدنـه د ټولنـزې پراختـا اوبشـپړتنا يواځنی قانون ؤ. دهر انقلاب له پيل نه مخكې داسې حالـت مـنځ تـه راځي چې "انقلابـي حالـت" نـومېږي. انقلابـي حالـت لـه دوو ذهني اوعىني اړخونو نه دلاندې څرګندونې سره سم جوړېږي.

عىنـــي عوامـــل (د انقـــلاب مـــادي شـــرطونه):

دمظلوموپرګنودنستي اوتش لاسي زښت ډېر سختوالی چې دخپلو غوښـتنو طـرح كولـو تـه يـې اړباسـي او دواكمنـو طبقـو ساسـي ګډوډی داسې چې نورنشی كولای خپلې واكمني تـه پـه زاړه حالـت دوام وركړی، دعىني عواملو له جملې څخه دي.

لـومړني بحـث كـې مـو د فـوډالـزم د ړنګېـدنې پـه هكلـه داسې شرائط ياد كړل چې په حققت كې دانقلاب عىني عوامـل ؤ. دپانګې لومړنی راغونډېدنه (تجمع) او دراغونډولورازراز طرىقې، پـه فـوډالي اقتصـاد كـې دپـانګوالي اړيكـو نفـوذ اودودې پـه حـال كـې مولده ځواكونـو اودفـوډالي مرګـونې تولـدي اړيكـو تـرمنځ تضـاد، دانقلاب اقتصادي بنسټ جوړوي. كله چې مـو د بزګرانـو، فيـوډالی ضد مبارزو په هكله بحث وكړو، دامو وښودله چې د مظلومو پرګنـو ناراضتـا او تش لاسي، دو ی دخپلو غوښتنو راپورته كولو ته اړكړي ؤ او دفوډالي حكومت دنـوې بڼې ىعنې دسـپوتـزم د تشـريح پـه

وخت کې مو څرګنده کړه چې په حقیقت کې دواکمنې طبقې سیاسي ګډوډي یابحران ؤ، داسې چې نوریې دپخواني حالت دساتلوتوان نه درلود.
اوس دذهني عواملو په هکله غږیږو.
ذهني عوامل (دانقلاب ایډیالوژیکي تیاري): ذهني عوامل په یوه جمله کې لنډولی شو: دمرتجع واکمنې طبقې راپرځولو دپاره په ولسي انقلابي عملیاتو لاس پورې کولو کې دانقلابي طبقې ځواکمني. دپانګوالي انقلاب له پیل نه ډیره موده مخکې بورژوایي ایډیالوګان د فیوډالي رژیم نوکو ته راپاڅیدل او دنوموړي د ورکاوی غږ یې پورته کړ. بورژوایې روڼ اندو د پانګوالي تولید دپرمختګ له کبله دټولو طبیعي پدیدو دماهیت کشفولو سره خاصه مینه پیداکړه. څنګه چې پوهیږو دایډیالیزم برلاسي دعلم له پرمختګ څخه مخنیوي کاوه، خو دپانګوالي اړیکو له پراختیا سره علمي کشفیات او دتجربې پر بنسټ دطبیعت دقوانینو مطالعه (چې کلیسا یې مخنیوی کاوه) په اروپا کې پیل شوه. دغه کشفیات د (زاړه ) یعنې فیوډالی نړۍ لید پرضد د (نوي) پرله پسې مبارزې په بهیر کې منځ ته راتلل. دغه راز نوی نړۍ لید چې دپانګوالي اړیکو پر بنسټ ولاړ ؤ او دبشر دفکر په ټولو برخو یعنې علم، ادبیاتو او هنرکې غځیده، منځ ته راغی. په ایډیالوژۍ کې دنوي سبک (لارې) ماهیت د "هومانیزم" (دانسان دوستي اوبشري کړاوونو د کمولو پلوي مکتب) په کلمه کې لنډیږی. داروپا دبورژوازي لومړني ایډیالوګان په دې باورؤچې د"لر غوني فرهنګ ژوند، د نوي توب" (رنسانس) په حال کې دي. اوله دې کبله خپل فرهنګ او په ټو لیزه توګه ایډیالوژۍ یې رنساس نوموله او هومانیزم ددغې ایډیالوژي دنړۍ لیدسبک ګڼل کیده. هومانیزم په دې ترڅ کې دنوي فرهنګ غږ روحاني یا مادي

ماهت او دفوډالي مذهب له بنده دهغه دآزادۍ ښکارندوی هم دی. بورژوایي روڼ اندو په بو دغسې نړۍ لد سره دخپلې عقدې اصول په ولسي ژبه دکتابونو اونورو خپرونو په توګه دخلکو منځ کې خپرول اودوی یې انقلاب ته چمتو کول.

اووم څپرکی

# پانګوالي سیستم

***دپانګوالي سیستم دپیداښت بهیر***

دفیوډالي سیستم دننه دپانګوالۍ د تولید وده: دفیوډالېزم دړنګېدنې په څېړنې کې دې پاملې ته ورسېدو چې دپانګوالۍ د تولیدطریقې دفیوډالېزم له دننه څخه سرچینه اخستې ده. په کلیو او ښارونو کې دپانګوالي تولید دپیداښت زمینه په ترتیب تر څېړنې لاندې نسو:

په کلیو کې دپانګوالۍ اړیکو پراختیا: په کلیو کې د مولده ځواکونو پرمختګ په څه ناڅه اوږده موده کې، کرارکرارنسبتاًنوی پړاو ته ورسید اوپه مختلفو سیمو کې دکوپراتیفونو (تعاوني) دجوړېدو لامل شو. دې پرمختګ په کلیو کې پلورتوکیزه تولید ته وده ورکړه او ورو ورو یې دبزګرو په منځ کې یو نوی قشر منځ ته راوړ چې دتولید هېڅ رازوسایل یې نه درلود، دنورو دپاره یې کارکاوه اومزدوری یې اخستله. دپلورتوکیزه تولید پراختیا اوودې سره دپیسو اهمیت ډېر شو. له دې وروسته بزګر اړؤ چې خپل محصولات په بازار کې وپلوري، دځمکې اجاره او مالیه د پیسو په بڼه فیوډال ته ورکړي، په بله ژبه بزګران هم پلورتوکو- پیسو اړیکوته ورګډشول. دمولده ځواکونو دپر مختګ پر بنسټ، دپلورتوکو-پیسو اړیکو پراختیا، بزګران په

مختلفـو قشـرونو (کـولاک- منځکـوره بزګـران او دکلـو پرولتاریـا) باندې وویشل. کولاکانو له فیوډالانو څخه ځمکه په باړه اخیسـتله بیایې په وړو وړو ټوټو باندې وېشله او وروسته یې منځکـوره بزګـرو تـه پـه اجـاره (بـاړه) ورکولـه او ـایې دتـش لاسـو بزګـرو (دکلـو پرولتاریـا) دکـارځواک نـه پـه ګټـې اخیسـتلو سـره ځمکـه کرلـه. د پـانګوالۍ ورځ پـه ورځ زیاتـدونکي زیېښـاک، دفـوډالي زیېښـاک اوتیرېو سره جوخت، دبزګرو دلانسـتمن کیـدو اوکـور ورانـۍ (کـور ګډي) سبب شو. جوته ده چې په فیوډالي ټولنه کې بزګرو دنفـوس ډېری جوړاوه، له دې کبله ددوي دپېرودنې دتوان کمښت، کـورنی بازار لا پسې کمزوری کاوه او دپـانګوالي اړیکـو د زیـاتې ودې څخـه یـې، چې دمولـده ځواکونـو دودې اوسـوداګري پـه پراختـا، نعنې دښارونواوکلـو منځ کې پر راکړې ورکړې ولاړ وه، مخنـوی کاوه.

<u>په ښارونو کې دپانګوالۍ پراختـا:</u> دمولده ځواکونو پراختـا دتولىداتود ودې لامل شوه. او د سـوداګري دغوړېدا پـه پاىلـه کـې ښارونو لا پراختـا وموندله. دښارونو پـه پراختـا سـره سـوداګرېزې پانګې ورو ورو دبزګرو اولاسي صـنایعو دخاونـدانو تولـدات ترخپـل کنتـرول لانـدې راوسـتل. پـه لـومړي سـر کـې سـوداګرېزه پانګـه دکوچنـو تولـدونکو دپلورتوکو د بدلون په بهـر کې، دـوې واسـطې په توګه څرګنده شوه. بیا سوداګرو دکوچنـو تولـدونکو دپلورتوکـو په منظمې پېرودنې پیل وکړ او اومه مواد او پسې یې دمرسـتې پـه توګه هغوي ته ورکول. په دې توګه کوچني تولـدونکي په سوداګرو پـورې وتـړل شـول. پـه ورسـتني ګـام کـې دسـوداګرېزې پـانګې خاوندانو دساده "کوپراتفونو" اوبیا یې د "مانو فکتور" په تاسـس لاس پورې کړ. په دې ډول دسوداګرېزې پـانګې ـوه برخـه لـه دې لارې پـه صـنعتي پانګـه بدلـه شـوه او د پـانګوالۍ صـنایعو خاونـدان منځ ته راغلـل. البتـه وروسـته بیـا شـتمن کسـبګر هـم پـه صـنعتي

پانگوالو باندې بدل شول. سره له دې چې "مانو فکتور" دمنځ ته راغلو شرایطو پر بنسټ یعنې د زورواکه دولتونو د نسبي ملاتړ لاندې یوه اندازه پر مختگ وکړ خوبیاهم اصناف په بشپړه توگه ځواکمن وه او تر اخرې اندازې پورې یې هڅه کوله چې د"مانو فکتورونو" او فني اختراعاتو د ودې مخه ونسي. کورنی گمرکي مالېې (دىو ې سمې نه بلې ته دپلورتوکو د لېږد دپاره)، سمه ابزې مالېې، دصاحب منصبانو اوفیوډالانو ظالمانه واک، په کانو اومقیاساتو کې توپیرونه، ټول دسوداگري دلابشپړتیا اودملي واحد بازار دتشکل اودپانگوالۍ اړیکو د پراختیا دلارې خنډؤ. په دې ډول په فیوډالي ټولنه کې، څه په کلیو اوڅه په ښارونو کې، فیوډالي زړې تولیدي اړیکې دنوو مولده ځواکونو دپرمختگ په وړاندې خنډ گرځدلې وې.

بورژوازي انقلاب اوپانگوالۍ ته دفیوډالېزم اوښتون:

دمولده ځواکونو همیشنۍ وده دبشري ټولنې پر پراختیا او بشپړ تیا باندې واکمن قانون دی، خو زړې تولیدي اړیکې دمولده ځواکونودودې خنډ دي. مولده ځواکونه اوزړې تولیدي اړیکې، دټولنزو انقلابونو بنسټ جوړوي. انقلاب، دزاړه فرماسون پر ځای دنوي اقتصادي ټولنز فرماسون، دټینگښت لامل گرځي. په دې ترخ کې دغه تضاد، د تاریخ پر پراختیا اوودې باندې، واکمن قانون دی. پورتنی تضاد په مخبنا کې، دمرتجع طبقو (چې د زړو تولدي اړیکو ملا تړ کوي) او د مترقي طبقو (په لومړۍ درجه کې زیار کښان چې دمولده ځواکونو دهمیشني پر مختگ تر ټولو لوی عامل گڼل کېږي) ترمنځ د مبارزو په بڼه غبرگون مومي. طبقاتي مبارزه دخپلې ودې ټاکلي پړاو کې په انقلاب بدلیږي. ټولنز انقلابونه د محرکه ځواکونو او دانقلاب دمشرتابه دخصلت او د اقتصادي، ټولنزو اوساسي پاڼلو سره سم مشخص

کيږي. له دې کبله دبورژوازي انقلاب د ارزونې لپاره پورتنی هر بوعامل په ترتب سره څېړو.

۱-دبورژوازي انقلاب خصلت: دـو انقـلاب خصـلت هغـه تضادونه چې دغه انقلاب يې حلوي (دزړوتولـدي اړيکـو لـه منځـه وړل اونوؤ تولـدي اړيکو ټينګښت) او د زړې مخبنا پر ځای دنـوې مخبنا ټينګښت، ټاکي. هغه انقلاب چې موخه يې دفـوډالي اړيکـو لــه منځــه وړل وي دخصــلت لــه نظــره بــورژوازي انقــلاب دی. دبورژوازي انقلاب اقتصادي اوټولنز بنسټ، دنوو مولـده ځواکونـو اودفــوډالي زړوتولــدي اړيکــو تــر مــنځ تضــاد دی. زبېښــاګګرې واکمنې طبقې دزړو او مرګونې تولـدي اړيکـو دسـاتنې غوښـتونکې دي. دوي دخپل دولتي ځواک څخـه دخپلې برلاسي دپاښـت پـه موخـه ګټـه اخلـي. لـه دې املـه انقلابـي طبقـه بايـد د نووتولـدي اړيکو دټينګښت په موخـه ځـواک اوقـدرت تـر لاسـه کـړي. لـه دې کبله دحکومت ترلاسه کول، دهر انقلاب تر ټولو بنسـټيز ه مسـئله ده.

۲- محرکه ځواکونه اودبـورژوايي انقـلاب مشـرتابه: څنګـه چې پـوهېږو دزړو تولـدي اړيکـو اومولـده ځواکونـو تـرمنځ تضـاد، دطبقاتي تضادونو په بڼه، په مخبنا کې غبرګون مومی. دلته هـم دا تضاد له يوې خوا د مرتجعې فيوډالي طبقې او لـه بلې خوادولسـي پرګنـو اوبـورژوازي تـرمنځ ؤ. پـه همـدې سـبب دبـورژوايې انقـلاب محرکـه اومخـکښ ځواکونـه ولسـي پرګنوجـوړول. ولسـي پرګنـې، دبزګرو په تـره بـا دهغو تر ټولو نـستمن قشر، تش لاسي ښـاربانو، ځـوانې پرولتاريـا، بـورژوازی او وړوکې ښـاري بـورژوازي د مخکښـو عناصـرو څخـه عبـارت وي چـې دزاړه سيسـتم د لـه منځـه تللـو غوښـتونکې وې. خوبزګرانـو اوپرولتاريـا دسياسـي سـازمان اوپـوهې دنشتوالي له امله ونشوکړای دانقلاب مشرتوب په لاس کې واخلي.

بورژوازي چې په دغه وخت کې مخکښنه طبقه وه دانقلاب مشري يې په لاس کې واخسته.

۳-د بورژاوزي انقلاب اقتصادي، ټولنزې او ساسي پاللې: اقتصادي پاللې: بورژوازي انقلاب دنوو تولدې اړيکو په ټينګښت سره، دمولده ځواکونو پراختيا اوودې ته لاره اواره کړه. داسې چې دپانګوالۍ دټینګښت نه لږ موده وروسته صنعتي انقلاب منځ ته راغی او مولده ځواکونو په چټکۍ سره د بشپړتیا په لار پل واخیست. بورژوايي انقلاب دکارګرو زيښناک له منځه نونه وړ بلکه نوازې ددې زيښناک بڼه يې بدله کړه.

ټولنزې پاللې: د صنعتي پرولتاریا منځ ته راتګ د بورژوازي انقلاب تر ټولو مهمه ټولنزه پا نله ده. په کارخانو کې کار دکارګر ود تشکل اونووالي لامل شو. په دې ترخ کې ټولنزو شرائطو، دپرولتاریا ژوند دتاریخ په ترټولو انقلابي طبقې واړاوه. په دې ډول دې انقلاب دصنعتي پرولتاریا، چې دبورژوازي قبر کنندونکی ؤ، دپرمختیا اوبشپړتیا شرائط، منځ ته راوړل. دنوي فرهنګ ټینګښت، دپوهې اوتکنالوژي چټک پرمختګ، په نسبتاپراخه کچه د پوهنتونونو اومدرسو دجوړښت سره جوخت د ولسونو دپوهې دکچې لوړېدل دبورژوازي انقلاب دټولنزو پاللو له جملې څخه دي.

ساسي پاللې: دبورژوازي انقلاب تر ټولو مهمه پالله د زاړه ساسي سازمان ړنګېدل اوپر ځای يې د بورژواز ي واکمني ټینګېدل دي. دغه راز د زړې واکمنۍ دټغر راټولېدل اودنوې واکمنۍ دځواک منځ ته راتلل دانقلاب ساسي محتوا تشکلو ي. د داسې پارلمان جوړېدل چې دفوډالي جرګو په انډول مترقي ؤ او په ساسي چاروکې د پراخه پرګنو لږ او ډېر ګډون، ددوي دساسي پوهې دلوړېدلو لامل ؤ. له دې وروسته زیار کښو پرګنو په تېره بیا

پرولتاریا دهېوادونو په ساسي ژوند کې دډېر مهم رول په لوبولو پیل وکړ.

دبورژوازي انقلاب بڼې: بورژوازي انقلاب په دوو بڼو (ډولونو) پېښ شوی دی. لومړۍ بڼه یې بورژوا ډیموکراتیک انقلاب نومېږي. په دې بڼه کې دخلکو پرګنې په تېره بیا تر ټولو کښته ټولنیز اقشار، چې دظلم او زبېښاک تر فشار لاندې زرې زرې شوي ؤ، مبارزې ته راپورته شول او د انقلاب په بهیر کې یې لویه اغېزه درلوده. له دې کبله په دې انقلابونو کې زیارکښه پرګنې (بزګر او پرولتاریا) تریوې اندازې پورې خپلو غوښتنو ته رسېږي اوځه حقوق تر لاسه کوي چې واک ته د رسېدلې بورژوازي له خوا ورو ورو لاندې (غصب) کېږي.

په دوهمه بڼه (ډول) کې، بورژوازي انقلابونه دبورژوازي لوړوقشرونو (سترې بورژوازي) په مشري ترسره کېږي او زیاتره دانقلاب په نیمه لار کې دبورژوازي او فیوډالانو تر منځ – دانقلاب دژوریدو له وېرې-جوړجاړي کېږي او واکمني تر یوه وخته پورې د دغو دواړو تر منځ وېشل کېږي چې کرار کرار دفیوډالانو اغېز کمېږي اوله دې کبله په هغو کې زیاتره زیارکښان ان د بزګرو پراخه پرګنې خپلو اقتصادي اوساسي غوښتنو ته نه رسېږي.

## دپانګوالۍ سیستم ټینګښت، پراختیا اوبشپړتیا:

### الف – په پانګوال رژیم کې مولده ځواکونه:

مولده ځواکونه په دوو اړخونو کې وده وموندله: صنعت اوکرهڼه. دغه دواړه په ترتیب سره دشننې لاندې نیسو.

۱- په صنعت کې دمولده ځواکونو وده (صنعتي انقلاب):

بورژوازي انقلاب دمولده ځواکونو دپراختیا او بشپړ تیا دلارې سر نه خنډ ونه استه کړل اوپه صنعت کې یې انقلاب راوست یعنې

دماشنونو د اختراع سبب شو. له دې کبله دپانګوالۍ د پراختیا او ودې مانا چې په صنعتي انقلاب یې شهرت موندلی، دپانګوالۍ په کار ځایونو کې دلاسي کار پرځای د ماشین کار، په پراخه توګه ځای پرځای کېدل دي. په بله ژبه دپانګوالۍ د "مانو فکتور" له پړاونه چې دلاسي کار پر بنسټ ولاړ ؤ، ماشیني صنایعو ته لېږد، صنعتي انقلاب نومېږي. دپانګوالۍ په پېر کې کارخانې په دوو لویو ډلو وېشل کېږي: لومړی ډله چې درانه صنایع نومېږي د کار خونو هغه ډله ده چې نېغ په نېغه لګښتي وسایل نه برابروي بلکه دتولید آلات اووسایل جوړوي، لکه دتراکتور جوړونې، ماشین جوړونې اوپادنساجي دځرخونو جوړونکې کار خونې او داسې نور. دوهمه ډله یا سپک صنایع، هغو کارخونو ته وایې چې نېغ په نېغه لګښتي وسایل لکه خوراک، پوښاک، دکور وسایل اونورشیان جوړوي لکه درېشلو، اوبدلو، کنسرو جوړونې او نورو کارخونې. صنعتي انقلاب په پانګوالو هېوادونو کې لومړی په سپکو صنایعو کې پیل شو اوبیا یې درنو صنایعو ته مخه کړه. څرنګه چې پوهېږو په لومړي سرکې دماشنونوڅرخونه په اوبو ګرځېدل او یوازې سیندونو ته نږدې جوړ او په کار اچول کېدل. خو وروسته داسې ماشین ته اړتیا پیدا شوه چې په هر ځای کې ورځنې ګټه واخستلای شي. دغې اړتیا د (واټ) په واسطه د بخارماشین اختراع کړ. دواټ دبخار دماشین نه په ګټې اخستنې سره په بېلا بېلو صنعتي برخو په تېره بیا رېشلو پورې اړونده څانګو کې په لسګونه او سلګونه ماشنونه اختراع شول اوسپکو صنایعو په حیرانونکې چټکۍسره پر مخ تګ وکړ. دماشین دتولید زیاتوالي دفلز اړ تیا رامنځ ته کړه خودلرګو سکرو کمښت دفلز راوېستنې اوویلې کېدنې د فن پراختیا تنګه ساتلې وه، تر څو چې "هنري کورت" د ویلې کېدنې ځانګړې بټۍ چې دډبرو په سکرویې کار کاوه، اختراع کړي اوپه پایله کې د ډبرو

د سـکرو لگښـت اود فلـز د تولـد کچـه لـوړه شـوه. پـه دې ډول صـنعتي انقـلاب درنـو صـنایعو تـه هـم مخـه کـړه. دماشـن آلاتـو دپیدابښت سره جوخت دماشني انجنیري څانگه، چې په انقـلاب کې یې لوی رول درلود، مـنځ تـه راغلـه. دلیږدرالیږد دوسـایلو پـه منځ کې نوې وسله یعنې داوسپنې پټلۍ اختراع او په کـار و لوـده چې دپـام وړارزښـت یـې درلـود. مـدرنو بېـړۍ جوړولـو پراختیـا وموندلـه او ډېرې لـویې بېړۍ جوړې شـوې. په پای کې دزیـاتو اختراعاتو دمنځ ته راتگ له امله ماشني تولد دلاسي تولـدځای ونـو.

۲-پـه کرهنه کې د مولـده ځواکونـو وده: پـه کرنـه کـې د پانگوالۍ وده، په صنعت کې دهغې د پراختـا په پرتله، په کراتـو ورو وه. ځکه پانگوالۍ په کلیوکې لاهم بایددفـوډالانو ضـد خپلـه جگړه غځولې وې. دپرمخ تللو هېوادونو تـاریخ ښـئې چې پـه کرنـې کې دمدرنو اوزارو اوسامانو راتگ او پـه پایلـه کې کرنـې کې دپانگوالۍ اړیکو پراختـابېلې ببلې لارې خپلې کړې دي. نوه یې دکلـو دبډایو بزگرانـو دشـتمنـو زیاتېـدل اوپـه سـترو ځمکوالـو بانـدې ددوی بدلېدل ؤ چې په کرونـدوکې یـې د مـدرنو ابـزارو نـه گټـه اخسـتل کېده. اوبلـه ډلـه یـې داسـې وه چـې بوشـمر فـوډالانـو خپـل واک وساته او ورو ورو یې په خپله د لازیـاتې گټې تـر لاسـه کولـو دپـاره نـوي تولــدي اوزار د زړو اوزارو پــر ځــای راوړل چــې دغــه راز دفـوډالي زبېښـاک بڼـه د پانگوالۍ زبېښـاک پـه بڼـه واوښـته او یـا پانگوالو په کلـوکې ځمکې رانـو لې او د بـزگـرو دکـارځواک نـه پـه گټې اخستنې سره به یې کرلې.

ب- پا نگوالي تولـدي اړیکې: پانگوالی داسې سسـتم دی چې دتولـد ابزار اووسایل په بو موټي پـانگوالو او فـو ډالانـو پـورې اړه لري په داسې حال کې چې پرگنې له هـر راز ملکـت څخـه بې

برخې دي یا ډېر لږ ملکت لري اوله دې امله اړ وي چې دکارلپاره دپانګوالو مزدور شي. د پانګوالۍ تولید ي اړیکې خاصې ځانګړتیاوې لري چې په لاندې توګه څېړل کیږي.

۱- ساده پلورتوکز تولید اوپانګوالي: وموول چې پلورتوکز تولید هغه تو لید دی چې د شخصي لګښت دپاره نه بلکه په بازار کې دپلورلو (راکړې ورکړې) دپاره ترسره کیږي.

پلورتوکز تو لید چې دلومړني کمو ن سستم دړنګېدو په بهیر کې منځ ته راغی دمرستابه او فیوډالیز م دتو لید په طریقو کې یې هم، دطبعي اقتصاد دبرلاسي سره سره، شتون درلود. دپلورتوکز تولید ستن اوبنسټ، دکار تولنز وېش او دتولید پر وسایلو دخصوصي ملکت شتون دی. کله چې داشرایط موجود وي، پلورتوکزتولید به سرته رسېږ ي اود تولیداتو راکړه ورکړه به د پلورلو اوپېرودلو په بڼه وي. د پانګوالۍ پلورتوکز تولید دټو لنز وټاکلو شرایطو لاندې دساده پلورتوکز تولید له ودې څخه منځ ته راغلی دی. دساده پلورتوکز تولید تر ټولو مشخص استازی بزګر او کسبګر دي. له دې امله ساده پلورتوکز تو لید دوه ګونی ماهیت لري. له یوې خوانه، دا چې د تولید پر وسایلود خصوصي ملکت پر بنسټ ولاړدی نوځکه بزګر یا کسبګر هغه څوک دی چې دپانګې څښتن دی، او دا دپانګوال سره دده ګډه وجه ده. او له بلې خوا، څنګه چې ساده پلورتوکز تولید پر شخصي کار ولاړدی، دپلورتوکو تو لید وونکی هغه څوک دی چې کار کوي او دا دپرولتاریا سره دده ګډه وجه ده چې دده برخلاف، د تو لید دوسایلو څښتن نه دی.

دپانګوالۍ پلورتوکز تو لید دساده پلورتوکز تولید په څېر دکار پر ټولنز وېش او دتو لید پر وسایلو خصوصي ملکت باندې ولاړدی په دې تو پیر چې داتولید دمزدور کار دزبېښاک پر بنسټ

ولاړ دی او پانګوال پخپله کار نه کوي بلکه دتو لـد د وسـائلو پـه لرلواو پرولتاریا په مزدور کولو سره ـوازې زبېښـاک کـوي. لـه دې کبله وېلای شو چې ساده پلورتوکز تو لـد کـولای شـي دتولنز و ټاکلو شـرائطو لانـدې دپانګوالۍ پلورتـوکـز تـو لـد تـه وده وکـړي. ددې چار لپاره سربېره پـر پورتـه يـاد شـوو دوو شـرطونو (دکـار تـو لنز وېش او دتو لد پر وسائلو خصوصي ملکت، چې په پخوانـو سیستمونو کې منځ ته راغلی دی) دریم شرط هم اړین دی او هغه پـه پلورتوکـو بانـدې دکـا رځـواک بدليـدل دي چـې دفـوډالـزم دړنګېدنې په پړاو کې منځ تـه راغـی او پـه لنـډه توګـه يـې تـر شـننې لاندې نسو.

۲- دکار ځواک د پلورتـوکي پـه توګـه: ـو کـار ګـر دتـو لـد دوسائلو دنه لرلو لـه کبلـه دمـزدور کېـدو پرتـه بلـه چـاره نـه لـري. پانګوال هم دټو لووسائلو ددرلودلو سره سره نشي کولای لـه کـار ګرپرته، تولـد پـل کـړی. کـارګر دنوروکسـانو پـه څېـر دکـار ځـواک لری چې په هره ټولنه کې دتولـد مهم عنصر دی. خو پـه پـانګوالۍ کـې دکـار ځـواک، رول بـدلون مـومي. یعنـې دغـه ځـواک هـم پـه پلورتوکي بدلېږي. پـه دې ډول پلورتـوکـز تولـد ځانتـه عـام خـوی غوره کوي (هر څه ته شاملېږي). له دې امله پانګوالۍ دپلورتـوکـز تولـد تر ټولـو لـوړ پـړاو پـه توګـه ګڼـل کـېږي. پـه پلورتـوکي بانـدې دکارځواک دبدلېدلودپاره دوه شرطه لازم دي. لومړی داچې کارګر باید شخصا آزاد وی داسې چې وکولای شي دکـار ځـواک پـه خپلـه خوښه وپلوري، په داسې حال کې چې مریې اوسرف دکار ځواک په پلورلـو کـې آزاد نـه ؤ. دوم بـایـده دی چـې کـار ګـر دتولـد او ژونـد تېرولو وسائل ونه لري داسې چې زېرمه ونلري او په پانګوال باندې دخپل کار ځواک پلورلو تـه اړتیـا ولـری. دسـرفانو شـرائطو لـه دې پلوه بشپړ توپیر درلـود، ځکـه چـې دوی شخصـي کرونـدې لرلـې او

کولای یې شول د ځان او خپلې کورنۍ دپاره دژوند وسائل برابر کړي.

۳- پلورتوکي: پلورتوکی هغه څه دي چې لومړی یوه انساني اړتیا پوره کړي او دویم دپلورلو یا مبادلې دپاره تولد شوی وي نه دشخصي لګښت دپاره. پلورتوکي دوه اړخه لري: داستعمال ارزښت او ارزښت. دپلورتوکو هغه خاصت چې دانسان داړتیا وونه یوه پوره کوي داستعمال ارزښت نومیږي. خو دیو پلورتوکي ارزښت عبارت دی دتو لیدوونکو لازم ټولنز کار څخه چې په دغه پلورتوکي کې نغښتی دی. دیو پلورتوکي ارزښت خپل پخپله دلیدوړ نه دی، او یوازې بل پلورتوکي سره دبدلون په وخت کې ښکاره کیږي. ځکه په دې وخت کې هغه څه چې په حقیقت کې بدلیږي لازم ټولنز کار دی چې دپام وړ پلورتوکو دبرابرولو دپاره مصرف شوی وي. په بله ژبه، دغه دکار ارزښتونه دي چې دپلورتوکي په بڼه اوښتلي او یو تر بله مارچه کیږي. دهر پلورتوکي ارزښت دهغه لازم ټولنز کار دکچې په وسیله چې ددغه پلورتوکي د تولید دپاره ترسره شوی دی، معلومیږي او دکارکچه دکار دوخت په وسیله اندازه کیږي.

۴-دکار ځواک ارزښت: د کار ځواک ارزښت دبل هر پلورتوکي په څېر د تولید د لازم ټولنز کار دوخت په وسیله ټاکل کیږي. ددې دپاره چې یوکارګر دکار وس ولري باید کم تر کمه دژوند دتیرولو و سائل یعنې خواړه، پوښاک، ځپلۍ، کور اونور ولري. او هم دکار ځواک بیرته بیا پوره کولو لپاره باید کارګر، هم دځان اوهم دکورنۍ لپاره دژوند وسائل برابر کړي. اوپه پای کې ددې لپاره چې کارګر یو پیچلی ماشین پکار واچولای شي یوې ټاکلې کچې مهارت ته اړتیا لري چې پخپله دده زده کړه هم لګښت

غواړي، په دې اساس دکار ځواک په ارزښت کې، دکارگر او دده دکورنۍ دژوند برابر ولو دپاره دضروري وسائلو او دده دمهارت حاصلولودلگښت ارزښتونه شامل دي. کله چې دکار ځواک ارزښت دپیسو په بڼه بیان شي دکار ځواک بیه نومول کیږي. په پانگوالۍ کې دکار ځواک بیه دمزدوري په بڼه راڅرگندیږي.

**۵-دپانگوالی زیږښاک ماهیت:**

اضافي ارزښت: داضافي ارزښت په مفهوم د آسانه پوهیدو لپاره څیړنه تقربیاًدیو ربښتونی مثال نه پیل کوؤ:ددرزي په یو کار ځاي کې دورځې په منځني ډول لس جوړې جامې جوړیږي. ټول لگښت یعنې هغه خرڅه چې پانگوال یې (د کارځای څښتن) کړي په تقریبي توگه په پام کې نیولای شو.

دټوټې، تار اونورو مصرفي لوازمو اخستلو لگښت (۲٤۰۰) افغانۍ

دسوون دځای دکرایې اونورولگښت (٤۰۰) افغانۍ

دماشین الاتو او دکار ځای دودانۍ داستهلاک لگښت (۲۰۰) افغانۍ

دلسو کارگرو مزدوري دهرکس لپاره (٤۰) افغانۍ (٤۰۰) افغانۍ

(۳٤۰۰) افغانۍ

یعنې دهرې جوړې جامولپاره (۳۴۰) افغانۍ

چې دهر ې جوړې جامو لپاره (۳٤۰) افغانۍ کیږي. خو دهرې جوړې جامو ارزښت چې دپلورلو یا مبادلې په وخت کې ټاکل کیږي او پانگوال یې په پسو پلوري (۳۸۰) افغانو په اندازه دی. په پورتني مثال کې پانگوال دهرې جوړې په بدل کې، دورکړل شوي لگښت نه (٤۰) افغانۍ زیاتې اخلي.

دغه زیاتې پیسې دکومه راغلې؟

کله چې پورتنیو توکو ارقامو ته پام وکړو گورو چې دکارگر دمزدوري پرته هیڅ یو دکمښت اوډېربښت وړندی. د ارزښت (دلازم ټولنیزکار به چې په هر پلورتوکي کې نغښتې ده) تعریف ته په پام سره، داسې ښکاري چې هغه سوازنی رقم چې دکار خاوند (پانگوال) په حقیقت کې بشپړندی ورکړی، هماغه دکارگرو رښتونې مزدوري ده، ځکه دوی دي چې کارېې دنوموړي مثال په جاموکې نغښتی او هر یو کس یې په خپل کار سره (٨٠) افغانۍ دلومړنیو موادو اونورو پر ارزښت باندې (په یوه ورځ کې) ورزیاتې کړي خو په بدل کې یې پانگوال دوی ته سوازې (٤٠) افغانۍ ورکړي اوپاتې یې په خپل جیب کې اچولې دي. په دې مثال کې (٤٠) افغانۍ د هر یې جوړې جامې په بدل کې اضافي ارزښت دی.

<u>لازم کار اواضافي کار:</u> دپورتني مثال په پام کې نیولو او پانگوالۍ ټولنه کې تولیدي ټولو ته په ځیر (غور) سره، وینو چې په پانگوالۍ تولید کې یو کارگر دوخت یوه برخه دځان دپاره اوبله برخه یې دپانگوال دپاره کارکوي. دکار هغه وخت چې کارگرېې کم ترکمه د خپل ژوند تېرولواو دلازمو وسایلو دبرابر ولودپاره لگوي دکار لازم وخت بلل کېږي او هغه کار چې ددغه وخت په ترڅ کې سرته رسېږي لازم کار نومېږي. پانگوال سوازې دلازم کار وخت لپاره مزدوري ورکوي. که په پورتني مثال کې فرض کړو چې هر کارگر دورځې (١٠) ساعته کارکړی او (٤٠) افغانۍ مزدوري یې تر لاسه کړې، ښه جوته کېږي چې لومړنیو (٥) ساعتونو کې یې دغه پیسې منځ ته راوړې او په حقیقت کې یې نور (٥) ساعتونه دهیڅ ډول مزدوری له اخستلو پرته مفته کارکړی دی. داقتصاد د علم په اصطلاح کې لومړني (٥) ساعته د لازم کار وخت او نور (٥) ساعته د اضافي کار وخت بلل کېږي.

اضافي کار چې داضافي تولد منځ ته راوړونکی دی دپانګوالۍ نه مخکې هم شتون درلود. په مرستابه او فوډالي ټولنو کې هم زبېښاکګرو طبقو داستثمار شوو پرګنو داضافي کار نه په ګټې اخستنې سره ژوند کاوه. خو په پانګوالۍ سستم کې اضافي تولد داضافي ارزښت په بڼه رامنځ ته شو ځکه دکار ځواک په پلورتوکي بدل شوی دی. اضافي ارزښت دپانګوالو دژوند او چړچو پر لګښت سربېره دنوو کارګرو دزبېښاک دپاره په پانګه بدلېږی چې د پرولتاریا اونورو زیار کښانو د لا لوټولو او دپانګوالو په وسله دپانګې دغونډولو دپاره پکار اچول کېږي.

<u>دپانګوالۍ تولد موخه:</u> دپانګوالۍ تولد موخه، په پانګې باندې داضافي ارزښت بدلولو اودنوي اضافي ارزښت دتولد دپاره دهغې پکار اچولو څخه عبارت ده. پانګوال تل هڅه کوي څومره چې شونې وي په لږ لګښت سره ډېراضافي ارزښت لاسته راوړي. دوی دټولو شونو وسائلو څخه دغې موخې ته درسېدو دپاره ګټه اخلي. هر پانګوال داضافي ارزښت د ډېرښت لپاره زیار باسي تر څو په ټول توان سره دکارګروڅخه اضافي ارزښت لاسته راوړي. د اضافي ارزښت دډېرښت دپاره دوه لارې شته: مطلق اضافي ارزښت اونسبي اضافي ارزښت.

<u>مطلق اضافي ارزښت:</u> له هغه څه چې تېر شول داپایله راووته چې په پانګوالۍ کې دکارګر دکار ورځ په دوو برخو وېشل کېږي: ۱- دلازم کار وخت ۲- داضافي کار وخت. فرض کووچې دکار ورځ لس ساعته وي چې (۵) ساعته یې لازم کار وخت اونور (۵) ساعته یې داضافي کار وخت دی. په دې صورت کې دزبېښاک درجه یا داضافي ارزښت نسبت به په لاندې ډول وي

(٥) ساعته داضافي کار وخت
دزبېښاک درجه = ×100% ————————
(٥) ساعته دلازم کار وخت

که دکار وخت ثابت پاتې شي دکار ورځې په اوږدولو سره کولای شو داضافي کار وخت زیات کړو. دساري په ډول که دکار ورځ له ۱۰ ساعته څخه ۱۲ساعته ته زیاته کړو داضافي کار وخت به ۷ساعته وي او په دې توګه دزبېښاک بڼه په لاندې ډول څرګندېږي:

۷ ساعته داضافي کاروخت
دزبېښاک درجه = --------------------×۱۰۰٪= ۱۴۰٪
۵ ساعته دلازم کاروخت

په دې ډول د اضافي کار دوخت په زیاتېدو سره داضافي ارزښت نسبت یا دزبېښاک درجه ٤٠% لوړیږي. هغه اضافي ارزښت چې دورځني کار دساعتونو داوږدولو په وسیله ترلاسه کېږي، مارکس مطلق اضافي ارزښت نومولی دی. دپرولتاریا دمبارزو له کبله د ورځني کار وخت محدود اوقانوناً راټیټ شوی دی. له دې امله دپانګوال دپاره داپوښتنه مطرح شوې ده چې په څه ډول یې زیات اضافي ارزښت ترلاسه کړی. ده ددې پوښتنې ځواب په نسبي اضافي ارزښت کې موندلی دی.

<u>نسبي اضافي ارزښت:</u> دلازیات اضافي ارزښت لاسته راوړلو دپاره دویمه لاره دلازم کار وخت لنډول دي پرته له دې چې دورځني کاروخت تغر وومي. که په صنایعو کې دکار حاصل ورکونه زیاته شي (نوی اختراعات ددې سبب ګرځي چې په هماغه پخوانی موده کې ترپخوازیات محصول تولید شي) دغه چار به

دلازم کار وخت دکمښت سبب وګرځي اوپه پایله کې به داضافي کار وخت زیات شي. دساري په توګه (۱۰) ساعته دکار ورځ په (۵) ساعته لازم کار او (۵) ساعته اضافي کار وېشو، فرض کړو دکار دحاصل ورکونې دډېرښت له کبله کافي ده د (۵) ساعته لازم کار پر ځای کارګر (۳) ساعته کار وکړي څو دخپلې مزدوري مساوي به تولید شوو پلورتوکو ته ولېږدوي. خو (۱۰) ساعته ورځنی کار همغشان په خپل ځای پاتې دی. په دې صورت کې داضافي کار وخت د (۵) ساعتو څخه (۷) ساعتو ته زیاتیږي. اوپه پایله کې یې دزبېښاک درجه لوړیږي.

(۷) ساعته داضافی کار وخت

۲۳۳٪ =۱۰۰٪×ـــــــــــــــــــــــــــــ=دزبېښاک درجه

(۳) ساعته لازم کاروخت

زمونږ په مثال کې داضافي ارزښت نسبت یا دزبېښاک درجه (۲۳۳٪) ته لوړه شوې او داد ورځني کار مودې داوږدوالی زېږنده نه ده بلکه دلازم کار وخت او داضافي کار وخت ترمنځ نسبت دبدلون له کبله دی. هغه اضافي ارزښت ته چې دلازم کار وخت دکمښت او په وړاندې کې یې داضافي کار وخت دډېرښت له امله زیات حاصل ترلاسه کیږی، نسبي اضافي ارزښت وایی.

**پانګه او دپانګې بنې (ډولونه) :**

بورژوازي اقتصاد پوهان دعوا کوي چې هر راز، دکار اوزار دلمړنو انسانانو دډبرو او لرګو څخه نولې تر اوسنو ابزارو پورې، پانګه ده. خو په حقىقت کې دتولید وسایل پانګه نه ګڼل کیږی څکه دغه وسایل دهرې ټولنې شتون دپاره حتمي اوضروري دي. دتولید وسایل ںوازې هغه وخت چې د پانګوال د شخصي شتمني

بنه ونسي او دکارګرې طبقې دزبېښاک لپاره په کارو اچول شي په پانګه بدلیږي. پانګه دپسو ټاکلې کچه یادتولید وسیله نه ده بلکه یوه ټاکلې تاریخي ټولنیزه تولیدي اړیکه ده چې په هغې کې دتولید وسایل اوهمدغشان دوګړو دژوند لپاره اصلي وسایل دپانګوالې طبقې په ملکیت کې دي، په داسې حال کې چې کارګره طبقه دټولنې دتولید بنسټیز ځواک په توګه دتو لید اوژوند له وسایلو څخه بې برخې اواړه ده چې خپل دکار ځواک په پانګوال وپلوري او دزبېښاک لاندې راشي. په بله ژبه پانګه هغه ارزښت دی چې دمزدور دکار دزبېښاک له لارې اضافي ارزښت منځ ته راوړي. پانګه د انحصار نه مخکې پانګواله ټولنه کې په څلورو ډولونو لندل کیږي چې دلته یې یادونه کوو:

۱- صنعتي پانګه او اجزا یې: دتولید په پیل کې، پانګوال دخپلې پانګې یوه برخه دکارخونې دوداني جوړولو، ځمکې پیرودلو، تجهیزاتو او ماشین آلاتو، اومو موادو اومرستندویه موادو پر رانیولو لګوي. دپانګې ددغې برخې کچه چې دتولید دوسایلو برخه کنیل کیږي، دکار په بهیر کې بدلون نه مومی بلکه په هماغه کچه ارزښت چې دتولید دوسایلو اجزاء لګول کیږی یا زړیږي، دنوؤ تولید شوو پلورتوکو ارزښت ته لیږدوي. په دې ډول چې دساري په توګه داومو موادو، مرستندویه موادو اودسوون موادو ارزښت دتولیدي چار په بهیر کې په بشپړه توګه نوي تولید ته لیږدول کیږي خو یو ماشین د (۱۰) کلن تولیدي کار په بهیر کې هرکال دخپل ارزښت یوپر لسمه برخه نوؤ پلورتوکو ته لیږدوی. دپانګې هغه برخه چې دتولید دوسایلو، ماشین آلاتو، اوزار و، اومو موادو او نورو دبرابرولو دپاره په کار اچول کیږي - چې په حقیقت کې یې اندازه بدلون نه مومي-ثابته پانګه نومیږي. پانګوال دخپلې پانګې بله برخه دکار ځواک رانیولو دپاره لګوي، دغې برخې ته چې دکار

څواک پېرودلو دپاره په کار لوېدلې اودتولد په بهرکې دکارګر په وسله داضافي ارزښت منځ ته راوړلو په سبب ډېرېږي، اوښتونکې (متغره) پانګه وايي.

پانګه

اوښتونکې یا متغیره پانګه ———— ثابته پانګه

دکارګرمزدوري

ځمکه، دکارخانې ودانۍ، اوزار،
ماشن الات، اومه توکی،
مرستندویه توکی او دسوون توکی او نور

۲-سوداګریزه پانګه: اضافي ارزښت چې کارګر ه طبقه یې دتولد په بهرکې منځ ته راوړي په لومړي پړاوکې د صنعتي پانګوالو په جب کې لوېږي اونورپانګوال هم داضافي ارزښت یوه برخه تر لاسه کوي. دصنعتي پانګې خاوندان دتولدي بهیرونو تېرولونه وروسته، پلورتوکي تاروي خو په خپله یې بازارکې پلورلای نشي. ځکه که د صنایعو څښتنان دسوداګرو له منځګړیتوب پرته د خپلو پلورتوکو دپلورلو تمه ولري نواړینه ده چې باد دخپلې پانګې یوه برخه دسوداګریزو مؤسسو جوړولو،

دپلورونکو اوکارکونکو په ګمارلو (مقررولو) اونور و باندې ولګوي. لکن عملاًدغه کار نشي کولای او سوداګروته یې سپاري. دسوداګرېزې پانګې دنده په نغدې پانګې باندې د پلورتوکیزې پانګې بدلول دي. په دې بهرکې، سوداګر، پلورتوکي دبازار له بېې نه په ارزانه دصنائعو له خاوندانوڅخه رانیسي او د ورځې په نرخ یې بازارکې پلوري. ددغو دواړو نرخونو نه لاسته راغلی توپېردسوداګري دګټې په توګه دسوداګرو په برخه کېږي. په سوداګري نړۍ کې سوداګري په دوو بهرنۍ اوکورنۍ برخو وېشل کېږي. کورنۍ سوداګري دوه ډوله ده: ټول پلورنه (عمده فروشي) او لږپلورنه (پرچون فروشي). ټول پلورنه دپانګوالو (سوداګرو او دصنائعو خاوندانو) منځ کې سوداګر ي ده اولږ پلورنه په لګښت کوونکو باندې نیغ په نیغه (په مستقمه توګه) دپلورتوکو پلورنه ده. بهرنۍ سوداګري هم په صادراتي (لیږونکی) او وارداتي (رالیږونکی) سوداګریو وېشل کیږی.

۳- نغده پانګه: څنګه چې په فوډالزم کې مو ولوستل دنغدې پانګې لومړنی ډول د سودکولو پانګه وه چې وګړو دپور ورکولو او پر اصل پور سر بېره دسوداخستلو له لارې پکاراچوله. څنګه چې دلته پسې دهغه ارزښت په بڼه دي چې کچه یې دوه پړاو له تېرېدو وروسته لوړېږي، له دې کبله دنغدي پانګې په بڼه اوړي. دبانکونو دپیدابښت او پانګوالۍ دپراختیا سره دنغدي پانګې رول هم زیات شو. بانکونو صنعتي پانګوالو ته په پور ورکولو سره په تولید کې غیر مستقمه برخه اخستله او چې کله یې اړوند سوددصنایعو له خاوندانو څخه لاسته راوړ په حقیقت کې یې نوه برخه له هغه اضافي ارزښت څخه ترلاسه کوله چې دصنائعو څښتنانو دکارګرو دزبېښاک له لارې اخیستلې وه.

۶-کرهڼیزه پانګه: مخکې مووویل چې په پانګوالی ټولنه کې لاهم دفوډالزم پاتې شوني لندل کیږي. دپانګوالی ټولنې په تړنګښت، پراختیا اوبشپړتیا کې دوشمیر فوډالان د کرنیزو ځمکو لویه برخه په واک کې لري. دغه فوډالان په پانګوالې ټولنې کې په دوه ډوله داضافي ارزښت نه ونډه اخلي. یا شخصاً دځمکې دکرطریقه بدلوي او دکرنې کارگر په کارګماري (مقرروی) اوزبېښني یې، چې په دې صورت کې دکرهڼیزې پانګې په بڼه اوړي اویا خپله ځمکه پانګوالوته په ټېکه (اجاره) ورکوي. هغه پانګوال چې ځمکه یې ټېکه کړې ده دکلو دپرولتاریا په کارګمارلو او دهغو په زبېښلو سره اضافي ارزښت لاسته راوړي. دکرنې پانګوال ددغه اضافي ارزښت یوه برخه ځانته ځانګړې کوي اوبله برخه یې داجارې په ډول فوډال یا مالک ته ورکوي. په هر حال دلته هم دکرنې پانګه داضافي ارزښت نه برخمنه ده.

اقتصادي ګډوډی (بحرانونه): دپانګوالی اقتصادي ګډوډی داضافي تولد له کبله منځ ته راځي. دوبحران په بهر کې تولد شوي پلورتوکي په هاغه کچه چې تولد شوي، بازار نلري. ځکه دلګښت کوونکو دپېرودلو له وس څخه زیات تولد شوي دي. اقتصادي ګډوډی د اضافي تولد پایله ده اواضافي تولد هم په خپل وار سره په تولد کې دګډوډی اودپانګوالو دسالی زېږنده ده. دساري په توګه څوکار خونې چې ځانګړي توکي تولدوي په لنډه موده کې نو پر بل پسې په کار لوېږي. دغه کارخونې شپه او ورځ هڅه کوي او خپل تولیدی توکي بازار ته وباسي دومره چې عرضه دتقاضې په پرتله زیاته شي. په دې ډول پورتنی کارخونې زیاته اندازه توکي -چې نور اخستونکې نلري - په واک کې لري او بیه یې دمجبوریت له مخې پرله پسې راټیټوي څووپلورل شي ان تر دي چې په تاوان یې هم پلوري. داسې حال کې ویل کیږی چې

په یوې ځانګړې ځانګه کې ګډوډی منځ ته راغلې ده. څرنګه چې دغه موضوع په نورو ځانګو کې هم په همدې ډول پېښېږي په پایله کې یې کارخانې تړل کېږي اوپه زرګونو کارګر له وزګار تیا سره مخ کېږي.

له دغو هرې یوې تولدي ځانګې نه نورو اړونده ځانګو ته دګډوډی اغېز، دعمومي اقتصادي بحران لامل ګرځي چې ټوله پانګواله ټولنه رانغاړي. باید ځېر شو چې دتوکو اضافي تولد په هغځ ډول دامانا نلري چې دټولنې دټولو وګړو له اړتیا وونه زیات تولد شوي دي بلکه بر خلاف د اقتصادي بحران په مهال زیارکښان په ډېر سخت حالت کې وي اوددوی دژوندانه کچه ډېره راټېټېږي. دبېکاری دزیاتوالي له امله ډېر شمېر خلک دژوند لپاره دلازمو وسایلو څخه بې برخې کېږي. په بازارکې ددې توکو زیاتوالی دټولنې د ریښتیانۍ اړتیا په پرتله نه دی، بلکې ددغو توکورانولو ته دډېرۍ وګړو دوس نشتوالی له توکو څخه دبازار د ډکېدلو لامل دی. داسې چې بازارونه دکرنې او صنعتي کالو څخه ډک دي خو پرګنې یې دپېرودلو وس نلري، لکه چې متل دی: "څومره پرېماني ډېره هومره محرومي ډېره". دتولد ټولنز خصوصت او دتولد پر وسایلو باندې د پانګوالۍ خصوصي ملکت دېنې تر منځ تضاد، داقتصادي ګډوډی رېښه او بنسټ دی. بحرانونه په نه ژغورونکې توګه دپانګوالۍ تولد د طریقې پایله ده. تر څوپورې چې پانګوالی موجوده وي دغه بحرانونه به له منځه لاړ نشي. ګډوډی یا بحرانونه په ښه توګه ښئی چې، دبورژوازي په واسطه منځ ته راغلی مولده ځواکونه د بورژوازي تولدي اړیکو نه مخته کېږي او په پایله کې دغه اړیکې دمولد ځواکونو دلاپرمختګ په وړاندې خنډ اوځنډ ګرځېدلي دي. اوښایي چې دمولده ځواکونو وروستنۍ ودې دساتنې دپاره دتولد پر وسایلو دپانګوالۍ خصوصي

ملکت یا په بله ژبه دپانګوالی تولیدي اړیکې ورکې اونابودې شي. دپانګوالی سیستم، دمولده ځواکونو په پراختیا اودتولید په ټولنیز کېدو سره، دسوسیالیزم دټینګښت دپاره لازم عیني شرایط جوړوي. په عین حال کې هغه انقلابي ځواک منځ ته راوړي چې بایده دی ټولنې ته انقلابي بدلون ورکړي. دغه ځواک کارګره طبقه ده.

## دپانګوالی سیستم مخبنا

دپانګوالی ټولنې طبقاتي جوړښت: هره طبقاتي ټولنه بېلې بېلې طبقې او قشرونه لري چې ددوي څخه دوه طبقې دټولنې اصلي طبقې جوړوي. ددغو دوو طبقو اړیکې دټولنې اصلي تضاد څرګندوي.

دمرستابه په ټولنه کې دغه طبقې مریې وال اومریان، په فیودالي ټولنه کې فیوډالان او سرفان او په پانګوالی ټولنه کې بورژوازي اوپرولتاریا دي. هاغه څه چې دپانګوالی ټولنې طبقاتي جوړښت تر عنوان لاندې څېړو دامپریالیزم نه وړاندې پانګوالی پورې اړه لري. دامپریالیزم دزمانې پانګوالی به په اړوند بحث کې وڅېړو. دپانګوالی ټولنې طبقې او اقشار په لاندې ډول څېړلای شو.

۱- **بورژوازي**

بورژوازي داسې طبقه ده چې دتولید دوسایلو خاونده ده او دپرولتاریا دزبېښاک دپاره ورڅخه ګټه اخلي. په پانګواله ټولنه کې بورژوازي طبقه په دریو قشرونو وېشل کېږي:

۱-ستره بورژوازي ۲- منځکوره بورژوازي ۳- وړوکې بورژوازي

ستره بورژوازي دلويو کارخانو اومکـانـزه کرونـدې لرونکـو پراخه ځمکو دخاوندانو او هم سترو سوداګرو اوسود خورو تـه ويـل کېږی. منځکوره بورژوازي زياتره کورنـو تولـدونکو اوسـوداګرېزه اونغدي منځکوره پانګو خاونـدانو جـوړه کـړې او وړوکې يـاکوچنۍ بـورژوازي د لـږو پـانګو او د کـار دابـزارو هماغـه خاونـدان دي چې ډېرى يې په کار کې نيغ ګډون لري. دپورتنيو قشرونو څخه هـر يـو يې په بېلا بېلو ټولنزو شرايطو کې دټولنې په طبقـاتي مبـارزو کې ځانګړی رول لوبولی دی. لويه بورژوازي زياتره داشرافو اوفيوډالانو سره سازښت کـوي، منځکـوره بـورژوازي ددوي پـه پرتلـه انقلابـي قشر دی چې کله يې ګټه په مستقيم خطر کې راشي دلومړي قشـر سره سازښت کوي، وړوکې بورژوازي دکارګرې او پانګوالې طبقې په منځ کې منځنی وضعيت لري. د وړوکې بورژوازي د ژوندانه کچه د پرولتاريـا نـه لـوړه ده. خـو دسـترو اومنځکـوره پـانګوالو دسـختې سـالي تر فشار لاندې ده اوپـه پرلـه پسې توګـه ددوی زيـات شـمېر ددغو سالـو له کبله له پښو غورځي او دپرولتاريـا پـه لـکـو کې يـو ځای کېږی. دغه قشر دشمير له مخې په تېره بيا په وروسـته پـاتې هېوادو کې دټولنې دوګړو ډېری جوړوي.

## ۲-پرولتاريا

پرولتاريا په پانګواله ټولنه کې هغو کارګرو تـه ويـل کېـږي چې دتولـد دوسائلو دملکيت نه بې برخې وي اوله دې کبلـه اړدي دخپل کارځواک دتولـد پـر اصلي څښـتنانو يعنـې پـانګوالو بانـدې وپلوري. په دې اساس دتولـد دوسائلو نه بې برخي، دکارځواک پـه پلورنه کې آزادتيا لکه دبـل هـر کـالي پـه څېـر او دتولـد پـه بهـرکې دپانګوال په وړانـدې دربـدل، پرولتاريـا دنوروزبېښـل شـووطبقو نـه بېلوي. دپرولتاريا کـار دپـانګوال لپـاره دورځ پـه ورځ زياتېـدو نکـي

زبېښناک اوپانګې راغونډولو سرچینه ده. پانګوال هڅه کوي دبېلا بېلو لارونه دزبېښناک کچه سخته کړي اوبر خلاف پرولتاریا زیار باسي واک ترلاسه کړي اودتولیدوسایل ټولنیز کړي. پرولتاریا دځانګړو شرایطو پر بنسټ دهغو ټولو طبقو څخه چې دپانګوالۍ په وړاندې دربرې، انقلابي ده. په پانګواله ټولنه کې په پرولتاریا سربېره چې په سترو کارخونو کې سره یوځای ده ځینې نور کارګران هم شته چې په وړو کارځایونو لکه دګاولي جوړولویا موچي ګري، ترکاڼي، دېښ دوکان یا آهنګري اونورو کې کار کوي او یا په سختو کارونولکه دودانیو په کارونو اویا په مکانیزه کروندوکې چې سترو مالکانو پورې اړه لري، په کار کولو لګیا دي.

## ۳- ځمکوال او بزګران

په پانګواله ټولنه کې پر بورژوازي او پرولتاریا سربېره دمالکانو او بزګرانو طبقې هم شته. دغه طبقې دفیوډالي رژیم نه پاتې دي خو دپام وړ بدلون پکې راغلی دی. ځمکوال (ملاکین ) په پانګواله ټولنه کې هغه طبقه ده چې دځمکې لویې ټوټې په واک کې لري او پانګوالو او یا کولاکانو ته یې په اجاره ورکوي اویا دمزدورانو دکارنه په استفادې سره په خپلوسترو کروندو کې په ګټه اخستنه بوخت وي. دبزګرو لویه برخه چې دخپلو تولیدي وسایلو په مرسته کار کوي او دډېری بورژوازي هیوادونو دنفوس لویه برخه جوړوي په پرله پسې توګه دټوټې کیدوپه حال کې دي. دغه بهیر دپانګوالۍ عناصر منځ ته راوړي، دنېستمنو بزګرو شمیر ورزیاتوي او کورونه یې ورله ورانوي دوی دکولاک،منځکوره او نېستمنو بزګرو په قشرونو وېشل کېږي. نېستمن بزګران هماغه دکلیو پرولتاریا یا نیمه پرولتاریا تشکلوي.

٤- **روڼ اندي اوکارکوونکي**

په پانګواله ټولنه کې نو شمرکسان شته چې دمادي نعمتونو دتولد په بهر کې خپلواکه وضعه نلري او له دې کبله ځانګړې طبقه نه جوړوي. دساري په توګه دروڼ اندو قشردی چې دپانګوالۍ نه مخکې ټولنو (مرستابه اوفیوډالي ) کې منځ ته راغلی او په پانګواله ټولنه کې یې زیاته وده کړې ده، روڼ اندي یا لوستي کسان عبارت دي له: انجنیرانو، تخنکرانو،نورو تخنیکي کارکوونکو، ډاکټرانو، مدافع وکیلانو، هنرمندانو، ښوونکو، دعلومو کارکوونکواودکارمندانو یوه برخه یعنې اقتصادي کارکوونکو، شمېره اخستونکو، حساب کوونکو او نوروڅخه. په ټولیزه توګه ټول هغه کسان چې کسب یې دفکري کارونو له جملې څخه دی اودغه چار ددوی دژوندانه اصلي سرچینه ده، دروڼ اندو په ډله کې شمېرل کېږي. روڼ اندي دټولنیز موقعیت اوبوې طبقې ته دخدمت کولو پر بنسټ د بورژوازي، وړوکې بورژوازي او یا پرولتاریایي روڼ اندو په قشرونو وېشل کېږي. په کارګره طبقه پورې تړلي روڼ اندي په پرولتاریایي غورځنګ کې فعاله رول لوبوي.

کارمندان هم دتولد په بهر کې دخپلواکې وضعې دنه لرلو له مخې روڼ اندو سره ګډ اړخ لري. ددغه قشر پورتنۍ برخه (لوړ پوړي چارواکي، دکمپنو مدیران، دبانکونو رئسان اونور) چې زیاتره د روڼ اندو په ډله کې دي، دټولنیز موقعیت او عاداتو دکچې له مخې بورژوازي طبقې سره کلک تړاولري. په داسې حال کې چې ډېری کارمندان (ددولتي ادارو او دخصوصي موسسو اوشرکتونو ټیټ پوړي کارمندان اونور ) په پرولتاریا پورې تړلي دي، دغه راز کارمندانو ته معمولاً سپین کمیسه کارګران او دپرولتاریا همغاړي وایي.

**۵- لومپن پرولتاریا**

په پانګواله ټولنه کې دلومپن پرولتاریا په نامه یو بل قشر هم شته چې دپانګوالی ظالمانه زبېښاک له امله دولسي پرګنو دکور ورانـي پـه پایلـه کـې مـنځ تـه راغلـي چـې پـه دې ډلـه کـې سـوالګران، زناکـاران، غلـه، لنـډغر، کوڅـه ډبـي، جنایتکـاران اونورشامل دي. دوی هغه کسان دي چې دخپلې طبقې څخه غورزېدلي اوبېل شوي، ټاکلی او منظم کار نه لري او ددوی ژوند دناخاپي چارو لکه غلا، سوالګری اوځان پلورنې له لارې تېرېږی. څنګه چې د دغه قشر ډېری دګډې اډېا لوژي اړیکې اوطبقاتي پیوستون نه لري ارتجاع اوپانګوالی له دغو فاسدو عناصرونه دخپلـو موخـو دپـاره لکـه دفاشسـتي ډلوجوړولـو، پـه کـارګري اعتصابونو کې اعتصاب ماتولو اود ساسي اوټولنز ومخکښوکسانو له منځه وړلو او راز راز دسسو جوړولو لپاره ګټه اخلي.

په پانګواله سیستم کې طبقاتي مبارزې:

دمولده ځواکونود پراختیا او بشپړتیا اودسپکو اودرنو صنایعو پیدابښت سره زیات شمیر کارګروته چې دیو چت لاندې دیو بل تر څنګ کاروکړي، اړتیا زیاته شوه. په پایله کې داسې کارخونې منځ ته راغلې چې دسلګونو څه چې دزرګونو کارګرو،په کار ګمارلو ته یې اړتیا درلوده. په دې ډول تولید ورځ په ورځ زیا تیدونکې توګه لا ټولنزخوی غوره کړ. خودتولید پر وسایلو باندې خصوصي ملکیت یوې وړې ډلې پانګوالو ته امکان ورکړ چې د ملیونو نو انسانانو دټولنز کار محصول د خپل ځان لپاره ځانګړکړي. له دې کبله پانګوالا سیستم په یو ژور بنسټیز تضاد سره ځانګړی کیږي. دغه تضاد دتولیدپر وسایلو خصوصي ملکیت سره دتولید دورځ په ورځ زیاتیدونکی ټولنز خصلت دنه جوړښت څخه عبارت دی اودغه تضاد په مخینا کې دبورژوازي اوپرولتاریا

(چې دپانګوالې ټولنې بنسټېز ضدین دي) ترمنځ دتضاد په بڼه څرګندېږي. په پورتنیو تضادونو سربېره نور تضادونه هم په پانګواله ټولنه کې شتون لري چې غیراصلي تضادونه ګڼل کېږ ي، لکه د پانګوالوتضاد دفیوډالانو دپاتې شونو سره، دفیوډالانوتضاددبزګرو سره، دبورژوازي تضاد دوړوکې بورژوازي سره، دبزګرو او پرولتاریا تضاد دفیوډالانو سره، دټولنې د ټولو مخکښو عناصروتضاد دفیوډالانوسره او داسې نور.

دبورژوازي دولت

دولت په هره طبقاتي ټولنه کې چې ددښمنو طبقو څخه جوړ شوي، په ډېرى باندې دلږکي دواکمنې دیکتاتوري دستګاه ده. بوررژوازي دولت هم دهغو ټولو آزادي غوښتونکو عنوانونو سره سره چې پر خپل مخ یې خوروی له دغې قاعدې نه بېل ندی. بورژوازي دولت که دډیموکراسي په بڼه او که څه هم په نورو (دساري په توګه په فاشستي) بڼو سره وي په واقعت کې دټولنې ډېرو زیار کښو باندې دلږکې پانګوال دیکتاتوري ده.

بورژوازي ډیمو کراسي که څه دجمهوریت یا دمشروطیت په بڼه وي په عامه توګه ددریو ځواکونو څخه چې مقننه، قضائیه اواجرائیه نومېږي، جوړه شوې ده. مقننه قوه چې معمولاً له دوو پارلمانونو لکه مشرانو جرګه او ولسي جرګې څخه جوړېږي دهېواد لپاره ټول لازم قوانین تصوبوي. دقضائیې قوې دنده دټولنې په سازمانونو کې دوګړو په کړووړو دقوانینو پلی کول دي چې د سرغړونې په صورت کې دهغوی لپاره په قانون کې سزا ټاکل شوې ده. اجرائیه قوه ددولت دبېلا بېلو ادارو او وزارتخانو له هیئت څخه جوړېږي او دنده یې ددواړو جرګو د مصوبو او دقضاییه قوې دحکمونو اجرا کول دي. په حقیقت کې دبورژوازي ډیموکراسي بنسټیز ه موخه دپانګوالو دګټو ساتنه او دپرګنو ځپنه ده.

<u>په پانګوالي رژیم کې ښکېلاک:</u> دښکېلاک (استعمار) تاریخ په درېو پړاونو وېشل کېږي: لومړنی پړاویې دلومړنۍ پانګې دغونډولو په پېر پورې تړلی دی چې مخکې دفوډالزم په ړنګېدنه کې وڅېړل شو. دوهم پړاو یې دانحصاري پانګوالۍ (امپریالزم) نه مخکې پېر پورې اړه لري، چې زمونږ اوسنی بحث دی او دریم پړاو یې دامپریالزم په پېر کې دی، چې په خپل ځای به وڅېړل شي.

<u>۱- ښکېلاکګر ساستونه دانحصار نه مخکې پانګوالۍ په پېر کې:</u> دبورژوازي انقلاب اود پانګوالۍ سیستم دټینګښت نه وروسته، صنعتي انقلاب پېښ شو او ډېره وده یې وموندله. اوس نوه لوبه مسئله رامنځ ته شوه اوهغه دپرېمانه کالو دپاره دبازار او هغوسترو کارخونو دپاره د اومو موادو دسر چېنو موندل ؤچې په کار لوېدلې وې. صنعتي انقلا ب، دلېږد رالېږد او نړیوالو اړیکو دپاره، بې ساري وسایل منځ ته راوړي ؤ. دنړیوال بازار جوړېدل، دنااندولوله سوداګر ي وده، داوسپنې دپټلۍ پېداښت او دمظلومو ملتونو پرله پسې مبارزې، داټول دنوي ښکېلاک بڼو ته دلېږد نښې دي. دآسا، افریقا اولاتینې امریکې هېوادونه له نوې خوا په صنعتي هېوادونو کې دجوړوشوو مصنو عاتو په بازارونو اوله بلې خوانه ددوی دتولید دپاره داومو موادو پر تاروونکو سر چېنو بدل شول. دکمزورو ملتونو او مستعمرولوټول دآزادې سوداګري په بڼه (چې غېر عادلانه او دمظلومو ملتونو په زیان سرته رسېږي) دوام وموند. سره له دې دلوټماري پخوانۍ ظالمانه طریقې لااوس هم په بشپړه توګه له منځه لاړې نشوې. آزاده سوداګري دسوداګریزو کمپنیو (دپانګې لومړنۍ غونډېدنې په پېر کې اروپایې سوداګرو، پر آسیایي، افریقایي او امریکایي هېوادو کې سوداګریزه انحصار ټینګ کړی ؤ. دسار ي په توګه په انګلستان کې، دختیځ هند کمپنۍ، دهند سره سوداګر ي په بشپړه توګه پرڅان پورې

ترلې وه اوله دغه هېواد سره يې دنورو سوداګر و ىا هېوادونو دسوداګري مخه نوله) دانحصار له منځه تللو او دكورنيو صنايعو نه دملاتړ سياست دپای، نښه وه.

۲- دمستعمرو پراقتصاد د آزادی سوداګري اغېز:

مستعمرو ته دپرېمانه پلورتوكو واردېدلو په دغو هېوادو كې دپلورتوكو- پيسوترمنځ اړيكې پاوړې اوتېز ې كړې. فيوډالانو اودقبلو مشرانوهره ورځ دبلې په پرتله لازياته ګټه ترلاسه كوله. ددغه چار پاىله دبزګرو دزبېښاک سختوالی اوكورګډي وه. بزګران دبهرنيو پانګوالو، خپلو هېوادو دفيوډالانو اوسود خورو تر نيغ فشار لاندې اړ ؤ اومه مواد او خوراكي توكي دپانګوالو بازارونو دپاره تىار اوپه ډېره ارزانه بيه يې وپلوري.

دصنعتي پلورتوكو لوی سيلاب چې دزبېښاكګرو هېوادوڅخه مستعمرو اونيمه مستعمروته وړل كېدل،ددغو هېوادو لاسي صنايع او مانو فكتورونه يې، چې دپرمختللو هېوادو دصنايعو سره يې سيالي نشوه كولای، له ىېښو غورځول. ددغو هېوادو كورنۍ سوداګري هم دلاسي صنايعو سره يوځای مخ پر ځوړ شوه. دانحصار نه مخكې پانګوالۍ په دوران كې دمستعمره پانګوالۍ اړيكو پراختيا نه وه كړې. داهغه پير ؤ چې آزاده سوداګرى دښكېلاكګرو او مستعمره هېوادونو ترمنځ داقتصادی اړيكو بنسټيزه بڼه وه.

### دكارګرې طبقې دخپلواكه غورځنګ پيل

دكارګرې طبقې بڼه نيونه: داروپا پانګوالۍ دصنعتي انقلاب له كبله دخپلې ودې نوی عصر يعنې د ماشيني تولد عصر كې پيل كېښود. په ټولنه كې پانګوالۍ اړيكې واكمنې شوې او ددغو بدلونو نو سره يوځای پرولتاريا هم دخپلې مبارزې نوي ي

پړاوته ورننوته. بورژوازي دساسي پلوه هم دټولنې پر برلاسی ځواک (واکمن هیئت) واوښته. پرولتاریا چې دفیوډالیزم ضد مبارزې په بهیر کې، دخپل بنسټیز تضاد سره سره، بورژوازي سره، همغاړې وه ورو ورو یې دواکمنې بورژوازي پر ضد خپله مبارزه د نوې خپلواکې طبقې په توګه پیل کړه. دهمدغې پړله پسې مبارزې په بهیر کې ؤچې دغې طبقې پورې اړوند ایډیالوژی او ساسي سازمان یعنې مارکسیزم اوکارګري اوکمونیست ګوندونه جوړشول. کارګره طبقه یوځل په خپلو دندو او تاریخي رسالت نه پوهیږي. لومړی په هغو غورځنګونو کې چې د بورژوازي او وړوکې بورژوازي –روڼ اندو په مشري سرته رسیږي، ګډون کوي اوجوته ده چې دټولنې تاریخي بشپړتیایي بهیر ته په پاملرنې سره لومړی دبورژوازي ایډیالوژي تر اغیزې اونفوذلاندې وه خو ورو ورو ځان ددغه نفوذ څخه خلاصوي. مونږ دلته په ډېرلنډیز په نولسمه پیړۍ کې داروپادکارګرې طبقې دودې دځرنګوالي بېلګې او په پای کې دپرولتاریا دعلمي ایډیالوژي (مارکسیزم) پیدابښت اوبنسټ ابښودنه تر څېړنې لاندې نسو.

**په نولسمه پیړۍ کې داروپا کارګري غورځنګ:**

۱-دلودیزم غورځنګ: له هغه ځایه چې انګلستا ن دنورو هېوادوڅخه وړاندې دپانګوالۍ پړاوکې ګام کېښود دکارګرې طبقې غورځنګ هم مخکې له نورو هېوادوڅخه په دې هېواد کې منځ ته راغی. دټاکنوخاصو طریقود شتون له کبله فیوډالانو خپله واکمنې دانګلستا ن په پارلما ن (عوامومجلس) کې همغشان ساتلې او داسې قوانین یې تصوب کړل چې د بورژوازي په تاوان ؤ. په دې شرائطو کې بورژوازي اوکار ګرې پر ګنې یولاس دټاکنیزو قوانینو دسمون غوښتونکې شوې. له بل پلوه انګریز کارګره طبقه هم ورو

ورو پخپلـه داقتصادي-سـاسـي مبـارزو ډګـر تـه راوتلـه. کارګرانوپـه لومړي سرکې چې دتولنې اوطبقـو پـه اړونـديې ناسـم لـد درلـود، دماشـنو نو په ماتولو اودکارخونو په سوزولو سره يې خپلـه مبـارزه دکارغـر انساني شرائطو – لکه ۱۴ – ۱۵ ساعته ورځنی کار، دښځو اوماشومانو دکار دود اود مزدوري کمښت - ضد څرګندوله. هاغـه وخـت زيـاتره کـارګران لـه هغـو کورګـډو بزګـرو او کسـبګرو څخـه جوړيدل چې په تولـد کې دماشـن آلاتو دلګولو په اړتـا نه پوهېـدل اوماشـن يې دخپل ژوند دبد مرغي لامل انګېره اوله دې کبله يـې دماشينونو په ځپلو او ماتولو لاس پـورې کـاوه. دغـه غورځنـګ پـه لودېزم مشهور شو چې دېو افسانه يې کارګر لود دنامه نه اخسـتل شوی ؤ. لود دزبېښـاک لـه شـره دخلاصـون لپـاره پـه لـومړي ځـل خپل ماشـن لـه منځـه يـووړ. دا غـورځنـګ دومـره پراخـه شـو چې دمخنيوي لپاره يې دحکومت له خوا ډېرسخت قـوانـن، ان دمـرګ سزا وټاکله شوه.

۲- چارتېزم: څرنګه چې وول شـول د ۱۹ پېړۍ پـه پـل کـې دانګرېـز ی پرولتاريـا دټـاکنو قـانون دسـمون لپـاره فعالـه رول ولوبـاوه اووروسـته لـه هغـه چـې د ټـاکنو دطرېقـې دبـدلون لپـاره نـمګړی قـانو ن دپارلمـان نـه تېـر شـو –چـې پـه هغـه کـې بـا هـم دکـارګرو حقـوق لــه پامــه وغورځــول شــول – دصــنعتي ښــارونو کارګرانودخپلوځانګړو سازمانونو په جوړولولاس پورې کړ. ترڅو پـه کـال (۱۸۳۶) کـې دلنـدن دکارګروټولنـه جـوړه اوترجوړېـدوېو کـال وروسته يـې دټاکنو قانون د سمون لپاره نوه کـړنلاره وړانـدې کـړه چې دخلکو دمنشوريا "پيپل چارت" په نامه يـاد شـو. لـه دې کبلـه پر نوموړي کارګري غورځنګ دچـارتېزم نـوم کېښـودل شـو. ددغـه غورځنګ په ملاتړ کې پراخه لاريونونه او مټېنګونه جوړ شول چې کله به په هغو کې د۳۰۰تـر ٤۰۰ زرو کسـانو پـورې برخـه اخيسـتله.

په لومړي سر کې دمترقي بورژوازي استازو هم پکې برخه درلودده خوځې کله یې ددغه غورځنګ پراخ ولسي اړخ ولید او له بلې خوا یې دپرګنو د پرځای غوښتنو دمنلوسره ددولت اومجلس مخالفت وکوت نوځان یې څنډې ته کړ او په دې توګه یې خپل طبقاتي ماهت لاروښانه کړ. له دې وروسته دچارتېزم غورځنګ یواځې دټوکارګري غورځنګ په توګه رامنځ ته شو. دچارتېستانو ملي ټولنه په کال (۱۸٤۰) کې جوړه شوه. دغه سازمان په حقیقت کې دکار ګرې طبقې لومړنی جوړشوی سازمان دی کړنلاره او همیشنۍ اجراییه کمیټه یې لرله او غړي یې حرفه یې ؤ. دې انجمن دنوي منشور په جوړولو او څو انقلابي ګامونو سره وکړای شول څو برباوې لاس ته راوړي.

۳- په فرانسه کې کارګري غورځنګ: دفرانسې بورژوازي انقلاب دفیوډالزم سټه ونړوله خو پاتې شوني یې دفرانسې په اقتصادي او سیاسي ژوند کې پاتې شول. دناپلئون له پرځیدو وروسته بو واربیا زورواکی سلطنت ټینګ شو. البته دپاچا واک ددووجرګو په وسله ټاکل کېده. بو دمشرانوجرګه چې غړې یې پاچا ټاکل او بله یې د استازو جرګه دهغوغوره کسانو څخه چې لږترلږه کلنی عاید یې ۲۰۰ فرانکه وی او بو ه موده یې په ټاکلې سمه کې ژوند کړی وي. او استازوخپله باید ۷۰۰ فرانکه خپل کلنۍ عاید درلودلای. په دې ډول لیدل کېږي چې دفیوډالزم پاتې شوني دبورژوازي سره په بووالي کې دهېواد په اقتصادي-سیاسي برخو باندې دپام وړ کچې پورې واکمنې وې اوزیار کښه طبقې عملادټاکنې دحق نه بې برخې کېدلې. په ټولزه توګه فرانسه داقتصاد دلا پر مختګ لپاره په سیاسي نظام کې بنسټیز بدلون ته اړینه وه. پرولتاریا لومړی دبورژوازي سره په بو والی کې په هغو سازمانونو کې فعالیت کاوه چې دبورژوازي مخکښو عناصرو جوړول. خو ورو ورو یې خپل طبقاتي تضاد اوتاریخي تجربو ته په

پـاملرنې سـره، چـې لاسـته یـې راوړې وې، دځـانګړو سـازمانونو اواستوګن ځایونو په جوړولو لاس پورې کړ اودموجود نظام پر ضد بلواته راپورته شول. دلـون، پـارس او نـورو سـترو ښـارونو کـارګرو پاڅونونو تـه لاس واچـاوه، کـه څـه هـم دمـاتې سـره مخـامخ شـول خودفرانسې دکارګرې طبقې دپوهې کچه یې ډېره لوړه کړه اوهـواد یې په ټولنزه توګه دنو ټولنز انقلاب په لور پرمخ بوت.

۴- پـه آلمـان کـې دکـارګرې طبقـې غورځنـګ: آ لمـان دنونسمې پېړۍ په لومړیو وختونو کې له اقتصادي پلوه دفرانسې یـا انګلستان نه ډېر وروسته ؤ اویوموټی دولت یـې نـه درلـود. پـه دې هېواد کې دصنعت دلېږې ودې له امله کارګره طبقـه هـم لاوروسـته منځ ته راغله. سربیره پردې په آلمـان کـې دبـورژوازي دمـوکراسـي دنشـتوالي لـه املـه کـارګري سـازمانونه هـم لـه هېـواد څخـه بهـر جوړېدل (سوس اوانګرېزکې) لکه "د آلمان دخلکـو اتحادیـه" چـې هڅه یې کوله دآلمان دکارګري غورځنګ لارښوونه له بهرنه و کړي خو څنګه چې ددوي اړیکې دآلمان دمختلفو اايالاتو له کارګرو سـره کمې وې ویې نشـوکړای دکـارګرې طبقـې غورځنـګ تـه هـېڅ ډول مرستندویه لارښونه وکـړي. سـره لـه دې خپلـه کـارګرې طبقـې پـه آلمان، اوپه ځانګړې توګه صنعتي سمو، کې ځلانده مبارزې سـرته ورسولې. په آلمـان کـې دصـنایعو لاوده دفـوډالـزم بشـپړ ورکـاوي پـورې تړلـې وه. څنګـه چـې دآلمـان داتحـادیې حکومـت، چـې دفـوډالانو نـه جـوړؤ، اړینـو سـمونونو تـه یـې چمتـووالی نـه درلـود نوځکه پرته له انقلاب څخه بله لار، نـه وه پـاتې. پـه ټـولنزه توګـه د "کمونیستي مانیفسـت" تـر خپرېـدو مخکـې پـه اروپـاکې دکـارګرې طبقـې غورځنـګ خپـل سـری اړخ درلـود اوکـارګرولاهم دټـولنې اودټـولنې دبشـپړتیااوخپل تـاریخي رول پـه هکلـه ګډنړی‌لـد

اواندېالوژي نه درلوده، له دې کبله دهغوی کړنې خورې ورې او نامنظمې وې اومعمولاً دماتې سره مخامخ کېدلې.

په اروپا کې د (۱۸۴۹-۱۸٤۸) کلونو انقلابونه:

په دې کلونو کې داروپا په مختلفو هېوادو په تېره بیا فرانسه کې یوشمېر انقلابونه پیښ شول چې په هغو کې کارگرو فعاله اورغانده رول درلود. لومړی په فرانسه کې کارگرو نو څه برياوې لاسته راوړې او لوبه بورژوازي پرشاتگ ته اړه شوه خو په پای کې، (کال ۱۸۵۱)، د دریم ناپلئون کودتا سره په فرانسه کې نو ډول خپل سری حکومت منځ ته راغی اودسترې بورژوازي له حکومت څخه بورژوا دیموکراتنک حکومت ته دلېږ د مسئله لانحله پاتې شوه. په نورو اروپايي هېوادو، لکه اترش، آلمان، پولنډ، اتالیا اوهنگري کې هم انقلابونه پیښ شول خوټولوماتې وخوړه. سره له دې دغو انقلابونو وکړای شول په ټولوهېوادو کې د فیوډالي اړیکو پاتې شوني استه وغورزوي اود پانگوالۍ دلابشپړتیا او د کارگرې طبقې د ودې او پوهې سره مرسته وکړي. د (۱۸۴۹-۱۸٤۸) کلونو په ټولو انقلابونو کې ټاکونکی رول دزبارکښو پرگنو په تېره بیا دکارگرو پر غاړه ؤ اوپه دې انقلابونو کې دلومړي ځل دپاره کارگرې طبقې خپلې خپلواکه سیاسي اواقتصادي غوښتنې وړاندې کړې. په اروپا کې دنوموړو انقلابونو دماتې تر ټولو لوی سبب دلېبرال بورژوازي خیانت ؤ. دغې طبقې چې زیاتره یې دخلکو دغورځنگ نه گټې پورته کولې اود خپلو طبقاتي تنگ نظره گټو لپاره یې په انقلاب کې برخه اخستله، همدا چې دکارگرې طبقې دغورځنگ دودې سره مخامخ کېدل، پر شاتگ یې کاوه اوزورواکي سره په سازښت کولو او بېرته پرشا تللو سره یې خلکو ته خیانت کاوه.

**دمارکسسم پیدابښت**

(دپرولتاریا علمي ایډیالوژي)

دپرولتاریا ایډیالوژي مارکسسم لننیزم ده. مارکسسم دنونسمې پیړۍ په دوهمه نیمایې کې ددغه وخت ددریو علمي بهرونو پر بنسټ پراختیا اوبشپړتیا ومونده. د مارکسسم دغه درې بنسټه په دې ډول دي: دفرانسې انګېریال (تخلي) سوسالزم، دآلمان کلاسکه فلسفه اود انګریز ساسي اقتصاد.

۱-تخلي یا انګیریال سوسالزم (اوتوپیک): دنولسمې پیړۍ تر نیمایې پورې داروپا کارګره طبقه زیاتره دبورژوازي ایډیا لوژیو او یا انګیریال سوسالزم تر اغیزې لاندې وه. انګېریال سوسالېزم ډېر پخو امنځ ته راغلی ؤ. دغه مکتب، دپانګوالودزور زیاتي اوزبېښاک په وړاندې دکارګرې طبقې دغبرګون اونافرمانۍ بیانونکی ؤ. دانګېریال سوسالېزم لومړنیو استازو توماس مور، بابوف، کامپانلا، مورلي او نورودټولنې سختې ناانډولی نه چې انسان څخه دانسان پرزبېښاک ولاړه وه، په کلکه غندنه کوله اودنوې عادلانه ټولنې دمنځ ته راتګ غوښتونکي ؤ. ددوی په اند، نوې ټولنه کې بایده دي ټول خلک، دژوند ټولو کچو کې له اقتصادي، ساسي او معنوي پلوه برابروي. هغه لویه مسئله چې دوی نشو کولای حل یې کړي، داوه چې نوې ټولنه څنګه بایده دی ټنګه شي او دغه ټولنه یې دربښتانی ژوند نه لرې څیز انګېرله.

ددغه ډول اند نووتلی استازی توماس مور خپله راتلونکې ټولنه دیو خالي ټاپو (اتوپیا) په نامه ددغه ټاپو دیومسافر له خولې نه انځور کړېده اوله هغه وروسته د "اتوپیا" کلمه دغیرواقعي اونه ترلاسه کیدونکي څیزپه قطار کې راغلې ده.

سن سمون، رابرت آون اوفوریه اتو پک (انګېریال) سوسالېزم ته په نونسمې پېړۍ کې لاپراختیا ورکړه او واقعیت ته یې لانږدې کړ. دوی د پانګوالي ټولنې تضاد ونه کتل اوباور یې درلود چې بورژوازي انقلاب دزیارکښانو لپاره آزادي او برابري نده ډالۍ کړې، دوی په پانګواله ټولنه باندې دشرم داغ لګاوه، د هغې کرغېړنتوب او ناولتیا یې په ډاګه کوله او پرځای یې دزیېښاک او طبقاتي مبارزې نه خلاص ښونو ی نظام غوښت.

دمارکسېزم (علمي سوسیالېزم) دغو مخکښانو (دکار په مقابل کې دتولیدشوو مادي شتمنیو وېش) داصل پلي کولو او دخلکو د اساسي اړتیاوو پوره کولو دپاره دتولید دبشپړتیا اهمیت درک کړی ؤ او ان یوې دغسې ټولنې ته درسېدو دپاره یې دځینولارو وړاندیز کاوه.

سره له دې انګېریال سوسیالیستان ونه توانېدل په ټول حقیقت پوه شي، ځکه دټولنی نه یې علمي خیال نه درلود او په طبقاتو باندې دټولنې دوېش علمي علت یې نه پېژانده. دلوړو طبقو دشتون آر (منشاء) یې دځنو زور واکو شیطاني طبیعت ګانه چې یا خو یې دزور اویا یې دنورو لارو نه شتمني او ان دکمزوره خلکو ځان په خپلې ولکې کې راوستی دی. اوپه دې باور ؤ چې دلوړوطبقو دغه وګړي دانسانانو منځ کې پر یوشانته والي او برابري ولاړه اودتضادونو نه خلاصه ښوه ټولنه کې دژوند دخوند نه ناخبره دي اوله دې کبله دټولنې دتضادونو دحلولو او عدالت دټینګولو رښتونې لارې دموندلو نه عاجز ؤ او داسې یې انګېرل چې شتمنو ته په پند او نصحت ورکولو او دبېلګه ښزو ښونټونو په جوړولو سره کولای شي دطبقاتي تضادونو نه خلاصه ټولنه جوړه کړي. دوی دطبیعي اوټولنیزو قوانینو په توپیر نه پوهېدل او په دې باور ؤ چې کولای شو ټول انسانان په ښو خلکو او بدو خلکو

ووېشو. تخلي سوسیالستانو نه شو کولای د پانګوالې ټولنې پربشپړتیا باندې واکمن قوانین اوهغه ټولنیز ځواک چې دپام وړ ټولنې دجوړولو وس لري، کشف کړي. داټول هغه کشفات دي چې مارکس، انګلس اودعلمي سوسیالیزم نور مشران یې په موندلو بریالي شول.

۲- د آلمان کلاسکه فلسفه: فلسفه داسې پوهه ده چې دطبعت، بشري ټولنې او تفکر تر ټولو عام قوانین څېړي. دوخت په تېرېدو سره طبعي او ټولنیز علوم دبشپړتیا داسې کچې ته ورسېدل چې دنوې سمې علمي فلسفې دپېدابښت لومړنی توکي (مقدمات) یې شوني کړل. دساري په توګه په۱۸-۱۹ پېړۍ کې په طبعي علومو کې دریو مهمولاس ته راوړنو (کشفونو)، د نوې ماترپالیستي فلسفې دپېدابښت بنسټونه رامنځ ته کړل. دانرژي او مادې دپایښت قانون چې دشوروي پوه "لومونوسف" اودفرانسوي پوه "لاوازیه" په واسطه کشف شو، ثابته کړه چې هېڅ شی پخپل سر منځ ته نه دی راغلی او هېڅ شی له منځه نه ځي بلکه یوازې دیو حالت نه بل حالت ته بدلون مومي. دمادې دپایښت قانون وښودله چې ټولې پدیدې دمادې دخوځښت اوبدلون دبېلې پرته بل څه نه دي او هېڅ خالق ندي پیدا کړي، بلکه تل ؤ او وي به. دوهم کشف، دژوندیو موجوداتو دجوړښت واحد "دژوندیېنکې کشف" دی چې د روسي "ګاریا ننیف" او آلماني "شلایدن" او"شوان" لاس ته راوړنه ده. دې مسئالې په ډاګه ثابته کړ ه چې ټول ساکښ اوګیاه دژوندینکې په نامه یوه ګډ آر (منشاء) لري اوحجره هم دمختلفو مادي عناصرو پرته بل څه نه ده چې په ځانګړي جوړښت سره یې یونوی کیفیت د "ژوند" په نامه منځ ته راوړی دی. په بله ژبه ثابته یې کړه چې ژوند هم دمادې دخوځښت یوه بڼه ده. داروین دساکښنو د بشپړتیا علمي نظر یې

په وړانـدې کولـو سـره چې دعلمـي ازمېښـتونو اولاس ونـدونو (مدارک) پر بنسـټ ولاړه وه، دطبعـي علوموپـه درـم لـوی کشـف بریالی شو. داروین په خپلـو پرلـه پسې ازمېښـتونو ثابتـه کـړه چې اوسني راز راز ژوی او ګاوې د هماغې لـومړنۍ ژونکې لـه بشـپړتیا څخه منځ ته راغلي، دژونـد دپاښـت دپاره ددوی دوامـداره هڅې دهغوی دبشپړتیا سبب شوې دي. دېو دغه شان علمي پرمختیاوو تراغېزې لاندې د دوو آلماني فلسوفانو هګل او فوېرباخ نظریـات څرګنـد شـول. هګـل لـه نـوو علوموڅخـه دګټې اخیسـتلو طریقې (تضاد، بدلون او بشپړتیا، ېوله بل سره د ښکارندو یا پدیدو تړلتـا اونور) دطبعت اوټولنې دښکارندو (پدېدو) په څېړنه او شـننه کې و غځولې او دډالکتک یې نوې لوړې کچې ته اوچت کـړ. خوهګـل دخپـل ایډیالیسـتي بـاور لـه املـه داسې انګېرلـه چې مـادي نـړۍ دمطلقې اېډیا اوټولنـزشعور تجسم دی اودمادي نړۍ بشپړتیا هـم دهماغې "مطلقې اېډیا" او "ټولنـز شعور" دبشـپړتیا غبرګـون دی. فوېر باخ دماتریالزم دفلسفې په پـر مختـګ، ترقي اوبشـپړتیا کې ډېره لوېه ونډه لـري. ده د هګـل دایـډیالـزم پـه غندنـه کې دخپـل ځـانګړي ماتریـالـزم بنسـټ کېښـود. ده بـاور درلـود چې مـاده اوطبعت دانسان دشعور نه دبانـدې او خپلواکـه شـتون لـري. خـو فـوېر بـاخ دهګـل دایـډیالـزم څخـه پرڅنـډه کېـدلو سـره سـره ونـه توانېد دده د دیالکتک نه ګټه واخلي. فوېر بـاخ دټـولنـزو مسـائلو په پوهېدلو کې ایډیالیست پاتې شو. ده دانسان دټولنـز ې بشپړتیا بنسټ دمادي تولـد پـه وده کې نـه، بلکـه پـه شـعور اومـذهب کې لټاوه. په همدې سبب پـه داسې حـال کې چې خـدای اوعسـوي مذهب یې رداوه، دنوې ټولنې دجوړولو لپـاره دانسـانانو دمـنـې پـر بنسټ دېو نوي مذهب دبنسټ ایښودلو په هڅه کې ؤ.

۳- دانګرېز ساسي اقتصاد: دپانګوالۍ دتولید طریقې بشپړتیا، دعلم یوې نوې څانګې یعنې ساسي اقتصاد دبشپړتیا سره مل وه. په هغه وخت کې چې بورژوازي دیوې مخکښې طبقې په توګه دفیوډالزم مخې ته ولاړه وه دپانګوالۍ تولید پر بشپړتیا باندې دواکمنو قوانینو علمي پېژندګلوي او فیوډالي تولیدي اړیکو نابودي سره یې مینه ښودله او دغه وخت ؤ چې د بورژوازي اقتصاد علم، بنیه ونیوله. بنسټ ایښوونکي یې انګرېزي پوهان "آدام اسمت"، "دیوید ریکاردو" او نورؤ. لکه دیوپلورتوکي دتولید دپاره سرته رسیدلی کار اودهغه دارزښت دکچې تر منځ اړیکې په څېردبورژوازي ساسي اقتصاد ډېرمهم قانون کشف کړ او د بشري اړیکو د ډېرې مهمې څانګې یعنې د تولیدي اړیکو علمي مطا لعې بنسټ یې کېښود. دټو لنزوعلومو نوروڅانګو لکه تاریخ، حقو ق او داسې نور و هم لا زیاته وده وموندله.

دمارکسزم – لنینیزم پیدایښت چې دستر و بنسټ ایښود ونکو، مارکس او انګلس په وسله د پرولتاریا د انقلاب په ښوونځي بدل شو، یوه ټولنزه انقلابي نظریه ده چې دریو لویو برخو (فلسفې، ساسي اقتصاد او دعلمي کمونزم تیوري) نه جوړه شوې ده.

دمارکسېزم فلسفه:

دمارکسېزم فلسفه دډیالکتیک ماتریا لېزم او تاریخي ماتریالېزم څخه جوړه ده. دمارکسېزم دتیوري ستېه دډیالکتیک ماتریالېزم فلسفي پوهه ده چې پر طبعت، بشري ټولنې او شعور باندې واکمن عام قوانین بیانوي. مارکس اوانګلس دفلسفې په تاریخ کې دلومړي ځل لپاره ماتریالېزم او ډیالکتک ته په پوهوی (آګاهانه) یووالی ببنلی او هغه قوانین یې کشف کړل چې په ټولنز ه توګه دانسا ن، ټولنې او طبعت دبشپړتیا او خوځښت پرنړۍ

واکمن دي. ډیالکتک ماتریالیزم لـه دې کبلـه ماتریالستي دی چې باور لري طبعت دهېڅ ځواک پـه وسـله نـه دی پـدا شـوی، تـل ؤ او تـل بـه وي او شـعور پـه لـوړو پـړاو ونـوکې دمـادې د ودې محصـو ل دی. مـاده او شـعور دخپلـو دننـیـو تضـادونو پـر بنسـټ بشپړتـامومي او دغه بشپړ تـادکمي بدلونونوپه توګه دی چې په نـو ټاکلي پړاو کې دکیفی ټوپ (نو حالت نـه بـل حالـت تـه بـدلون) پـه توګه منځ ته راځي. مارکس او انګلس دټولنې دبشپړتیا پرواکمنو قوانـنـو بانـدې دډیالکتـک ماټریـالیزم پـه غځولـو سـره د تـاریخي ماټریـالزم بنسـټ کېښـود. تـاریخي ماټریـالزم لـه دې کبلـه ډیالکتکي دی چې بـاورلري بشـري ټولنې دخپلـو دننـنـو تضـادو نوپر بنسټ بشپړتیا مومي او دغه بشـپړتیا دکمـي بـدلونونو پـه بڼه دی چې په ټاکلي پړاو کې دکیفي ټوپ (انقلاب) په بڼه دـو ټولنز چوکاټ نه بل چوکاټ ته بدلون مـومي. تـاریخي ماتریـالزم لـه دې کبلـه ماتریالیسـتی دی چې بـاورلری دبشـر ي ټولنـو بشـپړتیا پـه لومړی درجه کې دهغو دمادي تولیـد طریقې دبشـپړتیا او دټـولنې دننـنو عواملو دودې تـر اغېـزې لانـدې سـرته رسـېږي نـه د ټـولنز شعور په وسله. شعور په خپلو ټولو بڼو کې دمـادي تولـد دبشـپړ تـا د کچې سره سم بشپړتـا مـومي. دمـو لـده ځواکونـو بشـپړتـا د ټولنې داړیکو او مخبنا ټاکونکې ده. تاریخي ماتریـالزم د ټـولنې پـر پراختـا او بشپړتـا باندي واکمن عام قوانـن څېړي.

مارکسستي ساسي اقتصاد:

سـاسـي اقتصـاد هغـه پوهـه ده چـې دټـولنې بېخبنـا (واکمنې تولـد ي اړیکې) د پلټنې او څـړنې لاندې نسـي. داپوهـه هغه قوانـن څېړي چې دټولنې د بشپړتیا په ببلابېلـو پـړاو ونـو کې دمادي نعمتونـو دتولـد پـه طریقې او دهغـه دوېش پـر څرنګـوالي پورې اړوند دي. په عین حا ل کې ساسي اقتصـاد دمولـدځواکونو

اوتولید ي اړیکو ترمنځ اړیکې او دمخبنا او بېخبناترمنځ اړیکې تر څېړنې لاندې نسي. څرنګه چې دلته اقتصاد نو طبقاتي علم دی له دې کبله ساسي لفظ ورباندې زیاتوي.

مارکسستي ساسي اقتصاد په پانګوالو هوادونو کې دکارګرو او په نورو پخوانو طبقاتي ټولنو کې دنورو زیارکښا نو داسارت او بندګي دنېستي او محرومي مادي علتونه روښانه کوي او ښيي چې دبشر دتاریخ په اوږدوکې په زیارکښوطبقو باندې زورزیاتی نو تصادفي او نا آسماني چار ندی بلکه دزبېښاک ګرو رژیمو او دلږکي (اقلیت) په وسله د ډېری (اکثریت) استثماري اړیکو دشتون معلول ؤ. او نوازې نه پخلا کېدونکې طبقاتي مبارزه، دطبقاتي رژیم (پانګوالۍ) له منځه وړل او دپرولتاریا ددکتا توري ټینګېدل دي چې زیارکښان له زبېښاک څخه ژغوري.

دعلمي کمونېزم تیوري:

دا علم د ساسی اقتصاد او تاریخي ماتریالېزم نه لاسته راغلو پایلو پر بنسټ د پانګوالۍ رژیم اړینه ړنګېدنه ښیی. علمي کمونېزم ثابتوي چې پانګوالی سستم نوازې دقهر نه ډک انقلاب له لارې سوسیالېزم ته اوړي اوله دې کبله په دې اوښتون او دپرولتاریا دکتاتوري باندې واکمن قوانین څېړي. با بانوي چې څه ډول باید کمونستي نوې ټولنه جوړه شي. ددغې مسئلې په بانولو کې دعلمي کمونېزم تیوري دغه دری دندې سرته رسوي: دنوې ټولنې دمادي اوتخنکي بېخبنا د جوړولو طرنقې، دکمونیستي ټولنې د ټولنزو اړیکو جوړښت او دنوي ډول انسان د چوکاټ جوړونه. دعلمي کمونېزم دتیوري په جوړونې اوپه عام ډول د مارکسېزم په ودې کې د اروپا د مختلفو هېوادو په ولسي انقلابونو کې د کارګرې طبقې مبارزې اوپه تېره با دفرانسې دپرولتاریا مبارزې؛ اوددغو مبارزو له ودې سره جوخت دکارګرې

طبقې دمبارزو سازمانونو جوړېدل؛ په ځانګړې توګه دکمونستانو اتحادیه اولومړی انتر ناسونال اوپه پای کې دپارس کمون داهمت لرونکي دی چې هغو ته لنډه ګو ت نیونه کوو.

دپارس کمون:

دنولسمې پېړۍ په نیمایې کې د فرانسې زورواکي (استبداد) دولسي پرګنو دغوښتنو په وړاندې ولړزیده او دریم ناپلیون دکورنو ستونزونه دخلکو دپام اړولو دپاره پروس (آلمان) سره جګړې ته ور ودانګل اوځنګه چې اردو یې دغسې جګړې ته تیاری نه درلوده اودخلکو پرګنو هم ورځنې ملاتړ نه کاوه، دبشپړې ماتې سره مخامخ شو. د (۱۸۷۰) کال سپتامبر کې دفرانسې داردو دماتې خبر پارس ته راورسېد. د قهرجنو خلکو پر ګنې واټونو ته راووتلې او مقننه مجلس یې په خپلې ولکې کې راوست. دفرانسې بورژوازي د پرګنو ددغه غور ځنګ نه په خپله ګټه کار واخست او د«ملي دفاع دولت» په جوړولو سره یې دجنرا ل تر وفو په مشرۍ حکومت په لاس کې ونیو. دپارس کارګرو هم دخپلوځانګړو ساز مانونو په جوړولو لاس پورې کړاو په انترناسونال پورې اړوند ساز مانونودپارس په دوو برخو کې دپروس (آلمان) اردو دیرغل په وړاندې دمقاومت او تیارسۍ ټولنې جوړې کړې چې په سرکې یې دښار دمرکزي انجمن (پارس کمون) لاربنود پلاوی ځای درلود. کمون ژمنه وکړه چې دپارس په دفاع کې به دولت سره مرسته کوي اوپه عین حال کې یې دخپل عمل کړنلاره اعلام کړه چې دهېواد دفاع لپاره دولسونو په وسله وال کولو، دپولس ړنګولو او دښاردمرکزي انجمن یا کمون سملاسي ټاکنو باندې ولاړه وه. دپروس لښکرو پارس کلابند کړ، دکارګرو داتلولي دفاع سره سره، پای کې دبورژواز ي دولت دخیانت له کبله د تروفو د سرتېرو له ماتېدلو سره فرانسې ماتې

وخــوړه. دفرانسـې دملـي مجلـس ټـاکنې دآلمـان داردوپـه مرسـته ترسره شوې او داسې مجلس چې په بشپړه توګه یـې ارتجـاعي بڼـه درلوده منځ ته راغی. د "تي ىر" په مشـرۍ ىـوه کابىنـه جـوړه شـوه چې سمدلاسه یې آلمان سره دسولې تـړون لاسلـک کـړ او وپتلـه شوه چې دپارس ځنې سـمې تـر ىـوې مـودې پـورې نيـواک کـې پاتې شي. ملي ګارډ خپلې وسلې ونـه سپارلې او ددغـه خـانـت پـه وړاندې یې دمبارزې او دریځ هوډ وکړاوسره له دې چې تـي ىـر زور ته لاس واچاوه زیار کښان تسلـم نه شول بلکې بـرخلاف، دپـارس کنټرول یې عملا په خپل لاس کې واخست.

دملـي ګـارډ فدراسـون (پـارس کمـون) لاربنـود پـلاوی دانجمـن لپـاره دټـاکنو کولـو تـه مـلا وتړلـه اوسـرببره پـردې خپلـه کـړنلاره یـې پـه دې توګـه اعـلام کـړه: دنـورو ښـارنو سـره داړیکـو ټینګول، دټولـو دولتـي مقامـاتو دټـاکنو لپـاره انتخابـات، دحرفـوي اردو او پولسو له منځه وړل. دمزدورکاري او چړګری (ګدایې) لـه منځه وړل اوداسې نور.

دپاریس کمون دټولنې لپاره دخلکو ټاکـل شـوی اسـتازی ۸٦ تنه چې زیات یې دکارګرو، کارمندانو اود آزادوکسبګروله منځـه ؤ او نـږدې نیمـایي یـې لـه ساسـي پلـوه دبلانکـي [۱] اوپـرودن[۲] لـه پلوىانوڅخه وو.

[۱] بلانکی دبلانکستانو دانجمن بنسټ ابښودونکی اودفرانسې دتخلي (انګېریالو) سوسـالستانو څخه ؤ. هغه په دې باور ؤچې دولتی واک باید دمترقی اومخکښنو عناصرو په لاس کې وي او دولسي پرګنو ملاتړته اړتـا نشته.

[۲] پرودون- دفرانسې د وړوکې بورژوازي نامتو اقتصاد پوه ؤ چې دده دمکتب پلوىان، پرودونستان بلل کیږی.

ټولنې (پارس کمون) دواک تر لاسه کولو وروسته، پخوانی دولتی دستګاه ړنګه اوپر ځای یې خپل حکومتي ارګانونه کښنول. دکارخانو دڅښتنانو لاسونه یې کارخانو نه لنډ اواداره یې کارګرو ته پرښوده. دکارګرو دکارشرایط یې ښه کړل اودنوي دولتي مقاماتو تنخواه یې دماهروکارګرو ترکچې راټیټه کړه. تش اپارتمانونه یې اړوکورنو ته ورکړل اوداسې نور.

<u>دپارس دکمون ماتې:</u>

د تي ر بورژوازي حکومت، دپارس کمون دورځ په ورځ زیاتیدونکي ځواک په کتلو سره، د آلمان صدراعظم بسمارک سره سازښت وکړ، اودټولنې (کمون) د ځپلو لپاره یې فعالانه تیاری ونوله. په ۲۸ مې کال ۱۸۱۷ د اردو دپراخه برغل په وړاندې، دپارس کمون زړه ورتیانه ډکې دفاع سره سره، په پای کې د پارس کمون حکومت راوپرځید. دپارس کمون دماتې لوی علتونه په ټولنزه توګه دادي: دواک ترلاسه کولو لپاره دولسي پرګنو او کارګرو دتیاري نشتوالی، په کمون کې دمختلفو ګوندونو شتون چې دځنو مهمو مسئالو لکه دټوسوسیالستي حکومت او دنوي طرز دولتي سازمان جوړښت دځرنکوالي په اړه یې نود بل سره هم غږي نلرله. دکمون له وتلو مشرانو نه هیڅ نو په علمي فلسفې او ایډیا لوژي سمبال نه ؤ او دټولنې دبشپړتیا له قوانینو نه یې پوره پوهه نه درلوده. دکمون ډیری غړي دطبقاتي همکاري پلویان ؤ. بلې خوا نه کمون ونشوکړای دبزګرو سره پیوستون ټینګ کړي او په دې هکله یې دولتي کړنلاره جوړه نکړه اوهم مخکې له دې چې دښمن ته کلک ګوزارونه ورکړي په ټاکنو یې لاس پورې کړ، ملي بانک یې ونه نیوه او دپیسو له پلوه تنګسیا سره مخامخ شول اوپه پای کې دمختلفو ولایتونو سره یې اړیکې ټینګې نه کړې.

سربېره پرهغه څه چې ووېل شول دپارس کمون خپلې طبقې پورې دتړلي دولتی ځواک جوړولو لپاره د پرولتاریا لومړنۍ هڅه وه. اوله دې کبله د هغه نه لاسته راغلې تجربې د علمي سوسالزم د ودې او د پرولتاریا دکتاتوري دټینګښت لپاره ډېر داهمت وړدي او یاد به یې تل په تاریخ کې پاتې وی.

دکمونستانو اتحادیه:

څنګه چې په لنډه توګه مو وکتل دمارکسزم دپیدائښت نه مخکې، پرولتاریا خپلواکه ګوند اویا ساسي تشکلات نه درلودل. که غوښتل یې اوکه نه یې غوښتل په وړوکې بورژوازي اوبورژوازي پسې راښکل کېده. دپرولتاریا دګوند یا ساسي سازمان جوړول آسانه کار نه ؤ. په تېره بیا چې دوړوکې بورژوازي او انګېز والو راز راز ناسمو اوتخللي نظرباتو د اروپا دپرولتري انقلابیونو پرچاپېریال باندې سوری غوړولی ؤ. ددغو ناسمو خو په عین حال کې اغېزمنو نظرباتو له جملې نه د "پرودون" نظربات ؤ.

پرودون: پرودون دفرانسې دانګېزوالو سوسالیستانو له ډلې اودوړوکې بورژوازي ماهیت لرونکی ؤ. ده دپانګوالۍ پرسستم دسختونیوکو او تودو جملو په واړندې کولو او پرولتاریا ته دځلوب (سراب) په انځورولو سره دپرولتاریایې مبارزینو په تېره بیا دفرانسوي ځوانانو او محصلانو پراخه قشرونه دځان پر شااو خوا راټول کړي ؤ. او په خپلو انارشستي او وړوکې بورژوازي نظرباتو سره یې هغو ي بې لارې کول.

مارکس، دپرودون "د بیوزلتوب فلسفه" په ځواب کې په خپل اثر "د فلسفې بیوزلی" تر عنوان لاندې دده د وړوکې بورژوایي نظربات وټکول او په ترڅ کې یې دخپلو فلسفي اواقتصادي اندونو ډېر ټکي بیان کړل.

د کمونستي اتحادیې جوړښت: مارکس اوانګلس دټولو نورو انقلابانو څخه مخکې په دې فکر کې ډوب شول چې لازمه ده داروپایې هوادو دانقلابانو ترمنځ منظمې اړیکې اوپیوندونه ټینګ کړي څو دپانګوالو "سپېڅلی اتحاد" په هر وخت کې هلته اودلته دپرولتري غورځنګونو دځپلو توان ونلري. په دې موخه لومړی "دکمونستي اړیکو دکمیټو" ترسرلیک لاندې کمیټې په بروکسل کې دمارکس په مشری جوړې شوې چې دنده یې داروپا دکارګري سازمانونو او له دغې جملې د انګریز له چارتستانو سره د اړیکو ټینګول ؤ.

دمترقي سازمانونو نه یو د "نیاوګرو اتحاد" ؤ چې دانګېریالوکمونستي عقایدو لرونکی یو پټ سازمان ؤ چې د"وایتلنګ"په نامه یو آلماني درزي جوړکړی ؤ. دغه ډله په عامه معنی دعدالت دټینګېدو پلوی وه او غوښتل یې دانسانانو منځ کې دطبقاتي تړاو پرته برابرې اړیکې ټینګې شي، ټول نکمرغه اوسوکاله وي اوداسې نور. ددې سازمان شعار داؤ:"ټول خلک یوډول (برابر) دي". جوته ده ترهغه وخته چې دمارکسزم عقاید و لاښه نه وه نـولې، دوایتلنګ عقایدومثبت رول لوباوه. مارکس اوانګلس ډېره هڅه وکړه څوددغې ډلې مشران دطبقاتو په هکله ددوی د انګېرنو په ناسم والي او کچه (خام) والي وپوهوي او دنړیوالې پرولتاریا تاریخي رول ور وپېژني.

دمارکس اوانګلس دزده کړو له کبله ددغه سازمان ډېرو غړو مارکسزم ته مخه کړه. نورې غوښتنې او اړتیاوې په پای کې د"کمونستانو اتحادیې" په پیدابښت سرته ورسېدې.

دکمونستانو اتحادیې"علمي کمونزم" ته دانګېریال (تخیلی) کمونزم په بدلون کې ستر رول ولوباوه او "ټول خلک یو

ډول دي"شعار" دنړۍ کارگرانو سره یو شئ" پر شعار باندې بدل شو.

دکمونیستانو اتحادیې یوه اساسنامه جوړه کړه. ددغې اساسنامې په لومړۍ ماده کې داسې ویل کیږي: "دکمونستانواتحادیې موخه: دبورژوازي راپرځول اودپرولتاریا دواکمني ټینگول، دزړې بورژوازي له منځه وړل چې په طبقاتي نه پخلا کیدلو باندې ولاړه ده. دبورژوازي، او دطبقو او خصوصي مالکیت پرته دیوې نوې ټولنې بنسټ ایښودل".

د "کمونستانو اتحادیې" لومړنۍ کنگرې مارکس او انگلس ته دنده ورکړه چې دسازمان مرام لیک مرتب کړي. دغه مرام لیک د "کمونست گوند مانیفست" په توگه خپور شو او په دغه مانیفست سره په تاریخ کې دپرولتاریا دنړیوال غورځنگ، نوی پیر پرانستل شو.

**دکمونست گوندمانیفست:**

مارکس او انگلس دکمونست گوند مانیفست دجوړولو لپاره په ماشتو ماشتو وخت ولگاوه ترڅودغه مهم تاریخي اثر دلومړي ځل لپاره په کال (۱۸٤۸) دمارچ میاشت، په لندن کې، په آلماني ژبه او بیا په نورو ژبو خپور شو. په رښتیاچې دغه (۲۳) مخیز اثر یودمارکسستي ډیرو مهمو آثارو څخه دی چې تراوسه یې په لسگونو اوبلکې په سلگونو میلونو نسخې په ډیری نړیوالو اوسمه سزو ژبو خپرې شوې دي. دغه ستر اثر دمارکس او انگلس دعلمي لاسته راوړنو دهغه وخت ترټولو اوچت ټکی دی.

دکمونست گوندپه مانیفست کې دلومړي ځل لپاره دمارکس او انگلس زده کړې په منظمه توگه وړاندې شوې دي. په دې کتاب کې دمارکسزم درې برخې - یعنې مارکسستي فلسفه،

علمي کمو نـزم او مارکسسـتي اقتصاد نـو تـر بلـه پـه ديـالکتـکي کلکو اړیکوسره دمنظمې زده کړې په بڼه راغلې دي.

دکمونسـت گونـد مانیفسـت پـه نـوه سـرېزه اوځلـورو فصلونو کې مرتب شوی دی. ددغه اثر په سرېزه کې هغه چاپېریـال چې په هغه وخت کې په اروپا باندې واکمـن ؤ پـه ډېره لنډه توگـه بیان شوي، له هغې څنې په سرېزه کې داسې لیکل شوی دي:

"اوس هغـه وخـت رسـېدلی دی چـې کمونسـتان خپـل اندونه، موخې اوهیلې دټولو نړیوالو په وړاندې په ډاگه بیـان کـړي اودکمونزم دڅېرې (شبح) کیسې پرځای دخپل گونـد مانیفسـت وړاندې کړي".

"بورژوایان او پرولتاریا": دمانیفست دلومړي فصل عنوان دی. پـه دې فصـل کـې دبشـري ټـولنې اوپرولتاریـا یـي غورځنـگ دبشـپړتیا څخـه نـوه ټـولیزه څېړنـه وړانـدې شـوې ده. تـاریخي ماتریـالېزم پـه منظمـه او د منلـو وړ توگـه جمعبنـدي شـوی اوداحقیقـت پـه ډاگـه اعـلام شـوی دی چـې ټـول تـاریخ (دلـومړي کمون نه دتیریدو وروسـته) یعنـې دبشـر جـوړکړی ټـول تـاریخ پـه طبقاتي مبـارزو ولاړدی اوددغـه طبقـاتي نـه ودرېـدونکو مبـارزو لـه کبله په بشري ټولنه کې ټولنیز، اقتصادي جوړښتتونه (صورت بند ي) نو دبل ځای نسي. دمرستوب سستم لـه منځـه ځـي اوځـای یـې دفـوډالیزم سسـتم نسـي چـې هغـه خپـل ځـای دپـانگوالی اقتصـادي- ټـولنیز سسـتم تـه ورکـوي اولـه هغـه وروسـته دادسوسالېزم ټولنز سسـتم اوپـای کـې کمـونزم دی چـې ټولـه نـړی بـه ونسـي. پـه دې فصـل کـې مـارکس اوانگلـس دپرولتاریـا تـاریخي رول بـانوي اوپـه ډاگـه ښـئ چـې هغـه نـوازنیطبقـه چـې دپـانگوالې ټـولنې دبشـپړتیا پـه بهـر کـې دکمـي او کیفـي پلـوه دبورژوازي په وړاندې وده کوي، اوهغـه نـوازنی طبقـه چـې تـر پـای

پـورې انقلابـي ده، تـرتـه نـه گـوري، راتلـونکې بشـپړتیا غـواړي، دبشپړتیا په بهرکې انقلابي پـوستون مومي اودبورژوازي سـسـتم دله منځـه وړلـو اودسوسـا لسـتي نـوي سـسـتم اوپاى کـې دبې طبقې ټولنې دبنسټ ایښودلو وس لري، هماغه پرولتاریا ده. دوی وښودله چې پرولتاریا داسې طبقه ده چې نورټولنز طبقات اواقشار پرځـان بانـدې راټولـوی اودآزادي ښـونکي انقـلاب پـه لـوریې لارښوونه کولای شي.

"پرولتاریـا او کمونسـتان": دمانفسـت ددوهـم فصـل سـرلیک دی چـې دکمونسـتانو اړیکـې دکـارگرې طبقـې سـره او دپانگوالې ټولنې دبدلون دپاره دکمونسـتانو کـړنلاره بـانوي. پـه دې فصـل کـې مـارکس او انگلـس یادونـه کـوي چـې کمونسـتان دټولې پرولتاریـا نـه بیلې او دکـارگري گونـدونو ضـد هـیڅ راز گټې نلري. او نورو تش په نامه کارگري گوندونو سره یې تـوپیر پـه دې کې دی چې دوی په پرولتاریایی انتر ناسونالزم باور لري اودټولې پرولتاریـا گـډې گټـې، پرتـه ددوی دملـت نـه، پـه پـام کـې لـري او سربېره پر دې کمونستان داښه توب لري چې پـه انقلابـي تـوري سمبال دي. دوی د ربا اوټگي هغه پرده چې بورژوازي اوپه تېره بیا "ددوی سوسـال دمـوکرات" اسـتازي یـې دپـانگوالې ټـولنې پرترخوواقعـاتو بانـدې غـوړوي، ایسـته غورځـوي اوددې ټـولنې ماهیت چې دزیارکښانو په ظالمانه زبېښاک، دوروسته پاتې ملتونـو پـه لوټمـارۍ، اودپـسـو پـه واکمنـي او تـر ټولـو بـدو اخلاقي اصـولو باندې متکي دي، په ډاگـه کـوي. دوی څرگنـدوی پـه کمونسـتانو باندې دبورژوازي تورونه چې گنې کمونستان دملکت د اصـل پـه له منځـه وړلوسـره، شخصـي آزادي لـه منځـه وړي، ملـت اووطـن نابودوي او ښځې شریکې کوي، داټول د وړې بـورژوازي د ماهـت څخـه سـرچینه اخلي. دا پخپلـه پـانگوال دي چې دټولنې دډېرى

آزادي له منځه وړي، دټولنې د غړو نهه پر لسو نه (۱۰/ ۹) ملکت سلبوي او د پرولتاریا وطن له هغونه اخلي او د ملیتونو منځ کې دښمني او کرکې ته لمن وهي، او دا بورژوازي ده چې ښځې یې په حقیقت کې شریکې کړي او رسمي او غیررسمي بدلمنۍ یې دود کړې ده. پرولتاریا، پانګوالۍ نسکوروي او واکمن ځواک په لاس کې اخلي څو په دغو ټولو ډګرونو کې ربنتیني او نیاومنه (عادلانه) نظم ټینګ کړي. د خصوصي ظالمانه ملکیت پر ځای د خلکو عمومي ملکیت کېنوي، د ټولنې ډېرۍ لپاره آزادي رامنځ ته کړي او ملي دښمني له منځه یوسي، ښځې د اسارت او رسمي او غیررسمي بدلمنۍ نه وژغوري. مارکس او انګلز په دې اثر کې د بېلوبېلو هېوادونو د پانګوالۍ له خوا د نیواک لاندې یا مستعمره ملتونو لوټنه ښودلې او د دې تیوري بنسټ ږدي چې «بندی ملتونه د پرولتاریا هملاسی» دي او څرګندوی چې «د یو انسان په واسطه د بل انسان زبېښناک، له منځه تللو سره د یو ملیت په واسطه د بل ملیت زبېښناک به هم له منځه لاړشي».

<u>«سوسیالیستي او کمونیستي ادبیات»:</u> د مانیفست دریم فصل د «سوسیالیستي او کمونیستي ادبیاتو» تر سرلیک لاندې لیکل شوی چې په هغه کې مارکس او انګلز د انګېریال سوسیالیزم او کمونیزم مختلف بهیرونه چې تر دغه وخته یې شتون درلود څېړي او د سترو تخیلي سوسیالیستانو لکه کرون، فوریه او سن سیمون مثبتو اړخونو د درناوی په ترخ کې د علمي سوسیالیزم او کمونیزم برید (پوله) له دغو بهیرونو سره ټاکی.

<u>«راز راز ګوندونو سره دکمونیستانو اړیکې»:</u> د مانیفست په وروستني فصل کې د بیلوبیلو ګوندونو سره د کمونیستانو اړیکې بیان شوي او نورو ګوندونو سره په اړیکوکې د کمونیستي سمې

کړنلارې څلانده ببلګه وړاندې کېږي. دوی لیکي: کمونیستان په هر ځای کې د هـر انقلابـي غورځنـګ نـه چې د اوسـني ټولنیز او سیاسي نظام ضد سر تـه رسـېږي بایـد ملاتـړ وکـړي، او د دغسـې غورځنګونو د اصلي زړي په توګه د کمونیستانو دنده بنیي.

په مانفیست کې د پرولتاریا د واکمنۍ دټینګیدلو اړتیـا پـه ډاګه او روښانتیا سره بیان شوې، د بزګر انواو نورو قشرونو سـره د پرولتاریا د یووالي تیوریکي او تاریخي، او د پرولتاریا د دیکتاتوري د ټینګښت بنسټونه ایښودل شویدی. د کمونیستانو موخه داده: «د یوې طبقې په بڼه د پرولتاریا یوموټی کول، د بورژوازي د واکمنـي نسکورول او د پرولتاریا د ځواک سیاسي واکمني».

د کمونیست ګوند مانیفست په دې کلکو او ټینګو جملـو چې د پرولتاریا څلانده راتلونکې ته په هر کمونیست کې باور او ډاډ پیدا کوي، پای ته رسېږي:

«پربېږدی د کمونیستي انقلاب په وړاندې د واکمنو طبقو پر ځان لړزه راشي. په دې منځ کې به پرولتاریا د خپلو ځنځیرونـو پرته نور څه د لاسه ورنه کړي، خو یوه دنیا به لاسته راوړي. د نړۍ کارګرو سره یو شي!».

لومړی انترناسیونال:

د ۱۸۴۸-۱۸۴۹ انقلابونه سره له دې چې ډېری یې خپلو موخو ته ونه‌رسـېدل خـو د اروپـا د بشـپړتیا پـه یـون کې یـې ژوره اغېزه پرېښوده. بورژوازي اړیکې په پراخه کچه وغوړېدې. د ۱۸۵۰ نه تر ۱۸۶۰ کلونو په واټن کې پانګوالو اړیکو خورا پراختیا وموندلـه او د نړیوالې پانګوالۍ بازار عملاً منځ تـه راغلـی ؤ. صـنعتي انقـلاب اونـوي اختراعـات سـبب شـول چې پـه زرګونـو سـترې صـنعتي موسسې د سلګونو او زرګونو کارګرو سره تاسیس شي او په اروپایي هېوادونو کې د لارو، د اوسپنې پټلو او بېړۍ چلولو جال بې سارې

پراختیا ومومي. کارګرې طبقې د کمي او کیفي پلوه بې سارې وده کړې وه او داسې شرایط ایجاد شوي ؤ چې په رښتني پرولتري سازمانونو کې د کارګرو یوموټی کیدل شونی شي.

مارکس او انګلس چې د کلونو راهیسې په نه ستړې کېدونکې توګه په خپل ګټور کار سره د خپلو علمي افکارو په وده او ترویج بوخت ؤ، د ۱۸۶۰ لسیزې په پیل کې دې پایلې ته ورسېدل چې کېدای شي د کارګرې طبقې نړیوال غورځنګ په یو بین المللي سازمان کې یوموټی شي، او د دغشان یوې دندې سر ته رسونه په حقیقت کې ډېره سخته وه. په مختلفو هېوادو کې کارګري غورځنګ د فکري پلوه په بشپړه توګه خور او د راز راز بې لارو (انحرافي) نظریاتو او ایډیالوژیو تر اغېز لاندې ؤ.

په پای کې تر ډېرو هڅو وروسته په ۱۸۶۴ کال کې د مختلفو هېوادو د کارګري غورځنګ استازي په لندن کې سره راټول شول او د دغسې یو سازمان د بنسټ اېښودونکو کنګره یې جوړه کړه. د بنسټ ایښودونکو دغې کنګرې، په یو پریکړه لیک کې، د کارګرو د نړیوال سازمان دجوړولو اصل ومانه او د مختلفو هېوادو د استازو نه جوړه یوه دېرش کسیزه کمیټه یې وټاکله څو د دغه سازمان د بنسټ اېښودونکو اعلامیه او اساسنامه جوړه کړي.

د لومړي انترناسیونال کړنلاره: د انترناسیونال لپاره د هراړخیزې ټولیزې کړنلارې جوړول، د نظر د اختلافونو او لالهاندیو څخه ډک چاپېریال کې، ډېره ګرانه دنده وه. مارکس او انګلس د لومړي انترناسیونال د جوړښت نه ۱۷ کاله پخوا د کمونیست ګوند مانیفست لیکلی ؤ چې په هغه کې همغشان چې مخکې مو ورته ګوته ونیوله د علمي کمونیزم د اصولو بنسټونه په ډاګه او غوڅه توګه بیان شوي دي.

د ټګلارۍ په لومړني لاس وندي (سند) کې چې په پای کې د مارکس له خوامرتب شو، دغه اصلي فکر دکار بنسټ ومنل شوچې د پانګوالۍ په ودې سره د کارګرې طبقې ژوند نه ښه کېږي. دغه طبقه یواځې په مبارزې سره خپل حقوق لاسته راوړلای شي او دغه مبارزه هغه وخت اغېزمنه کېدای شي چې سیاسي اړخ ولري او د خپل طبقاتي حکومت په لور د پرولتاریا لارښوونه وکړي.

مارکس په ښکاره او پوره سادګي سره دشمېرو اولیکنو په استناد ثابتوي چې دپانګوالو د ادعاوو سره سره دصنعت او سوداګري وده دکارګرې طبقې ژوند نه ښه کوي او نه به یې ښه کړي او ثابتوي چې دغه وده تر هاغه وخته چې دپانګې دنظر او واکمني لاندې وي، دکارګرو په سوکالۍ تمامېدلای نشي. دزیار کښانو د ژوندانه د وضعې د رښتیاني بدلون بنسټ د دولتی واک لاس ته راوړل دي.

مارکس لیکي:

«اوس په ټولو اروپایي هېوادو کې د هر متفکر لپاره دمخکني قضاوت پرته دا روښانه حقیقت دی چې نه د ماشینونو بشپړتیا، نه په تولید کې د علومو په کار اچول، نه د ارتباطي وسایلو ښه کول، نه نوې مستعمرې، نه نوؤ بازارونو ته کډه کول، نه آزاده سوداګري او نه په ټولیزه توګه داټول، د زیارکښو پرګنو نیستي له منځه نه وړي. د مولد ځواکونو اوکارهر راز راتلونکې وده په اوسني نیمګړي بنسټ سره ناچاره ټولنیز ې هیلې ناهیلې لاژوروي. او نه پخلاکېدونکي تضادونه زیاتوي. یوازې هغه څوک دغه روښانه حقیقت نه مني چې په دروغجنو هیلو سره د نورو بیده کولو کې د ګټې څښتن وي" .

او په پای کې مارکس دا پایله اخلی:

" د سیاسي واکمني نیول د کارګرې طبقې ستره دنده ده".

دوهم انترناسیونال:

د یو کمونیستي بین المللي سازمان دپرانستلو لپاره د کلونو مبارزو او لازمو مقدماتو د تیارولو وروسته په پای کې په کال ۱۸۸۹ نړدې د ټولو اروپایي، امریکایي او ارجنټاین د هېوادو کارګري ګوندونو استازي په پاریس کې را ټول شول اود انګلس تر مشر تابه لاندې دوهم انترناسیونال پرانستل شو. دغه سازمان په مارکسیستي بنسټ ولاړ ؤ او د انګلس تر مشر تابه لاندې د شپږو کالو په موده کې یې د انترناسیونال – د پرولتاریا نړیوال یووالي – د ټینګښت، د علمي سوسیالیزم د افکارو دخپریدو او د کارګري ګوندونو د موقعیت د ټینګښت په لار کې زښت زیات اقدامات ترسره کړل په دې موده کې کارګري ګوندونه په زیاتره اروپایي هېوادو کې د دوهم انترناسیونال تر مشر تابه لاندې عملا په یو لوی سیاسي ځواک بدل شوي ؤ.

د انګلس تر مړینې وروسته ورو ورو د دوهم انترناسیونال مشري داپورتونیستانو په لاس کې پریوته او هغو ی کرار کرار په کارګري غورځنګ کې د بورژوازي افکارو په ورننباسلو سره ددغه سازمان انقلابي ځواک ورو ورو کم زوری‌کړ. خو په دوهم انترناسیونال کې ځینې سوسیالیستي ګوندونه لکه په روسیه کې بلشویک ګوند، د دغه سازمان د جوړجاړی کوونکو مشرانو د سرټیټونکو یا تسلیم طلبانه طریقو او ریفورمستي نوښتونو سره مبارزې ته را پاڅېدل او په دوهم انترناسیونال کې کرار کرار یو انقلابي اړخ عملاً دلنین تر مشرتابه لاندې، منځ ته راغی. په کال ۱۹۱۴ کې د لومړی نړیوالې جګړې په پیل سره د دوهم

انترناسیونال زیاتره مشران، په خپلو هېوادو کې د بورژوازي ښکاره دریز غوره کولو له امله، د اپورتونیسم په ناولي ډنډ کې وغورځېدل. دوي د پرولتاریا د پیوستون اصول یومخ پرېښودل او عملاً په ظالمانه جګړه کې د خپلو بورژوازي دولتونو د ګټو ملاتړي شول او دغه نړیوال سازمان یې عملاً له ورکې سره مخ کړ. خو انقلابی کمونیستانو او په سر کې یې دلنین تر مشر تابه لاندې د روسیې بلشویک ګوند، د دریم انترناسیونال بنسټ کېښود.

**بلانکیزم:**

یودهغوبې لارو (انحرافي) بهیرونو نه چې مارکس او انګلس ورسره اصولي مبارزه کړې ده، په بلانکیزم باندې مشهوره ده. لویي اګوست بلانکي د فرانسې د ۱۹ پیړۍ نامتو انقلابي د دغه جریان بنسټ اېښودونکی ؤ. بلانکي چې د کمونیستانو په اتحادیې او لومړی انترناسیونال کې یې هم فعالیت درلود، پر دې اند ؤ چې کېدای شي د پانګوالۍ زبېښاک د سرتېرو او هوډمنو انقلابیانو دیوې وړې ډلې د قهر نه ډک اقدام سره، د زیارکښو پرګنو پراخه برخه اخیستنې او ملاتړ ته د اړتیا پرته له منځه لاړ شي او د حکومت په سرکې د دغې وړې ډلې راتلل، سوسیالیزم ته د رسېدو دپاره بس دی. له هغه وخته راهیسې د بلانکیزم عام مفهوم د پېښوجوړونه اوچل ول او په حقیقت کې په افراطي افکارو سره د یوې وړې ډلې هڅه، په ولسونو او د دوی په متشکلی او اصولي مبارزې باندې بې‌باوري څخه عبارت دی. بلانکیستانو د ځواکونو تناسب د ولسونو په تېره بیا پرولتاریا او په سر کې د دغې طبقې د ګوند رول، د بري لپاره لازمو شرایطو، پرله پسې او کله اوړد انقلابي کار ته پاملرنه نه درلوده. مارکس او انګلس، سره له

دي چې د بلانکي انقلابي شخصیت ته لوړ ارزښت ورکاؤ د ټولنې
د بدلون په هکله‌یې د ده نظریات په غوځه سره غندل.

اتم څپرکی

# امپریالیزم

## د پانګوالۍ د ړنګېدنې پړاو

**د مولده ځواکونو پرمختګ:**

د امپریالیزم پیدایښت سره نږدې د فلزاتو په ویلې کېدو، کیمیا او انجنیري کې د پام وړ فني بدلونونه راغلل او صنعتي تولید زیاتوالی او تمرکز وموند. د فلز ویلې کېدلو د نوؤ لاروچارو منځ ته راتګ، د پولادو د ماشینونو او فلز کاري د دستګاوو د پیدایښت لامل شو. د اوسپنیزومحصولاتو زیاتوالي، د انجنیري او د اوسپنې د پټلیو جوړولو د لا پراختیا او بشپړتیا امکان برابر کړ. د راز راز نوو ماشینونو لکه د ډاینموڅرخ، د بخار توربین، ډیزل ترامواۍ، موټر، دریل ګاډوډیزلی ماشین او الوتکو، د صنعتي تولید د زیاتوالي او د لېږد را لېږد وسایلو د پراختیا لپاره لاره اواره کړه. د انحصار نه مخکې پانګوالي کې د سپکو صنایعو ځینو څانګو په تېره بیاټوکراوبدنې په صنعتی تولیداتو کې برلاس درلود خو د دغه پیر په وروستیو کې درنو صنایعو په تېره بیا د اوسپنې د ویلې کېدو، د کانونو را وېستلو، کیمیا او د برېښنا صنعت لوی رول لوباوه. دکرنې په برخه کې هم ورو ورو ټراکټور، کمباین، د دوا شیندلو ماشینونو، کمیاوي سرو او نورو تولیدی ماډرنو وسایلو د پخوانیو اوزارو او آلاتو ځای ونیو. دمولد ځواکونود چټکو پرمختګونو په

پایله کې تولیدي اړیکو هم په خپل ذات کې بشپړتیاوموندله او بدلونونه پکښې راغلل.

په تولیدي اړیکو کې راغلي بدلونونه: د انحصار نه مخکې پانګوالي، ټولې بنسټیزې ځانګړتیاوې، په امپریالیزم کې هم همغشان خپل شتون ته دوام ورکوي. د ساري په توګه د تولید پر وسایلو د پانګوالو خصوصی ملکیت، زبېښاک، د مادی نعمتونو د وېش بڼه او نور اصلی خصوصیات پاتې کېږی. خو نوی خصوصیات هم چې د امپریالیزم ځانګړتیا ده په دې اړیکو باندې ورزیاتېږي. چې په لاندې ډول یې په ترتیب سره لنډولای شو.

الف- د تولید او پانګې تمرکز چې د انحصاراتو د پیدایښت لامل کېږی او په اقتصادي ژوند کې پرېکنده رول لوبوي.

ب -د بانکي او صنعتي پانګې د ترکیب پر بنسټ د مالي پانګې پیدایښت او د مالي پانګې پر اساس د مالي" الیګارشي" پیدایښت.

پ -د پانګې لېږد د پلورتوکو صادرولو د ځانګړې بڼې په توګه چې ځانګړی اهمیت لري.

ت -د پانګوالو انحصاري او نړیوالو اتحادیو جوړېدل چې نړۍ په خپلو کې سره وېشی.

ث -د پانګوالي د سترو دولتونو منځ کې د نړی د سیمه ایز وېش پای.

اوس پورتنی هر یو خصوصیت راسپړو.

الف: د تولید تمرکز او انحصارات

د انحصاراتو نه مخکې پانګوالي خصلت، آزاده سیالي وه. د آزادې سیالي شتون په سترو مؤسسو کې د تولید د چټک تمرکز لامل شو چې شمیر یې ورځ په ورځ زیاتېده، آزاده سیالي، دیو شمیر پانګوالوپه لا شتمن کېدو اود ډېر و وړو پانګو الوپه ماتېدو

سره، د تولید د تمرکز سبب شوه. په بله ژبه یوې تولیدي موسسې خپلې پراختیا سره نورې ورته او وړې موسسې ماتولې او په ځان کې یې حل کولې. په دې ترخ کې د تولید تمرکز، په سترو مؤسسو کې د کار ځواک د تمرکز سبب وگرځید یعنې په لسهاؤ زره کارگر د یوې تولیدی موسسې کې په دنده وګمار شول. د آزادې سیالي له منځه تلل او د انحصار (مونوپولیزم) پیدایښت د امپریالیزم اقتصادي ماهیت جوړوي انحصارات د پانګوالي دسترو تولیدي موسسو یا د څو تولیدی مؤسسو پیوستون څخه عبارت دي چې د اقتصاد یوې ټاکلې څانګې د سترې برخې تولید یا پلورل په خپلو منګولوکې نیسی. انحصارات یا مونوپولونه د راز راز سرلیکونو سره سره په ماهیت کې څلور بنسټیز ډولونه لري چې په دې ډول دي : کارتل، سندیکا، تراست او کنسرن.

۱- کارتل: د پانګوالي څو سترو مؤسسو څخه جوړ پیوستون دی چې یوتر بله سره د خپلو پلورتوکو د پلورلو، د اومو موادو پېرودلو، د بازار وېش او د تولید شوو پلورتوکو او د پېرودل شوو اومو موادو د بیې ټاکلو او هم د هغو پلورتوکو د کچې په هکله چې هر شرکت یې باید تولید کړي، سلاکېږی. په کارتل پورې د اړوندو مؤسسو خپلواکي خوندي پاتې کېږی.

۲ - سندیکا: د مؤسساتو یو انحصاري پیوستون دی چې د سندیکا غړي شرکتونه پکې خپله سوداگریزه خپلواکي له لاسه ورکوي. د پلورتوکو تولید په خپلواکه توگه سر ته رسېږي خو پلورل یې او کله د اوموموادو پېرودل هم د سندیکا د گډ دفتر له لارې ترسره کېږي. په سندیکا کې د واک ترلاسه کولو (د مدیر ه پلاوی د څوکیو) پر سر د غړو ترمنځ سیالي روانه وي.

۳- تراست: تراست هم د انحصاراتو یو پیوستون دی چې ټول گډون کوونکي مؤسسات خپله تولیدي او سوداگریزه

خپلواکي د لاسه ورکوري او په یوې ادارې کې نغرل (ادغام) کېږی او خاوندان یې د تراست د ونډو لرونکو په بڼه د خپلو ونډو د شمېر سره سمه ګټه تر لاسه کوي. د تراست، د تولید مدیریت، مالي او سوداګریزې چارې د لاربشودپلاوي تر نظر لاندې وي. د لاربشودپلاوی غړي تر ټولو لویو ونډه لرونکو له منځه غوره کېږي.

۴- کنسرن: یوه انحصاري اتحادیه ده چې په صنعتي او مالي بېلا بېلو څانګو پورې اړوندو مؤسساتو څخه لکه تولیدي مؤسسات، بانکونه، تجارت خانې، د لېږد را لېږد کمپنۍ، بیمې شرکتونه او داسې نوروبرخوکې ګډې مالي ګټې مومي. د کنسرن غړو د سترو پانګوالو څنې یوه ډله په اړوندو مؤسساتو پاملرنه کوي.

د ساري په توګه د امریکې متحده ایالاتو کې د برېښنا صنعت د "جنرل الکتریک" ، د الوتکو جوړولو صنعت "داګاس کمپنۍ" ، د المونیمو صنعت"کنسرن ملون" تر کنترول لاندې دي او یوازې دوه انحصارات "جنرل موتور" او د "فورد کمپنۍ" په سلو کې نږدې اتیا موټرونه تولیدوي.

خو د راز راز انحصاراتو جوړېدلو سره سره د دوي په منځ کې سیالي نه یوازې له منځه نه ځي بلکې لا وځناورډوله او وژونکې کېږی. په انحصاری اتحادیو کې د غړو ترمنځ او یا د انحصاراتو او د هغو په منځ کې چې انحصاراتو ته نه تسلیمېږی راز راز دتربګنۍ مبارزې شتون لري. په دغو سیالیو کې له هرې طریقې نه خپل سیال ته دماتې ور کولو او د هر راز سوداګریزې ټګي برګي کولو نه ګټه اخیستل کېږی. د انحصاراتوتر منځ په سخته مبارزه کې د ټولو ناوړوکړنو، بډې خوړلو،تېري، باج او د هر ډول جنایتکارانه اقدام ان دسیالانو وژلو نه همکار اخیستل کېږي.

ب -مالي پانګه او مالي الیګارشی:

۱- مالي پانګه: بانکونه د امپریالیزم په پړاو کې لوی رول لوبوي او په تولیدی چارو کې په جدیت سره لاس وهنه کوی. بانکونه د پانګوالي هغه ځانګړي مؤسسات دي چې آزاده نغده پانګه د "امانت" په بڼه راټولوي بيایې د مؤسساتو خاوندانو ته په پور ورکوي او له دې لارې پریمانه ګټه لاس ته راوړي. د بانکونو یو تر بله د سیالي مبارزه د وړو بانکونو د ماتې خوړلو او په غټو بانکونو کې د هغوی د اوبه کېدلو لامل کېږي د دوی ځینې د ظاهری خپلواکی په ساتلو سره د غټو بانکونوپه څانګو بدلېږی.

د بانکونو یوځای کېدل او راغونډېدل د بانکی انحصاراتو د جوړېدلو لامل ګرځي. با نکونه د پخواني حال نه راوزي او د ځواکمنو انحصاراتوبڼه غوره کوی. بانکونه نږدې په ټولې نغدې پانګې او د خلکو په سپما باندې څارنه کوي. هغوی د صنعتی مؤسسو سره کلکې اړیکې ټینګوي، کاریې دپور (کریډټ) له لارې څاري او د اوږدې مودې پورونه په واک کې ورکوي. بانکونه د صنعتي مؤسساتو نه (چې په دې پړاو کې د کرنې پانګه هم د صنعتی پانګې برخه ده) ونډې اخلي او په دې ډول د دغو مؤسساتو دڅښتنانو په ډله کې ځای نیسي. همدغه شان د صنعتي مؤسساتو څښتنان هم د بانکونو د ونډو په رانیولو سره د بانکونو د خاوندانو برخه ګرځي. د بانکي او صنعتي انحصاراتو د پانګې ترکیب د مالي پانګې د پیدایښت سبب کېږي. د بانکي او صنعتي انحصاري پانګې ائتلاف د صنعتي او بانکي انحصاراتو د مشرانو د شرکتونو او اتحادیو په بڼه څرګندېږي، داسې چې هماغه د صنعتي انحصاراتو د رئیسه یا مدیره هئیت غړي د بانکي انحصاراتو ریاست هم په غاړه لري.

۲- مالي الیګارشي: د امپریالیزم د پیدایښت په پړاو کې د پانګوالي د ودې سره د اقتصادي او ټولنیز ژوند ټولې برخې د مالي

سترو پانګوالو د يوې وړې ډلې تر ولکې لاندې راځي چې د هيـواد اقتصادي کنترول او سياسي چارې په واک کې لـري. د بانکـدارانو اوکارخاوندانو دغه وړه ډلـه ځواکمنـه مـالي اليګارشـي جـوړوي (د اليګارشي اصطلاح ريښه د يوناني کلمې اليګارشيا څخه ده چې لږ شمير وګړو ته د واک سپارلو معنی لري).

د مـالي اليګارشـي د برلاسـي بنسـټيزو ډولونـو نـه يـو، پر اقتصاد باندې د شراکت سيستم دی. دا سيستم په دې ډول دی چې يو تن يا يوه مالي ډله چې په يوې کمپنۍ کې د ونډو د لـويې برخې کنترول په لاس کې لري ددې کمپنۍ پانګه د بلې کمپنۍ د ونډو لويې برخې په رانيولو او کنترولولو بانـدې لګـوي. وروسـتنۍ کمپنۍ هم په ورته طريقې سره د نورو کمپنيو د ونډو د غټو برخو کنترول په لاس کې اخلي.

ستر مالي پانګوال د ياد شوی څو پړاويز تړاو په وسيله د هغې پانګې کنترول په لاس کې نيسي چې دده د شخصي پـانګې څو برابره ته رسـيږي. د شـراکت سيسـتم پـه هغـې ببـرې (پرشـاخ وبرګ) تقسيم بندي سره د سترو پـانګوالو ځـواک پـه پراخـه کچـه زيـاتوي. دغـه سيسـتم انحصـارګرو تـه شـونې کـوي چـې راز راز دسيسـې پـه کـار واچـوي او واړه پـانګوال لـوټ کـړي. ځکـه د دې کمپنيو نه هيڅ يوه دهغوفرعي کمپنيو پـه اړه چـې خپلواکـه ګټـل کيږی مسووليت نه لري.

له دې کبله د ګټې کولـو پـه صـورت کـې لويـه کمپنـۍ د عايد خاونده کيږي خو د تاواني کيدو په صورت کې دغـه کمپنـۍ هيڅ راز مسؤوليت نه مني.

ب- د پانګی ليږد:

۱- اضافي پانګه د پانګې د ليږدولو منشـأ: د امپريـاليزم د اقتصادي بنسټيزو ځانګړتياو نه يـوه هـم د پـانګې ليـږدول دي. د

پلورتوکو لیږدول د انحصار نه مخکې پانګوالي خصلت ؤ، یعنې کله چې آزادې سیالي غوښه واکمني درلوده. په امپریالیزم کې د پلورتوکو لیږد کمښت مومي او ورو ورو خپل ځای دپانګې لیږدولو ته سپاري.

د امپریالیزم په پړاو کې د انحصاراتو واکمنی، د پانګې په هاغه ستر تمرکز او د سهامي او بانکي کمپنیو په پراختیا او بشپړتیا ولاړه ده چې د خلکو د آزادې پانګې د پام وړ برخه راټولوي او په یو شمیر پانګوالو هېوادو کې د پام وړ اضافی پانګه تر خپلې ولکې لاندې راولي. د ولسي پرګنو د ژوند کچه همغه شان، په نسبي توګه، ټيټه پاتې کېږي او کرنه چې په صنعت پسې ګوډه ګوډه روانه ده د خپلې پراختیا او بشپړتیا لپاره پیسو ته زښته اړتیا لري. خو انحصاري پانګوالي لېوالتیا نلري اضافي پانګه د خلکو د ژوند کچې د لوړتیا لپاره ولګوي، ځکه دغه چار به د انحصارچیانو ګټې کمې کړي. له دې کبله پانګه اساساً وروسته پاتې مستعمراتي او ترلو هېوادو ته لیږل کیږی ځکه د پانګې کمښت، لږه بیه، کمه مزدوري، او د اومو توکو ارزانتیا په دغو هېوادو کې د دوی دپاره حیرانوونکې او د نه منلوګټې ترلاسه کوی.

د پانګې دلیږد ډولونه:

پانګه په دوو بنسټیزو ډولونولیږدول کېږی: لومړی د مولدې پانګې په توګه لکه دصنعت، کرنې، لېږد رالېږد او داسې نورو برخوکې. دوهم د پور په ډول یعنې حکومتونو او خصوصی برخو ته د پور ورکول. د پانګې د صادرېدلو مختلفو بڼو سره سره، لېږدونکي یوه موخه لری او هغه د انحصاري پریمانه ګټو لاس ته راوړل دي. شونې ده د پانګې لېږد په پورته دواړو ډولونو (په دولتي او خصوصي توګه) ترسره شي. د امپریالیزم د پیر په سر کې د پانګې لیږد ترډېرې کچې خصوصي ؤ یعنې د پانګوالۍ ځانګړو

مؤسسو صادروله. اوس اوس دولتي پانګه د صادراتي پانګې لویه برخه جوړوي او لاپسې زیاتیږي ځکه خصوصي پانګه په تړلو هېوادو کې د بنکېلاک ضد غورځنګونو ورځ په ورځ زیاتېدونکې ودې ته په پاملرنې سره غوره ګڼي چې ځان په خطر کې وانه چوي. ځکه د دغو غورځنګونو له بري وروسته ډېرځله د دوی پانګه مصادره کېږي. امپریالیستي هېوادونه د پانګې د صادرولو نه د اومو موادو سرچینو، بازارونو او د پانګې اچونې د ځانګو د نیولو او اقتصادي، سیاسي او سوق الجیشي (استراتیژیکي) پراختیا د لاروچارو برابرولو دپاره ګټه اخلي.

ت- د نړیوالو انحصاراتو منځ ته راتګ او د نړی اقتصادی ویش:

انحصارات کورني بازار ولکه کوي او په خپلو کې یې سره وېشي. بیاپه بهر کې پانګه اچونه دسترو انحصاراتو دنفوذسیمو اوبهرنیو اړیکوته په پراخه کچه پراختیا ورکوي ، چې د مختلفو هېوادونو د انحصاري پانګوالو ډلګۍ د اتحادیو په بڼه منځ ته راځي او د ډېرو هیوادو بازارونه د خپل جغ لاندې راولي. د بېلابېلو هېوادو انحصارات په نړیوالو انحصاراتو بدلیږي. نړیوال انحصارات داسې انحصارات دي چې د یو امپریالیستي هېواد د ملي پولونه تېر شوي او یا د بېلابېلو هېوادود ملي انحصاراتو له پیوستون څخه منځ ته راغلي دي.

د امپریالیزم پلویان دعوه کوی چې انحصارات د سولې وسایل دی اوبشکاره ده چې د دوی شریکان کولای شي هغه تضادونه چې د امپریالیستي ډلو او بېلوبېلو هېوادو په منځ کې پیدا کېږي د سوله ییزې لارې حل کړي. خو دغه دعوا ګانې د حقیقت سره توپیر لري ځکه کورني او بهرني بازارونه په پانګوالي کې دځواک او پانګې دکچې پر بنسټ وېشل کېږی او دپانګوالي هېوادو او بېلا بېلو انحصاراتو نا انډوله وده په نړیوالو انحصاراتو

کې د موجودو ځواکونو په بڼوالی (متقابله) اړیکو کې تل بدلونونه راوړي. ددې انحصاراتو هره ډله تل د نړۍ د بیا و بشلو، خپلې ونډې زیاتولو او دخپل واک لاندې سیمو پراخولو دپاره همیشني کش وکړپونو کې اخته ده. پر دې اساس د انحصاراتو جوړښت د امپریالیستي دولتونو منځ کې د سوله ییزې مرستې په مانا نده بلکه برعکس د اومو موادو د سرچینو د بازارونو او د پانګې اچونې د سیمو نیولو لپاره د دوی منځ کې د مبارزې د سختوالی په مانا ده.

ث- د سترو دولتونو منځ کی د نړی سیمه ییزه ویش پای او دهغی د بیا ویشلو په موخه هلی ځلی:

د پانګوالي اتحادیو منځ کې د نړۍ اقتصادي وېش سره جوخت د امپریالیستي دولتونو منځ کې هم د نړۍ سیمه ییزه وېش ترسره کیږی. ترنواک لاندې سیمې د امپریالیستانو دپاره د پانګې اچونې حوزې او د صنعتي پلورتوکو د پلورلو دپاره بازارونه جوړوی. مستعمرات د امپریالیستي دولتونو دپاره د پوځي اډو په حیثیت هم زښت اهمیت لري. د نونسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په سر کې د نړۍ سیمه ییزه وېش د یو شمیر سترو دولتونو منځ کې پای ته ورسېد. خو د نړۍد سیمه ییزه وېش پای ته رسېدل د هغې د بیا وېشلو لپاره د مبارزې پیلامه وه. ځکه د پانګوالو هېوادونو هغه شمېر چې د نورو نه وروسته یې د امپریالیزم په پړاو کې ګام کېښود په صنعت کې د پرمختګ له پلوه نور امپریالیستي هېوادونه شاته پرېښودل په داسې حال کې چې د مستعمراتو د لرلو له پلوه ډېر نېستمن ؤ.

په پایله کې د دې دپاره چې دغه دولتونه هم د خپل اقتصادي پرمختګ سره سم د مستعمراتو نه یوه ونډه ولري لازمه وه نړۍ خپل منځ کې بیا ووېشي. لومړۍ نړیواله جګړه هم په

همدې موخه پیل شوه چې په ترڅ کې یې نړۍ بیا ووېشل شوه.

**دپانګوالي په مخبنا کې راغلي بدلونونه:**

د امپریالیستي ټولنې طبقاتي جوړښت : د پانګواله ټولنې طبقاتي جوړښت د امپریالیزم په پړاو کې بدلون مومي. ځینې پخوانۍ طبقې اوقشرونه له منځه ځي او یا ډېر کمزوري کېږي او پرځای یې نوي قشرونه منځ ته راځي.

۱- بورژوازي: دتولید تمرکز او انحصاراتو پیدایښت د بورژوازي طبقاتي بڼې ته بدلون ورکوي. د بورژوازي پاسنی قشر، په داسې حال کې چې د شمېر له مخې پر له پسې کمېږي خودهغې پانګې د کچې له پلوه، چې د کنترول لاندې یې لري، لا پیاوړی او غټېږي. په دې ډول چې د امپریالیزم په پړاو کې د مالي سترو پانګوالو څو وړې ډلې د هېواد د پانګو ستره برخه په لاس کې نیسي. دغو وړو ډلو او غړو ته یې امپریالیستان وایي. امپریالیستان د خپلو انحصاراتو په مرسته، ټولو اقتصادي څانګو کې اغېز کوي او د هېواد چارې په خپل لاس کې اخلي. دغه ډله د کورنۍ سوداګری په لاس کې لرلو او د صنایعو او بانکونو په بشپړ نیولو سره د پانګوالي ډله لویه برخه په اقتصادي چارو کې د نېغې لاس وهنې نه منع کوي. ځکه د بورژوازي منځکوره ډله د امپریالیستانو تر دباو (فشار) لاندې د انحصاراتی ونډوپه پېرودلو سره د انحصاراتود وړوکو ونډه لرونکو په بڼه اوړي او د بېلابېلو اړخونو څخه د دوي تر ولکې لاندې راځي.

۲- وړوکې بورژوازي: وړوکې بورژوازي هم په دې پړاو کې بدلون مومي. د دې قشر هغه برخه چې پخوا یې لبر تولیدي وسایل درلودل (کسبګر او داسې نور. . . ) له دې امله چې

پانگوالي صنايعو سره د سيالي ځواکمني نلري نړدې له منځه ځي او بله برخه يې (لکه هټۍ وال، لاس پلورونکي، د کليوالوسيمو کوچني مالکان او داسې نور. . .) سره له دې چې مخ پرځوړ درومي تر يوې کچې پورې پاتې کېږي. انحصارات د سترو پلورنځيو په جوړولو او دوېشونکو، پلورنکو او داسې نورو وګړو په کارګمارلو سره، چې وروستنيو مدرنو وسايلو سره سر او کار لري، تل د وړوکې بورژوازي د دغې برخې سره سيالي کوي او د دې ډلې دټوټه کېدلو لامل کېږي. د انحصاراتو واړه ونډه وال چې هر يو يې له څو ونډو څخه ډېرې ونډې په واک کې لري هم د دې ډلې برخه گڼل کېږي (په امپرياليستي هېوادو کې دا راز ونډه لرونکي د شمېر له مخې ډېر زيات دي). د وړوکې بورژوازي زړه نازړه تياد امپرياليزم په پړاو کې لازياتېږي. په پای کې ددې قشر لويه برخه په پرولتاريا او لږ شمير يې په بورژوازی تجزيه کېږی. مالي پانگوال په کرنه کې نفوذکوی او د کرنيزو انحصاراتو په جوړولو سره د "کولاکانو" غټه برخه، چې د منځکوره بورژوازي د قشر برخه ده، د خپلو ونډه والو په توگه اړوي او د عمل آزادي ورځنې اخلي. د ځمکوالو طبقه چې په مخکني پړاو کې وخېړل شوه د انحصاراتو مخکې پانگوالي نه، امپرياليزم ته دلېږد په بهير کې په بشپړه توگه له منځه ځي.

۳- روڼ اندي او کارکوونکي: دامپرياليزم په پړاو کې د روڼ اندو او کارمندانو ترکيب هم له منځه ځي. د پانگوالۍ په پړاو کې د دغه قشر ستره برخه په بورژوازي او وړوکې بورژوازي او لږه غوندې يې په پرولتاريا پورې اړه لري. خو په امپرياليزم کې د انحصاراتو د برلاسي او د کارگرې طبقې سترې پراختيا له کبله د دې قشر لويه برخه په پرولتاريا او وړوکې بورژوازي پورې تړاو مومی. روڼ اندی د امپرياليزم په پړاو کې يا بايد د انحصاراتو او

مالي پانګوالو دپاره کار وکړي او یا باید د لوړې نه مړه شي. له دې امله ډېرى روڼ اندى خامخا د پانګې په چوپړ کې راځى او تر کلک دباو لاندې وي او په خاصو شرايطو کې د دوي ډېرى شمېر انقلابي روحيه مومي. د بورژوازي پوهان دعواکوى چې په امپرياليستي ټولنه کې، طبقاتي تضادونه د له منځه تللو په حال کې دي او دنوموړې ټولنې دوه دښمنې ډلې يعنې پانګوالي او پرولتاريا به ورو ورو د کارمندانو په طبقه (په اصطلاح منځومې طبقه) کې سره يو شي. خو په واقعيت کې دغه قشر د خپل ژوند د پاينښت دپاره فکري ځواک پلورى او د کارګرو په څېر تر زبېښناک لاندې کېږي. د بلې خوا نه بايد په پام کې ونيسو چې د کارمندانو پراخه ډله ډېره نا متجانسه ده. د دغه قشر پاسنۍ برخه (دولتي لوړ پوړي چارواکي او دکمپنيو مديران لکه لوړ پوړي روڼ اندي) په بشپړه توګه بورژوازي پورې تړلي دي. په داسې حال کې چې ډېرى کارمندان (ددولتي ادارو او خصوصي مؤسسو وړوکي کارمندان) له اقتصادي پلوه د پرولتاريا په شان شرايط او دغې طبقې سره نږدې اړيکې لري.

۴- پرولتاريا: د مولد ځواکونو چټک پر مختګ او د نوو توليدي وسايلو پيدايښت، د مزدورو کارګرو طبقه په ډېره کچه پرا خوي. مخکې د هغې پرولتاريا په هکله وغږېدلو چې کسبګري اړخ يې درلود، خو په دې پړاو کې، د پرولتاريا دغه قشر چې بورژوازى صنايعو سره سيالي نشي کولى، خپله دا هيله چې يوه ورځ به د خپل کار ځاى خښتن شي، له لاسه ورکوي او د صنعتي پرولتاريا د قشر سره (هغه پرولتاريا چې په سپکو او درنو صنايعو کې کارکوي) يو ځاى کېږي. له بلې خوا په کرنه کې د انحصاراتو نفوذ د منځکوره بزګرو له منځه تللو سبب ګرځي او ستره برخه يې د کليو په پرولتاريا باندې اړوي. د کليو پرولتاريا هم له دې کبله چې

د نوو تولیدي وسایلو لکه تراکتور، کمباین او داسې نورو سره سر او کار لري په بشپړ ډول صنعتي اړخ مومي او دصنعتي پرولتاریا برخه ګرځي. په دې توګه د امپریالیزم په پړاو کې د بزګرو طبقه هم په حقیقت کې له منځه ځي. د وړوکې بورژوازي غټه برخه هم چې په پرله پسې توګه د منځه تللو په حال کې ده په مزدورو کارګرو بدلیږي. دغه راز په امپریالیستي ټولنو کې پرولتاریا د نفوس لویه برخه جوړوي. امپریالیزم د خپل هېواد پرولتاریایي غورځنګ د ځپلو په موخه د خپلو پریمانه ګټو څخه یوه لږه برخه د پرولتاریا یو قشر ته ځانګړې کوي او د هغوي دپاره نسبتاً سوکاله ژوند جوړوی. د کارګرو دغه سوکاله لږ کي ډله په اصطلاح کې "کارګري اریستوکراسي" نومول شوې ده. امپریالیستان په دې توګه د پرولتاریا په منځ کې ځان ته ملاتړي مومي او خپلې اډې جوړوي.

د امپریالیستي ټولنې تضادونه:

د امپریالیزم په مرحله کې د پانګوالي تضادونه، خپل سخت پړاو ته رسیږي او سربېره پر هغو نوي تضادونه هم منځ ته راځي چې د امپریالیستي ټولنې ځانګړنه ده.

ترټولو لوی تضادونه په دې ډول دی:

۱- دنړۍ دبیا وېش لپاره داقتصادي ودې په بېلو بېلو پړاونو کې د امپریالیستی هېوادونو منځ کې تضاد.

۲- د انحصاري او غیر انحصاري پانګو منځ کې تضاد.

۳- د امپریالیستی هېوادونو او مظلومو ملتونو منځ کې تضاد چې د ملي آزادي بخښونکو غورځنګونو د ودې له کبله اخرنی (حاد) پړاو ته رسیږي.

٤- د امپریالیزم او سوسیالیزم د کمپ په منځ کې تضاد او داسې نور. . .

امپریالیستي دولت:

د امپریالیزم په پړاو کې، دولت په بشپړه توګه د یو موټی لویو پانګوالو په واک کې وي او په دې ډول "مالي الیګارشي" جوړوي. دغه ډله عملا د دولت ټول کورني او بهرني سیاستونه ټاکي او د هېواد پر برخلیک واک چلوي. په بله ژبه دولت د دوی د غوښتنو ترسره کولو د وسیلې پرته بل شی نه دی. د انحصار نه مخکې پانګوالي د بحث په ترخ کې پوه شو چې د بورژوازي په اصطلاح دیموکراسي دولت په حقیقت کې د ټولنې ډېری زیارکښو باندې د لږکي پانګوال دیکتاتوري ده. د تاریخي پلوه بورژوازي دیموکراسي د انحصار نه مخکې پانګوالی خصلت دی خو د امپریالیزم په پړاو کې عملا فاشېزم ځواکمن اړخ مومي.

فاشېزم:

فاشیزم د لویو پانګوالو یو حکومتي شکل دی چې ډېری خلکو باندې د لږکي بورژوازي د دیکتاتوري تر ټولو ارتجاعي بڼه ده. فاشیزم د امپریالیزم په پړاو کې په ځو لاملونو، چې لاندې به وڅېړل شي، کله د یو حکومتي مشخص خصلت په توګه منځ ته راځي.

فاشیزم په دوو بڼو څرګندېږي : لومړی په ساده ډول چې دامپریالیزم په عصر کې تل د پارلمان او ډیموکراسي تر پردې لاندې شتون لري. دوهم په سخته (حاده) بڼه چې پخوانی ظاهری پارلمان او قضایي ځواک په رسمیت نه پېژني بلکه نبغ په نبغه قانون تصویبوي او په کار یې اچوي (لکه په آلمان کې نازیزم).

د فاشیزم وده او واک ته رسیدنه په پانګوالو هېوادو کې د دې نخښنه ده چې:

۱) اقتصادي بحران او دپانګې د واکمنۍ پر ضد د پرګنو کرکه خپل لوړ پړاو ته رسېدلې ده.

۲) پانګوال نور هغه ځواک نه دی چې وکولای شي خپله دیکتاتوري د پارلمانتاریزم په زړو میتودونو او په ټولیزه توګه د بورژوازي دیموکراسي په بڼه ټینګه او تثبیت کړي.
۳) سربېره پردې پارلمانتاریزم او په ټولیزه توګه بورژوازي ډیموکراسي څه په کورني سیاست (د پرولتاریا ضد مبارزه) اوڅه په بهرني سیاست (د نړۍ امپریالیستي بیا وېش لپاره جګړه) کې د پانګوالو دپاره خنډونه را منځ ته کړي دي.
۴) د انقلابي متشکلو ځواکونو د واک او په تېره بیا د ځواکمن کمونیست ګوند نشتوالی چې وکړی شي د فاشیزم د ودې او د هېواد پر اوضاع باندې د هغه د بشپړ ې واکمني مخنیوی وکړي.
د دې اوضاع له کبله پانګوالی اړ کیږی چې په کورني سیاست کې برالا تروریستي دیکتاتوری او په بهرني سیاست کې بې پایه شوونیزم ته (دافراطی ناسیونالیزم دودې اود مظلومو ملتونود نیواک په موخه) چې امپریالیستي جګړوته دنبغې سمبالتیا په ګوته کوونکې ده، لاس واچوي. فاشیزم د پرولتري ګوندونواو مترقي اتحادیو تشکیل، د قلم آزادي او دبشر نور حقوق په بشپړه توګه تر پښو لاندې کوي او د لویو پانګوالو په لاس کې د پرولتاریایي غورځنګ د ځپلو دپاره وروستنۍ وسله ده. له دې کبله فاشیزم په خپله د پانګوالي سیستم په مخبنا کې د یوراز ژور بحران نخښه ده چې دولسونو په انقلاب سره دنېستۍکندې ته درومي.

نوی ښکېلاک یا نیو کولونیالیزم:

د امپریالیستي دولتونو ښکېلاکګرو سیاستونو،دمستعمره هېوادونو دانقلابی پرګنو له مبارزاتی توفان څخه درانه او ماتوونکي ګوزارونه وخوړل. د دغو ولسونود آزادي غوښتونکو مبارزو د ودې په پایله کې په زړه بڼه (د ښکېلاک دوهم پړاو) د ښکېلاک پایښت

ناشونی شو، ځکه امپرياليستانو د خپلو اقتصادي ګټو او استراتيژيکي اړو د ساتنې لپاره د اړتيا له مخې د ښکېلاک يوه نوې بڼه را منځ ته کړه چې له پخوانی بڼې سره (د انحصار نه مخکې پانګوالي) يې ظاهری توپير درلود. ځکه خو د "نوي ښکېلاک" نوم پرې کيښودل شوی دی. نوی ښکېلاک چې په حقيقت کې له اقتصادي او سياسي پلوه د زبېښاک دريم او وروستنی پړاو دی، ځانګړی خصوصيات لري چې دلته يې په لنډه توګه څېړو:

۱- د نيو کولونياليزم اقتصادي ځانګړنې:

د ښکېلاک دريم پړاو د پانګې په صادرولو سره ځانګړی کېږي. بايد پاملرنه وکړو د دې سره سره چې د پانګې ليږد د زبيښاک د دريم پړاو ځانګړی خصوصيت دی بياهم امپرياليزم نه يوازې د پلورتوکو د صادرلو او په مستعمرو او تړلو هېوادو باندې د وسله وال تيری نه لاس نه دی اخيستی بلکه په کلکه سره د دې استعماري طريقو نه هم ګټه اخلي. په لومړی نظر کې کېدای شي داسې و انګېرل شي چې امپرياليستان په مستعمره هېوادو کې پانګې اچونې سره د دغو هېوادو اقتصاد پياوړی کوي خو په حقيقت کې داسې نه ده. ځکه امپرياليستان يوازې په ځانګړو ځانګو (لکه دکانونو په راوېستلو او کرنه) کې پانګه اچوي او هېڅکله نه غواړي چې په سپکو او په تېره بيا په درنو صنايعو کې پانګه واچوي. د دغه راز پانګې اچونې پايله د نوموړو هېوادو د اقتصاد "يو اړخيز " کول دي چې دوي اړ باسي زياتره په يوه اقتصادي څانګه او هغه هم د امپرياليستي اړتياوو د پوره کولو لپاره ظاهري پراختيا ومومي او په حقيقت کې د دوي اقتصاد ورماتوي او د يو محصولي اقتصاد پرخوا يې بيايي. په بله ژبه د مستعمرو او تړلو هېوادو خصلت په يو خاص توليد پورې تړلتيا ده

(لکه کویټ، سعودي عربستان او تر زیاتې کچې پورې ایران چې اقتصاد یې د تېلوراایستلو پر بنسټ ولاړ دی) چې موخه یې د امپریالیزم دستر اقتصاد ي ماشین د اړتیاوو پوره کول دي.

۲- د نوي ښکېلاک سیاسي ځانګړنې:

د سیاسي پلوه، نوی ښکېلاک د خپلې ولکې لاندې هېوادو ته په ظاهر کې سیاسي خپلواکي ورکوي خو په عمل کې د فیوډالانو او کمپرادورې (دلال) بورژوازي سره د یووالي او په خپلو مزدورانو او ځنځیري سپو باندې د دوي د بدلولو او د زرګونو سلا کارانو او نورو د لېږلو او د مظلومو ملتونو آزادي بخښونکو غورځنګونو سره د مقابلې لپاره د پوځي اډو د جوړلو په وسیله، خپله سیاسي واکمني هم په دغو هېوادو باندې همغه شان ساتي او لا یې پسې ټینګوي.

په امپریالیزم کې د مستعمرو او تړلو هېوادونو وضعیت:

۱- د مستعمرو او تړلو هېوادو طبقاتي جوړښت: د امپریالیزم داغېز له کبله په مستعمرو او تړلو ټولنو کې قشرونه او طبقې بدلون مومي چې ځغلنده کتنه ورته کوؤ:

په دغه راز ټولنو کې بورژوازي درې قشره لري: د سترې بورژوازي یا کمپرادور (دلالې) بورژوازي قشر چې امپریالیزم سره کلک تړاولري او په ټولیزه توګه د هغه ګوډاګی ده. په دغه راز ټولنو کې حکومت دسترې بورژوازي په لاس کې دی اوله اقتصادي پلوه هم د امپریالیزم سره په پانګې اچونې کې شریکه ده نوځکه ګډې ګټې لري او په همدې سبب، په دغشان هېوادو کې د امپریالیزم د نفوذ ملاتړې ده. دوهم قشر، ملي بورژوازي ده چې د کورنیو صنایعو د خاوندانو، کورنیو سوداګرو او داسې نورو نه جوړېږي. دغه قشر عملاً ډېر محدود او کمزوری او دامپریالیزم او

کمپرادور بورژوازي د فشار لاندې دی. دریم قشر وړوکې بورژوازي ده چې د دغو هېوادو د نفوس لویه برخه جوړوي او د پخوانیو قشرونو د سخت فشار لاندې ده، له دې کبله تر یوې ټاکلې کچې پورې انقلابي روحیه لري. د پرولتاریا په قشر بندي کې دومره بدلون نه لیدل کېږي او یوازې د صنعتي پرولتاریا قشر د صنعت د ودې د نشتوالي له امله د پرولتاریا د هغه قشر نه چې کسبګري اړخ لري څو واره لا وړوکی دی. په ډېرى مستعمرو او تړلو هېوادو کې لا هم د فیوډالانو ځواکمن پاتې شوني شته دي چې پر له پسې د امپریالیزم له خوا پیاوړي کېږي. بزګر هم همغشان دنوموړویادوشوو دریو قشرونو په توګه خپل شتون ته دوام ورکوي. په دغشان ټولنو کې، روڼ اندي زیاتره انقلابي دي او دملي بورژوازۍ، بزګرانو، وړوکې بورژوازۍ په اقشارو یا یو څه یې هم د پرولتاریا په طبقې پورې تړلي دي.

۲- په مستعمرو او تړلو هېوادو کې ملي او طبقاتي آزادي بخښونکې مبارزې:

په دغه شان هېوادو کې د طبقاتي ځواکونو مخاوی داسې ده: د کمپرادورې بورژوازي قشر چې د امپریالیستي پلورتوکو واردوونکی او د هېواد دننه د امپریالیزم تر واک لاندې صنایعو او کانونو چلوونکی او په بشپړه توګه د امپریالیزم ملاتړی او رجعت پرست یا ګزېونکی دی.

امپریالیستان د کرنې په برخه کې هم پانګه اچونه کوي او د سیمه ایزو پانګوالو په مرسته او زیاتره په هماغو فیوډالي طریقو سره، بزګران زبېښي. د امپریالیزم په واسطه هم د فیوډالیزم د پاتې شونو ساتنه د فیوډالانو په ګټه ده او د دوي د ځواک د پایلتوب سبب ګرځي. له دې کبله فیوډالان هم مرتجع او د امپریالیزم ملاتړي دي. دغشان امپریالیستان، کمپرادور بورژوازي

او فیوډالان د خلکو پر ضد په یو سنگر کې دي. د دغې جبهې مشري یا نېغ په نېغه د امپریالیستانو په غاړه ده (د پوځي لاسوهنې له لارې) او یا فیوډالان او کمپرادوره بورژوازي په گډه د ارتجاعي جبهې مشرتوب کوي. د ملي بورژوازۍ قشر چې نشي کولای د امپریالیستي صنعتي پلورتوکو او هغو صنایعو سره چې د هېواد دننه امپریالیستانو ودرولي دي، سیالي وکړي، د امپریالیستانو او کمپرادورې بورژوازی تر فشار لاندې راځي. له دې کبله ملي بورژوازي د هغه فشار په اندول چې زغمي يې، یا د خلکو د جبهې سره یو ځای کېږي (انقلابي کېږي) او یا د انقلابي ځواک نه ډارېږي او امپریالیستانو سره سازښت ته غاړه ږدي او خپله د هغوی په پانگې اچونې کې شریکېږي. له دې پلوه، دغه قشر دوه گونۍ خصلت لري.

د خلکو جبهه د پرولتاریا او بزگرانو دکښتنیو قشرونو څخه چې دواړه زبېښل کېږي او د وړوکې بورژوازۍ او انقلابي روڼ اندو څخه جوړېږي. ملي بورژوازي هم په ځینو مواردو کې د خلکو جبهې سره یو ځاې کېږي.

۳- په مستعمرو او تړلو هېوادو کې د انقلاب ډولونه :

هغه انقلاب چې په مستعمرو او تړلو هېوادو کې سرته رسېږي، سرببره پردې چې موخه یې د امپریالیزم او د هغه د ملاتړو د اغېزې له منځه وړل دي، د "صنعت" له پلوه د فیوډالیزم د ځواکمنو پاتې شونو د شتون له امله زیاتره یو دیموکراتیک انقلاب دی. دا چې کومه طبقه یا قشر د انقلاب مشرتوب په لاس کې اخلي د انقلاب بڼه او یون بدلون ټاکی.

په داسې حال کې چې پرولتاریا کمزورې او بې تجربې وي د تشکل او ایډیالوژي له پلوه یې لا وده نه وي کړې، د امپریالیزم او فیوډالیزم د پاتې شونو ضد د ولسي انقلاب مشري

معمولاً ملي بورژوازي په لاس کې اخلي چې هغه ته "ملي ډیموکراتیک" انقلاب وایي. دغه انقلاب د فیوډالیزم پاتې شوني تر یوې کچې (نه په بشپړه توګه) له منځه وړي او د امپریالیزم او کمپرادورې بورژوازۍ صنایع، ملي اعلاموي. په یو دغشان انقلاب کې حکومت د ملي بورژوازي او د وړوکې بورژوازۍ د یوقشر لاس ته ورځي (چې په دې صورت کې "بورژوازي ډیموکراسي" نومیږي). او هېواد عملاً د پانګوالي د پراختیا په لار کې پل اخلي، لکه هندوستان، سوریه او داسې نور.

په داسې حال کې چې پرولتاریا پوره تیاري ولري او دځواکمن کمونیست ګوند له خوا یې لارښوونه وشي دولسي انقلاب مشري په لاس کې اخلي چې دغه رازانقلاب ته ولسي "ډیموکراتیک انقلاب" وایي. دغه انقلاب د هغو دندو په سرته رسولو سربېره چې پخوایې یادونه وشوه د صنایعو د سوسیالیستي کولو، د فیوډالیزم د پاتې شونو د بشپړې نابودي او د سوسیالیزم د منځته راوړلولار هواروی. په دغشان یو انقلاب کې حکومت د پرولتاریا او نورو زیارکښو هملاسو، په منګولو کې لوېږي (چې هغه ته «ولسي ډیموکراسي» وایي) او هېواد سوسیالیزم ته د بشپړتیا په لار کې ګام اخلي (لکه د چین، ویتنام، شمالي کوریا، کیوبا او داسې نور انقلابونه). د امپریالیزم او فیوډالیزم د پاتې شونو ضد مبارزه هله کولای شي په غوڅه او کلکه توګه پیل او تر بشپړ بري پورې دوام وومومي چې پرولتاریا د ولسي جبهې لارښوونه وکړي. له دې کبله «ملي ډیموکراتیک انقلاب» د امپریالیزم ضد مبارزې له پلوه د دغې مبارزې لومړنی پړاو ګڼل کیږي او کله چې په پای کې پرولتاریا حکومت په لاس کې واخلي، امپریالیستي ضد مبارزه په ټولیزه توګه د ولسونو په ګټه پای ته رسیږي.

**د امپریالیزم تاریخي موقعیت یا ټیکاو:**

امپریالیزم د پانګوالي یو ځانګړی تاریخي پړاو دی. امپریالیزم، انحصاري، وروستنی او مرګونې پانګوالي ده. د امپریالیزم د انحصاري اړخ ځانګړنې په تېرو پاڼو کې وڅېړل شوې (د تولید تمرکز، د انحصاراتو زېږنده او داسې نور)، اوس د امپریالیزم پر تاریخي خصوصیاتو لږ غوندې غږېږو.

۱- امپریالیزم ورسته (پوسیده) پانګوالي ده:

هغه ځانګړنې چې امپریالیزم په پړاو کې د پانګوالی د وراسته اومفت خور یا پاځکي خصلت څرګندونکې دی:

د ونډه لرونکو پراخه ډلې شتون چې خپلې کلنی ګټې ته سترګې په لاردی،د وزګارو خلکو پرګنو همېشني قشرشتون، دملیتاریزم وده، دبورژوازي طفیلي ډوله لګښت زیاتوالی (په دې ډول چې دوی په تولید کې د ګډون پرته د ټولنې د تولید پایله په بېځایه مېلمستیاوو او جشنونو لګوي (په داسې ډول چې ډېرځله د دغو میلمستیاوو یو وار لګښت په یو کال کې د منځنۍ کورنۍ د ژوند د لګښت کچې ته رسېږي). او د امپریالیستي دولتونو کورني او بهرني ارتجاعي سیاستونه. د انحصاراتو شتون په خپل ذات کې رکودیا په ټپه دربدنې او پوسندګی یا ورستېدلو ته لېوالتیا لري. د هغې غلبې له کبله چې انحصارات یې د امپریالیزم په پړاو کې لري د نرخونو د تثبیت او په لوړه کچه کې د هغوي تصنعي ساتنې ته اړ دي. په همدې سبب د صنایعو خاوندان زیاتره د اختراعاتو نه ګټې اخستنې او په مدرنو اوزارو د زړو اوزارو د بدلون سره دومره لېوالتیا نه ښیي.

ځکه خو د پانګوالي ډېری انحصارات، ثبت شوي (کښل شوي) اختراعات رانیسی او پټ یې ساتي. ورستېدلو ته لېوالتیا په دې معنی نده چې په امپریالیزم کې هیڅکله هم پراختیا او

بشپړتیاته ځای نشته. انحصار د تېپه درېدنې زېرېدوونکې ده خو سیالي چې لاهم په امپریالیزم کې شتون لري، تل پانگوال اړ باسي څو د خپلو سیالانو نه په ارزانه بیه د پلورتوکو د پلورلو او د زیاتې گټې لاسته راوړلو په موخه د تولید په برخه کې د وروستنیو علمي او تخنیکي پرمختگونوپه نوښت یاابداع لاس پورې کړي. له همدې امله امپریالیزم کې په یوشمیر څانگو، په تېره بیانوو جوړو شوؤ څانگو کې تکنالوژي په چټکۍ سره بشپړتیامومي. ورستېدلو ته لېوالتیا له یوې خوا او ستر تخنیکي پرمختگ له بلې خوا همیشه یو تر بله په ټکرکې روان دي. کېدای شي چې کله وخت دوهم اړخ په لومړی اړخ لوړتیا ولري او دا په خپله په امپریالیزم کې د تضادونو د سختوالي او د لا زیاتې نا انډوله پراختیا او بشپړتیا سبب شي چې داهم دامپریالېزم له ځانگړوخصلتونوڅخه دی.

د امپریالیزم د وروستوالي دنخښونه یوه دا ده چې امپریالیستان د خپلې واکمنې ساتلو لپاره او کارگرې طبقې سره دخپلوشته تضادونو د کمښت په سوچ، او یا په بله ژبه د پرولتاریا بندی ساتلو لپاره، دهغو گټو لبر څه چې د مستعمرو او تړلو هېوادو د زبېښناک له لارې یې لاسته راوړي دي د بډو په توگه د کارگرې طبقې پاسني قشر ته ورکوي او په بدل کې یې دغه قشر اړباسي چې د دوی د گټو دپاره چوپړتیا وکړي. د پرولتاریا دغه قشر ته د کارگرو آریستوکرات قشر (دکارگرو اشراف) هم وایي چې معمولاً په طبقاتي مبارزو کې د پرولتاریا تر مشر تابه لاندې جبهه کې برخه نه اخلي.

۲- امپریالیزم، مرگونې پانگوالي ده:

امپریالیزم د پانگوالۍ ټول تضادونه د شدت وروستۍ کچې ته رسوي. له دې کبله د پانگوالۍ پراختیا اوبشپړتیاپه خپل

تر ټولو لوړ پړاو کې په سوسیالیستي انقلاب پای ته رسېږي چې د تولید پر وسایلو خصوصي ملکیت او د انسان له خوا د انسان زبېښناک پای ته رسوي. د امپریالیزم په پړاو کې د پانګوالو هېوادو وده په نا انډوله او دوره ایزه توګه ترسره کوي. د ساري په توګه د ۱۹ پېړۍ په وروستیو او د ۲۰ پېړۍ په لومړیو کې د انګلستان او فرانسې په شان هېوادونه او د اروپا نور امپریالیستي هېوادونه په خپلې چټکې ودې سره امپریالیستي پړاو ته ننوتلي او په پایله کې یې نړۍ خپل منځ کې سره وېشلې وه. وروسته، د متحده ایالاتو او آلمان په شان هېوادونو په چټکي سره د بشپړتیا لار مخکې ونیوله او پخواني هېوادونه یې هم شا ته پرېښودل او په همدې سبب دخپلې ونډې لاسته راوړلو دپاره د نړۍ په وېش کې د نوې کتنې غوښتونکي شول. د امپریالیستي هېوادونو منځ کې د شته تضادونو لا سختوالی د دغه بهیر پایله وه چې په پای کې د نړیوالې جګړې لامل شو. وروسته به د لنینیزم په بیان کې وګورو چې څرنګه پورته یاد شوي شرایط د امپریالیزم په پړاو کې په سوسیالیستي انقلاب اوړي. په همدې دلیل امپریالیزم ته مرګونې پانګوالي یا د سوسیالیستي انقلاب سریزه وایي.

**دریم انترناسیونال یا کمونیستي انترناسیونال:**

څنګه چې مخکې مو ورته ګوته ونیوله فرصت طلبه او سازښتکاره مشرانو د دوهم انترناسیونال په مشر تابه کې لاس برې وموند نوځکه خوهغه د ځوړتیا پر خوا لاړ او کیفي وده یې هېڅکله هم د کمي ودې سره متناسبه نه وه. خو ځینو کیڼ اړخو ګوندونو په تېره بیا د روسیې بلشویک ګوند چې په انقلابي مبارزو کې رسېدلی یا آبدیده او همدغشان د مارکسیزم انقلابي ښوونو ته وفا دار پاتې شوی ؤ د دوهم انترناسیونال موقع پرسته مشرانو د

لاس پرسرکېدنې او بیاکتنې پر ضد سخته مبارزه کوله. د دغه انقلابي اړخ مبارزه ترپخوازیات د لنین تر مشر تابه لاندې راغله او د اکتوبر د سوسیالیستي انقلاب په بریالیتوب سره ،چې حقیقت کې د علمي سوسیالیزم (مارکسیزم-لنینیزم) بری ؤ، د کارګري انقلابي ګوندونو د جوړښت په لار کې یو لوی ګام پورته شو. دغه ګوندونه د مارکس د وخت له دود سره سم او د ریفورمیستي انترناسیونال څخه دخپل بشپړ جلاوالي ښودلو لپاره "کمونیست ګوندونه" ونومول شول. کمونیستي انترناسیونال د دغو انقلابي ګوندونو له خوا په کال ۱۹۱۹کې جوړ شو او تر کال ۱۹۴۳ پورې یې خپلوچارو او د پرولتاریا نړیوال غورځنګ لارښوونې ته دوام ورکړ. دریم انترناسیونال د نړیوالې پرولتاریا د آرمانونو پلي کولو په لار کې لوی ګامونه واخیستل او یو رښتینی انقلابي او نړیوال سازمان او دنړۍ د کارګري غورځنګ د مشر تابه مرکز ؤ. د دریم انترناسیونال لومړۍ کنګره په کال ۱۹۱۹ کې د نړۍ د ۳۰ هیوادو کمونیستي ګوندونو او ډلو په ګډون جوړه شوه، مارکسیستي انقلابي غورځنګ په بیړه سره په اروپا، آسیا او امریکا کې پراختیاوموندله او کمونیست ګوندونه په ډېرو هېوادو کې تأسیس شول.

ددریم انترناسیونال دوهمه کنګره په کال ۱۹۲۰ کې د ۴۱ ګوندونو په ګډون جوړه شوه او په کمونیزم کې د افراطي کیڼ لاري ضد مبارزې او د کمونیست ګوند ۲۱ ګونو شرطونو په ټولونه کې یې مهم رول ولوباوه. په اصطلاح "کیڼ اړخو" د ریفورمیستانو تر مشر تابه لاندې سندیکاګانو او پارلمانونو کې د کمونیستانو هر راز ګډون سره مخالفت کاوه. "په کمونیزم کې کیڼ لاري د ماشوم توب ناروغي" تر عنوان لاندې د لنین نامتو کتاب خپرونې د دغې کنګرې د تیاري دپاره مهم رول تر سره کړ.

کمینترن د کمونیستانو تګ لاره په مستعمره او نیمه مستعمره هېوادو کې او د دغو هېوادو د بزګرو او محرومو پرګنو رول څرګند کړ.

د کمینترن اوومې کنګرې د جوړښت په وخت کې ځانګړې پاملرنه د فاشیزم ضد مبارزې ته وشوه. په دغه وخت کې په نړۍ کې۷۶ کمونیست ګوندونو شتون درلود چې یوازې ۲۲ ګوندونو په خپلو هېوادو کې د ښکاره چاروسرته رسولو اجازه درلوده او نورو یې په ناځرګندو شرایطو کې فعالیت کاوه. د دوهمې نړیوالې جګړې د پیل نه وروسته، د کمینترن غړو کمونیست ګوندونو د فاشیزم ضدستر فعالیت سر ته ورساوه او په اتلوالي سره یې په خپلو هېوادو کې د مقاومت یاټینګار د غورځنګونو لارښونه وکړه. په دې وخت کې د کمونیست ګوندونو دندې ډېرې پېچلې شوې وې او په بېلو هېوادو کې د مبارزې شرایطو یودبل سره ډېر توپیر درلود. کمونیست ګوندونو په ډېرو هېوادو کې وده او ټینګښت موندلی او د دې وس یې درلود چې په پوخوالي او مهارت سره د خپلو هېوادو د زیارکښانو د مبارزې لارښوونه وکړي. په دې ډول د ټولو هېوادو لپاره د یو واحد مشرتابه پاتې کېدل د نوو شرایطو سره عملاسمون نه خوړ او له دې کبله په کال ۱۹۴۳ کې د کمونیستي انترناسیونال د ړنګولو تکل و شو. له دې وروسته کمونیست او کارګري ګوندونه هر یو په خپلواکه توګه د خپلې ټولنې د پېژندنې اود هر هېواد د ځانګړو شرایطو سره سم د مارکسیزم – لنینیزم د عامو زده کړو په تطبیق او د کمونیستي غورځنګونوپه لارښوونه بوخت شول. د راز راز اړیکو، ددوه یا څواړخیزو سلامشورو ، د مختلفو ګوندونو د کنګرو، د مطبوعاتي، اطلاعاتي او ګډو تیوریکو همکاریو په ټینګولو او پای کې د سیمه ییزو کنفرانسونو او نړیوالوسلامشورو سره یې د ټولې

نړۍ د کمونیستانو منځ کې د سلامشورې چار ته دعمل بڼه ورکوله.

څنګه چې یادونه وشوه د امپریالیزم د پیدایښت او د سوسیالیستي انقلابونو د پېر د پیل اوپه نړۍ کې د لومړني سوسیالیستي انقلاب دبریالیتوب نه وروسته، مارکسیزم په نوي بشپړتیا یي پړاو کې ګام کېښود. دا پړاو د ولادیمیر اېلیچ لنین د نامه سره نه شلېدونکې اړیکې لري. له دې کبله مونږ په ډېره لنډه توګه د روسیې د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر د انقلاب څوټکي او د لنینیزم یا د مارکسیزم لنیني پړاو د کلیاتو نه دلته یادونه کوؤ.

د اکتوبر سوسیالیستي ستر انقلاب: داکتوبر ستر انقلاب د لنین ترمشرتابه لاندې د روسیې د کمونیست (بلشویک) ګوند په لاربښوونه په کال ۱۹۱۷ کې بري ته ورسید. د روسیې پرولتاریا او زیارکښانو د ۱۹۰۵ او ۱۹۱۷ د فبروري په انقلابونو کې د خپلو مبارزو نه سترې تجربې ترلاسه کړې وې. د فبروري د انقلاب او تزاریزم تر نسکورېدو وروسته ، د لنډمهاله دولت تر څنګ چې تشکیل شوی ؤ، یو بل ځواک "د کارګرو، بزګرو او سرتېرو د استازو شوراګانو" له خوارامنځ ته شو. د بلشویکانو ګوند د لنین تر مشر تابه لاندې د دغو شوراګانو د انقلابي ځواک په ملاتړ، د مؤقت دولت انقلابي ضد ماهیت او هم د منشویکانو تسلیم غوښتونکو سیاستونو د ښودلو دپاره ستر فعالیت پیل کړ.

لنین په امپریالیستي پړاو کې د پانګوالې ټولنې د بشپړتیا یي قوانینو په دودولو سره، یوازې په یو هېواد کې د سوسیالیزم دبریالیتوب امکان ثابت کړ او په خپله لنین او پرولتري ګوند یې د دغه تز د پلی کولو دپاره چمتو کېدل. د اپریل په تزونو مشهور د لنین تزونه په حقیقت کې سوسیالیستي انقلاب ته د فبروري د بورژوا دیموکراتیک انقلاب د لېږد دپاره د جګړې نخشه وه. د

لنډمهاله دولت، انقلابي ضد قهرجنوطریقو له امله ، بلشویک گوند اړ شو د اپریل نه تر جون میاشتو پورې پټ شي او په پټه یې د وسله وال پاڅون چمتوکېدل پیل کړ. د گوند اتمې کنگرې چې په پټه پتروگراد (اوسنی لنینگراد) کې جوړه شوه دغه کړنلاره تصویب کړه. دځومیاشتو (د ۱۹۱۷ کال د فبروري نه تر اکتوبر پورې) بورژوازي حکومت په لړکې او هم پخوانیو کلو کې، ولسونه په خپلې تجربې سره د بلشویکانو د کړنلارې په سموالي پوهېدلي ؤ. لنین د سپتامبر د میاشتې نیمایي د ولسونود وسله وال پاڅون لپاره مناسبه موقع وګڼله. د اکتوبر په دولسمه نېټه د انقلاب پوځي کمیټه د لنین په مشرتابه جوړه شوه. لنډمهاله دولت، پاڅون سره د مخاوی دپاره ځان چمتو او د اکتوبر په ۲۴ یې د بلشویکانو په مرکزونو یرغل پیل کړ. وسله والو کارگرو، انقلابي سرتېرو او سورگارډ یرغل پر شا وتمباوه او د اکتوبر په ۲۵ ورځ، د ښار ډېرې مهمې سیمې (دولتي ادارې، پست او تلگراف، وزارتخانې او بانکونه) د انقلابیانو په ولکه کې راغلې او د دغې ورځې په شپه کې ژمنی ماڼی چې د لنډمهاله حکومت ټیکاو ؤ د انقلابي ځواکونو په لاس کې پرېوت. د اکتوبر په ۲۵، د شپې په مهال، د روسیې سر ا سري شوراگانو دوهمه کنگره د لنین په مشري پرانیستل شوه او د شوراگانو حکومت رسماً اعلام شو. لومړنی شوروي سوسیالیستي دولت د لنین په ریاست جوړ شو. او په دې ډول د اکتوبر انقلاب، د بورژوازی زوړ دولت، د زبېښاک گرو طبقو د دولت ماشین مات او پرځای یې او د نوي طرز دولت، د کارگرو او بزگرو دولت جوړ کړ.

د اکتوبر انقلاب په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د استثمارچیانو واک را نسکورکړ او د ظلم، زبېښاک او طبقاتي ستم څخه خلاصې ټولنې د جوړېدو بنسټ یې کېښود.

څنګه چې تر اوسه مو وځېړل د بشري ټولنې بشپړتیایی بهیر چې د لومړني کمون د پیر څخه یې ځانته ځانګړې بڼه نیولې د پرله پسې بدلونونو او بشپړتیاپه بهیرپورې تړلې ده. زوړ پیردزوال په لوري درومي او خپل ځای د ځانګړو تولیدي طریقو او اړیکو او اړونده مخبنا سره نوي پیر ته سپاری. د سوسیالیستي انقلاب نه وړاندې د تاریخ ټول انقلابونه، که څه هم هر یو دمخکنیوپه پرتله مترقي ؤ، خو په هر حال یې یو نوی پیر چې پر زبېښاک باندې ولاړ ؤ د پخواني پیر پر ځای کیناوه او د زړې طریقې د زبېښاک پرځای یې دنوې طریقې زبېښاک را منځ ته کاوه چې د زبېښاک او ظلم جرړې نه ابستل کېدلې. یوازې سوسیالیزم ته د ټولنې لېږد دی چې د مولده ځواکونو د ودې لپاره ترټولو بشپړ شرایط برابرولای شي او د بشر پخوانی هیلې یعنې د رښتینې برابري، آزادي او ټولنیز عدالت ټینګښت او د انسان په واسطه د انسان د هر راز زبېښاک ورکاوی د ځان سره د ډالۍ په توګه راوړي. دغه په اصل کې نوی او له هر پلوه د نوي کیفیت لرونکی پړاو، د بشر په تاریخ کې د اکتوبر په سوسیالیستي انقلاب سره پیل شو. له دې تاریخ وروسته، د ظلم او زبېښاک دورکاوی شرنګاني کړنګېده او د کیفیت له مخې دوؤ متضادو سیستمونو، د سوسیالیزم سیستم او د پانګوالۍ سیستم د مبارزې پیر پیل شو او دغو دوو سیستمونو تضادونه د تاریخي دوران په ستر تضاد بدل شو. د سوسیالیستي انقلابونو او ملي آزادي بخښونکو انقلابونو پیر رارسېدلی او د امپریالیستي او مرتجع دولتونو د ټولو هلو ځلو سره سره، په توندۍ سره مخ پر وړاندې درومی. تر اوسه د انسان له خوا د انسان د زبېښاک ظالمانه سیستم، د ځمکې د کرې ۱/۳ نه لا زیاته برخه کې، رسماً غورځېدلی دی او د امپریالیزم د وروستني مرګ دزېري راوړلو په لور روان دی.

د سوسیالیستي انقلابونو تاریخي دوران، له هغو اوښتنو او ګډوډیو سره سره چې په سوسیالیستي هېوادو کې لېدل کېږي او د زاړه نظام نه نوي نظام ته د لېږد په دوران کې طبیعي برېښي، همغشان به خپلې لارې ته دوام ورکړي او د تاریخ د جبر پر بنسټ به د نړۍ د زیارکښې طبقې وروستني بري ته و رسېږي.

**لنینیزم:**

هغه تعریف چې استالین د لنینیزم نه کړی تقریباً په دې مضمون دی:

"لنینیزم، د امپریالیزم او پرولتاریایي انقلاب د زمانې مارکسیزم دی. . . لنینیزم په ټولیزه توګه د پرولتاریایي انقلاب تیوري او تاکتیک او په ځانګړې توګه د پرولتاریا ددیکتاتوري تیوري اوتاکتیک دي. . . " داتعریف په ډاګه کوی چې لنینیزم، د امپریالیزم په زمانې کې د مارکسیزم بشپړتیاده. دې تیوري په خاصه توګه د روسیې د سوسیال دیموکرات ګوند (بلشویزم) د مبارزو او د دوهم انترناسیونال دننه دبې لارو بهیرونو ضد مبارزو او د دریم انترناسیونال د بنسټ ایښودلو په بهیر کې بشپړتیا او شکل وموند چې په لاندې لنډ ډول څېړل کېږي:

۱- د مارکسیزم د فلسفې لنیني پړاو:

تر ټولو غټ چوپړ چې لنینیزم، د مارکسیزم فلسفې په اړه سرته رسولی دی، مارکسیزم څخه د بې لارو او ناسمو مکتبونو په وړاندې دفاع وه، چې دامپریالیستانو یا د دوی د ګوډاګیانو له خوا د مارکسیزم پر ضد د کارګرې طبقې منځ کې خپرېدل. لنین او د پرولتاریا نور مشران د مخالفینو پر ضد خپلې پر له پسې مبارزې په بهیر کې نه یوازې د دښمنانو له زیان څخه د مارکسیزم د فلسفې

په ساتنه بریالي شول بلکه د دغې مبارزې په بهیر کې وتوانېدل چې مارکسیستي فلسفې ته لا بشپړتیا وبخښي. په دغه وخت کې د لنینیزم بنسټیزه دنده، موجودوشرایطوسره دمارکسیزم سمون او دپرولتاریا غورځنګ لپاره مارکسیستي پایله اخیستنه وه. لنینیزم خپل دا تاریخي رسالت په ښه توګه سرته ورساوه. د دې چار تر ټولو ښه شاهد، په شوروي اتحاد او بیا په نورو هېوادو کې د سوسیالیستي انقلاب بری دی چې په یوه هېوادکې دسوسیالیزم دبریالیتوب په اړه د لنین پرنوي کشف ولاړ ؤ. لنینیزم، دیالکتیک ماتریالیزم ته لا وده ورکړه او د بلشویک کمونیست ګوند انقلابي مبارزو او د اکتوبر د انقلاب په بهیر کې په شوروي اتحاد کې یې د سوسیالیزم جوړونه بډایه کړه.

۲- د مارکسیستي سیاسي اقتصاد لنیني پړاو:

مارکسیزم، د انحصار نه مخکې، د پانګوالې ټولنې قوانین او خصوصیات په ځیر سره وڅېړل. خو د پرولتاریا د سترو مشرانو، مارکس او انګلس د ژوند په دوران کې د امپریالیزم د شرایطو څېړنه شونې نه وه، ځکه امپریالیزم لا خپله ځانګړې بڼه نه وه ښکاره کړې. د نوو اقتصادي شرایطو (امپریالیزم) د څېړنې دنده د لنینیزم پر غاړه پرېوتلې وه. مارکسیستي سیاسي اقتصاد ته دلنینیزم لومړنی خدمت دامپریالیستي سیاسي اقتصادڅېړنه وه. هغه څه چې مو تر اوسه د "امپریالیزم" تر نامه لاندې لوستلي دي، د لنینیزم د کشفیاتو له جملې څخه دي. لنینیزم همدا شان د سوسیالیزم او کمونیزم د اقتصادي قوانینو لویه برخه هم راڅرګنده کړې ده.

۳- د علمي کمونیزم د تیوري لنیني پړاو:

مارکس او انګلس په داسې زمانه کې اوسېدل چې پانګوالي هېوادونېردې په همغاړه توګه بشپړتیا موندلی او پانګوالو د

کارګري بین المللي غورځنګونو په وړاندې هملاسې جبهه جوړه کړې وه. په طبیعی توګه مارکس او انګلس په دې باور ؤ چې سوسیالیستي انقلاب بایده دی چې په یو وخت کې په ټولو یا کم تر کمه د پانګوالي پرمختلفو ډېری هېوادو کې یوبل سره جوخت سرته ورسېږي څو پانګوالي یې دځپلو توان ونلري. خو پانګوالو هیوادو د امپریالیزم پړاو ته په رسېدلو سره په نا انډوله توګه بشپړتیا کړې او د نړۍ د بیا وېش پرسر د دوی په منځ کې شته تضادونو بیسارۍ زور وموند او په پای کې د دوی ترمنځ د جګړې لامل شو. لنینیزم د یاد شوو شرایطو په څېړلو سره داسې پایله تر لاسه کړه چې د امپریالیزم په پړاو کې دهېوادونو بې تولې یانااندوله اقتصادي او سیاسي بشپړتیا، د سوسیالیستي انقلاب د بري دپاره لازم شرایط په یو هېوادکې، او په بېلوبېلووختو کې په نورو هېوادونو کې، برابر وي. ځکه د امپریالیستي تضادونو زور اخیستل او پای کې د دوی په منځ کې جګړه د امپریالیزم د نړیوال ځنځیر د شلیدلو شونتیا د هغه تر ټولو کمزورې کړۍ کې برابروي. سربېره پر دې لنین او استالین د پرولتاریا د دیکتاتوري، د کمونیست ګوند د ستونزو، د سوسیالیزم د ټینګښت او د خلکو امپریالیستي ضد نړیوال غورځنګ او په لسګونو نورو ربړو په بیانونه کې، د علمي کمونیزم تیوري ته بشپړتیا ورپه برخه کړه.

د امپریالیزم په پړاو کې انقلابي چاپېریال:

لنین د انقلاب شرایط داسې راټول کړي دي:

۱- عیني عوامل: د امپریالیزم په شرایطو کې په هر انقلاب کې، انقلابیان دنده لري د خپل هېواد دننه او بهر عیني او ذهني شرایط په پام کې ونیسي. د انقلاب عیني عوامل په دوو ډلو، کورنیو او بهرنیو، وېشل کېږي. د دیالکتیک د قوانینو او د پرولتاریا د سترو مشرانو د زده کړې سره سم، کورني عوامل

بنسټ او بهرني عوامل د انقلاب شرطونه ګڼل کېږي. د امپریالیزم په څېړنه کې مو ولوستل چې د تولید تمرکز او د انحصاراتو پیدایښت، د لږ شمیر په لاس کې د پانګې او ټولنې شتمني د تمرکز سبب ګرځي، په داسې حال کې چې د ډېرى زیارکښانو د ژوند کچه ورځ په ورځ را ټیټیږي. زیارکښه پرګنې په تېره بیا پرولتاریا چې د نیستي او بېوزلي له امله د لوږې نه دخلاصون لپاره بله چاره نه لري پرته له دې چې د پانګې مزدور شي، د امپریالسیتانو په بېرحمانه زبېښاک کې نښلي او پرله پسې لانېستمن کېږی. له بلې خوا مالي الیګارشي دامپریالېزم په پړاوکې دحکومت په لاس کې نیولو او دبورژوازي دموکراسي نه فاشیزم ته په لېږد سره وښودله چې نور نشي کولای په خپل دموکراسي ډوله زاړه سیاست باندې ډډه ولګوي. په دې ډول چې دهر هېواد دننه دنه پخلا کېدونکو تضادونو په قوت موندلو او دزیارکښو پرګنو دطبقاتي مبارزو او آزادي غوښتونکو غورځنګوزور اخیستنې سره دانقلاب دننني عیني عوامل تیار او چمتو کېږی. انقلابیان دنده لري چې په ځانګړې توګه دهېواد کورنیو عواملو ته پاملرنه وکړي خو بایده دی بهرني لاملونه هم تر څېړنې لاندې ونیسي.

بهرني مساعد شرایط داسې لنډولای شو: د امپریالیستي دولتونو د تضادونوقوت او له هغوي نه د ګټې اخیستنې څرنګوالی، د نړی د انقلابي او ارتجاعي ځواکونو موقعیت او سمبالتیا، د نورو انقلابي غورځنګونو د ملاتړ او مرستې کچه او د نړیوال امپریالیزم د پوځي لاسوهنې د شونتیا اندازه او په اوسنیو شرایطو کې په تېره بیا د نړی د انقلابي کمپ او په ځانګړې توګه انقلاب څخه د سوسیالیستي هېوادو نو د ملاتړ امکانات او داسې نور.

۲- ذهني عوامل: د انقلاب په چار کې د بري دپاره بایده

دی، پرولتاریا او زیارکښې انقلابي پرګنې دمارکسیزم – لنینیزم په تیوري سمبال وي. پرولتاریا د دغې تیوریکې وسلې او خپل جنګي درستیزوال (کمونیست ګوند) په لاس کې لرلو سره کولای شی د دغو عواملو په برابرولو کې بنسټیز او لارښوونکی رول په واک کې ولري. د ذهني عواملو د پوره کولو دپاره لازمه ده چې کمونیست ګوند د انقلابي اود مارکسیزم – لنینیزم په خلاقې پوهې سمبال کادرونو د روزنې په ترڅ کې، د هېواد دننه په یو لړ رسوا کوونکو تبلیغاتو او فعالیتونو چې د نړیوال امپریالیزم او کورنی بورژوازي ماهیت په ډاګه کوي، لاس پورې کړي او د خلکو منځ کې مارکسیزم په ساده ژبه خپور کړي. کمونیست ګوند باید دولسونو رول هغوی ته وښيئي او هغوی د انقلاب ځلانده پایلو او د سوسیالیزم جوړونې سره آشنا کړي. دغې موخې سره د مرستې دپاره کمونیست ګوند باید دپرولتاریاد ټولو انقلابي اوغیرګوندي سازمانونو لکه د اتحادیو او سندیکاګانو مشري هم په خپله غاړه واخلي او د دوی څخه ولسونو سره دنښلوونکي ځنځیر په توګه ګټه واخلي. د دغشان شرایطو لاندې پرولتاریا کولای شي د انقلاب د مشرتوب په لاس کې نیولو دپاره بشپړچمتووالی ونیسي.

دنړۍ کارګرانوسره یوشئ!

نهم څپرکی

# د کمونیزم اقتصادي – ټولنیزه جوړښت

**سریزه**

له هغه وخته چې په انساني ټولنو کې د لومړی ځل لپاره طبقات منځ ته راغلل، پېړۍ تېرې شوې. د نړۍ زیارکښانواورنځګاللو د پېړیو پېړیو راهیسې د نیستۍ او بد مرغۍ په تل کې د آزاد او د ظلم او زبېښاک نه خلاص ژوند خوبونه لیدل. هغوي همیشه خپلې دغې هیلې ته د رسیدو دپاره په هاند او مبارزه کې ژوند تېراوه. په همدې سبب د طبقاتي ټولنو تاریخ د طبقاتي مبارزې پرته بل څه نه دی.

د تاریخ هره پاڼه دځبېښاکګرو ضد د زیارکښانو د خونړیو بلواوو، انقلابونو او پاڅونونو نه ډکه ده. خو د نړۍ د زیارکښانو مبارزه په بېلا بېلو دلایلو له دغې جملې نه د خپل وخت د شرایطو نه ناخبر او د مبارزې د سمې لارې او د هغه څه نه درلودل چې په راتلونکي کې باید منځ ته راشي، زیاتره د ماتې سره مخ کېده. ځکه د دوي بلواوې پاڅونونه او په ټولیزه توګه مبارزې یواځې د روان حالت نه د دوي دبېزارۍ غبرګون ؤ. پای کې د علمي کمونیزم بنسټ ایښودونکو، مارکس او انګلس د نوې ټولنې ودانول، د زیارکښو پرګنو ستر اکثریت لپاره د نیکمرغې ټولنې د جوړښت په

ستر چار کې د بري سمه لار، پرولتاریا ته وښودله او د دوي دلارې لارویانو لنین، استالین او د پرولتاریا نورو مشرانو هغه قوانین چې دوي کشف کړي وو د پانګوالی نوو شرایطو یعنې امپریالیزم سره برابرونه او په پای کې د نړیوال امپریالیزم په مرګوني تن باندې په غوڅه توګه ګوزار کولو سره یې د ځمکې د کُرې یو پر شپږمه برخه کې سوسیالیزم بري ته ورساوه او په نړۍ کې یې لومړني سوسیالیستي دولت منځ ته راوړ. هوکې! پرولتاریا چې د تاریخ ترټولو انقلابي طبقه ده د خپل مخکښ، کمونیست ګوند تر مشر تابه لاندې یې د انقلاب خونړی بیرغ راپورته کړی اولګیاده د نړۍ د زیارکښانو په لومړۍ کتارکې د زبېښاکګرو پر ضد پرله پسې مبارزه کوی. په دې ډول د نړۍ د زیارکښانو هیله بریالۍ شوه او پرولتاریا وکړای شو د نیمې پېړۍ په موده کې د ځمکې کُرې پر قابونیمایي برخې خپله واکمني ټینګه او د سوسیالیزم ستره اډه منځ ته راوړي. د کمونیزم اقتصادي ټولنیزه جوړښت په خپل پراختیا اوبشپړتیا کې له دوو پړاوونو نه تېرېږي چې لومړۍ پړاو یې سوسیالیزم او وروستنۍ او لا لوړ پړاو یې چې بې طبقو ټولنه ده، کمونیزم نومېږي.

## له پانګوالی نه سوسیالیزم ته دلېږد پړاو د سوسیالیزم د پیدایښت بهیر

الف- سوسیالیستي انقلاب:

د ټولنیزو انقلابونو هغه ګروپ چې د پانګوالو واکمني پای ته رسوي او موخه یې د بورژوازي اړیکو ړنګېدنه او دسوسیالیستي تولیدي اړیکو ټینګیدنه ده د خصلت له پلوه سوسیالیستي (پرولتاریایی) انقلابونه دي. خوځوونکي ځواکونه یې پرولتاریا او د هغې هملاسي (د سراسرې ټولنې زیارکښه پرګنې)

جوړوي. سوسیالیستی انقلاب د ځانګړو خصوصیاتو لرونکی دی چې بورژوازي انقلاب سره بنسټیز توپیر لري. د توپیر اړخونه استالین په لاندې پنځو ټکو کې لنډ کړیدي:

۱- معمولاً بورژوازی انقلاب هاغه وخت پیل کېږي چې د پانګوالي تولیدي اړیکو ځواکمنه پاتې شونې لا پخواد فیوډالي ټولنې په تل کې منځ ته راغلې، وده اوپرمختګ یې کړی وي، خو سوسیالیستي انقلاب هغه وخت بري ته رسېږي چې د سوسیالیستي تولیدي اړیکو له اړخونو نه هېڅ یانژدې هېڅ، په ټولنه کې شتون نلري.

۲- د بورژوازي انقلاب اساسي دنده دا ده چې حکومت ترلاسه او د بورژوازي موجودو تولیدي اړیکو سره یې هم غاړی کړي په داسې حال کې چې د پرولتاریایي انقلاب اصلي دنده داده چې د حکومت په لاس کې نیولو نه وروسته سوسیالیستي نوې تولیدي اړیکې ټینګې کړي.

۳- بورژوازی انقلاب معمولاً د حکومت په ترلاسه کولو پای ته رسېږي په داسې حال کې چې دپرولتاریایي انقلاب لپاره د حکومت په لاس کې نیول، د کار نوی پیل دی. دا انقلاب، حکومت څخه د زړې ټولنې د جوړښت له منځه وړلواو د نوي اقتصادي – ټولنیز جوړښت د رغاونې لپاره د یوې بنسټیزې وسیلې په توګه ګټه اخلي.

۴- بورژوایی انقلاب یوه زبېښاګره ډله چې د حکومت په سر کې ده (فیوډالان یاځمکوال) د بلې زبېښاګرې ډلې (پانګوالو) سره بدلوي او له دې امله د زاړه دولتي ځواک ماتولو ته اړتیا نلري، په داسې حال کې چې پرولتاریایي انقلاب د حکومت د سر نه ټولې او هر راز زبېښاګرې ډلې راغورځوي او د ټولو زیارکښانو او زبېښل شوو، مخکښان یعنې د کارګرې طبقې ګوند د حکومت

په سر کې راولي. دولتي زوړ ماشین ببخي او په بشپړه توګه ماتوي او د نوې بڼې حکومت (د پرولتاریا دیکتاتوري) منځ ته راوړي.

۵- بورژوایي انقلاب نشي کولای د اوږدې مودې دپاره په ملیونونو زیارکښه او زبېښل شوې پرګنې د بورژوازي په شاوخوا چې زبېښاګګره ده راټولې کړي، په داسې حال کې چې د سوسیالیستي انقلاب بنسټیزه دنده یعنې د پرولتاریایي حکومت ټینګښت او د سوسیالیستی نوي اقتصاد ودانول، یوازې د پرولتاریا، بزګرو او د ټولنې د ټولو زیارکښانو ترمنځ د نه شلېدونکي پیوستون او یووالي له لارې سرته رسیږي.

ب -قهرجنه مبارزه د سوسیالیستي انقلاب یوائنۍ لار:

تاریخ ښودلې ده چې زبېښاګرو طبقو هېڅکله په خپله خوښه د واک نه لاس نه دی اخیستی. له دې کبله انقلابي طبقې ناچاره دي د زور او جبر له لارې پر هغوي بریالۍ شي او واکمنې ترلاسه کړي. وروستنۍ یوې پېړۍ نه زیاتې مودې کې د پرولتاریا تجربو د دې تاریخي واقعیت سموالۍ تایید کړی دی. ځکه،جوته ده چې بورژوازی هېڅکله نه غواړي د هغو ماڼیو، ساتېریو او سوکالي ژوند نه، چې د پرولتاریا او نورو زیارکښانو د زبېښاک له لارې یې تر لاسه کړي، لاس واخلي او د پرولتاریا کچې ته راټيټه شي، په همدې سبب په بشپړ ځناورتوب سره د خپلو طبقاتي امتیازونوساتنه کوي. تاریخي تجربو په نږدې ټولو برخوکې ثابته کړې ده چې پرولتاریا، پرته د زور او وسله وال پاڅون له لارې د خپلو حقه حقوقو تر لاسه کولوپاره بله لار نلري. که څه هم د پرولتاریا مشرانو سوسیالیزم ته د پانګوالي د سوله ییزه اوښتون وړاند وینه کړې وه خو هغه څه چې لا تر اوسه تاریخي تجربې ثابته کړې، دا ده چې دغه چار ډیر استثنایي او نسبتاً لږې راتلونکي پورې اړوند دي، نه په اوسنیو شرایطوپورې. له قهریزې

لارې د واک تر لاسه کول په اوسنیو شرایطو کې د بورژوازي نه د واک ترلاسه کولو یوازنۍ لار ده، ځکه چې امپریالیزم دتېپي شوي مار په شان د پخوا په پرتله په لسګونو چنده زیات خوړل کوي. او تر هغه وخته پورې چې د نړۍ په یو ګوټ کې هم پانګوالي واکمنه وي، پرولتاریاته نه ښایي او نشي کولای چې خپله وسله پر ځمکه کیږدي.

ب -سوسیالیزم ته د پانګوالي د لېږد (تللو) پړاو یوه تاریخي اړتیا ده:

له هغه ځایه چې د تولید په بهیر د پانګوالي د برلاسي له کبله سوسیالیستي تولیدي اړیکې نشي کولای د پانګوالي ټولنې دننه منځ ته راشي او په ټولنه کې د دغو اړیکو ټینګښت په لنډه موده کې شونې نه ده نوځکه په ټولو هېوادو کې د سوسیالیزم د ټینګښت د لازمو شرایطو برابرولو دپاره یو څه موده وخت لازم دی، ترڅوچې ورو ورو سوسیالیستی اقتصاد د پانګوالي اقتصاد ځای ونیسي. دغه وخت ته له پانګوالي څخه سوسیالیزم ته، دلېږد (تللو) پړاو وایي.

په دې پړاو کې سوسیالیزم لا ودان شوی نه دی خو د جوړېدو په حال کې دی او پانګوالي لا اوس هم نړېدلې نه ده بلکه په خوځښت کې ده. دلېږد پړاو د هر هېواد دپاره چې په سوسیالیزم کې پل کښېږدي، که صنعتي او پر مختللی وي او که وروسته پاتې، یو حتمی پړاو دی چې البته موده یې پر هر هېواد باندې د واکمنو اقتصادي، ټولنیزو، او تاریخي شرایطو په پرتله توپیر لري. په ټولنه کې د سوسیالیستی سترو بدلونونو د سرته رسولو او د راپرځېدلې بورژوازي د دسیسود شنډولو دپاره د حکومت یوه نوې بڼه یعنې د پرولتاریا دیکتاتوري منځ ته راځي.

ت -د پرولتاریا دیکتاتوري:

د پرولتاریا دیکتاتوري د سوسیالیستي انقلاب د بري او د بورژوازي دولتی ماشین د ټوټې ټوټې کېدو له کبله منځ ته راځي. د پرولتاریا دیکتاتوري، د دولت نوې بڼه ده چې د پخوانیو دولتونو سره بنسټیز توپیر لري.

«د پرولتاریا دیکتاتوري، د پرولتاریا او د بزگرو زیارکښو پرگنو طبقاتي یووالی دی چې د پانگوالي پاتې شونو د راپرځولو او د سوسیالیزم وروستني بري دپاره، ټینگېږي. خو په دې شرط چې د دې یووالي لار ښود ځواک، پرولتاریا ده.» پخواني دولتونه په ډېری زیارکښو باندې د لږکي زبېښاکگرو دیکتاتوري وه، په داسې حال کې چې د پرولتاریا دیکتاتوري پر لږکي زبېښاکگرو باندې د ډېری زیارکښو دیکتاتوري ده. کله چې سوسیالیستي انقلاب بریالی کېږي، دبورژوازي مقاومت، چې ماتې یې خوړلې او خپله دولتي واکمنی یې د لاسه ورکړې ده، د ټیپي شوي مار په شان څو برابره کېږي او په دې لټه کې وي چې ټولنه تر هغه ځای پورې چې کولای شي زهرجنه کړي او یا یې پخواني حال ته راوگرځوي له دې کبله په داسې شرایطو کې د ولسی پرگنو او په لومړی درجه د بزگرو په ملاتړ سره د پرولتاریا د دیکتاتوري ترټولو ستره دنده د زبېښاکگرو طبقو، په ځانگړي ډول دبورژوازي، ځپل دي.

دزبېښاکگروضد او د سوسیالیزم د ودانی په موخه د کارگرې طبقې او بزگرو گډه مبارزه، د دوي منځ کې نه شلېدونکی پیوستون ټینگوي. د پرولتاریا د دیکتاتوري تر ټولو لوي او لوړ اصل دا دی چې بنایی د کارگرې طبقې او زیارکښو بزگرو منځ کې ټینگ اتحاد شتون ولري. د پرولتاریا د دیکتاتوري مفهوم د اقتصادي چارو په اداري، د دولتي ارگانونو په کار او د ټولنې دټولنیز او فرهنگي ژوند د ټولو برخو په رهبري کې د زیارکښو پراخو پرگنو فعاله او نبغ گډون څخه عبارت دی. د پرولتاریا

دیکتاتوري د سوسیالیستي ټولنې د بنسټ جوړلو وسیله ده. پرولتاریایي دولت د یوه سوسیالیستي اقتصاد د منځ ته راوړلو په لار کې هلې ځلې کوي او اقتصادي برخو کې د دولت د عملي کړنو په پایله کې د تولیدي اړیکو یو نوی سیستم منځ ته راځي. د تولید پر وسایلو سوسیالیستی مالکیت او د هغو خلکو منځ کې چې زبېښاک نه خلاص شوي سوسیالیستي متقابله مرسته، له سیالۍ نه ډکه ملګرتیا او همکاري، د دغو اړیکو بېخ او بنسټ جوړوي.

ث -د سوسیالیستي انقلاب د پراختیا او بشپړتیا بنسټیز قوانین او د سوسیالیزم رغاونه:

سوسیالیزم ته د پانګوالي لېږد د هغو قوانینو پر بنسټ عملي کېږي چې د سوسیالیزم پر لور، ټولوبشپړتیا موندونکو هېوادونوکې یوشانته دي، دغه قوانین په لاندې ډول دي:

۱- د پرولتاریا په وسیله د سیاسي واک تر لاسه کول او د کمونیست ګوند تر مشر تابه لاندې د پرولتاریا د دیکتاتوري ټینګېدل.

۲- د د ډېریو بزګرو او نورو زیارکښانو سره کارګرې طبقې پیوستون.

۳- د پانګوالۍ د مالکیت له منځه تګ او د تولیدپر اصلي وسایلوددډله ایز مالکیت ټینګښت.

۴- په سوسیالیستي کوپراتیفونو باندې دکرنې کرار کرار بدلون.

۵- پروګرام سره سم دملي اقتصاد پراختیا او وده او د سوسیالیزم او کمونیزم د رغاونې پر لور د هغه لاربښوونه او د زیارکښود ژوند کچې لوړېدل.

۶- په ایډیالوژي او فرهنګ کې د انقلاب او د ډېرۍ روڼ اندو د روزنې له لارې چې ځانونه یې د کارګرې طبقې او ټولو

زیارکښانو او د سوسیالیزم موخو ته ځانګړي کړي، د سوسیالیستی انقلاب سر ته رسول.

۷- د ملی زورزیاتیو له منځه وړل او په یو هېواد کې د مېشتو ټولو ملیتونو منځ کې د مساوي حقوقو او دوستانه اړیکو ټینګښت.

۸- د سوسیالیستي دولتونو ټینګښت، پراختیا او بشپړتیا او د کورنیو او بهرنیو غلیمانو په وړاندې د سوسیالیزم د لاسته راوړنو څخه دفاع.

۹- د سوسیالیستی هېوادونو کارګرې طبقې او نورو هېوادو د پرولتاریا یعنې پرولتاریایي انترناسونالیزم منځ کې یووالی.

د مارکسیزم – لنینیزم پر بنسټ د سوسیالیستي انقلاب د پراختیا او بشپړتیا او دمارکسیزم-لنینیزم پر اساس اوبنسټ دسوسیالیزم رغاونه، په سوسیالیستي هېوادونو کې د کمونیست ګوندونو د سیاست اصلي منځ پانګه (محتوی) جوړوی. لېکن د سوسیالیزم د جوړښت ډولونه او طریقې د هر هېواد تاریخي عیني شرایطو ته په پام سره کېدای شي یو تر بله توپیرو لري خو په اصل کې دټولو موخه د سوسیالیزم ودانول دي.

ج- د لېږد د پړاو اقتصاد:

د لېږد د پړاو اقتصاد ته پانګوالي یا سوسیالیستي اقتصاد نشي ویل کېدای بلکه د دواړو څخه یو ترکیب دی. دا اقتصاد د اقتصادي بېلا بېلو برخو پر بنسټ ولاړ دی. کېدای شي د مختلفو هېوادو اقتصادي برخې، د لېږد په پړاو کې، ډول ډول وي خو هر یو هېواد چې د لېږد پړاو ته ورننوزي خامخا به د دریو اساسي برخو لرونکی وي. سوسیالیستی برخه، کوچنیپلورتوکیزه برخه او کاپیټالستي برخه.

۱- سوسیالیستي برخه:

هغه لومړنۍ او لوی ګام چې د پرولتاریا دیکتاتوري یې د اقتصاد په برخه کې اخلي د سوسیالیستي ملي کولو له لارې د ملي اقتصاد د مشر تابه مقام ترلاسه کول دي. سوسیالیستي ملي کول، د زبېښاکګرو طبقو د شتمنیو مصادره کول او په دولتي یا سوسیالیستي شتمنیو (د عامو خلکوشتمنی) د هغو اړول دي. د تولید د وسایلو سوسیالیستي ملي کول د پانګوالې ټولنې اصلي تضاد، یعنې د تولید ټولنیز خصلت او د تولید پر وسایلو د خصوصي مالکیت تر منځ تضاد، په دې اقتصادي برخه کې تر ډېرې کچې پورې حلیږی. دا ګام تولیدي اړیکې د مولده ځواکونو سره همغاړې کوي او د هغو د ودې په لار کې شته خنډونه له منځه وړي. ملي کول، لومړی په درنو صنایعو،بانکونو، د اوسپنې په لارو، داړیکو په وسیلو، سوداګریزو مؤسسو او نورو کې پلې کیږي او کرهڼه هم دځمکې له شرایطو سره سم ملي کیږي. په دې ډول سوسیالیستي دولت د یوې داسې برخې په جوړولو لاس پورې کوي چې پخوا یې په ملي اقتصاد (پانګوالې ټولنې) کې شتون نه درلود چې هغې ته سوسیالیستی برخه وایی. سوسیالیستی برخه د لېږد پړاو په اقتصاد کې لاربښوونکی رول لوبوی. ځکه دا برخه د ملي اقتصاد اصلي څانګې او ترټولو مدرن تخنیکي وسایل په واک کې لري. په سوسیالیستی مؤسسو کې د انسان نه د انسان زبېښناک نشته او دکار ځواک دپلورتوکي په بڼه نه راڅرګندیږی هغه څه چې په سوسیالیستی برخه کې تولیدیږي په ټولې ټولنې پورې اړه لري.

۲- دکوچنیوپلورتوکوبرخه برخه:

وړوکې پلورتوکېزې برخې کې،بزګران (پرته دکوپراتیفونو)، کسبګران او هغه صنعتګران شامل دي چې اقتصاد یې دمحدودو

خصوصي توليدي وسايلو، د نوموړو د شخصي کار، پر بنسټ ولاړ دی. د لېږد د پړاو په لومړیو، په تېره بیا په هغو هېوادو کې چې ملي پانگوالی ډېره وده نه ده کړې، وړوکې پلورتوکیزه برخه د نفوس ډېرې برخه رانغاړي. وړوکې پلورتوکیزه برخه د سوسیالیزم درغاونې په بهیر کې د کوپراتیفي شرکتونوله لارې، ورو ورو په سوسیالیستی تولید بدلیږي.

۳- کاپیټالیستي برخه:

په کاپیټالیستي برخه کې، لا هم د پانگوالي تولید طریقه شتون لري، څکه سوسیالیستي دولت نشي کولای او نه بنایي یو وار د هېواد ټول اقتصادي سیستم په بل مخ واړوي. کاپیټالیستی برخې کې هغه اقتصادي مؤسسات شامل دي چې د تولید پر وسایلو دخصوصی مالکیت او مزدوري کار پر بنسټ ولاړ دي. دا برخه په کلیو کې د شتمنو بزگرو (کولاکانو) او په ښارونو کې د پانگوالي منځکوره مؤسسو د خاوندانو نه چې تر اوسه لا ملي شوي نه دي، جوړېږي په دې برخه کې لا هم زبېښناک شته او د کار ځواک دپلورتوکوپه بڼه دی. سوسیالیستی دولت په لومړي سر کې کاپیټالیستی برخې دپاره خنډونه را منځ ته کوي او په تېره بیا په دې برخه کې، د کارگروزیات زبېښناک له منځه وړي او ورو ورو د دوي په وضعیت کې لا ښه والی راولي او بیا د لازمو شرایطو په برابرېدلو سره، چې ترټولو مهم یې د سوسیالیستی برخې وده ده، دغه برخه په بشپړه توگه له منځه وړي.

۴- د هېواد سوسیالیستي صنعتي کول:

سوسیالیزم ته د رسېدو دپاره لازمه ده چې د لیږد پړاو، د اقتصاد کاپیټالیستی او وړوکې پلورتوکیزه برخه له منځه لاړه شي. د دې برخې د له منځه وړلو یوازنۍ لاره په سوسیالیستی طریقې د هېواد صنعتي کول دي. پانگوالي معمولاً په ډېری هېوادو کې

یوازې د اقتصاد هغه څانګې صنعتي کوي چې ډېرې ګټې ورته راوړي. له دې کبله ځینې هغه هیوادونه چې د لیږد پړاو ته ننوځي، لا هم د صنعت له پلوه په ډیرو برخو کې کمزوري او بې وسې دي، په داسې حال کې چې د هیواد سوسیالیستي صنعتي کول، د اقتصاد د ټولې څانګې د لا پراخه صنعتي کولو پرلور بیایی سوسیالیستی دولت، د پانګوالي پرخلاف لومړۍ د درنو صنایعو په پراختیا لاس پورې کوي او بیا د دغو صنایعو د پراختیا سره جوخت سپکو صنایعو ته هم وده ورکوي. له بل پلوه د هیواد د صنعتي کولو لمن د ښارونو نه کلیو ته غځوي او د میکانیزه او مدرنې کرکیلې بنسټ ږدي. د هېواد صنعتي کول په ټولو هېوادو کې د سوسیالیزم رغاونې ترټولو مهمې بنسټیزې ستنې ګڼل کیږی.

۵- د کرنې سوسیالیستي اوښتون:

لومړۍ ګام چې پرولتاریایي دولت یې د کرنې په برخه کې پورته کوي، د زبېښاکګرو د ځمکو مصادره او بزګرو ته د هغوسپارل دی. خو د ځمکې تر مصادرې وروسته د اقتصاد واکمن ډول تر یوې مودې پورې د بزګرو وړوکی او خصوصی تولید دی، ځکه سوسیالیزم په دوو بشپړو متضادو ستنو (سوسیالیستی برخه او وړوکې پلورتوکیزه برخه) رغېدلای نشي. یله دې کبله دکرنې ماهیت هم باید بدلون او د سوسیالیستی بڼې په لور بشپړتیا وموومي. د دې موخې سرته رسېدو دپاره، سوسیالیستي دولت د کئوپراتیفونو په جوړولو لاس پورې کوي. کئوپراتیفونه یوه اشتراکي بانډه ده چې د یو یا څو کلیو بزګر ان سره راټولوي. بزګران، کئوپراتیفونوته په ورننوتلو سره د تولید بنسټیز وسایل یعنې د کرنې وسایل، څاروي، زړی (زښی)، دعمومي څارویو د اړتیا وړ واښه او د بانډو ودانۍ اشتراکي کوي. په داسې حال کې چې

ځمکه په ټول ملت پورې اړه لري، سوسیالیستي دولت یې تر هغه وخته پورې چې کوپراتیفونه شتون ولري د دوي په واک کې ورکوي. کوپراتیفونه او ټوله شتمني یې د بزگرو ده. د دې کوپراتیفونو عاید د بزگرو د کار په اندازه، د دوی منځ کې وېشل کیږي. د کرنې اشتراکي او میکانیزه کول د کلیو په اقتصاد، ژوند او فرهنگ کې بنسټیز بدلون او تغییر راولي او د بزگرو کار لا آسانه او گټور کیږي. سوسیالیستی دولت هم د کرنې فني وسایلو، ماشین آلاتو، فالتو وسایلو، کیمیاوي سرې او د تولید نورو وسایلو ته، د کئوپراتیفونو اړتیا لرې کوي او په سلگونو زره د کرنې ماهرین روزي او د لگښت وړ صنعتي محصولات کلیو ته استوي. له همدې امله، بزگر په ډله ایزو لویو باڼدو کې غړیتوب د ځانگړو وړو باڼدو د ادارې په پرتله غوره گڼي او عملاً په کرنه کې د ځانگړې وړوکې برخې د له منځه تللو لامل کیږي.

چ- د لېږد پړاو کې د ټولنې مخبنا:

۱- د پرولتاریا دیکتاتوري:د پرولتاریا دیکتاتوري موضوع، د اهمیت اود وخت له پلوه، په نوروبدلونونو باندې د لومړیتوب له کبله، مخکې وڅېړل شوه.

۲- طبقاتي ترکیب: په دې پړاو کې د ټولنې طبقاتي ترکیب، د پانگوالې ټولنې په پر تله بشپړبدلون موندلی دی. په پانگوالې ټولنې کې کارگره طبقه د ظلم او زبېښاک لاندې وه. دلته، د پرولتاریا دیکتاتوری د ټینگښت نه وروسته د مشر تابه رول لوبوي. په بله ژبه، په واکمنې طبقې بدله شوې او د سوسیالیستی دولت له لارې د نورو زیارکښانو په ملگرتیا د سوسیالستی تولید د وسایلو څارنه کوي. بزگران د سترو مالکانو د تړلتیا نه خلاص شوی او سوسیالیستی دولت ورته ځمکه ورکوي. د پرولتاریا دیکتاتوري د کولاکانو د زبېښاک په وړاندې ددوی

ملاتړ کوي او دمرستندویه یا کوپراتیفی شرکتونو په جوړولو کې ور سره مرسته کوي. سوسیالیستی دولت د لېږد په پړاو کې د بزگرو سره په خپلو اړیکو کې لنینی فرمول سره سم چلند کوی: "منځکوره بزگرو سره یووالی، په نیستمنو بزگرو ډډه لگول او د شتمنو بزگرو ضد مبارزه".

د ټولنې اصلی طبقې، کارگر او بزگر جوړوي خو پرولتاریا د نورو زیارکښو لکه انقلابي روڼ اندو، کسبگرو او نورو سره پیوستون ټینگوي او د دوي د ځواک نه گټه اخلي. بورژوازي د سیاسی ځواک ترختمېدو او د تولید پر اصلی وسایلود مالکیت د لاسه ورکولو له امله نوره دټولنې واکمنه طبقه نه جوړوی خو تر ډېرې مودې پورې پاتې کېږي. ځکه وړوکی پلورتوکیزه تولید پرله پسې، په پراخه کچه پانگوالي عناصر منځ ته راوړي او سربېره پر دې بورژوازي د واک د لاسه ورکولو وروسته، لا هم د نړیوالې پانگوالی له ملاتړ نه برخمنه ده او تل هڅه کوي چې د لاسه تللي ځیزونه، په هرډول چې وي،بیا ترلاسه کړي.

۳- طبقاتي مبارزه:

پانگوالي نه سوسیالیزم ته د لیږد (یون) پړاو کې طبقاتي مبارزه خامخاترسره کېدونکی چار دی. راپرځیدلې بورژوازي نشي کولای دا حقیقت ومني چې نوره واکمنه نه ده او باید دخپل شان او دبدبې نه ډک او پاخکی (طفیلي) ژوند نه لاس پریمنځي. بورژوازي چې په هېڅکله هم د پرولتاریا د بري وړاند وینه نه کوله د انقلاب نه وروسته، حیرانه لالهانده پاتې ده او نشی کولای خپله ماتې ومنی. په یو دغشان حالت کې د واک بېرته لاسته راوړلو دپاره له هرې وسیلې نه گټه اخلي. دغه طبقه د خپلو اقتصادي امکاناتو نه، د روڼ اندو پاسني قشر، دولتي لوړ پوړو چارواکو، د

اردو پخوانو قوماندانانو او داسې نورو نه ګټه اخلي او سربېره پر دې د پردیو امپریالیستانو نه هم د مرستې غوښتنه کوي او لـه هغـوي نه غواړي چې پر سوسیالیستی دولت او هېواد باندې تیری وکـړي. په دې اساس د انقلاب تربري وروسته هم مبارزه په نوې بڼه دوام مومي. په بله ژبه، د پرولتاریا دیکتاتوري، طبقاتي مبارزه له منځـه نه وړي بلکه په نوې بڼې یې څاری. خو د طبقاتي مبـارزې دا بڼـه د هغې مخکنیـو ډولونـو سره تـوپیر لـري، ځکـه دلتـه پرولتاریـا او هملاسي یې واکمـن ځواکونـه دي او بـورژوازي چې یـو ارتجـاعي ځـواک دی، نسـکوره شـوې ده. لنـین وایـي د لېـرد پړاو بایـد د مرګونې پانګوالۍ او نوی راپورته شوي کمونیزم منځ کې د مبارزې پړاو وي،په بلـه ژبـه دلېـرد پړاو دنـوي بریـالي شـوی خـو کمـزوره کمونیزم او دماتې خوړلې پانګوالۍترمنځ چې لـه منځـه نـه ده تلـې یوه مبارزه ده. د پورتني یاد شوی تضاد سربېره د لېرد پړاو کې نور تضادونه هم شته لکه د ښار او کلی تر منځ تضاد، د فکري او بدني کار منځ کـې تضـاد، د نیسـتمنو بزګـرو او شـتمنو بزګـرو مـنځ کـې تضاد او داسې نور چې په کراره د سوسیالیزم وروسـتني ټینګښـت په بهیر کې له منځه ځي.

فرهنګي انقلاب:

فرهنګي انقلاب د سوسیالیسـتي انقـلاب، نـه بېلېـدونکې برخه ده او مانا یې دبشپړنوي او عالي یعنې سوسیالیستی فرهنګ بنسـټ ایښـودنه اومـنځ تـه راوړنـه زیارکښـو پرګنـو دپـاره د دغـه سوسیالیسـتی فرهنـګ او ایډیالوژي دخپلولـو لپـاره دهـر اړخیـزه شرایطو برابرول دي. د سوسیالیستي انقلاب په پایله کـې واکمـن ځـواک، د پرولتاریـا او متحـدینو لاس تـه ورځـي. نـوې تولیـدي طریقـه، تولیـدي اړیکـې (بېخبنـا) د مولـده ځواکونـو او د سوسیالیستی دولت د پرله پسې ودې سره متناسب ټینګېږي.

سوسیالیستي نوی فرهنگ پر دې ټینگ بنسټ باندې ودانیدلای شي. فرهنگی انقلاب یعنې د خلکو د پرگنو د فرهنگ او پوهې هر اړخیزه لوړتیا او د دوي د طبقاتي او ایډیالوژیکي غلیم پر ضد مبارزې لپاره د دوي سمبالول. فرهنگي انقلاب مختلف اړخونه لري چې په لنډه یې څېړو:

۱- د عالي کیفیت لرونکې او په ریښتني معنو کې ولسي او ټولیزه ښوونه او روزنه. د نالوستي (بېسوادی) چټک او بشپړ له منځه وړل او د ټولنې ټولو غړو لپاره دوړیا او وچ زور تحصیل برابرول او کرار کرار د دغو زده کړو کچه تر لوړو تحصیلاتو پورې اوچتول. جوته ده چې د زده کړې موسسو، مدرسو، ښوونځیو، پوهنتونونو او په هغو پورې اړونده موسسو ډېر پراخه جوړښت د فرهنگی انقلاب مادي او لازمه برخه ده.

۲- ولسي سیاسي روزنې، علمي نړی لید (مارکسیزم – لنینیزم) خپرولو او د ټولو زیارکښو د سیاسي پوهې کچې لوړولو دپاره پراخه او پرله پسې کار. د کار د نوې روحیې او انساني لوړو صفتونو او اخلاقي اصولو روزنه او د تېرو طبقاتي ایډیالوژیو دټولو پاتې شونو کرار کرار له منځه وړل.

۳- د نوی طرز روڼ اندو او ماهرینو پراخ لمنه روزنه چې په بشپړه توگه د خلکو پرگنو او نوي سوسیالیستي نظام پورې تړلي دي. دا د فرهنگي انقلاب د مهمو اړخونو څخه یواړخ دی چې په خپله د ښساري او پراخه مادي شرایطو منځ ته راتللو اړتیالری لکه د لوړو زده کړو او پوهنتونونو د موسساتو، د څېړنیزو او فني موسساتو او نورو لازمو تأسیساتو ورځ په ورځ زیاتېدونکېپراختیا ته اوهمدارنگه ټول هېوادکې په پراخه کچه دښوونیزو کادرونو روزنې دپاره او د څېړنیز، هنري، ادبي فعالیتونو د خپرولو دپاره. د سوسیالیستي هېوادونو ښسارې او ډیرې سترې لاسته راوړنې په

نوموړو ټولنو کې د فرهنگي انقلاب دپلي کېدلو ځرگندې نښې دی.

۴- په ټول هېواد کې د مختلفو ولسونو منځ کې او د نړی په کچه دهېوادونو منځ کې د فرهنگي همغاړي د کچې برابرول. د دې دپاره د لازمو شرايطو برابرول چې ټولې علمي، هنري او ادبي لاسته راوړنې او ټول فرهنگ د زيارکښانو په لاس کې وي او د ولسونو د پوهې عامه سطحه په يو شان لوړه شي. د کتابتونونو، موزيمونو، تياتر او سينما، د کنسرت او ننداړو سالونونو د تأسيس، د ټولو خلکو دپاره د راديو او تلويزيون نه د پراخه گټې اخيستنې د امکان برابرول. په سيمو، ښارونو او کليو کې د ليليو او فرهنگ خونو تأسيس او په يو هېواد کې په شته ټولو ژبو د کتابونو، ورځپاڼو او خپرونو ښېساري او پراخه چاپول، دا ټول د دغوکړنو برخه ده.

د فرهنگي انقلاب هميشني پرمختگ سره د هېواد د بېلابېلو سيمو فرهنگي وروسته والی له منځه ځي او په ټولو سيمو کې فرهنگي سطحه يو شان پرله پسې لوړېږي. تيرې ټولې فرهنگی مثبته او گټورې لاسته راوړنې جذب کېږی او لابشپړتيا مومي. سوسياليستي فرهنگ په حقيقت کې د بشري فرهنگ د بشپړتيا، ډېرلوړ او نوی پړاو دی او د بشر د تېر فرهنگ ټولې گټورې لاسته راوړنې ساتي او پراختيا ورکوي.

ح- د سوسياليزم برياليتوب:

په اقتصادي، سياسي او فرهنگي برخو کې انقلابي بدلونونه چې د لېږد په پړاو کې رامنځ ته کېږي، سوسياليستي برخې ته برياليتوب ور په برخه کوي او په دې ډول سوسياليزم پياوړتيا مومي. د سوسياليزم بری په دې معنا دی چې د توليد پر وسايلو خصوصي مالکيت له منځه تللی او د انسان له خوا د انسان

زبېښاک په تاریخ کې د لومړي ځل دپاره ورک او نابودېږي. د سوسیالیزم برى په دې مانا دى چې سوسیالیستى دولت دپروګرام سره سم د هېواد دټول اقتصاد لاربښوونه کوي. په تولید کې سیالي، ګډوډي، د وزګارتیا بحران او نور د تل دپاره له منځه ځي. په سوسیالیزم کې عایدات، د خلکو منځ کې د دوي د کار د کمیت او کیفیت پر بنسټ، ویشل کېږي او" د هر چا نه د هغه د استعداد په اندازه او هر چا ته د هغه د کار په اندازه" اصل ټینګېږي. دا اصل دخپل کارحاصل ته دخلکو لیوالتیا راپاروي او په پایله کې فردي او ټولنیزې ګټې په ډېره ښه ممکنه طریقه یو له بله سره سمون مومي.

### د سوسیالیزم ټینګښت، پراختیا او بشپړتیا

۱- په سوسیالیزم کې مولده ځواکونه: په سوسیالیستي ټولنه کې د مولد ځواکونو ځانګړى خصلت، د ملي اقتصاد په ټولو څانګو کې ماشیني ستر تولید دى چې د تکنالوژي ترټولو لوړې بنې او د زبېښاک نه خلاصو کارګرانو د کار پر بنسټ ولاړ دى.

الف- فني پرمختګ:

په سوسیالیزم کې د تخنیک د پرمختګ اساسي لارې په دې ډول دي: د تولید پراختیا او بشپړتیا؛ د کار ماشیني او اتوماتیک کول؛ د برېښنا او اتومي انرژي د ځواک استعمالول او د تولید په بهیر کې د کیمیا نه پراخه ګټه اخیستنه. په دغه چارکې د باصرفه او زیات تولید کوونکو ماشینونو اختراع او ورڅخه ګټه اخیستل، د کانونو د ویستلو طریقو سمول او د اومو او نورو موادو څخه ګټه اخیستل، دنوو اومو موادو اونورو موادو منځته راوړل، د تودوخي د ځواک او نورو تولیدي بهیرونودچټکوونکو وسایلو

اوداسې نوروڅخه ګټه اخیستل شامل دي. د کار بهیر ماشیني (میکانیزه) کول یعنې د لاس د ځواک پر ځای د ماشین نه ګټه اخیستل، د انسان کار آسانوي او د سوسیالیستي اقتصادي چټکې ودې او د تولید حاصل ورکولو د لوړتیا سبب ګرځي. په سوسیالیزم کې، اقتصادي ټولې څانګې (آره یا اصلی او غیرآره یافرعی) ماشیني کیږي او د اقتصادي څانګو ماشیني کېدل د دوي اتوماتیک کولو دپاره لارې چارې برابروي. "اتوماتیزېشن" د ماشین نه د ګټې اخیستنې اوچت پړاو دی او د اتوماتیکي کېدو موخه د اتوماتیکو ماشینونو نه ګټه اخیستنه ده چې لاسي کار په بشپړه توګه له منځه وړي. د ماشینونو اتوماتیکي کېدلو سره دکارګر ځواک د لګښت کچه کمېږي او تولید زیاتوالی مومي په دې ترخ کې په دغه راز کارخانجاتو کې د کار دپاره د کارګرولازم شمېر هم کمېږي او پایله کې د دغو کارګرو د ځواک څخه دتولید په نورو برخو کې ګټه اخیستل کیږي چې ورسره د ټولې ټولنې په کچه د کار په حاصل ورکوونه کې د پام وړ زیاتوالی راځي. تولیدی بهیرونو ماشیني او اتوماتیکي کېدل، په تولید کې د برېښنا د ځواک نه د پراخې ګټې اخیستنې سره ټینګ تړاو لري. «کمونیزم مساوی دی د ټول هېوادد الکتریفیکیشن سره» "لنین". په اوسنی ټکنالوژي کې، د برېښنا صنعت د انرژي ډېره مهمه سرچینه ګڼل کیږي، له دې کبله په سوسیالیستي ټولنو کې د ستر لنین د طرحې پر بنسټ، د صنعت دغه څانګه د نورو صنایعو د ودې لپاره د ستن او بنسټ په بڼه رامنځ ته کېږي او په ټولو اقتصادي برخو کې ورنه پراخه ګټه اخلي. په فني پرمختګ کې بل لوي عامل د کیمیا څخه ګټه اخیستنه ده. د کیمیا علم انسانانو ته دا امکان ورپه برخه کوي چې د توکوخاصیتونو ته بدلون ورکړي او داسې توکي جوړکړی چې اصولاً په طبعیت کې شتون نه لري.

په بله ژبه د فلز په ویلې کېدو، د ماشینونو په جوړېدو، د برېښنا په صنعت، کرنې، لیږد رالیږد (حمل ونقل)، ټولنیزې روغتیا او نورو کې پرمختګ د کیمیا نه د ګټې اخیستلو پرته شونی نه دی. په همدې سبب وروستۍ خبره داده چې سوسیالیزم کې له هغې نه هر اړخیزه پراخه ګټه اخیستل کېږي. په فني پرمختګ کې بل لوي عامل، چې په نږدې راتلونکي کې د سوسیالیستي ټولنو په صنعتي ډېرو څانګو کې د انرژي تولید د سرچینې په توګه منځ ته راځي، د اتومي انرژي نه ګټه اخیستل دي.

ب- د سوسیالیزم مادي اوفني بنسټ:

د ټولنې مادي او فني بنسټ د مولد ځواکونو د پراختیا او تکامل د کچې او ورسره د تولیدي اړیکو د سمون له اندازې سره تړاو لري. د سوسیالیزم مادي او فني بنسټ په صنعت کې د تمرکز، تخصص او تعاون د کچې له مخې ټاکل کېږي. د یوه ستر واحد په یو تولیدي بهیر پورې تړلوصنعتي څانګو ترکیب ته تمرکز ویل کېږي. دغه واحد ته په اصطلاح کې"کمباین" وایي. د ساري په توګه د فولادو کمباین د اوسپنې او فولادو جوړولو ټول پړاوونه را نغاړي. په بله ژبه هغه ټولې کارخانې چې د اوسپنې او فولادو په جوړولو کې ونډه لري، دفولادو کمباین نومول کېږی. لکه د اوسپنې او فولادو جوړولو سترې کارخانې، د کانونو د را ایستلو مؤسسات، د ډېرو د سکرو تولیدوونکي مؤسسات، د فولاد جوړونې په کارخانو پورې تړلې پتروشیمي صنایع او داسې نور، ټول د فولادو کمباین برخې دي. په یو کمباین پورې تړلو مؤسساتو منځ کې د کار وېش، تخصص بلل کېږي داسې چې په یو کمباین کې هره برخه یو ځانګړی تولیدي عمل سرته رسوي. د مؤسساتو منځ کې د کار وېش ددې لامل کېږي چې هر یو یې د کورنۍ خپلواکي په لرلو سره د خپل تخنیک، نوو اختراعاتو او د متخصصو کارګرو

روزنې د کچې لوړولو کې هڅه وکړي. او په پایله کې دخپلې موسسې دکار حاصل زیات کړي، په داسې حال کې چې په یو کمباین پورې تړلي مؤسسات دنسبي خپلواکي لرونکي دي، یوتربله ټینګ تړاو هم لري. دغه تړلتیا د همچاري او مرستې) سوسیالیستي کوپراتیف (له لارې د بېلابېلو مؤسساتو منځ کې راپیدا کېږي. همچاري او مرسته د هغو اړیکو په مانا ده چې د سمو پروګرامونو له مخې د هغو مؤسساتو منځ کې چې په ګډه سره ځانګړی تولید کوي، ټینګېږي. دغه مؤسسات یو تربله د مرستې په ترځ کې د یو بل په کار کې لاسوهنې څخه ځان ساتي او د تولید بهیر د چټکې ودې لامل کېږي. تخصص او مرسته نه یوازې د یو سوسیالیستي هېواد دننه بلکه دسوسیالیستي کمپ منځ کې هم د موخې سره سم ترسره کېږي.

پ- کارګره طبقه د تولید د اصلي ځواک په توګه:

د ملي اقتصاد په ټولو برخو کې د تولید ستر ماشیني او فني پرمختګ زیات شمېر ماهرو متخصصو کارګرو ته اړتیا لري. سوسیالیستي ټولنه د کره موخې سره سم کارګر روزي او د سوسیالیزم او کمونیزم د جوړوونکو تر کچې پورې یې لوړوي. دغې موخې ته رسېدو دپاره سوسیالیستي دولت د ټولو شتو امکاناتو څخه ګټه اخلي لکه د تولیدي سترو مؤسساتو په څنګ کې، چې کارګرو ته د علومو او مدرنې پوهې د زده کړې او عام فرهنګ د کچې د لوړتیا په چارو بوخت دي، د اجباري زده کړو، مختلفو فني ټولګیو تاسیس، د هنر ځایونو او حرفوي فني پوهنځیومنځ ته راتګ. په دې ډول کارګره طبقه په سوسیالیستي ټولنه کې ځانګړی او عالي شخصیت مومي او ترپخوا زیات د ټولنې د اصلي رغانده او لاربنوونکي ځواک په توګه راڅرګندېږي.

۲- په سوسیالیزم کې تولیدي اړیکې: په سوسیالیزم کې د

تولیدي اړیکو بنسټ، د تولید پر وسایلو ټولنیز ملکیت رامنځ ته کوی، د تولید پر وسایلو او مصرفي توکو باندې ملکیت تل ؤ او وی به. هغه څه چې بدلون مومي، د دې ملکیت بڼه ده، کمونیستان باور لري چې باید د خصوصي ملکیت بڼه له منځه لاړه شي او پر ځای یې ټولنیز ملکیت کېني، دوي هېڅکله دا نیت نه لري چې د ملکیت مفهوم په ټولیزه توګه له منځه یوسي. مارکس او انګلس لیکي: "په ټولیزه توګه د ملکیت له منځه وړنه د کمونیزم ځانګړی خصلت نه دی بلکه هغه بوژوازي ملکیت دی چې په په پام کې یې لری." په سوسیالیزم کې د تولید وسایل هغو خلکو پورې اړه لري چې کار کوي او پر دې اساس د پانګې او زبېښاک د وسیلې په توګه خپل شتون دلاسه ورکوی. د تولید پر وسایلو باندې سوسیالیستي مالکیت، د تولید په بهیر کې د خلکو ددوه اړخیزو اړیکو د خصلت ټاکونکی دی. دغه اړیکې د زبېښاک نه د خلاصو خلکو منځ کې د سوسیالیستی دوه اړخیزې مرستې او د ملګرتیا همکاري او «هرچاته د ده د کار پر اساس» د اصل سره سم د زیارکښو په ګټه د تولیداتو پر ویش ولاړدي. سوسیالیستي اړیکې د پانګوالې ټولنې نه پخلا کېدونکی تضاد (د تولید ټولنیز خصلت او د تولید پر وسایلو د خصوصی مالکیت تر منځ تضاد) له منځه وړي، په بله ژبه د سوسیالیزم د ټینګښت په پایله کې تولیدی اړیکې د مولده ځواکونو د پرمختګ سره همغاړي کېږي. په سوسیالیزم کې تولیدي اړیکې تل بدلون مومی او د مولده ځواکونو د پرمختګ سره ځان سموي. د دې مسألې لوي دلیل، په ډېره لږه ممکنه موده کې د سوسیالیزم د کمپ حیرانوونکی پرمختګ دی.

د سوسیالیستی شتمني دوه ډولونه: په سوسیالیزم کې ټولنیز ملکیت په دوه ډوله دی: ۱- د دولت شتمني یعنې د عامو خلکو شتمني ۲- د تعاوني موسساتو ملکیت.

دوه ډوله سوسیالیستي مالکیت د دوه ډوله سوسیالیستي موسساتو پر شتون- دولتی او تعاونی - باندې دلالت کوي چې دواړه ډوله د ورته ماهیت لرونکي دي. څکه: لومړی، د سوسیالیستی مالکیت دواړه ډوله د تولید پر وسایلود ټولنیز مالکیت پر بنسټ ولاړ دي؛ دوهم، دواړه زبېښناک له منځه وړي؛ دریم، د دواړو د اقتصادلاربشوونه د پلان او برنامې پر بنسټ کېږی؛ څلورم،دواړه «هرچاته د ده د کار پر بنسټ » د اصل څخه تابعیت کوي. سره له دې چې د مالکیت د دغو دواړو ډولونو منځ کې ورته والی شته، یوله بل سره توپیرونه هم لري. دغه توپیرونه د تولید پر وسایلو د ټولنیز توب د کچې پر بنسټ ولاړ دي. څکه تعاوني ملکیت یوډله ییز ملکیت دی. یعنې تولیدي وسایل چې د یو تعاون په واک کې دي په ټولیزه توګه ټولو خلکو پورې اړه لري. تعاوني محصولات یوازې په هماغه تعاون پورې اړه لري. د مولد ځواکونو پراختیا او بشپړتیا سره تعاوني ملکیت،دپوهې او د کمونیست ګوند او سوسیالیستي دولت دکره (دقیقې) نخشې سره سم، سوسیالیزم نه کمونیزم ته د لېږد په وخت کې، په بشپړ ډول له منځه ځي.

په سوسیالیزم کې ځاني (شخصي) ملکیت: په سوسیالیزم کې دتولید وسایل او محصولات ټولنیز ملکیت ګڼل کېږی. د دې محصولاتو یوه برخه چې مصرفي توکي دي د زیارکښو منځ کې د دوی د کار د څومره والی او څرنګوالی سره سم وېشل کېږي او د خلکو ځانی ملکیت ګرځي. نو په سوسیالیزم کې د محصولاتو هغه برخه چې د ځانی لګښت د پاره جوړېږي د ځانی ملکیت په مانا ده. همدارنګه په سوسیالیزم کې، د وګړو ګټه اوسپما، استوګن ځای، د کور وسایل او هغه توکي چې د کور د لګښت او سوکالي د پاره لازم دي، شخصی ملکیت ګڼل کېږی. د

سوسیالیستي تولید موخه د خلکو د ژوند د کچې لوړول دي. د دې موخې پرمختګ به د وګړو شخصي ملکیت ته پرله پسې وده ورکړی. خو سوسیالیستي دولت د دې چار د مخنیوي د پاره ځینې خنډونه را منځ ته کوي چې تر ټولو لوی یې په دې ډول دي: په سوسیالیزم کې نشي کېدای، ځانی ملکیت د نورو وګړو یا د سوسیالیستي دولت په زیان په کار واچول شي. هغه توکي چې د وګړو ځانی ملکیت دي د پلورلو او پېرودلو وړ نه دي او بله غټه مساله د میراث له منځه وړل دي چې سبب کېږي د یوې ټولنې زامن د ورته اقتصادي شرایطو نه برخمن او وګړي د خپلو زامنو د پاره د شتمنیو د راغونډولو په فکر کې نه وي.

د سوسیالیستي تولید موخه:

د سوسیالیستي تولید موخه، د ټولنې د ټولو غړو مادي او معنوي اړتیاوې پوره کول دي. سوسیالیستي تولید نشي کولای پرته ددې، بله موخه ولري. ځکه په سوسیالیستی ټولنه کې د تولید پر وسایلو خصوصي ملکیت نشته او په پایله کې د انسان په وسیله د انسان زبېښاک هم شتون نه لري. له دې کبله دهغه څه پرخلاف چې په پانګواله ټولنه کې شتون لري، دسوسیالیستي تولید اصلي خوځنده ځواک د هغو زیارکښو ګټې جوړوی چې د تولید د وسایلو او محصولاتو خاوندان دي. د سوسیالیزم موخه، د انسان د پاره او د انسان په ګټه تولید دی. که وغواړو چې د سوسیالیزم دغه ځانګړی خصلت د علمي پلوه وڅېړو، باید هغه د «سوسیالیستي اقتصاد بنسټیز قانون» په نوم وپېژنو. دغه قانون، د ټولو اقتصادي قوانینو په څېر، یو عیني او د انسان له ارادې وتلی قانون دی.

د پلان سره سم د سوسیالیستی تولید د بشپړیدلو اړتیا: پوهېږو چې په پانګوالي سیستم کې، اقتصاد د سیالي او ګډوډی

سره مخامخ دی او پرته د پلان څخه بشپړتیا مومي. ځکه پانګوالي اقتصاد له مختلفو واحدونو نه جوړ شوی چې بشپړه خپلواکي لري او له همدې کبله هر پانګوال د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو پرته په تولید لاس پورې کوي. د یو ځانګړي پلورتوکي د تولید بهیر دبازار تر ډکېدو پورې دوام مومي او په دې حالت کې ده چې پانګوال تولید ودروي. په سوسیالیستي ټولنه کې وضعیت په دې ډول نه دی، ځکه سوسیالیستي اقتصاد راز راز تولیدي څانګې لري چې په یو ستر واحد کې سره راغونډ شوي دي. ددغه شان تمرکز په شته والي کې، اقتصادي بشپړتیا، د پلان سره سم، نه یوازې شونې ده، بلکه د یو حتمی قانون په توګه منځ ته راځي، له دې کبله سوسیالیستي دولتونه د دغې «تاریخی اړتیا» په پام کې نیولو سره خپل اقتصاد ته د پلان سره سم وده ورکوي. د پلان سره سم د سوسیالیستي اقتصاد بشپړتیا د ملي اقتصاد د بېلابېلو څانګو منځ کې د انډول جوړولو په مانا ده. د ساري په توګه سپک صنعتونه نه بنایی یو اړخیز او د درنو صنایعو د پرمختګ په پام کې نیولو پرته (لکه چې په پانګوالی کې ترسره کېږی) وده و کړی بلکه باید د دې دواړو منځ کې انډول ټینګ شي.

په سوسیالیستی اقتصاد کې انډولونه:

د ملي اقتصاد متناسب او د پلان سره سم تکامل، هغه وخت شونی دی چې سوسیالیستي دولت د ملي اقتصاد د انډولونو پر پیژندنې بریالی شوی وي. د «انډول» د کلمې نه مقصد د تولیدی بېلوبېلو څانګو منځ کې د لازمې همغاړي پرکچې پوهېدل دي. د مختلفو انډولونو منځ کې تر ټولو غټ یې چې په حقیقت کې د تولید ټول بهیر ټاکي، د تولید د وسایلوتولید او دمصرفي توکو ترمنځ انډول دی. د دغه انډول د ساتلو د پاره باید د ټولنې د لګښت کچه وټاکل شي او د هغې سره سم د تولید وسایل منځ ته

راوړی شي. ښکاره ده چې دغه انډول،تل د ټولنې د ژوند د کچې لوړيدلو او د هغې د لګښت د ډېريدلو سره بدلون مومي. دوهم انډول د صنايعو او د کرنې د ودې منځ کې دی. سوسياليستی دولت بايد په ټولنه کې د کرنيزو توکو د لګښت کچه وټاکي او بيا په نوموړي انډول، په ټوليزه توګه، صنايعو ته وده ورکړي. نور مهم انډولونه دا دي: د توليد او لګښت منځ کې انډول، د سپما او لګښت منځ کې انډول، د خلکو دنغدي عايد زياتوالی اود کوچنی سوداګري د ودې منځ کې انډول، د اقتصادي مختلفو سيمو تکامل منځ کې انډول، د کرهنې مختلفو څانګو منځ کې نسبت او د صنعتي مختلفو موسساتو منځ کې انډول سوسياليستی دولت د پورته ياد شوو انډولونو په پام کې نيولو سره خپل اقتصادي پروګرامونه تنظيموي او ټولنه خامخاپرمخ بيايي.

ج- د کارد اغېزمنتوب پرله پسې وده، د سوسياليستي اقتصاد قانون:

په ټاکلي وخت کې دتوليد شوي محصول کچه دکار اغېزمنتوب بلل کيږي. مارکس د کار اغېزمنتوب په وده کې مؤثر عوامل په دې ډول بيانوي: د کارګر د مهارت منځنی کچه، د پوهې موقعيت او له هغه څخه د علمي استفادې کچه، د توليد ټولنيز سازمان، د توليد د وسايلو پراختيا او وړتيا او د حاصل ورکونې د ودې طبيعي شرايط. دا د ټولو اقتصادي ټولنيزو جوړښتونو عام قانون دی، خو په پانګوالي او له هغې مخکې ټولنو کې دغه قانون په محدود او ناانډوله توګه عملی کېده، ځکه ټولنې د اغېزمنتوب د ودې لپاره سم پلان نه درلود او دغه قانون ته يې دومره اهميت نه ورکاوه. په سوسياليزم کې، د اقتصادي پلان او د کار د اغېزمنتوب په وده کې شته اغېزمنو عواملو ته دبشپړې پاملرنې له کبله نوموړي اقتصادي قانون په عمل کې پراختيا

مونـدلې او د سوسیالیسـتی اقتصـاد د قـانون پـه توګـه ځلېـږي. پـه سوسیالیزم کې، انسـان د لـومړي ځـل لپـاره د ټولنـو د پراختیـا او بشپړتیا په تاریخ کې، د دې اقتصادي قانون نه پـه بشـپړې خبرتیـا سره د ټولنې په ګټه، په یوې مناسبې طریقې ګټه اخلي.

د پلان سره سم اقتصاد ګټې:

د پلان سره سـم اقتصـاد پـه سوسـیالیزم کـې دوه سـترې ګټې لري. یوه د مادي سرچینو د ضـایع کېـدو مخنیـوی (دعلـم، تخنیک او مالي سرچینې) او بله د انساني ځـواک د لـه منځـه تللـو څخه مخنیـوی. پـه پانګوالـه ټولنـه کـې پـانګوال معمـولاً د علـم او تخنیک څخه تر هغې کچې پورې ګټه اخلي چې د خپلو سیالانو نه مخ ته شي او دغې موخې ته دلاس رسي په صورت کې نـور د علـم او تخنیک وروستني تکامل سره مینـه نـه لـري. داسې چې ډېـرئ هاغه اختراعات او اکتشافات چې د دوي لاس پوځـو پوهـانو سـرته رسولې د نورو نه پټوي او یا یې امتیاز رانیسی او له منځه یـې وړي څو په دې ډول د دوي د سیالانو لاس ته ورنشي. پـه داسـې حـال کې چې په سوسیالیزم کې، سوسیالیستی دولت د هېواد د بـودجې ډېره برخه د پوهانو په واک کې ورکوي او تل د بېلابېلو لارو څخـه د علـم او تخنیـک پرمختـګ سـره مرسـته کـوي. لـه بـل پلـوه یـو پانګوال تر هغه ځایه پورې انساني ځواک ته ارزښت قایـل دی چې کارخانـه یـې پـه کـار و ولـوېږي. دا چـار ددې لامـل کـېږي چې د پانګوالو ټولنو د انساني ځواک لویه برخـه بـې ګټـې لـه منځـه لاړه شي. اقتصادي بحرانونه، په تولید کې ګډوډی، سـیالی، وزګارتیـا او داسې نور، د دې چار لویې پایلې دي. حـال دا چې پـه سوسـیالیزم کې سوسیالیستي دولت د پلان سره سم د خپل ضرورت وړ وګـړي روزي او په اقتصادي مختلفو څانګو کې یې وېشي. له همدې کبلـه په سوسیالیزم کې د بېکارۍ، اقتصادي بحران او داسـې نـورو نښـې

نه لیدل کېږي. په سوسیالیستي هېوادو کې د کلني تولید د ودې کچه او په پانګوالي ټولنو باندې یې فوق العاده لوړتیا د مادي سرچینو او انساني ځواک نه په ګټې اخیستنې کې د سوسیالیستي طریقو په سموالي باندې پریکنده دلیل دی.

په سوسیالیزم کې د کار خصلت:

کار چې د مادي ارزښتونو د تولید په موخه د خلکو زیار دی د هرې ټولنې اړتیا ده. خو خصلت یې په مختلفو اقتصادي- ټولنیزو جوړښتونو کې پردې اساس چې په دغو جوړښتونو باندې څه ډول تولیدي اړیکې واکمنې دي، توپیر لري. کارکېدای شي په خپله خوښه او آزادانه وي او د ځانی او د ټولنې د ګټې د پاره ترسره شي او یا په زور او د زبېښاکګرو په ګټه سرته ورسېږي. په پخوانیو یاد شوو ټولنو کې، د کار خصلت اجباري وو او د زبېښاکګرو په ګټه تمامېده خو په سوسیالیزم کې کار د کس او د ده د ټولنې په ګټه دی.

سوسیالیزم د کار په اړه دخلکو فکر ته بنسټیز بدلون ورکړی او هغه یې د ویاړ، زړورتیا او اتلوالي په وسیلې اړولی دی. په سوسیالیستي ټولنو کې د کار خلاق ماهیت په دې کې دی چې کارګران شخصاً د ماشین آلاتو په اختراع او سمون او په تولیدي بهیرونو لاس پورې کوي. په سوسیالیزم کې هر څوک حق لري چې کار وکړي او کار، تل شتون لري. کارګران هېڅکله د خپلې وزګارتیا او راتلونکي په اړه وېره نه لري. سربېره پر دې چې په سوسیالیزم کې بېکاري نشته، هر څوک باید د خپلې سلیقې او شوق سره سم یو کار غوره کړي. په سوسیالیزم کې لټي او بېکاري ته هېڅ ځای نشته. په سوسیالیزم کې د کار بل صفت، دهغه ټولنیز څرګند خصلت دی. سوسیالیستي دولت د کار د ځواک پریو ځای را غونډولو او د اقتصادي پلانونو پر بنسټ د اقتصادي

مختفلو څانګو د اړتیا په پام کې نیولو سره دهغه په وېش سره د کار ټولنیزخصلت په ډاګه ښیي.

خ- د کار په بهیر کې سوسیالیستي همچاري او سیالي:

پورته ورته ګوته ونیول شوه چې په سوسیالیزم کې کارپه بشپړه توګه څرګند ټولنیز خصلت لري. هرڅوک د سوسیالیستي ټولنې د پرمختګ لپاره کار کوي. د تولید په بهیر کې کارګران د تولید د کچې لوړولو او د ماشین آلاتو حالت ښه کولو د پاره په خپل منځ کې سوسیالیستي سیالي کوي. سوسیالیستي مسابقه یاسیالي د سوسیالیستي همکاري څخه نه بېلېدونکې ده. ځکه یو سوسیالیست کارګر پوره هڅه کوي څو د کار د حالت په سمون او د تولید د کچې په لوړلو سره، ټولنه مخ ته بوځي. یو سوسیالیست کارګر په سوسیالیزم کې د کار لنیني طریقې پر بنسټ په داسې حال کې چې سوسیالیستي سیالي کې ونډه اخلي، خپل نور ملګري د دوي د کار د وضعیت د ښه والي د پاره هڅوي او زیار باسي چې په ډله یېزه او لا پراخه کچه ټول پرمخ لاړشي. کارګران په سوسیالیزم کې باید د خپلو غښتلو ملګرو د تجربو نه ګټه واخلي او وروستۍ ډله دنده لري خپلې تجربې په پراخه توګه د ټولو کارګرو په واک کې ورکړي. په سوسیالیزم کې مسابقه یا سیالي، د همکاري او مرستې پرته بل شی نه دی. ځکه د ټولنې په کچه، د تولید د کچې د لوړتیا لامل ګرځي او پوهیږو چې په سوسیالیزم کې د تولید د کچې لوړېدل د ټولو خلکو په ګټه دي.

ستر لنین سوسیالیستي سیالي د کمونیستی ټولنې د رغاونې لار ګڼله. د سوسیالیستي ټولنې پرخلاف " د پانګوالی په سیستم کې، وګړي یو له بل سره له دښمنۍ ډکې سیالی سیالی کوی او زیار باسي د نورو په ټټر باندې په پښو اېښودلو سره د ټولنې د ګټو پرخلاف خپلې شخصی (ځانی) ګټې لاسته راوړي او

هغه څه چې دوي ته ارزښت نلري، د ټولنې پرمختګ دی."

د- په سوسیالیزم کې پلورتوکیز تولید:

په سوسیالیزم کې د ټولنیز ملکیت دوه ډوله شتون، لومړنی او تر ټولو مهم عامل دی چې د پلورتوکیز تولید اړتیا ایجابوي. سربېره پردې، نور عوامل هم شته چې د پلورتوکیز تولید د پاره لازم شرایط جوړوی. دا عوامل په دې ډول لنډولای شو: د کار ټولنیز وېش چې د دوه ډوله ټولنیز ملکیت پر بنسټ منځ ته راځي، د فکري او بدني کار منځ کې توپیر، د ساده او تخصصي کار منځ کې توپیر، د کارګر د کار او دهغه چا په منځ کې توپیر چې په مرستندویه (تعاونی) کې کار کوي. مونږ پوهېږو چې په پانګوالي پلورتوکیز تولید کې، د کار ځواک په پلورتوکي بدلېږي څو د پانګوالې د زېښناک لار اواره شی. حال دا چې په سوسیالیزم کې، پلورتوکیزه تولید (چې د کار ځواک هم رانغاړي) عام اړخ نلري، دلته د پلورتوکیزه تولید د عمل سیمه ټاکلې ده. د ساري په توګه د سوسیالیزم د ټینګښت په وخت کې د کار ځواک نورپلورتوکی نه دی او نه پلورل او پېرودل کیږی، ځمکه د پلورلو او پېرودلو له بهیره وځي او دغه حالت د نورو سوسیالیستي مؤسساتو په هکله هم صادق دی. په بله ژبه نور هغوي معامله کېدای نشي.

ذ- په سوسیالیزم کې پلورتوکیزه- نغدی اړیکې:

کله چې په یوه ټولنه کې پلورتوکیزه تولید ترسره کېږی، د اقتصادي قوانینو پر بنسټ پلورتوکیزه - نغدی اړیکې هم منځ ته راځي. له دې کبله سوسیالیزم هم دپلورتوکیز-پیسو اړیکو لرونکی دی، خو محتوی یې په بشپړه توګه له هغه څه سره چې پخواموجودؤ، توپیر لري.

۳- د سوسیالیزم مخبنا:

الف- د سوسیالیستي ټولنې طبقاتي جوړښت:

په سوسیالیستي ټینګې شوې ټولنې کې زبېښناکګرې او دښمنې طبقې شتون نه لري او ځای یې داسې طبقو نیولی دی چې د دوستانه او نږدې اړیکو نه برخمنې دي. سوسیالیستي ټولنه د ټولنیزو دوو طبقو (کارګر او بزګر) او یو قشر نه جوړېږي. جوته ده چې د طبقې د کلمې پکار وړنه په خپل ذات کې د طبقاتي تضاد یا اختلاف پرشتون دلالت کوی. خوپه سوسیالیزم کې ددغو دواړو طبقو تضاد پخلا کېدونکی دی. په سوسیالیزم کې د کارګرو او بزګرو دوو طبقو د شتون لامل، په لومړی درجه، د ښار او کلیو منځ کې د تضاد شته والی دی چې په خپل وار سره د دوه ډوله ټولنیز مالکیت نېغه پایله ده. له بل پلوه د فکري او بدني کار په منځ کې تضاد چې لا هم په سوسیالیزم کې ببخي له منځه نه دی تللی، رون اندئ قشر د نومړو دوو طبقو څخه بېلوي. په دې اساس د طبقاتو د نابودي او بې طبقې ټولنې دمنځ ته راتګ لپاره، نه ښايي یوازې د زبېښناکګرو طبقو په بشپړه توګه له منځه وړلو بسیاوشی، بلکه باید د ښار او کلیو، د فکري او بدني کار منځ کې تضادونه هم چې په سوسیالیزم کې د طبقاتو د شتون بنسټیز علتونه دي، له منځه یووړل شي. له دې کبله سوسیالیزم نه کمونیزم ته په لېرد کې لازمه ده د دغو تضادونو د لرې کولو د پاره ګامونه اوچت شی.

ب- د ښار او کلي منځ کې د تضاد له منځه وړلو لارې:

په پانګوالي سیستم کې، ښار په بېرحمی سره کلي زبیښني (استثماروی) او په همدې سبب د ښار او کلي منځ کې تضاد، نه پخلا کېدونکی اړخ لري. سوسیالیزم دنومړي تضاد،نه پخلاکېدونکی اړخ،له منځه وړي او د ښار او کلي منځ کې نږدې همکاري غواړی. په دې ډول، په سوسیالیزم کې د ښار او کلي ترمنځ تضاد، پخلاکېدونکی دی. په سوسیالیزم کې د دغه تضاد د

شتون بنسټیز لامل، د دوه ډوله ټولنیز ملکیت شتون دی چې د ټولنیز ملکیت ډول پر ښار او تعاوني ډول یې پر کلي واکمن دی. له دې کبله د ښار او کلي تضاد له منځه وړل په دې پورې تړلی دی چې د کلیو تعاوني ملکیت په دولتي ملکیت باندې واوړي. د کمونیزم د جوړښت په بهیر کې په کلیو کې د تخنیکي آسانتیاوو رامنځ ته کول ورو ورو کرنه د صنعت په یوه څانګه اړوي. د کرنې د ماهیت په بدلېدلو سره د بزګرو د ژوند لارې او د تحصیلاتو کچه او په ټولیزه توګه د دوی د فرهنګ کچه هم بدلون مومي او د ښاري ژوند بڼې ته نږدې کېږي. سترې ودانۍ د ټولو مدرنو وسایلو سره (مرکزګرمي، اوبه، بریښنا، تلیفون او داسې نور) په کلیو کې د بزګرو د سوکالي په موخه جوړېږي. فرهنګي مرکزونه، مختلف استوګن ځایونه، کتابتونونه، ښوونځي، لوبغالي او چمنونه کلیو اود بانډو د استوګنو په واک کې ورکول کېږي. معمولاً سوسیالیستي دولت، د لیږدرالېږد او تګ راتګ د آسانتیاوو په برابرولو سره څو لوی کلي د یو واړه ښار په چوکاټ کې راټولوي او د هوساینې هر راز وسایل د دوي په واک کې ورکوي. په دې ډول کله چې کمونیزم ټینګښت مومي، نور د کلي او بزګر نښه نه پاتې کیږي او په پایله کې د ښار او کلي تضاد هم له منځه ځي.

پ- د فکري او بدني کار منځ کې د تضاد له منځه وړلولارې:

په هغو ټولنو کې چې د دښمنو طبقاتو څخه جوړېږي، د فکري او بدني کار منځ کې تضاد، د بدني کار سپک ګڼلو او لږ اهمیت ورکولو په بڼه را څرګندېږی. له دې کبله نوموړی تضاد په دغشان ټولنو کې نه پخلا کېدونکی اړخ لري. په سوسیالیستي ټولنه کې د دغه تضاد له منځه وړلو تر ټولو لوی عامل، د تخنیک پرمختګ دی. ځکه له یوې خوا د کار د ساعتونو په کمولو او د وزګارتیا په منځ ته راتللو سره د کارګرو او بزګرو د پاره شونې کوي

چې خپل فرهنګي او تخنیکي وروسته والی وته (تلافی) کړي او لـه بلې خوا ټولنه ماهرو کارګرانو تـه د اړتیـا لـه کبلـه هرومروبایـد لازم مـاهرین وروزي. نـو پـه دې ډول لـه یـو پلـوه زوړ نسـل تـه روزنـه ورکوي او له بل پلوه د ځوانو او ماهرو کارګرو یو نوی نسل منځ ته راوړي. پورته یاد شوی عامل د نوموړي تضاد د حل تر ټولـو لـویې انګیزې په توګه دا مانا نه لري چې ایډیالوژیکي عامل د بدني کار په اړه د خلکو د اند (فکر) دځرنګوالی په بدلون کې رول نه لري، بلکه برعکس د ګوند او دولت توضیحي کار، په بـدني چـارو کـې د اداري او ګوندي کارونو فعاله ونډه اخیستنه او د ټولو پرګنو په تبـره بیـا د روڼ اندوهمیشنی ایدیالوژیکي روزنه، د هر سوسیالیسـتي دولـت د اړینو دندو له جملې څخه ده. په پایله کې سوسیالیزم نـه کمـونیزم ته پـه لېـږد سـره او د بـاخبره او روزل شـوو روڼ انـدو کچې تـه (د علمي اطلاعاتو له پلوه) د ټولنې ډېرې لوړولو سـره، دغـه تضـاد لـه منځه ځي. د دغـه تضـاد لـه منځـه تلـل د بـدني یـافکري چـارو لـه منځه تللوپه مانانه دي، بلکې دکاردنوې بنې پیدایښت دی چې پـه پخوانیو ټولنو کې یې ساری نه ؤ او تر ټولو لوړې، شونې بنې سـره، فکري او بدني کار د ټولنې ټول غړي یو د بله سره نښلوي. پـه دې ډول نور په ټولنه کې، هېڅ طبقه پـه دې مانـا شـتون نـه لـري چې یواځې فکري یا بدني کار سرته ورسوي. بلکه ټـول وګـړي پـه خپلـه تخصصي څانګه کې د معلوماتو تر ټولو لوړې کچې کې کار کوي.

ت- سوسیالیستي دولت:

د پانګوالی نه سوسیالیزم ته د لېږد په پړاو کې د پرولتاریـا د دیکتاتوري ماهیت او ونډې مـولږې او ډیـرې ولوسـتلې. لـه بلـې خوا پوهېږو چې د مخبنا بدلونونه (د دولت په ګډون) په اقتصادي بدلونونو پورې بشپړ تـړاو لـري. لـه دې کبلـه د کاپیټالیسـتی اووړو کي پلورتوکیزه اقتصادي برخوله منځه تللو او سوسیالیسـتي اړیکـو

رسېدو ته په پام سره لازمه ده چې د ټولنې مخبنا او دولت هم بدلونونه ومومي. په سوسیالیستي ټولنه کې د زبېښاکګرو طبقو په له منځه تللو سره (د سوسیالیزم د بشپړ ټینګښت په وخت کې) په لومړۍ درجه کې د دغو طبقو د ځپلو دنده له منځه ځي، ځکه د دوي تـر نــابودي وروســته، د دوي ځپــل مانــا نلــري. خــو سوسیالیستي دولت لا اوس هم کولای شي او باید د دغې وسیلې نه د بهرنیو لاس وهونکو، قانون ماتوونکو او سوسیالیزم ته خیانت کوونکو پر ضد کارواخلي. په دې هکله په تېره بیا د بورژوازي او رویزیونیستی ایډیالوژیو لرونکو او د هغوي پر ضد مبارزه چې د دولتــي او ګونــدي مقــامونو نــه پــه خپلــه ګتــه ګتــه اخلــی، د سوسیالیستي دولت د لویو دندو څخه ده. سوسیالیستي دولت د کـورني سیاسـت پـه هکلـه د پرولتاریـا د دیکتـاتوري ټـول اړخونـه خوندي کوي او وده ورکوی. د سوسیالیستي دولت د غټو دندو نه یوه، داقتصاد تنظیمول او پلان جوړونه ده. دغه دنـده لـه پـانګوالۍ څخه سوسیالیزم ته د لېږد د پړاو په موده کې په نورو برخو باندې د سوسیالیستي برخې دغـوخ او بشـپړ بـري د تـامین پـه بنـه وه. د سوســیالیزم تـر بشـپړ بـری وروســته نومـوړې دنـده د کمـونیزم د تخنیکی او مادي بنسټ د جوړښت او په کمونیسـتی اړیکـو بانـدې د سوسیالیستي اړیکو د بدلون په بڼه اوړي. د سوسیالیستي دولت د لویو دندو څخه یوه بله د ټولو خلکو د فرهنګ د کچې لوړتیا او د نــوی انســان (د کمونیســتی ټــولنې وړ انســان) جوړونــه ده. د امپریالیزم شتون او د هغه د همیشنی ګواښ خطر، سوسیالیسـتي دولــت د بلــی دنــدې ســرته رســولو تــه اړباســي. دا دنــده د سوسیالیســتي ټــاټوبي نــه د ســاتنې او د امپریالیســتانو د پــوځي دسیسو شنډولو د پاره د پیاوړو پوځي ځواکونو منځ تـه راوړل دي. له دې کبله سوسیالیستي دولت اړین دی چې د هېـواد د بـودجې

یوه برخه د هېواد د دفاعي ځواکونو په پرله پسې لوړتیا او ساتنې باندې ولګوي.

په سوسیالیزم کې د کمونیست ګوند رول:

کمونیست ګوند د سوسیالیزم په ټولو پړاوونو کې د ټولو غیرګوندي او دولتي سازمانونو او په ټولیزه توګه د سوسیالیستي ټولنې په برخه کې لارښوونکی رول لري او هېڅکله واکمني د نورو ګوندونو سره نه ویشي. کمونیست ګوند له پانګوالي نه سوسیالیزم ته د لېږد په پړاو کې د پرولتاریا دیکتاتوری د عملي کولو رول لري او د سوسیالیزم د بشپړ ټینګښت په وخت کې د ټولو اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو پلانونو جوړوونکی دی. کمونیست ګوند په ځان پورې د ټرلو سازمانونو (کارګري اتحادیو، د ځوانانو سازمان، فرهنګي سازمانونو او داسې نورو) څخه په ګټې اخیستلو سره، تل خپلې اړیکې د خلکو پرګنو سره ساتي او هڅه کوي ولسونو څخه د پرله پسې زده کړو او یادولو له لارې د خپل سیاست او کړنلارو لوری سم کړي. مخکې ګوته ونیول شوه چې کمونیست ګوند د نورو ګوندونو سره خپله واکمني نه وېشي. "ځکه لومړی، ګوند د کارګرې طبقې تر ټولو مهمو عناصرو د راغونډېدو ځای دی چې دا عناصر هم غیرګوندي تشکیلاتو سره نېغ په نېغه اړیکې لري او ډېرځله د دوي لارښود دي. دوهم، څنګه چې ګوند د کارګرې طبقې تر ټولو مهمو کسانو د راغونډېدلو ځای دی، د کارګرې طبقې د لارښوونکو د تیاری ښوونځی هم دی چې د خپلې طبقې د تشکیلاتو د هر راز ډولونو د مشرتابه وړتیا لري. دریم، ګوند چې د کارګرې طبقې د لارښوونکو ډېر ښه ښوونځی دی د خپلې تجربې او پوهې له پلوه یوائنی تشکیلات دی چې د پرولتاریا د مبارزې د مشرتابه د تمرکز وس لري او له دې کبله ځواک لري چې د کارګرې طبقې هر راز غیرګوندي تشکیلات، په کومکي

ارګانونو او په طبقي پورې د ګوند د نښلولو په پټې باندې واړوي. "
(استالین، د لنینزم د اصولو په باره کې)

د سوسیالیستي ټولنې ایډیالوژي او فرهنګ:

۱- د سوسیالیستي ټولنې ایډیالوژي، مارکسیزم-لنینزم دی او فرهنګ یې د مارکسیزم-لنینزم او پرولتاریایي انترناسیونالیزم د اصولو سره برابر دی.

۲- علم په سوسیالیزم کې: علم، د طبیعت، ټولنې او انسان په اړه د بشر د پوهې سیستم دی. علم نړۍ د مفاهیمو او قوانینو په توګه تعریفوي چې د هغوي سموالی او واقعیت، د انسان عملي تجربې ثابت کړی دی. علم د مادي تولید او عملي تجربې پر بنسټ منځ ته راغلی او په خپل وار سره یې په تولید او نورو اړتیاوو کې انسان ته خدمت کړی او د ډېر اهمیت لرونکی دی. د سوسیالیزم نه پخوا ټولنو کې، معمولاً علم د زبېښاکګرو طبقو په چوپړ کې ؤ او د ټولنې په پرمختګ کې د اغیز ترڅنګ یې د پراختیا ډګر تنګ ؤ. د ساري په توګه بورژوازي د علم څخه یوازې د لا زیاتې ګټې تر لاسه کولو او د خپل واک ټینګولو د پاره ګټه اخلي او په همدې چوکاټ کې وده ورکوي. خو په سوسیالیزم کې پوهان د تفکر او تحقیق دیالکتیکي طریقې باندې په لاس بري سره، علم ته په پراخه کچه بشپړتیا بخښي.

علم په سوسیالیزم کې د ځانګړې طبقې یا قشر استفادې ته ځانګړی نه دی، او په ټولو خلکو پورې اړه لري. په سوسیالیزم کې، علم یوازې د ټولنې پرمخ بیولو او د هغې د ستونزو د حلولو او ډېرې لوړې انساني ټولنې یعنې کمونیزم ته د رسېدلو د پاره په کار وړل کیږي.

۳- سوسیالیستي هنر او ادبیات: هنر د انسان په ماغزو کې د هنري انځورنو په توګه د عیني واقعیتونو انعکاس دی. هنر د

بهرني چاپيريال دغبرګون له لارې، انسان سره د ده په پوهېدو کې مرسته کوي او د انسان په سياسي، اخلاقي او هنري زدکړه کې يوه پياوړې وسيله ګڼل کېږي. د ښکارندو (پديدو) او پېښودولونه او هم له هغوي څخه د انګېرنې د راز راز طريقو ډولونه، د شعر، داستان، تياتر، سينما، موسيقی، معماری، انځورګری، مجسمې جوړونې او داسې نورو د پيدايښت لامل کېږي. د سوسياليزم نه په پخوا ټولنو کې هنر او ادبيات په ډاګه سره د زبېښاکګرو طبقو په خدمت کې ؤ او مخکې له دې چې د عيني واقعيتونو ښکارندوی وي، د زبېښاکګرو هيلې او موخې يې تعقيبولې. خو په سوسياليستي ټولنو کې هنر په بشپړه توګه يو نوی کيفيت ومی. هنر او ادبيات په سوسياليزم کې، د خلکو نه الهام اخلي او د دوی په چوپړ کې دی. سوسياليستي واقعيت ليد د دغه راز هنر او ادبياتو خلاقه طريقه ده.

د سوسياليستي واقعيت ليد د هنر بنسټيز اصول، د رښتينولي د واقعيت په غبرګون کې ژور ليد او خلکو او د خلکو ګوند ته د بشپړ نږدېوالي څخه عبارت دي. سوسياليستي هنر د علم وروستنيو پرمختګونو څخه ګټه اخلي او تل د مارکسيزم - لنينزم له ايډيالوژي څخه چې يوازنی سمه او د خلکو د ګټو سره برابره ايډيالوژي ده الهام اخلي.

د سوسياليزم نړيوال سيستم:

د سوسياليزم نړيوال سيستم، په خپل برخليک باندې د واکمنو او آزادو ملتونو يوه ټولنيزه، اقتصادي او سياسي ټولنه ده چې د سوسياليزم او کمونيزم په لار کې يې ګام پورته کړی او دګډو ګټو او موخو لرلو له کبله سره يو شوي دي. د سوسياليزم نړيوال سيستم څخه لاس ته راغلي تعريف ته په پام سره پايله

راوځي چې سوسیالیستي ملتونه په ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي دریو برخو کې یو تر بله سره جوختې اړیکې لري او سره یو دي.

۱. اقتصادي اړیکې: د سوسیالیستي کمپ د هېوادو اقتصادي اړیکې د دوه اړخیزې مرستې او د کار نړیوال او سوسیالیستي وېش (په ځانګړي چار کې د هر هېواد تخصص) پر بنسټ ولاړې دي. سوسیالیست دولتونه دخپلو اقتصادي پروګرامونود طرحې په وخت کې سربېره پردې چې د "انډولونو" مسئله خپل هېواد کې په پام کې نیسي، د نورو سوسیالیستي دولتونو په مرستې هڅه کوي چې دغه مسئله د سوسیالیستي کمپ په کچه هم وساتی. په دې ډول چې هر سوسیالیستي دولت په عین اقتصادي خپلواکي کې د خپلو اقتصادي او تخنیکي ځانګړتیاوو پر بنسټ د یو ځانګړي محصول په تولید کې تخصص مومي. د دې چار پایله د سوسیالیستي دولتونو منځ کې د کار نړیوال وېش دی. سوسیالیستي دولت په داسې حال کې چې خپلو ټولو اقتصادي څانګو ته وده ورکوي څو اقتصادي خپلواکي یې له منځه لاړه نشي، د سوسیالیستي کمپ په کچه کې هم د "انډولونو" مسئله په پام کې نیسي. د ساری په توګه د درنو صنایعو ودې ته ډېره پاملرنه کوي څو د نورو اړتیاوې په نسبي توګه لرې کړي. د بهرنی سوداګري په برخه کې سوسیالیستي دولتونه د یو بل د ګټو خوندي کولو پر بنسټ، یو له بل سره جنس په جنس راکړه ورکړه کوي.

۲ـ سیاسي اړیکې: سوسیالیستي دولتونه په خپلو اړیکو کې د نږدې همکاري او ملګرتیا، یو د بل حقوقو ته دوه اړخیز درناوی او یو د بل په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې له سیاست څخه کار اخلي. سوسیالیستي دولتونه په هېڅ وجه یو د بل په کورنیو چارو کې د لاسوهنې اجازه نه لري او یواځې کولای شي یو

بل ته لاربښوونه او یا نیوکې وکړي. سوسیالیستي دولتونه د سوسیالیستي کمپ د بشپړ یووالي په موخه معمولاً خپلو بهرنیو سیاستونو په هکله سلا مشوره کوي او د نړیوالو سیاسي بهیرونو په وړاندې یوه کړنلاره نیسي.

۳ـ ټولنیزې او فرهنګي اړیکې: د امپریالیستي هېوادو پرخلاف، سوسیالیستي دولتونه په پرله پسې توګه خپلې تولیدي، علمي او تخنیکي تجربې سره بدلوی او د هرې خوا نه د سوسیالیستي ټولنې په جوړونه کې یو د بل سره مرسته کوي. پوهان د علمي او تخنیکي مهمو مسئلو په هکله په پرله پسې توګه سلامشورې کوی. ددې همکاریو غتې پایلې له یوې خوا د سوسیالیستي دولتونو د وخت، انرژي او مالي ځواک د ضایع کېدو څخه مخنیوي او له بل لوري د سوسیالیستي ټولنې لا چټکه وده او پرمختګ دی.

د سوسیالیستي او امپریالیستي هېوادو منځ کې اړیکې:

سوله ایز ګډ ژوند: لنین د امپریالیزم په عصر کې د نړیوالو حالاتو او سوسیالیستي سیستم پیدایښت ته په پام سره دا مهم اصل رامنځ ته کړ:څنګه چې سوسیالیزم یوځل په ټولو هېوادو کې بریالی کېدای نشي، هرومرو یو شمیر هېوادونه (د اقتصادي ـ ټولنیزو شرایطو او په هغوي کې د طبقاتي مبارزو د بنې پر بنسټ) د نورو نه وروسته د سوسیالیستي انقلاب پړاو ته رسېږي او په تېره بیا د نړۍ په یو زیات شمېر هېوادو باندې د امپریالیزم د ځواکمني د دوام له امله به دتاریخ دیوې ټاکلې مودې په اوږدوکې پانګوال هېوادونه دسوسیالیستي هېوادونو ترڅنګ خپل شتون ته دوام ورکړي. او په دې صورت کې له هغوي سره "سوله ایز ګډژوند" داسې خبره ده چې له پامه نشي غورځېدلی.

په تېره بیا چې سوسیالیستي هېوادونه جګړه نه غواړي او د نړۍ د ټولو سوله خوښوونکو ځواکونو په مرسته د نړیوالې سولې ملاتړ کوي. خو دا مسئله په دې مانا نه ده چې سوسیالیستي کمپ په خپل واک لاندې سیمې باندې د امپریالیزم د مستقیم تېري او یا په نورو هېوادو باندې د هغه د تېري نه سترګې پټې کړي او له جګړې څخه چې امپریالیزم یې پر دوي ورتپي وډار شي. د امپریالیزم په وړاندې هر راز تېرېدنه چې د سوسیالیستي نړۍ د کمپ او ولسونود آزادي بخښونکو غورځنګونو د ګټو په زیان وي، په سوله کې د ګډ ژوندکولو له چوکاټ څخه وځي او د سازښت بڼه غوره کوي. د "سوله اېز ګډژوند" اصل چې لنین رامنځته کړی دی، د "سولې دروېزه" نه ده، بلکه د نړیوالې سولې خلاق، منطقي او اصولي ملاتړدی. له دې کبله سوسیالیستي هېوادونه دنده لري، د نړیوالې سولې نه د کلک ملاتړپه ترڅ کې هرې امپریالیستي ډلې ته چې د سوسیالیستي کمپ د یوې برخې او یا د ولسونو آزادي بخښونکو غورځنګو پر ضد په تېري لاس پورې کړي، په بېرحمۍ سره غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي او دړې وړې به یې کړی. سوله اېز ګډژوند، په حقیقت کې په اقتصادي او ایډیالوژي برخو کې د پانګوالۍ ضد مبارزې دوام دی. په داسې حال کې چې د نړیوال امپریالیزم ځواکمني پرضد د ولسونولپاره د جګړې شرایط لا چمتو کوي او په امپریالیستي هېوادو کې طبقاتي مبارزه هم لاوده کوي.

د سوسیالیزم او کاپیټالیزم ترمنځ اقتصادي سیالي:

د سوسیالیزم او امپریالیزم منځ کې اقتصادي سیالي، په صنعتي او کرنیزو برخوکې سړي سر تولید د کچې لوړولو مبارزه ده. یا په بله ژبه د خلکو د ژوند د کچې لازیات لوړول. په سوسیالیستي هېوادو کې د تولیداتو بې ساري زیاتوالی او د ولسې

د ژونـد د کچې پـه ودې سـره ورځ پـه ورځ امپریـالیزم پـه نړیـوالې سـیالي کـې نـور سـنګرونه لـه لاسـه ورکـوي. د دواړو نړیوالـو سیستمونو تـر مـنځ سـولهییـزه سـیالي، پـه پـانګوالو هېـوادو کـې د زیارکښانو او کارګرې طبقې د مبارزو د نفې پـه مانـا نـه ده، بلکـې د دغه راز مبارزو د پـاره یـو هڅـوونکی دی. پـه پـانګوالو هېـوادو کـې کارګره طبقه په پانګوالي باندې د سوسیالیزم د اقتصادي بریاوو پـه کتلو سره، سوسیالیزم ته د رسېدلو په لار کې مبارزې د پاره په ډېر شـوق سـره ځـان تیـاروي. سوسیالیسـتي هېوادونـه، د اقتصـادي سـیالي پـه بهیـر کـې دسـوله ایـز ګډژونـد لـه اصـل څخـه پـه ګټـې اخیسـتلو سـره د پـانګوالي پـه سیسـتم بانـدې د سوسـیالیزم د اقتصادي او ایډیالوژیکي سیستم څرګنده لوړتیا عمـلاً د نـړۍ ټولـو خلکو ته ښیيي.

سوله ایز ګډ ژوند او د ولسونو آزادي بخښونکي غورځنګونه:

سـوله ایـز ګډژونـد پـه هـېڅ ډول د ښـکېلاک لانـدې (مستعمرو) او تړلو هېوادو د ولسونو آزادي بخښـونکې مبـارزې نـه نفـی کـوي، بلکـه بـرخلاف، د مترقـي غورځنګونـو پـه هکلـه د سوسیالیزم د کمپ سیاسـت د ټولـو آزادي بخښـونکو او د نړیـوال امپریالیزم ضد غورځنګونو سره پر تبلیغاتي، مالي او پـوځي مرسـتو ولاړ دي. هــر سوسیالیســتي دولــت د مارکســیزم ــ لنینیــزم او پرولتاریایي انترناسیونالیزم د اصـولو پـر اسـاس دنـده لـري چې د آزادي بخښونکو غورځنګونـو نـه هـیڅ راز مرسـته ونهسـپموي او د ضـرورت پـه صـورت کـې د یـو هېـواد آزادي بخښـونکې جبهـې د غوښتنې پر بنا نېغ په نېغه پوځي مرسته هم وکړي. د امپریالیزم د خونړي نېغ تېري پـه وړانـدې نشـي کېـدای د "سـوله ایـز ګډژونـد" دسیاست په نوم لاس تړلي پاتې شو. خو باید پـام وشـي چې دا راز مرسـتې د "انقـلاب صـادرولو" د مسـئلې سـره سـتر تـوپیر لـري او

مارکسیزم ـ لنینیزم په غوځه توګه د دې عمل مخالف دی. د "انقلاب صادرول" په دې مانا دی چې په یو هېواد کې کورني مساعد انقلابي شرایط او د ولسونو انقلابي عمل لازم پړاوته نه وي رسېدلي، سوسیالیستي دولتونه د دې انقلاب محرک او پیل‌کوونکی شي. په دې صورت کې د ولسونو د پوهې او غوښتنې پرته او د دوي د پرېکنده تیاري پرته، انقلاب پیل شي اوځکه یې ځیلې کلکې نه وي چې ژر یا ځنډ د ماتې سره مخامخ کېږي او یا به د ټولنیز ـ اقتصادي بدلون په بهیرکې د ډېرو کلکو او خطرناکو ستونزو سره مخامخ شي.

لسم څپرکی

# کمونیزم

### د بشر د اقتصادي ـ ټولنیز جوړښت تر ټولو لوړ پړاو

سوسیالېزم څخه کمونېزم تـه د لېـړد بنسـټيز قـوانين پـه دې ډول دي: د کمــونېزم مــادي او تخينکــي بنســټ جوړونــه؛ د سوسياليستي دوه ډوله مالکيت بشپړتيا او په کمونيستي واحـد مالکيت باندې د هغو بدلول؛ د کار وده او د انسان دژوند لومړنی اړتيا باندې د هغه اړول؛ د ښار او کلي منځ کې تضاد او د فکـري او بدني کار منځ کې تضاد بشپړله منځه وړل؛ د سوسياليستي ټولنې د طبقو منځ کې دشته تضادونو بشپړ لـه منځـه وړل او بې‌طبقې ټولنې ته لېږد؛ د ټولنې د ټولو غړو فکري او بدني هـر اړخېـز ه وده او د خلکو ټولنېز مالکيت پـه اړونـد کمونېسـتې انـدلار (طرزفکـر) موندل او داسې نور.

بايد پام وشي چې پورتـه يادشـوي ټول اساسي شـرطونه کرار کرار جوړيږي او سوسيالېزم څخه کمونېزم تـه د لېـړد بهيـر د سوسيالېزم د ودانۍ له تمامېـدو وروسـته، نـه پيـل کيـږي. ځکـه د کمونيستي ټولنې ودانۍ او سوسـيالېزم نـه کمـونېزم تـه د ټـولنې د لېږد بهير دواړه په يو وخت کې سرته رسـيږي، او دا دواړه د واحـد تکاملي بهير نندارهٔ ده. د سوسياليستي توليد د طريقې ګام په ګام بشپړتيا او ټينګښت، د سوسياليستي ټولنې ګام په ګـام بشـپړتيا او ټينګښت سره يوځای کمونېزم ته د ټولنې د لېـړد کـرار کـرار بهيـر هم سرته رسيږي.

کمــونېزم تــه د سوســیالېزم د پرمختــګ څرنګــوالی:
کمونېزم ته دسوسیالېزم لېږد یو تاریخي بهیر دی چې د انساني ټولنې د پراختیا او بشپړتیا د عیني قوانینو سره سم ترسره کیږي. سوسیالېزم نه کمونېزم ته لېږد، یو پرله پسې او کرار کرار بهیر دی. کرار کرار لېږد په دې معنی نه دی چې تکامل په کرارکرار سر ته رسېږي، بلکې برعکس په داسې چټکي ترسره کیږي چې د بشر په تاریخ کې سارئ نلري. سوسیالېزم نه کمونېزم ته کرار کرار لېږد، په دې مانا نه دی چې د سوسیالیستي ټولنې د بشپړتیا په بهیر کې هېڅ ټوپ نشته، بلکې برعکس سوسیالیستي ټولنه هم د بلې هرې ښکارندې (پدیدې) په څیر د کرار کرار بشپړتوب وروسته خامخا په ټوپ سره په نوې بڼه بدلون مومي. یعنې د کمونیستي ټولنې پیدایښت به هم په انقلابي توګه منځ ته راشی. په همدې دلیل سوسیالېزم نه کمونېزم ته لېږد، په خپل سر یعنې پرته له دې چې دمبارزې په زور خنډونه مات کړی سرته نه رسېږی. استالین د هغه رپوټ په ترڅ کې چې د ګوند اوولسمې کنګرې کې یې وړاندې کړ، هغه کسان یې د نیوکو لاندې ونیول او دغه شان سوچ یې کم عقلتوب وګاڼه چې انګیرل یې، کیدای شي له مبارزې پرته کمونېزم ته ورسېږو.
کمونېزم سره د سوسیالېزم د ورته والي اړخونه:
د سوســیالېزم او کمــونېزم مــنځ کې د ورتــه والــي مهــم اړخونه په لاندې ډول دی:
۱ـ د سوسیالېزم او کمونېزم اقتصادي بېخبنا ورته والی، چې د تولید پر وسایلو باندې د ټولنیز مالکیت څخه عبارت دي.
۲ــ د کمونیستي جوړښت په دواړو پړاونو کې تولیدي اړیکې د مولده ځواکونو سره سمون لري. په دې مانا چې د تولید

پر وسایلو باندې ټولنیز مالکیت د تولید ټولنیز خصلت سره سمون خوري.

۳ـ هم په سوسیالېزم او هم په کمونېزم کې، زبېښاکګرې طبقې او د انسان له خوا د انسان زبېښاک او نژادي او ملي زورزیاتی نشتوالی. په دواړو پړاوونو کې زبېښاک نه د خلاصو انسانانو منځ کې ملګرتیا، همکاري او دوه اړخیزه مرسته، د دوی منځ کې د تولیدی اړیکو بنسټ جوړوي.

۴ـ هم په سوسیالېزم او هم په کمونېزم کې د علم او تخنیک د چټک پرمختګ پر بنسټ، د ټولو انسانانو د مادي او فرهنګي اړتیاوو د لابشپړه پوره کولو په موخه، ټولنیز تولید په پرله پسې توګه وده مومي.

۵ـ د ملي اقتصادي پلان سره سم پرمختګ، د سوسیالېزم او کمونېزم د دواړو پړاوونو له ځانګړتیاوو څخه دی. دا چار د ټولنې د ودې چټک یون تأمین او شونې کوي چې د ټولنې د مادي سرچینو او انساني ځواکونو څخه په معقوله اومنطقي طریقه ګټه واخیستل شي او دکار حاصل ورکونه په پرله پسې توګه زیاته شي.

۶ـ هم په سوسیالېزم او هم په کمونېزم کې نالوستی، نیستي، بیکاري په تولید کې ګډوډی او ویجاړي (بحران) نشته.

۷ـ د کمونېزم د جوړښت په دواړو پړاونو کې د انسان کار په خپلې خوښې او خلاق دی. په دې مانا چې انسانان د کار په خپلې خوښې تاکلو سره امکان مومي خپل ډېر ښه استعداد د ټولنې چوپړ کې په کار واچوي.

۸ـ هم په سوسیالېزم او هم په کمونېزم کې مارکسیستي ـ لنینیستي ایډیالوژي واکمنه ده.

د کمونېزم او سوسیالېزم د توپیر اړخونه:

د کمونېزم او سوسیالېزم بنسټيز توپیرونه د هغو توپیرونو زېږنده ده چې د دغو دواړو پړاوونو د اقتصادي او فرهنګي بشپړتیا په کچه کې موجوددي.
د سوسیالېزم او کمونېزم ترمنځ د توپیر تر ټولو مهم اړخونه:
۱- په کمونېزم کې د مولده ځواکونو د پراختیا او بشپړتیا کچه د سوسیالېزم نه په کراتو لوړه ده.
۲- په سوسیالېزم کې د تولید پر وسایلو دوه ډوله ټولنيز مالکیت ـ دولتي او مرستندویه ـ شتون لري په داسې حال کې چې په کمونېزم کې یواځې یوډول ټول وګړنیز مالکیت واکمن دی.
۳- په سوسیالېزم کې د ټولنیز مالکیت دوه ډوله شتون د کارګر او بزګر ټولنیزوطبقود شتون د پاره شرایط برابروي، په داسې حال کې چې په کمونېزم کې ټول وګړنیز مالکیت د ځانګړې بنې په ټینګښت سره، طبقې او طبقاتي مبارزه خامخا، په بشپړه توګه له منځه ځي.
۴- په کمونېزم کې د طبقاتو له منځه تګ سره، د ښار او کلي او د فکري او بدني کار منځ کې تضاد کرار کرار له منځه ځي او پوپنا کیږي.
۵ ـ په کمونیستي ټولنه کې د کار خصلت د انسان د لومړنۍ اړتیا په بڼه بدلون مومي.
۶- دکمونیستي ټولنې په ټینګښت سره به دسوسیالیستي اصل (هرچاته دده د استعداد پربنسټ او هرچاته دده دکار پر بنسټ) ځای، کمونیستي اصل (هرچاته دده داستعداد پر بنسټ او هرچاته دده داړتیا پربنسټ) ونیسي.
کمونیېزم ته دسوسیالیستي هېوادو لېږ او ډېر په یوه وخت کې اوښتل ـ دسوسیالېزم نه کمونېزم ته لېږدـ دهغو ټولو هېوادودپاره چې دسوسیالېزم د رغاونې په حال کې دی، یو نه

ژغورېدونکې چاردئ. په اوس وخت کې سوسیالیستي هېوادونه د اقتصادي او فرهنګي بشپړتیا او پراختیا له پلوه په مختلفو پړاوونو کې دي، د هغویو شمیر د سوسیالېزم د جوړېدو په وروستني پړاو کې دي او ځینې نور یې لومړني پراونه وهي. د دې سره سره ټول سوسیالیستي هېوادونه به د سوسیالېزم نه کمونېزم ته د لېږد په وخت کې یو له بله دومره واټن ونه لري. ځکه د دې هېوادونو نه هر یو، د خپل پرمختګ د کچې پر بنسټ، بایده دي چې د اقتصادي او فرهنګي بیلابیلو اړخونو نه، نورو سره، کمونېزم ته د رسېدو د پاره مرسته وکړي او خپلې تجربې د هغوی په واک کې ورکړي. هغه هېوادونه چې پخوا د اقتصادي او سیاسي پلوه وروسته پاتې ګڼل کېدل د سوسیالیستي هېوادو دوه اړخیزه مرستې او دملګرتیا په همکاري باندې په ډېرې لګولو سره کولای شي په ډېره لږه موده کې ځان د سوسیالیستي ډېرو پرمختللو هېوادو کچې ته ورسوي. له بل پلوه هغه وخت سوسیالېزم نه کمونېزم ته بشپړ لېږد شونی دی چې د پانګوالی د کمپ اغېزه پرې نه وي پاتې شوې. ځکه د امپریالیستي کمپ تل پاتې ګواښ، سوسیالیستي هېوادو ته دا امکان نه ورکوي چې کمونېزم ته ورسیږي.

**د کمونېزم ټینګښت:**

د کمونیستي ټولنې مولده ځواکونه: د مولده ځواکونو پراختیا او بشپړتیا سوسیالېزم څخه کمونېزم ته د لېږد تر ټولو لومړنی او اساسی شرط دی. د کمونیستي ټولنې مولد ځواکونه د تکامل تر ټولو لوړ پړاو کې ځای لري او د هغو د ودې چټکتیا د بشر په تاریخ کې ساری نه لري. د مولد ځواکونو د بشپړتیا اساس

د کمونیستي ټولنې مادی او تخنیکي پرمختیا جوړوي. له دې کبله د کمونېزم مادي او تخنیکي بنسټ څېړو.

الف- د کمونېزم مادي او تخنیکي بنسټ:

دې ته په پاملرنې سره چې کمونېزم په ټولو اړخونو کې د سوسیالېزم د بشپړتیا نه منځ ته راځي، د هغه مادي او تخنیکي بنسټ هرومرو باید سوسیالېزم سره د ګډ اړخ لرلو په ترڅ کې د بشپړتیا ترټولولوړ پړاو ته و رسېږي. د کمونېزم د مادي او تخنیکي بنسټ رغاونه د درنو صنایعو د پخوا نه لا ډېرې ودې ته اړین دی. د درنو صنایعو د ودې سره د ملي اقتصاد ټولې څانګې لکه کرهڼه، سپک صنعتونه، د ودانیو چارې، وړلو راوړلو، ارتباطي وسایل او همدا شان هغه څانګې چې نېغ په نېغه د خلکو په چوپړ کې دي لکه روغتیايي خدمتونه، د خوراکي موادو برابرول، د عامې سوکالۍ منځ ته راتګ او داسې نور، د تخنیکي پلوه بشپړتیا موندونکي نوي وسایل ترلاسه کوي. له بل پلوه پوهېږو چې د درنو صنایعو او نورو اقتصادي څانګو وده یوازې د پنځوعواملو دپرله پسې پراختیا او ودې له کبله شونې ده. دغه پنځه عوامل چې په سوسیالېزم کې یې بنسټ اېښودل شوی دی اوپه کمونېزم کې د بشپړتیا تر ټولو لوړې کچې ته رسېږي په دې ډول دي: د ماشینونو مکانیزه او اتوماتیک کول، په صنعت او کرنه کې د بریښنا له انرژي او کیمیا څخه ګټه اخیستل او د اتومي انرژي نه ګټه اخیستل. د پورتینو پنځو عواملو ورځ په ورځ زیاتېدونکې بشپړتیا او پرمختګ یوازې هغه وخت شونی دی چې علم په نېغه د دوی په ودې کې اغیزمن شي.

ب- علم د مولد ځواکونو دنېغ (مستقیم) عنصر په توګه:

د کمونېزم د مادي او تخنیکي بنسټ جوړونې اړتیا، دپنځو اقتصادي عواملود پرله پسې پرمختګ له لارې، علم د

مولده ځواکونو د مستقیم عنصر په توګه رامنځ ته کوي. د مولد ځواکونو د عنصر په توګه،دعلم تحول په دې مانا نه دی چې علم دمولدځواکونو نسبتا خپلواک دریم عنصر په توګه اوړي (لکه انسان او د تولید وسایل). علم د مولد ځواکونو د مستقیم عنصر رول، د تولید د وسایلو او د انسانانو د مهارت له لارې د دغو وسایلو په کار اچونه کې لوبوي. په پانګواله ټولنه کې علم تر هغې کچې بشپړتیاموندله چې د پانګوالو ګټو اجازه ورکوله او له دې کبله د دوی د ګټو په قید او د دوی په چوپړ کې وو. په داسې حال کې چې سوسالېزم او په بشپړه توګه په کمونېزم کې یوه وسیله ده چې ټولنه پرمخ بیایي. علم په کمونېزم کې د ټولنې اړتیاوو ته په پام سره (نه د یوې ځانګړې طبقې اړتیاوو او ګټو) په ګنو پلټنو او اختراعاتو لاس پورې کوي. علم په کمونېزم کې، د تکنالوژیکي تجسم په بڼه، د مولده ځواکونو او تولید مستقیم عنصر دی. په بله ژبه د ټولنې د اړتیاوو په په پایله کې دعلم هرراز پر مختګ سملاسی د تولید چوپړ کې په کار اچول کیږي. په کمونېزم کې به د کشفیاتو او اختراعاتو کچه تر هغې اندازې پورې ورسیږي چې یوائې راټولول او دتولید کوونکو په واک کې ورکول یې دزرګونو کسانو کاردی. علم به یوازې د کمونېزم په څو لومړیو لسیزو کې د خپلو تیرو پیړیو پرمختګونو نه لا زیات پرمختګ وکړي.

انسان د مولد ځواکونو د اصلي عنصر په توګه:

کمونېزم یوه بې طبقې ټولنه ده. د اسې ټولنه چې په ټولو برخو کې د برابرو انسانانو څخه جوړه ده. له دې کبله که په سوسیالېزم کې کارګره طبقه د مولد ځواکونو اصلي عنصر دی. په کمونیستي ټولنه کې، انسان دی چې دغه مقام ته رسي. د کمونیستي ټولنې د لویو موخو څخه یوه هم د نوي انسان قالب

جوړونه ده، داسې انسان چې په تولیدي چارو کې په پراخه مهارت سره کولای شي کمونیستي خلاق کار وکړي.

د کمونیستي ټولنې تولیدي اړیکې:

د کمونېزم مادي او تخنیکي بنسټ جوړونه د سوسیالیستي تولیدي اړیکو کرار کرار بدلون او په کمونیستي تولیدي اړیکو باندې د هغې د اوښتلو سره مل ده. په لومړي سر کې د تولید پر وسایلو باندې د ټولنیز مالکیت دوه ډولونه، د عامو پرګنو پر واحد ملکیت باندې بدلون مومي. په بله ژبه، په کمونیستي ټولنه کې نور د تعاوني کومه نښه نه پاتې کېږي او د تولید ټول وسایل د ټولو خلکو په واک کې وي. کمونیستي تولیدي اړیکې د څو اړخونو نه جوړ، یو بهیر دی، چې تر ټولو بنسټیزه یې د محصولاتو کمونیستي وېش او د بشپړ اقتصادي یوشانته والي مساله ده.

د پیداوارو کمونیستي وېش: په کمونیستي ټولنه کې پیداوار "هرچاته د ده د استعداد او هرچاته د ده د اړتیا" د اصل پر بنسټ وېشل کېږي. د دې مسالې د پوهونې په موخه د دې اصل اجزأ په لاندې ډول څېړو:

۱- استعداد: استعداد د هر کار بریالي سرته رسولو د پاره یوضروري عامل دی. د ساري په توګه هغه څوک کولای شي طراح شي چې د بنې فني پوهې څخه برخمن وي. علمي څېړنې او تجربې ښيي چې په ټولیزه توګه د سالمو انسانانو استعدادونه یوتر بله ډېر توپیر نه لری. انسان د پیدایښت په وخت کې یو عصبي سیستم او بالقوه بېلابېل استعدادونه لري چې په مختلفو لوروکې وده او بشپړتیا ورکول کېدلای شي خو هېڅکله به دغه استعداد د قوې نه عمل ته را نشي مګر دا چې مساعد شرایط ورته برابر شي او د نظر وړکس ډېره موده د خپلې علاقې وړ کسب په

برخه کې کار او زده کړه کړې وي. په دې ترخ کې علم ثابته کړې ده چې د عقلي سلامتیا څخه برخمن هېڅ یو انسان، بې استعداده نه دی او خامخا په یوې ځانګړې برخه کې د استعداد لرونکی دی. د دې مسالې په منلو سره پایله لاس ته راځي چې هرڅومره د ټولنو پرمختګ زیات وي په هماغه کچه د استعدادونو د څرګندېدو اوودې د پاره لازمې زمینې برابرې دي. مارکسېزم-لنینېزم باور لري چې هرڅوک ذاتاً د یو خلاق ځواک لرونکی دی او هغه څه چې دغه ځواک په خوځښت راولي او تکامل وربښي "کار" دی. ځکه د ساري په توګه یو کس چې د موسیقي استعداد لري هغه وخت کولای شي په وتلې موسیقي پوه شي چې د موسیقي په برخه کې کار وکړي او تعلیم ورکړای شي. په لاښه ژبه، استعداد په هرچا کې، د زده کړې د منلو او د خپلې علاقې وړ کسب د تعقیبولو د پاره تیاره زمینه ده.

۲- هرچانه د ده د استعداد پر بنا: "هرچانه د ده د استعداد پر بنا" کمونیستي اصل، په دې مانا ده چې تر ټولو لوړې بنې سره د کار لاسته راوړنې وشي، د استعدادونو او د تخصصي او عامې ښوونې او روزنې د کچې د پرله پسې ودې لپاره اجباري ښوونې ترسره شي، په ټولنیزو چارو کې د ټولنې ټول غړي فعاله ونډه واخیستلی شي اوپه خپله خوښه د ټولنې د اخلاقي معیارونو رعایت وکړي. ټولنیز سیستم، د استعدادونو د څرګندېدو او پرمختګ د څرنګوالي ضمانت کوي. د صنعت، علم، تکنالوژي او فرهنګ د کچې پراختیا او بشپړتیا، د استعدادونو د څرګندېدلو دډېرو لویو شرایطو د جملې څخه دي. په کمونېزم کې د مولده ځواکونو د ستر پرمختګ له کبله د علم او فرهنګ د کچې لوړتیا، د کمونیستی اصل له مخې دپیداوارو ویشل، د استعدادونو د څرګندېدو امکان په زیاته کچه لوړوي. ټولنه هم د دغو

استعدادونو څخه د ټولنې او فرد د تکامل په برخه کې په ښه توګه ګټه اخلي.

۳- اړتیا: هر یو تن دوه ډوله اړتیاوې لري: لومړی مادي اړتیاوې (لکه خوراک، پوښاک او داسې نور) دوهم معنوي اړتیاوې (لکه ښوونه او روزنه، هنر او داسې نور). په دې ترڅ کې باید پاملرنه وشي چې د مادي اړتیاوو پوره کوونه د معنوي اړتیاوو د پوره کولو د پاره لومړني شرایط برابروي. اړتیاوې د ټولنې د ټولنیزو شرایطو زیږنده دي، لکه د مولده ځواکونو، علم، تکنالوژي، فرهنګ، کورنیو اړیکو او کار ځای د کچې پراختیا او بشپړتیا او داسې نور. پرته د عیني شرایطو څخه، د هریو تن اړتیاوې تر یوې کچې پورې هم د ده په ذهني کیفیاتو لکه د فزیکي او فکري ودې د کچې، میراثي صفاتو او داسې نورو پورې تړلي دي. سربیره پر دې مادي تولید، د اړتیاوو یو پریکنده عامل ګڼل کیږي. اړتیا په داسې حال کې چې د تولید زیږنده ده، د تولید، تولیدي اړیکو او د نورو ټولو ټولنیزو پدیدو د پرمختګ دوه اړخیزه هڅوونکې هم ده. د خلکو اړتیاوې د دوی د استعدادونو سره جوختې اړیکې لري. ځکه د اړتیاوو پوره کولو لپاره د مادي او معنوي ارزښتونو تولید ته اړتیاده او په همدې دلیل انسان د استعداد ځرګندولو او له هغه څخه ګټې اخیستلو ته اړتیالری. انساني اړتیاوې ثابتې نه دي بلکه د انسان د پرمختګ او د تولید د ودې او د ټولنیزو اړیکو بدلون (په تیره بیا تولیدي اړیکو) سره سم بدلون مومي.

۴- هرچاته د ده د اړتیا پر بنا: د کمونیستي ټولنې غړي د خپلو استعدادونو په کارولو او د ټولنې د لا زیاتې سوکالۍ په لار کې د هغوي څخه په ګټې اخیستلو، خپلې اړتیاوې د خپلو استعدادونو د لاسته راوړنو په واسطه پوره کوي. د استعداد پکار

وړلو په عبارت باندې ټینګار کول په دې دلیل چې موخه یې د وګړو کارکول دي. داسې و نه انګارل شي چې په کمونیستي ټولنه کې کېدای شي وزګار وګرځي او یا احیاناً هرڅوک چې هره هیله لري، سمدلاسه پوره کیږي. کمونیستي ټولنه یوازې منطقي اړتیاوې او شونې اړتیاوې پوره کوي. په کمونیستي ټولنه کې داسې حالت نشته، چې څوک، هره ګړۍ، هر څه وغواړي، سملاسي چمتو وي. په دې ترڅ کې د کمونیستي ټولنې غړي د لوړې زده کړې او روزنې پر بنسټ د اوسنیو انسانانو سره بېخي توپیر لري او دې مسالې ته په پاملرنې سره ده چې"هرچاته د استعداد، هرچاته د اړتیا پر بنا" اصل مانا مومي.

په کمونیستي ټولنه کې د کار وېش:

په سوسیالېزم کې د خصوصي مالکیت له منځه تللو سره چې د پانګوالي ستن او بنسټ دی، د کار وېش هم بڼه بدلوي. خو پوهیږو چې د کار وېش په سوسیالېزم کې هم د ټولنې په حال ګټوره او بشپړه بڼه نده نیولې. بېلګه یې د روڼ اندو، کارګرو، بزګرو او نورو منځ کې د کار وېش دی چې د پورتنۍ وینا څرګندونه کوي. کمونیستي ټولنې ته په رسیدو او د فکري او فزیکي کار د تضادونو او د ښار او کلي منځ کې د تضادونو په له منځه تللو سره، د پانګوالي پاتې شوني په بشپړه توګه له منځه ځي او د کار کمونیستي وېش د کار سوسیالیستي وېش ځای نیسي. په پخوانیو ټولنو کې د کار پر وېش سربېره چې په بنسټیزه توګه یې طبقاتي جرړې درلودې، د کار یو راز حرفوي وېش موجود وو خو د کار دغه راز وېش هم د ټولنې د طبقاتي ماهیت له کبله ځانته طبقاتي بوی او بڼه درلوده او د کار د خالص کاري وېش له حالت نه وتلی وو. په کمونېزم کې د کار پخواني وېش له منځه تللو او د هغه د کاري حالت په ساتلو سره د ټولنې د غړو منځ کې یو راز د کار

حرفوي وېش منځ ته راځي چې طبقاتي ماهیت نه لري او په ځانګړې توګه یوازې د حرفې له مخې مختلف کارونه سره بېلېږي. له بل پلوه د صنعتي بېلابېلو څانګو او اقتصادي بېلابېلو سیمو منځ کې هم د کار وېش واکمن دی چې پلان یې د کره پروګرام پر بنسټ جوړېږي.

کار په کمونېزم کې: انسان تل په دې هیله دی چې کار یې د خوند او مینې سره مل وي خو د مریانو او سرفانو د پاره دغې هیلې هېڅکله هم د عمل جامه وانه اغوستله. په پانګوالي سیستم کې هم پرولتاریا د تورتم راتلونکې له ډاره تل د لوږې او وزګارتیا سره لاس او ګریوان وي. او هېڅکله د خپل کار څخه خوند نه اخلي. خو کار په سوسیالېزم او په تیره بیا کمونېزم کې لا په بشپړه توګه د زیارکښانو د دغې پخوانۍ هیلې سره سم خپل ماهیت ته بدلون ورکوي. کار په کمونېزم کې عام، پخپله خوښه، زېبښاک نه خلاص او د ټولنیز مالکیت او تخنیک تر ټولو لوړې کچې پر اساس دی. کار په کمونېزم کې زښته ډېره لاسته راوړ نه لري او د علمي پلوه نظم مومي. کار په کمونېزم کې خلاق ماهیت لري او فکري او فزیکي هڅې په ډېرې لوړې ممکنې بڼې سره یو ترېله نښلوي. کار په کمونېزم کې مزدوري نه لري او ټول خلک خپل استعدادو نه د ټولنې په واک کې ورکوي. او په پای کې کار په کمونېزم کې د انسان د ژوند د لومړنۍ اړتیا بڼه غوره کوي.

د انسان د ژوندانه په لومړنۍ اړتیا باندې د کار د بدلیدلو شرایط: کار ته اړتیا، ځانته د یو راز انساني کړنو نوم غوره کوي، چې د یو "عادت" بڼه یې نیولې ده. دغې موخې ته د رسېدو د پاره باید له کړاوه ډک بدنی کار له منځه لاړ شي او د علم او فرهنګ کچه لوړه شي. مخکې مو ولیدل چې د سوسیالېزم په تخنیکي پرمختګ او کمونیستي ټولنې ته په رسېدو سره، په کمونیستي

ټولنه کې د کار بڼه په څه ډول ده. بدني کار په هغې مانا چې نن ورسره مخامخ يو، شتون نلري. بلکه ټول وګړي د تخصص لرلو له کبله د توليدي چارو د اداره کوونکو په توګه رامنځ ته کېږي. د انسان د ژوندانه په لومړنۍ اړتيا باندې د کار دبدلون د پاره په تخنيکي پرمختګ سربېره بايد د پخواني کار وېش پاتې شوني، په هماغه ډول چې مخکې وويل شول، له منځه ولاړ شي او کار د خوښي او ښادي په سرچينې بدل شي. د کار ټول تياره اړخونه، هغه اړخونه چې د انساني خصلت سره سازښت نه لري، بايد له منځه لاړ شي او د کار روښانه او خوشالي بخښونکي اړخونه تر وروستنۍ کچې پورې بشپړتيا ومومي.

***دکمونيستي ټولنې مخبنا:***

کمونېزم يا بې طبقې ټولنه: کمونېزم يا بې طبقې ټولنه د دوو بنسټيزو اړخونو يو جوړښت دی: اقتصادي مساوات او ټولنيزه برابري. په کمونيستي ټولنه کې، د توليد پر وسايلو څښتنولي (مالکيت) په بشپړه توګه ټولنيز دی او په همدې اساس، د محصولاتو وېش د کمونيستي اصل سره سم ترسره کېږي. له دې کبله وګړي د اقتصادي پلوه بشپړيوشانته والی مومي او شتمني په واک کې نه لري. په کمونيستي ټولنه کې هېڅوک خپلې يا د اولاد راتلونکې ته اندېښنه نه لري. ټول يې په شور او شوق سره کار کوي او په ډاډه زړه يو د بل په څنګ کې نيکمرغه ژوند تېروي. شتمني په ټولې ټولنې پورې اړه لري او هېڅوک ځان ته د هغې دلاسته راوړلو او ځانګړي کولو په لټه کې نه وي. هرڅه پريمانه او ډېر وي او د اندېښنې د پاره ځای نشته. ټولنه د اقتصادي مساواتو پر بنسټ، د ټولنېزو او حقوقي مساواتو څخه هم برخمنه وي. په دې ټولنه کې هېڅ راز طبقه شتون نه

لري. ټول خلک یو شان وي او یو د بل د حقوقو درناوی کوي. د ښار او کلي او د فکري او فزیکي کار منځ کې تضادونه له منځه ځي او نښه یې نه پاتې کیږي.

د دولت له منځه تلل: دولت د طبقو د څرګندېدلو سره جوخت منځ ته راغلی او هرومرو د هغو په له منځه تللو سره بېرته له منځه ځي. د پرولتاریا ستر مشر، انګلز لیکي چې ټولنه به، دولت هغه ځای ته واستوی چې ورسره ښایي، د لرغونو آثارو موزیم ته، ټیک د لرغونې زمانې د اوبدلو د څرخونو او برونزو مجسمې څنګ ته. دولت چې کمونیستي ټولنې ته تر رسیدو پورې طبقاتي ماهیت لري، دغې ټولنې ته د لېږد په پړاو کې ورو ورو خپل دغه خصلت له لاسه ورکوي او وروسته کرار کرار تباه او له منځه ځي. ټولنه د اقتصادي او ټولنېزو چارو د ادارې په موخه، داسې موسسات جوړوي چې یواځې د پخواني دولتي مدیریت له رول څخه ګټه اخلي او غړي یې تل د خلکو دغوښتنې سره سم بدلیږي. په کمونیستي ټولنه کې پوځ ببخي له منځه ځي او دغه ستر انساني ځواک د وژونکو وسلو سره د ګوښه کېدو پر ځای، تولید او کار ته، یانې د بشري ژوند د دوام تر ټولو لویې سرچینې ته، مخه کوي. د کلمې په رښتیانۍ مانا سره په تاریخ کې د لومړی ځل د پاره به دیموکراسي ټینګه او ټوله ټولنه به په غېږ کې ونیسي. ټول خلک به یو د بل لپاره او د ټولنې د پرمختګ په موخه هڅه وکړي.

د نوي انسان قالب جوړونه:

د کمونسیتي ټولنې موخه، د داسې انسان قالب جوړونه (خښته ایښودنه) ده چې هر اړخیزه او هم غړه بشپړتیا یې موندلې وي. د کمونېزم انسان، د بې ساري پوهې لرونکی کارګر دی، داسې کس چې د علم له اصولو څخه خبر او د مادي او معنوي ارزښتونو جوړوونکی دی. هغه یو فعال انسان، دتجربې خاوند

مدیر او د علمي فلسفې سره آشنا یو کس دی. یو داسې انترناسیونالیست دی چې د نړیوال هنر له اصولونه باخبر او په تر ټولو لوړو اخلاقي اصولو اود بدني پلوه په هر اړخیز تکامل سمبال وي. یو داسې انسان، "شتمني" ده، داسې شتمني چې د مادي شتمنیو څخه تېرېږي او لالوړ مقام مومي. کمونیستي ټولنه د انسان د قالب جوړونې د پاره دوو اړخونو ته پاملرنه کوي: بدني اوفکری روزنې ته.

۱- د بدن روزنه: د بدن روزنه، د نوي انسان د قالب جوړونې یو له اړینو اصولو څخه ده. د بدن د روزنې تر ټولو لویه موخه، د انسان روغتیا ده. څرنګه چې پوهیږو، بدني او فکري روغتیا د تولید او ټولنیز فعالیت لومړنی شرط دی. هغه څوک کولای شي د خلاقه کار کولو، د طبیعت له بنکلا نه په خوند اخیستلو او په ټولنیز ژوند کې فعاله ګډون کولو توان ولري چې له بدني او فکري دوه اړخیزې روغتیا څخه برخمن وي. په دې ترڅ کې د کمونېزم موخه یوازې دانسان روغتیا نه ده، بلکه د یو داسې انسان قالب جوړونه ده چې له بدني پلوه بشپړ وي. له دې کبله د روغ رمټ کېدو او بشپړتیا په منځ کې د بدني پلوه توپیر شته. هغه څوک چې د بدني پلوه بشپړ دی داسې یو کس دی چې پر بدن باندې پوره کنترول لري، له ډېر ځواک او انرژي څخه برخمن وي او کولای شي د زیات فشار په وړاندې زیات زغم وښیي. پوهان د علمي پلټنو له کبله پوه شوي دي چې د انسان د غړو ځواک په سلو کې له پنځلسو څخه درې سلنې ته راټیټ شوی دی، ځکه پخوا بدني کار کړاوجن ؤ او نن ډېر آسانه دی. دغه مسأله د انسان د بدن د پاره چې باید د ناروغیو په وړاندې مقاومت وکړي، ډېره خطرناکه ده. له دې کبله نن په سوسیالېزم او بیا په کمونېزم کې لا کلکې بدني روزنې ته پاملرنه کیږي. کمونیستي ټولنه به د راز

راز ورزشونو او د بدن په روغتیا پورې اړوندو مسألو ته د خلکو د پام را ګرزولو له لارې دغه دنده سرته ورسوي.

۲- د فکر روزنه: په کمونیستي ټولنه کې د فکر روزنه یا ښوونه او روزنه پر عیني واقعیاتو، علمي ژورې کتنې، علمي نړۍ لید منلواودکمونیستي یووالي او اخلاقوپر زده کړې ولاړه ده. د سوسیالیستي ټولنې په ټینګېدلو سره، علمي نړۍ لید (دیالکتیکي ماتریالېزم) د واکمنې او پراختیا موندونکې فلسفې په توګه منځ ته راځي، ځکه د ټولنې تر ټولو مترقي اقشارو دغه فلسفه منلې ده. خو په کمونیستي ټولنه کې عیني اړتیا حکم کوي چې د استثنا پرته د ټولنې ټول غړي د علمي فلسفې پر اصولو برلاسي وموي. ځکه د کمونیستي ټولنې جوړونه او د پېچلو مسالو حل کول هغه خلک ترسره کولای شي چې د طبیعت، د ټولنې او تفکر د تکامل ټولیزو قوانینو سره بشپړه آشنایي ولري. له بل پلوه د ایډیالیستي عقایدو ضد مبارزې د پاره لازمه ده د علمي نړۍ لید زده کړه لا پراختیا وموي. که څه هم خلکو د علمي فلسفې د قوانینو سره په آشنایي سره په حقیقت کې دغه علم منلی دی، لیکن د ایډیالېزم او مذهب د غلطو او طبقاتي ستنو د ښودنو په اړه ژوره پاملرنه په کمونیستي ټولنه کې د ښوونې او روزنې د لویو دندو له جملې څخه ده. د انسان د فکر روزنه د ده عواطفو او احساساتو ته د پاملرنې پرته، یو خوشې او بې فایدې کار دی. لکه څنګه چې لنین ورته ګوته نیسي: "د حقیقت د موندلو په موخه هېڅ یوه پلټنه د انساني عواطفو پرته نه وه او نه به وي" له دې کبله ښوونه او روزنه د دې موخې د پاره چې څرنګه خپل احساسات کنترول کړي او په څه ډول غوره عواطف و روزي او د ځان او ټولنې په ګټه یې په کار واچوي، په کمونیستي ټولنه کې د ښوونې او روزنې له دندو څخه ده. په دې ډول کمونېزم، انسان له دوو اړخونو نه تر پاملرنې

لاندې نيسي: لـه يـوه پلـوه هڅـه کـوي چې انسـان تـر هاغـه ځايـه پورې چې شونې ده عيني واقعيتونو ته نږدې کړي او د علمي نـړۍ ليد څخه يې برخمن کړي. او له بل پلوه د ننـنـۍ نـړۍ، پيژنـدنې او روزنې ته هم پاملرنه کوي.

۳- د کـار لـه لارې ښـوونه او روزنـه: علمـي او کمونيسـتي نړۍ ليد، يواځې دټولنو دپراختيا او بشپړتيا د قوانينـو پيژندنـه نـده بلکه په کار کې د دغو قوانينو د عملی کولو وړتيا هم پکښې شـامل دی. يوازې د کار له لارې انسـان کـولای شي د کمونيسـتي ټولنې بنسټ کيږدي. د طبيعت، ټولنې او د انساني اند پيژندنـه يـواځې د پرله پسې او نه ستړيدونکي کار لـه لارې شـونې ده. لـه دې کبلـه د کار له لارې ښوونه او روزنه يانې په تر ټولو لوړې ممکنې بڼې عمل کې دفکر پلی کول، د کمونيستي ښوونې او روزنې جوهر دی.

کمونيستي اخلاق چې په اوږدو پيړيو کې د بشـري ټـولنې د پرمختـګ پـه دوران کـې د انسـاني اخلاقـو تـر ټولـو لـوړو اړخونـو زيږنـده ده، د سـتر بشـريت د ډيـرۍ د ګټـو او عقايـدو څرګنـدونکی دي. کمونيستي اخلاق په کمونيستي ټولنې پورې ځـانګړي نـدي، سوسيالېزم هم له هغو نه پريمانه ګټه اخلي. د کمونيسـتي اخلاقـو تر ټولو بنسټيز اصول په دې ډول لنډولای شو:

۱- د کمـونېزم، د سوسياليسـتي هېـواد او د پرولتاريـايي انترناسيونالېزم د هيلو په لار کې سربښـندنه. ۲- د دنـدې پيژنـدنې سره جوخت د ټولنې په ګټه کارکول. هرڅوک چې کـار نـه کـوي د خوړلو دپاره به هم، څه ونه لري. ۳- د ټولنيزې شتمنۍ ساتنه او د هغې د ډېرېدو سره مينه، د ټولنيزو دندونه لوړه پوهه او د ټـولنيزو ګټو ترپښولاندې کولو په وړاندې ودرېدنه. ۴- ددې شعار سره چې "انسـانان، يـو د بـل دوسـتان، ورونـه او ملګـري دي" ټـولنيزه همکـاري، دوه اړخيـزه او د ملګرتيـا مرسـتـه. ۵- پـه ټـولنيز او

خصوصي ژوند کې سموالی او ریښتینولي، اخلاقي خلوص، ساده توب او فروتني (عاجزي). ۶- یو له بل سره د کورنی د غړو دوه اړخیزه درناوی، د کوچنیانو ښوونې او روزنې سره مینه. ۷- د کمونېزم، سولې او آزادي د دښمنانو په وړاندې ودرېدنه.

کمونیستي ټولنې ته په رسېدو سره ځینې پورتني اخلاقي اصول لکه د سوسیالیستي هېواد څخه دفاع او یا بېعدالتي او داسې نور له منځه ځي، ځکه د کمونېزم نړیوالې ټولنې په ټینګښت او د کمونیستي ټولنې وړنوي انسان په پیدایښت سره دغه شان ښکارندې (پدیدې) به د تل لپاره له منځه لاړې شي.

کمونېزم او د فرد آزادي:

د فرد آزادي د ټولنیزو اړیکو په ماهیت پورې اړه لري. ټولنیزې اړیکې د داسې شرایطو په توګه تعریفولای شو چې ټولنه یې د فرد د بشپړتیا، د ده د اړتیااوو پوره کولو او دځاني استعدادونو څخه د ګټې اخیستلو د پاره برابروي. د بورژوازي ایډیالوګان دعوه کوي چې کمونېزم، د فرد آزادي له منځه وړي او یواځنی سیستم چې دغه آزادي خوندي ساتي پانګوالي سیستم دی. د دغشان یو تفکر په وړاندې دا بس دی چې له دغو کسانو نه پوښتنه وشي، په هغه ټولنه کې چې خصوصي ملکیت پر هرڅه واکمن دی؛ په هغه ټولنه کې چې د ډېری زیارکښو برخلیک د یو موټي پانګوالو په لاس کې دی؛ په هغه ټولنه کې چې د تولید ګډوډی (بحرانونه)، سیالي، د امپریالیستي جګړو ګډوډی د زیارکښو پرګنو په برخلیک واکمن دي، څنګه کېدای شي د فرد د آزادي څخه وغږېږو. هغه څه چې څرګند دي پانګوالی تر اوسه پورې پوره وخت درلود ترڅو هغه شان چې دعوه کوي، هوسا ژوند او آزادي د خلکو په واک کې ورکړي، خو په عمل کې مونږ پرته له اسارت، نیستي، لوږې او جګړې نه نور څه و نه لیدل. دغو مسالو

ته په پام سره د بورژوازي د ادعاګانو درواغجنتوب روښانه کیږي. کمونیستان په وروستنی جګړې (طبقاتي او ریښتونې جګړې) لاس پورې کوی او په دې ډول بورژوازي دتل لپاره له منځه وړی او بشریت د ښکېلاک او زبېښاک له بنده ژغوری. کمونېزم د اقتصادي او ټولنیزو مساواتو په ټینګولو سره ټول وګړي په یوه لیکه کې دروي او له هغو څخه غواړي چې په ټولنیزو او سیاسي چارو کې فعاله ونډه واخلي؛ له هغو څخه غواړي نیوکه او وړاندیز وکړي؛ له هغو څخه غواړي چې د علم او علمي فلسفې په وسلې ستونزو سره جګړې ته را پاخي؛ له هغو څخه غواړي چې د ځان او ټولنې په ګټه کار وکړي؛ له هغوی څخه غواړي چې د کمونیستي اخلاقو یادشوی اصول، رعایت کړي.

مارکسېزم- لنینېزم یـواځنی ایـډیالوژي ده چې د ټول تـاریخ پـه اوږدو کـې یـې د لـومړي ځـل د پـاره د فـرد او آزادي ریښتینی ارزښت پېژندلی دی.

د یو ملت د یوې ژبې ټینګښت په ټوله نړی کې:

په هغه صورت کې چې امپریالېزم بېخي پوپنا او ورک او بېلابېلې ټولنې کمونېزم ته ورسېږي د مختلفو هېوادو منځ کې به ټولې پولې به له منځه لاړې شي. ټول ملتونه به په یو نړیوال ملت، په یو شان انسان، داسې انسان باندې چې توپیر نه پیژني، بدل شي. د نړی ټول خلک به د یوځای او یو له بل سره د ډیرې نـږدې همکاري په اوږدو کې او د ژبو دیو کیدو له کبله به په یوې روزل شوي او بشپړې شوې ژبې سره غږیږي او د ژبو زیاتوالی به د تل لپاره د نړی له مخې پوپناه او ورک شي. د نړی ټول خلک به یو د بل په مرستې اوګډوهڅو سره، د خپلې نړیوالې ټولنې د پرمختګ په لار کې یو له بل سره لاسونه ورکړي او د بشرد مادي او معنوي بشـپړتیا ریښـتینی تـاریخ بـه لـه سـره پیـل کـړي. هغـوی بـه د

زبېښناکګرو طبقو خاطرې د تاریخ موزیم ته وسپاري اود کمونېزم جوړوونکو او اتلانو نه په ښه یاد سره به په بېساري چټکي سره د نړۍ د رازونو د موندلو په لار کې پرمخ ولاړشي.

**پای**

## د محسن خپرندویه چاپ کړې:

- امپریالیزم
- لنین (سه مقاله از استالین)
- مارکس، انگلس و مارکسیزم (چند مقاله از لنین)
- تاریخ حزب کمونیست (بلشویک) اتحاد شوروی
- از کمون اولیه تا کمونیزم
- قسم به خونتان رفیقان! (زندگی و پیکار قهرمانانه‌ی شماری از کمونیست‌های جانباخته زیر ساطور رژیم تبهکار اسلامی ایران)
- مائوتسه دون (زندگینامه مختصر)
- اصول مقدماتی فلسفه اثر ژرژ پولیتسر
- ماتریالیزم تاریخی برای نوجوانان
- ماتریالیزم دیالکتیک برای نوجوانان

## ډېر ژر خپرېږي:

- اقتصادی سیاسی به زبان ساده
- مبانی و مفاهیم مارکسیزم
- تاریخی ماتریالیزم (په پښتو ژبه)
- دیالکتیک ماتریالیزم (په پښتو ژبه)

بیه: ۴۰ افغانی

**Download from:aghalibrary**